د کانګو تاریخ

د لسم، یوولسم او دولسم تولګي خلاصه شوي
او د کانکور طلایي ټکي

Ketabton.com



Habib wardak

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

لړليک

د لسم ټولګي تاريخ ۱-۲۶

د يوولسم ټولګي تاريخ ۲۶ - ۵۵

د دوولسم ټولګي تاريخ ۵۵ - ۸۶

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د لسم ټولګي تاریخ

اول څپرکی
لومړی لوست (اریایان)

پخوانی اریانا یعنې اوسنی افغانستان.

پخواني اریایانو له ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ق.م کلونو کې د کرنې او اوبه لګونې پرمختللي سیستمونه لوي او پر نفوسه ښارونه درلودل .

په لومړیو زرو قبل المیلاد کلونو کې ښې لاسي صنایع، مسکوکات، طب، ستوري پیژندنه، نساجي او فلز کاري لرل. او د نړۍ په تمدنونو کې پنځم ځای خپل کړی و.

هغه خلک چې ۲۵۰۰ ق.م په پخواني افغانستان کې اوسېدل ځانونو ته ښې آرین ویل.

آرین د اصیل اوشریف په معنا دی.

آریایان د افغانستان له شمال (آمو سیند او سیر دریا) څخه بلخ ته داخل شول.

دلومړني مدنیت بنسټ ښې کېښود او خپل وطن ښې آریانا ونومولو.

ویدي سرودونه د آریایانو د پیژندنې یو له مهمو منابع او ماخذونو څخه دي.

آریایانو خپل د اوسېدنې ځایونه (آریانا وریجه یا آریانا ورشو) بلل.

په ویدي سرودونو کې د آلینا په نوم د یوې قبیلې یادونه شوې چې د اوسني الینګار اوسېدنکي دي.

بولان ښې د بهالانه په نوم یاد کړی دی.

په ویدي سرودونو کې دآریایانو تر واکمنۍ لاندې سیمو یادونه هم شوې ده. هریوا(هرات) ، هرواتي(دهراوت)، بلهیکه (بلخ)

منجوان د یو غره نوم دی چې د اوسني نورستان او بدخشان ترمنځ موقیعت لري.

آریایانو بلخ ته تر راتلو مخکې کوچیاني ژوند درلود .

د هغه تحقیقاتو په اساس چې په ۱۹۳۹م کال د سمرقند په تالی بروز کې ترسره شول یو انځور چې په یوه ختین لوښي نقاشي شوی و، دآریایانو د یو پادشاه کیومرث و.

په ویدي سرودنو کې د کوچیانو مشهور پادشاه د کیومرث په نوم یاد شوی دی.

آریایانو په کلیوالي ژوند کې هم شاهي نظام درلود.

د آریایانو د نفوسو زیاتوالی په بلخ اوشاوخوا کې د دې سبب شو ، چې دوي د جنوب، جنوب ختیځ او لویدیځ په طرف مهاجرت شروع کړ .

آریایان وروسته له هغه چې په فارس کې استوګن شول هلته ښې د یوه تمدن بنسټ کېښود، چې د فارس تمدن په نوم مشهور شو.

یو ډله د آریایانو د لویدیځ په طرف مهاجرت وکړ، چې لومړی د ایران او بیا د ترکیې او وروسته تر اروپایي هېوادونو پورې ورسېدل.

بلې ډلې ښې د جنوب ختیځ په طرف حرکت وکړ چې د شمالي هند او وروسته د پخواني هند تر مرکزي سیمو پورې ورسېدل .

دویم لوست (ویدي مدنیت)

دآریایانو تر ټولو پخوانی مدنیت په افغانستان کې د ویدي مدنیت په نوم یادېږي.

د ویدي کلمه له وید څخه اخیستل شوې ده چې د علم او پوهې معنا لري.

دغه مدنیت ځکه په دغه نوم سره یادېږي چې په اړه یې معلومات د ویدي له ځلورو کتابونو(ریګووېدا،اتهرویدا، ساماویدا او ویجور وېدا) څخه په لاس راغلي دي.

د ویدي سرودونو پیل ۲۰۰۰ق.م کلونو ته رسېږي چې په شفاهي بڼه له یو نسل څخه بل نسل ته انتقال شوي دي او شپږمه پیړۍ ق.م کې په سانسکرېت ژبه ولیکل شول.

د ویدي مدنیت آریایانو پخوانی بخدي ښار د خپل پایتخت او لومړنی اداري مرکز په توګه وټاکلو.

د کلیوالي ژوند تر ځنګ ښې په زراعت او بڼوالی باندې لاس پورې کړ. او د استوګنې لپاره ښې پراخ کورونه جوړ کړل. او د ښارونو په جوړولو باندې هم بریالي شول.

د ښار د ساتنې په موخه ښې د هغه په شاوخوا باندې لوی لوی برجونه او ډبل دیوالونه جوړ کړل.

د ویدي مدنیت اوسېدونکو خپل اولیه ضروریات له کرنې او مالداري څخه تیارول.

د حیواناتو تبادله د سکې پر ځای د معاملاتو اساس و چې هغه ښې د پیسو په نوم یادول او معاملات به جنس په جنس سره صورت نیولو.

د غلو او حبوباتو زیات ډولونه ښې پیژندل او کرل ښې، چې په ویدي سرودونو کې له هغه څخه په ښکاره یادونه شوې ده.

د څښینو لوښو جوړول راوج وو، او زېورات هم جوړېدل له هغو څخه به په جشنونو او مېلو کې استفاده کېدله.

په ویدي مدنیت کې د ښځو ونډه مشخصه وه. یو تعداد به ښې له خپلو خاوندانو سره له کوره بهر په کارونو کې مرسته کوله او یو تعداد نورو به د کور دننه کارونه پرمخ بېول.

ځینې په اجتماعي کړنو باندې بوختې وې او شعرونه به ښې ویل.

په ویدي مدنیت کې ترټولو پخوانی پېښه چې د ویدي مدنیت د راڅرګندېدو ښکارندویي کوي ۱۸۰۰ق.م ته رسېږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ویدي مدنیت تر (۱۰۰۰-۱۲۰۰) ق.م کلونو پورې دوام درلوده.

دریم لوست (اوستایي مدنیت)

د لیکنو له مخې اوستایي مدنیت ۱۰۰۰ ق.م کلونه څخه پخوا په بلخ یا بخدي کې را څرګند شو.

اوستا هغه نصبحتونه دي چې د زردشت یا سپین تمان په واسطه لیکل شوي دي.

د اوستا کتاب وروسته د زردشت یا سپین تمان له مرګ څخه راټول او د اوستا په نوم خپور شو.

زیات شمېر عالمانو اوستا د قانون او هدایت په نوم یادکړی دی.

د اوستا لومړنی متن د حیوان په ۱۲۰۰۰ پوستکو باندې لیکل شوی و، چې زیاته برخه یې د اسکندر د حملو په وخت کې وسوځیده.

د اسکندر له حملو څخه وروسته د زردشت پیروانو د اوستا کتاب راټول کړو او په پنځو برخو کې یې ولیکه چې د(یسنا،ویسپرد،وېنداد،یشت او وړوکي اوستا) په نومونو سره یې یاد کړ.

زردشت په ٦٦٠ ق.م کې په بلخ کې وزېږد، په ۲۰ کلنۍ کې یې یوازیتوب اختیار کړ او په ۴۲ کلنۍ کې د خپل دین رهبر شو.

په چټکۍ سره یې خپل نصبحتونه شروع کړل ،او ګشتاسب پاچا یې خپل دین ته دعوت کړ.

ګشتاسب هم د زردشت دعوت قبول کړ. او د زردشتي دین پیرو شو.

زردشت په خپل دین کې آهور امزدا د نېکۍ خدای او اهریمن یې د بدۍ خدای په نوم سره یاد کړی دی، او د دوي ترمنځ یې دوښمني همشنۍ او پیوسته ښودلې ده.

د زردشت له مشهورو ویناوو څخه (ښه فکر، ښه عمل او ښه کړنه) دي.

د ژوزف هاکن له نظره کوم انځورونه چې د بلخ دختر نوشېروان بوستاني سیمه کې په ډبرو باندې هک شوي دي د زردشتي آین د هویدا پاتې شوي اثار او نقاشي دي.

د اوستایي عصر آریایانو ځینې داسې عاتونه او رواجونه لرل، چې اوس هم د ځینو قبیلو تر منځ شتون لري. لکه نېزه بازي، اس څغلونه، د مېلو د ورځو ترانې، موسیقي او داسې نور.

څلورم لوست (د افغانستان اساطیري تاریخ)

د اوستایي متونونو او یو شمیر شهنامو پر اساس د افغانستان د اساطیري تاریخ درې مهمې دورې پېژندل شوي دي.

۱-پېشدادیان ۲-کیانیان ۳- اسپه

اوله دوره : پېشدادیان

اولینۍ سیاسي واکمني زمونږ په هیواد کې د اوستا په کتاب کې د پېشدادیانو په نوم یاده شوې ده.

د دې کورنۍ لومړنی ټولواک کیومرث نومېده.

ابوریحان البېروني په خپلو لیکنو کې کیومرث د هوشنګ په نوم یاد کړی دی .

کیومرث په بلخ کې د سیاسي واکمنۍ بنسټ کېښود.

له کیومرث نه وروسته د هغه زوی تهمورث واک ته ورسېد.

د تهمورث د واکمنۍ په دوران کې د هغه مدبر او لایق وزیر شیداسپ په دولتي امورو کې فعاله ونډه لرله.

شیداسپ په دولتي خدمتونو سربېره د جامو جوړولو او وړیو اوبدلو طریقې هم خلکو ته وښودې.

له تهمورث وروسته جمشید یا یما واک ته ورسېده.

یما لومړنی کس و چې په بلخ کې یې د ښار بنسټ کېښود.

یما د ښار جوړولو لارښونه له آهو رامزدا څخه ترلاسه کړه.

یما داسې یو ښار جوړ کړ، چې طول او عرض یې د اس څغلولو د میدان په اندازه و.

د اوبو حوضونه، د اس څغلولو میدانونه او مناسبې ساحې دکلیو او کورونو لپاره یې هم پکې برابرې کړې او ترڅنګ یې یو ژوبن چې د وحشي حیواناتو یوه یوه جوړه به پکې ساتل کېده هم جوړ کړ.

د یما د واکمنۍ په وخت کې خلکو ته زیاته توجو کېدله زیاتو نعمتونو شتون درلود. خلکو په آرامۍ کې د ژوند شېبې ورځې تیرولې.

کله چې ضحاک په یما باندې بریالي شو ،خلک له ستونزو سره لاس اوګرېوان شول.

ضحاک په زور او جبر سره خپله واکمني په مخ بیوله.

چې بلاخره کاو اهنګر د خپلو پښو پوستکي د بیرغ په شکل پورته کړه اوخلک یې ضحاک پر ضد پاڅون ته راوبلل چې په تاریخ کې د کاویاني په نوم مشهور شو.

فریدون هم د۱۰۰اسونو او ۱۰۰۰غویانو قرباني ومنله ،او دضحاک پرضد یې پاڅون وکړ .

په نتیجه کې فریدون کامیاب شو او ضحاک له منځه لاړ.

فریدون د خپلې واکمنۍ لاندې سیمې د خپلو زامنو ایرج،تور او سلم ترمنځ وویشلې.

تور او سلم خپل ورور ایرج مړ کړ .

تور او سلم یو د بل وروڼه و.

وروسته له هغه چې د ایرج زوی منوچهر لوی شو د خپل پلار غچ یې له ترونو څخه واخیسته، هغه یې ووژل او خپله د واک په ګدی کېناست.

د منوچهر د واکمنۍ په دوران کې یوه ډلو نامتو پهلوانانو مهم نقش لرلو. د مثال په ډول رستم،سهراب، نریمان او زیات

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

شمیر نور، چې د تورانیانو په مقابل کې ېې له خپلې واکمنې څخه دفاع کوله.

له فریدون وروسته ېې زوی نوذر واک ته ورسېده.

د نوذر دواکمنۍ په دوران کې افراسیاب تورانې وروسته له درېو جنګونو په دې وتوانېده چې د نوذر ځواکونو ته ماته ورکړي. او د یو څه وخت لپاره بلخ تر خپل واک لاندې راولي.

له نوذر وروسته اوزوه واک ته ورسېده نوموړي عاقل او هوښیار شخص و.له تورانیانو سره ېې له زیاتو جنګونو وروسته د آمو سیند د خپلې واکمنې سرحد وټاکه.

دپښدادیانو دکورنۍ وروستۍ واکمن کرشاسپ و. وروسته له ۹ کاله واکمنۍ څخه ېې له افرسیاب څخه ماته وخوړه او د پېښدادیانو واکمنې ختمه شوه.

پنځم لوست (کیانیان)

دافغانستان په اساطیري تاریخ کې دوهمه سلسله دکیانیانو یاده شوې ده.

کاو په ویدي او اوستایي متنونو کې د پوه، لوي او مشر په معنا راغلی دی.

ددې کورنۍ ته ځکه کاوي یا کیاني وایي، چې د هر واکمن د نوم په سرکې ېې د (کي) مختاړی راغلی دی.

لومړي ټولواک ېې د کیقباد په نوم یاد شوی دی. چې د رستم پهلوان د پلار په غوښتنه په بلخ کې د البرز غره په تخت کېناسته او ۱۵ کاله ېې حکومت وکړ.

له کیقباد نه وروسته د هغه زوی کیکاوس د بلخ په تخت کېناست .

کیقباد له هغه کسانو سره چې آریایی فرهنګ او مدنیت سره ېې مخالفت کولو جنګونه وکړل .

هغه ډله جګړماران چې د مازندران په ځنګلونو کې اوسېدل په اوستایي متونونوکې د دېوانو په نوم یاد شوي، کیکاوس ټولو ته ماتې ورکړه. او آریایي تمدن ېې د هغه له حملو څخه وژغوره .

کیکاوس د دې پخاطر چې تر ټولو پیاوړي معلوم شي ۱۰۰اسونه،۱۰۰۰غوایان او ۱۰۰۰۰میږې ېې د رب النوع (اناهیتا) لپاره قرباني کړې.

د اوستایي متونونو څخه دا څرګندېږي، چې کیکاوس د ارزیفیه په غر ۷ لوي کلاګاني جوړې کړې.

کیکاوس د پوره جیره یا اوشنر په نوم یو تکړه اوهوښیار وزیر لرلو، پوره جیره په پښتو ژبه کې د پوره خیر یا چالاک په معنا باندې استعمال شوی دی.

کیکاوس خپل وزیر پوره جیره وواژه.

کیکاوس آسمان ته د تللو دعوه وکړه، او پوله ساتونکي ېې له دنده ګوښه کړل.

افراسیاب تورانې د کیکاوس تر واک لاندې سیمې تر خپل واک لاندې راوستې او د کیکاوس واکمنۍ ته ېې د پای ټکي کېښود.

خو رستم پهلوان له سیستان نه پاڅون وکړ او د افراسیاب ګیلم ېې ورټول کړ.

له کیکاوس نه وروسته سیاوش واکمن شو.

سیاوش په اوستایي متنونوکې د سیا ورشن په نوم راغلی دی ، نوموړی دبلخ یوزپور پاچا وه.

سیاوش د آریانا ویجې په ساحه کې دې یوې لویې کلابنسټ کېښود ، چې په اوستایي متنونوکې د (وژکنګ) په نوم یاده شوې ده.

سیاوش د افرسیاب تورانې پاچا له لور فرنګس سره واده وکړ، او له هغه څخه ېې د کیخسرو په نوم زوی پیدا شو.

سیاوش د تورانیانو سره په مخامخ جګړه کې مړ شو.

له سیاوش نه وروسته ېې زوي کیخسرو واکمن شو.

کیخسرو د پلار د غچ پخاطر له تورانې افرسیاب سره جګړې وکړې او تورانې پاچا افرسیاب او ورور ېې په ځنځیرونو وټرلو اومړ ېې کړ.

په اوستایي متونونو کې راځي چې کیخسرو د کیانیانو مختلفې سیمې سره وټرلې او له پیاوړې امپراطورۍ څخه برخمن شو.

کیخسرو په اوستایي متنونوکې د هېواد پراخونکي په نوم یاد شوی دی.

له کیخسرو وروسته دکیانیانو کورنۍ واکمنې پای ته ورسیده.

شپږم لوست (اسپه کورنۍ)

له کیانې کورنۍ وروسته بله کورنۍ چې د اسپه په نوم یادېږي واک ته ورسېده.

د دې کورنۍ د هر واکمن د نوم په سر کې د اسپه نوم راغلی؛ نو ځکه په تاریخي لیکنو کې د اسپه په نوم یادېږي.

د تاریخي لیکنو له مخې د دې کورنۍ لومړی واکمن د لهراسپ په نوم یادېږي.

لهراسپ د کیانیانو د پاچاهې په ټولو قلمرو باندې واکمنۍ درلوده.

د محقیقینو په باور لهراسپ د تورانیانو سره په مخامخ جګړه کې ووژل شو، نوموړی یو عاقل او د عالي شخصیت درلودونکي و.

ده د خپلې واکمنۍ لاندې سیمو کې زیاتې آبادۍ وکړې. زردشتي دین ېې قبول کړ و، او د هغه د پراخولو لپاره ېې زیاتې ستونزې وزغملې.

له لهراسپ څخه دوه زامن پاتې و. چې یو ېې ویشت اسپه او بل ېې زری وری نومېده.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ویشت اسپه (گشتاسپ) د پلار له مړینې وروسته د بلخ ټولواک شو.

گشتاسپ له زردشت سره د همکاری له امله زیات شهرت پیداکړ، او د زردشتي دین د خپرولو لپاره یې زیاتې ستونزې وګاللې.

زردشت له گشتاسپ څخه غوښتنه وکړه چې خپله مېرمن هوتاوسا هم خپل دین ته دعوت کړي.

د گشتاسپ په حکم سره د زردشت ټولې ویناوې د غوایی په ۱۲۰۰۰ زره پوستکو باندې ولیکل شوې.

د زردشت په ۱۰۸ ویناکې د جنګونو په اړه داسې ویل شوي دي، چې لوی ویشتاسپ(گشتاسپ) د فرازدانا سیند شاوخوا تقریبا ۱۰۰اسونه،۱۰۰۰غوایان او ۱۰۰۰۰میږې د اناهیتا په نوم قرباني کړي.

له گشتاسپ نه وروسته د هغه زوی واک ته ورسېده.

که څه هم چې د زرې وري د واکمنی په اړه زیات معلومات نشته؛ خو د هغه د پهلوانی په اړه چې په سیستان کې اوسېده زیات تاریخي روایات راغلي دي.

د گشتاسپ د زوی (سپینتوداتا) یا اسفندیار دواکمنی په اړه زیات معلومات موجود دي.

ویل کیږي چې اسفندیار زړه ور پاچا وو، هغه د بلخ د اتشکدې په معبد لویه نیزه ودروله چې معنا یې په میرانه له خپل قلمرو څخه دفاع او دپردیو منعه کول و.

د اسفندیار له مړینې وروسته د اسپه د کورنۍ واکمني پای ته ورسېده.

اووم لوست (هخامنشیان)

تر شپږمې قبل المیلاد پیړۍ پورې اوستایي پاچاهانو د آریانا په زیاتو برخو باندې حاکمیت درلوده.

٦د ق.م پیړۍ په شروع کې د افغانستان په لویدیځې څنډو کې د هخامنشیانو د واکمنۍ بنسټ کېښودل شو.

هخامنشیانو سربېره د پخواني فارس، ختیځې او لویدیځې سیمو بهر له خپلې واکمنۍ څخه هم لاسونه اوږده کړل.

هخامنشیانو په پخواني فارس او شاوخوا سیمو د یوې پراخې امپراطوري لمنه وغوړوله.

د کوروش د واکمنی په دوران کې د هخامنشیانو امپراطوري د ختیځ او لویدیځ په لوري هم لښکر کشی وکړې.

د هخامنشیانو د واکمنی په دوران کې په افغانستان کې یو مرکزي دولت شتون نه درلود.

د افغانستان په هره څنډه کې محلي او ملوک الطوایفي واکمنه وه.

په کال ۵۲۹ ق.م کې د کوروش تر واکمنۍ لاندې لښکرو د افغانستان څېنې سیمې د یوځه وخت لپاره تر خپل تصرف لاندې راوستې.

له کوروش نه وروسته یې زوی کمبوجیه واک ته ورسېده.

کمبوجیه زیاته توجو لویدیځو پولو ته کوله د مصري فرعون سره یې جګړې وکړې، او هغه ته یې ماته ورکړه او زیاتې سیمې یې تري ونیولې.

کمبوجیه فارس ته د بیا راګرځېدو پرمهال مړشو.

داریوش د هند د نیولو لپاره له سند سیند څخه تیر شو سند او پنجاب یې ونیول.

بومیانو، سند او پنجاب به هر کال ۳٦۰ تالانه سره زر د باج په شکل هخامنشیانو ته ورکول.

دریوش خپله پراخه امپراتوري چې له ۴۸ مختلفو قبیلو څخه تشکیل شوې وه. چې مختلف رواجونه عادات او دینونه او ژبې یې لرلې په خاص تدبیر سره اداره کوله.

د هخامنشیانو د امپراطوري لمنې د ختیځ په طرف پراختیا موندلې وه.

یو له مهمو ډبرلیکونو څخه د بیستون ډبرلیک دی چې په هغه کې له ۲۱ نه د زیاتو هغه سیمو یادونه شوې ده چې د هخامنشیانو تر واک لاندې وې.

د هخامنشیانو مشهور واکمنان عبارت دي له اول داریوش،خشایارشاه، دوهم داریوش او دوهم اردشیر.

په ۳۳۳ق.م کې د هخامنشانو امپراطوري د یونانیانو پواسطه له منځه لاړه.

اتم لوست (یونانیان)

اسکندر مقدوني د هخامنشیانو امپراطوري له منځه یوړه.

د هخامنشیانو وروستی پاچا دریم داریوش د افغانستان په لور تېښته وکړه.

مقدوني اسکندر په ۳۳۰ ق.م د دریم دریوش په تعقیب پسې لومړی د هرات او بیا د باختر په طرف لښکرکشي وکړې.

دریم دریوش د باختر د والي بسوس د پلویانو لخوا ووژل شو.

مقدوني اسکندر دوهم ځل د هرات په طرف لښکر کشي وکړه، او د هرات باستان(آریا) سیمه کې یې ټول پاڅون کوونکي چې په ځنګلونو کې یې د هرات د دفاع پخاطر سنګرونه نیولي و هلته یې ټول په اور وسوځول.

د هرات له نیولو وروسته یې په فراه اوشاوخوا سیمو باندې حملې وکړې ، او د سیستان سیمه یې هم ونیوه.

د دې حملو په دوام یې د هلمند شاوخوا او د بلوچستان مرکز زریاسپ یې هم ونیوه.

وروسته له دې نه یې خپلې لښکرې د اروکوزیا (قندهار) په طرف وخوځولې.

په ۳۲۹ق.م کې یې ارغنداب هم ونیوه اوپه همدې کال یې په قندهار کې یوه نظامي اډه هم تاسیس کړه.

په قندهار کې یې له بومیانو څخه یو تازه نفسه اردو جوړه کړه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د اسکندر له طرفه یو شخص د ممتین په نوم د ارکوزیا لپاره والي وټاکل شو.

دهرات پخواني حاکم د بسوس په همکاری ۲۰۰۰ عسکر د هرات نه د دفاع پخاطر چمتو کړل، او دهرات خپلواکي يې اعلان کړه.

اسکندر د هراتیانو د پاڅون د غلي کولو لپاره زیات شمیر عسکر ولېږل او هرات يې محاصره کړ.

له شدید جنګ وروسته د پاڅون کوونکو مشر (ساتس بارزانس) ووژل شو او هرات اسکندر ونیو.

د هرات، سیستان او قندهار له نیولو وروسته د اسکندر پام دکابل نیولو ته شو، او۳۲۹ ق.م کې يې کابل هم ونیو.

دکابل له نیولو وروسته دپغمان له لارې کاپیسا ته لاړ، او هلته يې د خپلو عسکرو لپاره د قفقاز اسکندریه (اوسني بګرام) بنسټ کېښود.

دهمدغه(۳۲۹ق.م) کال په پسرلي کې يې د اندراب له لارې د بسوس په عسکرو باندې يې حملې شروع کړې.

بسوس د۸۰۰۰ زره عسکرو په مټ د اسکندر د عسکرو مقابله پیل کړه خو د اسکندر دلښکرو مقابله يې ونشو کړلای او د اموسیند څخه پورېوتو او د باختري عسکرو په مټ يې له هغه ځای څخه د اسکندرپه لښکرو باندې حملې کولې.

دغه وضیعت تر ۳۲۷ ق.م پورې دوام وکړو.

په همدغه حال کې اسکندر د یو تن باختري قوماندان سره د دوستي لاس ورکړ، او د هغه د ځوانې لور رخسانې سره يې واده وکړو.

اسکندر وروسته د باختر له نیولو د کاپیسا له لارې کابل ته راوګرځیده. او له دې ځایه د درونټې له لارې کنړ او اسمارو سیمو ته ورسېد.

په دې مناطقو کې له یوسفزیو سره په قوي جنګونو کې سخت تېې شو. او له دې وررسته يې د باجوړ او چترال سیمې تر خپلې د ولکې لاندې راوستې.

په ۳۲۵ ق.م کې يې د کراچۍ په بندر کې یوه بله اسکندریه جوړه کړه، او له دې ځایه وروسته د ګدروزیا (بلوچستان) په لوري حرکت وکړو.

کله چې بابل ښار ته ورسېد په ملاریا اخته او د۳۲ کلونو په عمر ومړ.

دکاسندر په نوم د اسکندر یو تن قومندان په مقدونیه کې واک ته ورسېد. د اسکندر مور يې په پیدنا ښار کې محاصره کړه او بیا يې ووژله.

د اسکندر مړینه د دې سبب شوه چې یونانیانو امپراطوري په دریو لویو مرکزونو باندې ووېشل شوه.

د اسکندر له مړینې وروسته بطلموس مصر د یونان له ځنډو جدا کړو، او تر خپل واک لاندې يې راوسته. له بطلموس

وروسته د نوموړي د کورنۍ غړو په پرله پسې ډول تر ۳۰ کلونو پورې د مصر په شاوخوا سیمو باندې واکمني وکړه.

د یوناني امپراطوری په مرکز مقدونیه کې انتي ګوس واک ته ورسېد. انتي ګوس او د کورنۍ غړو يې له (۳۰۶-۱۴۶) ق.م په مقدونیه او شاوخوا يې واکمني وکړه،

بل واکمن د سلیکوس په نوم په سوریه کې واک ته ورسېد. نوموړي د یونانیانو د امپراطوری ختیځي لمنې له سوریه څخه تر هند پورې تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

افغانستان هم د سلیکوس د واک لاندې سیمو له جملې څخه ګڼل کیږي.

سلیکوس او نور واکمنان يې د دیوتس تر واکمنۍ پورې په افغانستان باندې واکمنان وو.

د بیطلموس او سلیکوس ترمنځ پرله پسې جنګونو دې ته زمینه مساعده کړه، چې دیوتس په ۲۵۵ ق.م کال کې د دې خاورې خپلواکي اعلان کړي.

نهم لوست (موریایان)

د موریایانو لومړنی واکمن چندراګوپتا و چې په ۳۲۴ق.م کې يې د هند په مختلفو سیمو باندې خپله پاچاهي اعلان کړه.

چندراګوپتا د افغانستان ځینې ختیځې سیمې چې د یوناني واکمنانو تر واک لاندې وې تر خپل کنټرول لاندې کړې.

په دغه وخت کې د سلیکوس لښکرو لومړی باختر او بیا يې کابل ونیو او د چندراګوپتا يې سند پورې په شا وتمبول.

سلیکوس مجبور شو چې چندراګوپتا سره د دوستي لاس ورکړي، او خپله لور په نکاح ورکړي، او همدارنګه يې ګندهارا، اراکوزیا او ګدروزیا هم چندراګوپتا ته وسپارلې او په همدې حال کې يې باختر دیوتس ته وسپاره.

چندراګوپتا په ۳۰۰ق.م کال کې مړ شو.

له چندراګوپتا وروسته يې زوی بندوسارا واک ته ورسېدو دنوموړي دواکمنۍ په دوران کې د موریایی واکمني د مختلفو سیمو لپاره مرکزونه جوړشول.

ابوظفر ندوي هندي مورخ لیکي: چې د هند واکمن بندوسارا انتیاکوس ته پیغام ولېږو، چې ماته د یوه تن ډاکتر په لاس خوږه شراب او یوه اندازه وچ انځیر راولېږه. انتیاکوس په ځواب کې ورته ولیکل چې شراب او وچ انځیر به درولېږم خو دیونانیانو په قانون کې د عالم او طبیب پلورل منع دي.

د سلوکیدیانو او موریایانو تر منځ ښو اړیکو د هند د تجارتي مالونو د انتقال زمینه برابره کړي وه.

له بندوسارا وروسته د ګوپتیانو مشهوره پاچا اشوکا واک ته ورسېد.

اشوکا د بودایي دین په خپرولو کې زیات ستونزې وزغملې. او خپل مبلغین يې افغانستان او د نړۍ مختلفو سیموته ولېږل.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

آشوکا د خپل واک لاندې سیمو کې ټول فرمانونه د تیږو په مخ ولیکل، چې له بودایي دین څخه ېې پیروي کوله. په قندهار او ننګرهار(درونټه) او ځینو نورو سیمو کې دغه ډول فرمانونه لیدل شوي دي.

د آشوکا په فرمانونو کې د ایتودموس(ایتدیوم) هېڅ نښه نه لیدل کیږي. دا په دې معنا دي چې د آشوکا د واکمنۍ پرمهال په افغانستان کې د ایتدیوم واکمني نه وه پیل شوې.

د ایتدیوم د واکمنۍ پرمهال د آشوکا یو تن والي چې د کابل او ګندهارا پر حوزه واکمن و د ماتې سره مخامخ شو.

د موریایانو واکمني د افغانستان په جنوبي برخو کې له منځه لاړه.

تر ۲۵۵ق.م پورې ایتدیوم په باختر خپلې حملې د هندوکش ترجنوبي برخو پورې ورسولې، او خپله خپلواکي ېې اعلان کړه.

دوهم فصل

لسم لوست (باختر یونان)

دیودتس لومړنی بنسټ اېښودونکي دیونان باختر دی.

اول دیودتس په ۲۵۵ ق.م کې په باختر کې خپله خپلواکي له سلواکیدیانوڅخه اعلان کړه.

دې دیودتس واکمني دوې مرحلې لري.

اوله مرحله: لومړي ېې داسې سکه ووهله چې په یوه مخ ېې خپله څهره او په بل مخ ېې د انتیکوس څهره نقاشي شوې وه.

دوهمه مرحله: د دې مرحلې په سیکو کې په یوه مخ د دیودتس او په بل مخ د جیوپیتر (الهه رعد وبرق) څهره نقاشي شوې وه.

د دیودتس د واکمنې پر مهال باختر کې لاندې سیمې شاملې وې سغد، بلخ او تخار.

اول دیودتس په کال ۲۵۰ق.م کې وفات شو.

د اول دیودتس له مرګ وروسته یې زوی دوهم دیودتس واک ته ورسېد.

دوهم دیودتس تر ۲۳۰ق.م د باختر په ځمکه حکومت وکړ.

هرات او د هریرود حوزه ېې هم په خپله واکمني پورې وتړله.

د پارت دولت مشر ارساس او دیودتس ترمنځ هم قوي اړیکې موجودې وې.

له دوهم دیودتس نه وروسته یو حکمران ېې د ای تیدیوم په نوم په کال ۲۲۰ق.م کې د نومړي پر ضد پاڅون وکړو او د دیودتس واکمنۍ ته ېې د پای ټکی کېښوده.

ای تیدیوم په کال ۲۲۰ق.م کې د باختر نوي مستقل واکمن شو.

دا په داسې حال کې چې د شام یوناني واکمن انتیکوس نوي مستقل دولت جوړ کړ، او په پارت باندې ېې حمله وکړه.

ای تیدیوم د هریرود په حوزه کې د دښمن د نفوذ د مخنیوي د هغه سره د مقابلې لپاره په بېړه کې و، او هلته ېې په یوه لوی جنګ کې ماته وخوړه.

ای تیدیوم وروسته له ماتې بیرته خپل مرکز زریاسپ ته راوګرځېد.

ای تیدیوم دلته تر خپل واک لاندې سیمې د دفاع په خاطر د شام د حاکم تر محاصرې لاندې راغې، او دغه محاصره دوه کاله وخت ونیوه.

وروسته له دوه کالونو د دواړو اړخونو تر منځ صلحه وشوه.

ای تیدیوم لومړنې باختري واکمن و چې یوناني هنر ېې د هند تر نیمه وچې پورې ورساوه.

له ای تیدیوم وروسته زوی ېې دیمیتروس په کال ۱۹۰ق.م کې د نومړي ځای ناستي شو.

دیمیترس تر خپل واک لاندې سیمې پراخه کړې او تاکسیلا، کاتیاوار او موریاتپه ېې هم د هندي پادشاهانو له ولکې څخه آزادې کړې.

دیمیتروس د کلات نښار په ارکوزیا ، سیالیکوټ او پتیاله ېې په سیند او هند کې جوړ کړل.

وروستي واکمن د یونان باختر دیمیترس و. چې د خپل یو تن قومندان ایوکرایتد له خوا ېې ماته وخوړله.

ایوکرایتد د یو نوي واکمني بنسټ کېښوده.

ایوکرایتد په کال ۱۸۱ق.م په بلخ کې واک ته ورسېده او ټول آریانا باندې ېې واک چلېده.

د واکمنۍ پرمهال ېې د ای تیدیوم د کورنۍ پاتې شونو د پارتیان په کمک یو تعداد فعالیتونه ترسره کړل. چې د همدغه فعالیتونو په پایله کې د ایوکرایتد د واکمني تزلزل او ضعف سبب شول.

په کال ۱۳۵ق.م کې ېې د خپلې واکمني مرکز د هندوکش جنوب یا کاپیسا ته انتقال کړه.

له ایوکرایتد څخه وروسته زوی ېې هیلوکلیس واک ته ورسېد نومړي د یونان باختر وروستی پادشاه پېژندل شوي دي.

هیلوکلیس د خپلې واکمنۍ لمنه د هندوکش له شمال نه تر ګندهارا او جهلم پورې وغزوله.

ټول ۳۶ تنه یونان باختري پاچاهانو په یونان باختر باندې واکمني کړې ده.

په کال ۱۰۰ق.م کې د پخوانۍ افغانستان په جنوبي څنډو کې یوه بله کورنۍ د ساکهانویه نوم باندې راڅرګنده شوه.

پولسم لوست (د یونان باختر مدنیت خصوصیات)

انګلیسي مورخ (تاینبي) افغانستان د پخوانیو مدنیتونو د مرکز او د هغه د یوځای کېدو ځای یاد کړي دی.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

جاپاني تاريخ پېژندونکي (ماوريزويوتوزي) افغانستان د سوداګري د ځلور لارې نوم ورکړي دی.

علامه حبيبي افغانستان د نړۍ د تمدونونو زانګو ياد کړي دی.

فرانسوي الفرد فوشه افغانستان د نړۍ د تمدونونو سرچينه ښودلي دی..

په افغانستان کې د مشهورو تاريخي مدنيتونو له جملې څخه چې په سيمه کې نېه پېژندل شوي و د يونان باختر مدنيت و.

يونان باختر تمدن اصلاً د دو تمدنونو د پېژندنې مجموعه ده.

د علومو له مرحلو څخه يوه روښانه مرحله د هيراکليت، افلاطون او بيطلموس او نورو فيلسوفانو وه. دغه عالمانو دغه امپراتوري ته روښاني وربښلې وه.

د آبادۍ په برخه کې ېې زيات کارونه وکړل ،چې نېه مثال ېې کولاي شو د تيرو تراشل ياد کړو، چې دکمال تر کچې پورې رسېدلي و.

يوناني معمارانو دنظامي اډو لپاره داسې ځايونه انتخابول چې له دوه يا دريو خواوو څخه به د طبعي موانعو پواسطه ساتل کېدل.

د دغه ډول معماريو نمونې د افغانستان په مختلفو سيمو کې شتون لري. د مثال په ډول د اې خانم تاريخي سيمه چې د امو او کوکچې د سېندونو په تقاطع کې جوړه شوې ده.

بله نمونه ېې د باګرام سيمه ده، چې د شتل او پنجشېر د سيندونو په تقاطع کې جوړه شوې ده.

د يوناني هنر له جملې څخه کولاي شو د مجسمو جوړولو او د تيرو تراشلو څخه يادونه وکړو، چې د افغاني هنرمندانو په هڅه ېې زياته پراختيا وموندله.

دولسم لوست (آي خانم)

د آمو او کوکچې سيندونو د تقاطع په ساحه کې د تخارپه ولايت کې ۲۳۰۰ کاله مخکې د يو دفاعي ښار بنسټ کېښودل شو.

آي خانم د يونان باختري مدنيت له نمونو څخه ده.

آي خانم سيمه په ۱۹۴۶م کې د فرانسوي تاريخ پوهانو لخوا ترڅېړنې لاندې ونيول شوه.

آي خانم ترکي کلمه ده چې آي د مياشتې او خانم د ښځې په معنا ده. ا ر ي

دلومړي ځل لپارهٔ اسکندر مقدوني د دې ښار بنسټ کېښوده.

مشهور يوناني جغرافيه پوه بيطلموس د اکسوس اسکندري په نوم له دې سيمې څخه يادونه کړې ده.

فرانسوي تاريخ پوهانو څېړنو دا وښودله چې دمعماري بڼه ېې د څتيځ او لوېديځ په څېر ده.

د استحکام پخاطر ېې په تهداب کې د خامو خښتو پرځاي له پخو خښتو څخه کار اخيستل شوی دی. او درطوبت د مخنيوي پخاطر ېې له ډبرو سکرو څخه کار اخيستې دی. او د ښکلا پخاطر ېې چونه کارولې ده.

د اې خانم ښار ۱۵۰۰متره طول او ۱۰متره ارتفاع لري.

د اې خانم ښار په مرکزي برخه کې دفترونه او ځنډو کې ېې د استوګنې لپاره کورونو شتون درلودل.

د دغه ښار مرکزي برخه چې ۳۰۰متره په ۳۰۰متره ساحه ېې احتاطه کړې ده ،د يو حويلي شکل لري په اصل کې دغه ځاي د ښار پايتخت او د اداري مرکزونو ځاي و.

د اې خانم ښار حويلي د مستطيل په شکل جوړه شوې وه چې ۱۳۰متره اوږدوالی او ۱۸۰متره سور ېې درلوده او په ځلورو واړو کونجونو کې ېې ۱۱۶ ستنې درلودې .

په دغه لوی ښارپه منځ کې يوتالار چې ۲۷متره اوږدوالی او ۱۷متره سور درلوده ،چې ليدونکې ېې خپل ځان ته راجلبول.

له آي خانم څخه د اکيپلر چوتس ليکنې، او رنګارنګ ورزشي وسايل هم له دې سيمې څخه لاسته راغلي دي.

دياولسم لوست ساکهان(پارتيان)

د يونان باختر وروستۍ واکمني د هليوکليس واکمني وه.

په دغه وخت کې په جنوب او جنوب ختيځي سيمو کې يوه بله واکمني چې د ساکه ياساکهانو په نوم يادېده منځته راغلله.

د افغانستان په جنوبي سيمو لکه اراکوزايا(قندهار)، سکستان (سيستان) د ساکهانو په نوم يوې قوي ډلې دحکومت بنسټ کېښوده.

د دغه واکمنۍ لومړنی پادشاه هرايوس نومېده.

دغه واکمنۍ په لنډ وخت کې خپل تصروفات تر تاکسلا، سيند او دېولان ترځنډو پورې وغزول.

ساکهانو ديونان باختر واکمني جنوب او جنوب ختيځي سيمې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

وروسته له هرايوس څخه مايوس په ۷۲ق.م کې واک ته ورسېد.

مايوس د خپلو مسکوکاتو په مخ باندې د شهنشاه لقب وليکه.

له يوې لېکنې څخه داسې ثابتېږي چې په ۷۸ق.م کې له يوناني او خروشتي ليک څخه استفاده کېده.

د مايوس په وخت کې د تاريخ پېژندونکو لخوا ۷ډوله مسکوکات پېژندل.

له مايوس څخه وروسته د ده ۲ تنه ځاي ناستو پېژندل شوي چې د دواړو واکمني ۵۰ کالو ته رسېده. چې وروسته د ستې قومونو په واسطه له منځه لاړه.

د کوشانيانو واکمني ساکهان له واک څخه لرې کړه او د هغه تر واک لاندې سيمې ېې تر خپل واک لاندې راوستې.

څوارلسم لوست (کوشانيان)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

کوشانیان د کوشان له کلمې څخه اخیستل شوې دی .
کوشانیان له یوچي قومونو څخه دي چې د امولە سیند څخه را تیر او په بلخ کې یې د یونان باختر واکمني له منځه یوړه.

د کوشانیانو د واکمني په شروع کې دری نور ولایتونه هم له بلخ سره یوځای شول ،او د یوې نوې واکمني بنسټ یې کېښوده.

د کوشانیانو د واکمنۍ بنسټ ایښودونکي کجولا کدفسیس و.

کجولا کدفسیس مخکې له دې چې واکمني ترلاسه کړي. د خپل قوم مشري یې په غاړه درلوده.

کجولا کدفسیس په ۴۰م کې واک ته ورسېد، تر ۸۰ م پورې یې واکمني وکړه. یعنې ۴۰ کاله یې د پخواني افغانستان په مختلفو سیمو واکمني وکړه.

کجولا کدفسیس د خپلې واکمني په وروستیوکې ځان ته د شهنشاه لقب اختیار کړ.

له کجولا کدفسیس څخه وروسته یې زوی ویماتکتو واک ته ورسېده.

له ویماتکتو وروسته یې زوی ویما کدفسیس تر ۱۲۷م کال پورې حکومت وکړ.

ویما کدفسیس اولیني پادشاه و چې دکوشا نیانو د واکمنۍ حدود یې په جنوب کې دګنګا تر سینده ورسول.

ویما کدفسیس له چین سره دوستانه اړیکې درلودې ،او د روم دامپراطور تراجان دربار ته یې یو سفیر ولیږه، تر څو له هغه سره تجارتي او اقتصادي اړیکې ټینګې کړي. په دغه دوره کې دروم سکې جوړولو هنر راڅرګند شو.

دکوشانیانو د واکمنۍ اړونده نوي معلومات د رباتک له ډبرلیکنو څخه لاسته راغلي دي.

د رباتک ډبرلیکونه درباتک له سیمې څخه چې د سمنګانو او بغلان ولایتونو تر منځ موقیعت لري لاسته راغلي دي.

مخکې داسې باور و چې د کدفسیس او کوشانیانو کورنۍ سره جدا دي؛ خو د رباتک ډبرلیک ثابته کړه چې دا دواړه کورنۍ سره یو دي.

له ویما کدفسیس نه وروسته یې زوی لوی کنشکا واک ته ورسېده. کنشکا د افغانستان په پخواني تاریخ کې یو مقتدر او له خاص شهرت څخه برخمن پادشاه یاد شوی ده.

د کنشکا د واکمني سرحدات په ختیځ کې د هندوستان تر بنارس، په لویدیځ کې د پارتیانو تر واکمنۍ او په شمال کې تر یارکند او کاشغر پورې رسېدل. او همدارنګه یې په ختیځ کې له چین او په لویدیځ کې له روم سره تجارتي اړیکې درلودې.

کنشکا د خپلې واکمنۍ د اداره کولو لپاره دوه مرکزونه لرل. د دوبي لپاره یې بګرام او دڅمې لپاره پشاور و.

کجولا کدفسیس له (۴۰-۸۰)م پورې دکوشانیانو واکمن و.

ویماتکتو چې له (۸۰-۱۰۵)م پورې دکوشانیانو واکمن و.

درباتک ډبرلیک په اساس نوموړي دکوشانیانو اولنی واکمن و.

ویما کدفسیس له (۱۰۵-۱۲۷)م پورې واکمن و. خپلې واکمني سرحد یې د ګنګا تر سیندپورې ورسولو. او دروم امپراتور تراجان دربار ته یې سفیر ولیږه.

کنشکا له (۱۲۷-۱۴۷)م پورې دکوشانیانو دامپراطوري لوی واکمن و.

هوویشکا له (۱۴۷-۱۸۳)م پورې د کوشانیانو واکمن و.

واسودیوا له (۱۸۳-۲۲۰)م پورې دکوشانیانو د امپراطوري وروستي واکمن و. له ده وروسته محلي واکمنۍ پیل شوې.

د رباتک ډبرلیک په ۱۳۷۲ه ش کې د بغلان او سمنګانو تر منځ په یو منطقه کې کشف شو.

د رباطک ډبر لیک د انګلیسي سیمس ویلم په زیار ولوستل شو.

پنځلسم لوست (بګرام)

هغه پاتې شوني چې له اسکندر مقدوني څخه پاتې دي ،په هغه کې د قفقاز اسکندریه یادzونه اوسني بګرام ته راجع ده.

هغه ټولې سیمې چې د کوشانیانو تر واک لاندې وې ،او سرحدات یې په ختیځ کې له خوقند،یارکند او نیپال نه شروع کیدل او په لویدیځ کې تر اصفهان ،او سیستان پورې او شمال کې له سیر دریا، خوارزم او سغد څخه شروع او تر پوتالي پوترا،سراي چامپاي، مرکزي هند او د هند تر بحیرې پورې رسېدل. په اوړی کې له بګرام او په ژمي کې پښاور څخه اداره کېدله.

بګرام د لومړي ځل لپاره د فرانسوي تاریخ پېژندونکو لخوا په کال ۱۹۳۷م کې تر خېرنې لاندې ونیول شو.

د فرانسوي تاریخ پوه ګرشمن له څېرنو څخه ثابتیږي چې د بګرام ښار د یوناني ماهریونو په لاسونو باندې جوړشوي ده. او د جوړښت او معماري له نظره یې د یونان له ښار سره مقایسه کړي ده.

له بګرام څخه په زیاته اندازه طلایي سکې، عاجي آثار، برونزي وسایل او ځینې خاص آثار چې له روم، مصر،چین، هند او د نړۍ له نورو برخو څخه لاسته راغلي دي له دې سیمې څخه ترلاسه او په مسلسل ډول د افغانستان ملي موزیم ته انتقال شول. او په ملي موزیم کې ورته خاصه خونه د بګرام په نوم ورته افتتاح کړه.

شپاړسم لوست (هډه)

مورخینو او تاریخ پوهانو د پخواني افغانستان شمالي سیمې چې د اوسني هند ترشمالي ځنډو پورې رسېږي. د ګندهارا په نوم یادکړې دي.

یوناني مورخینو هیردوت او استرابون د ګندهارا شاوخوا سیمې په خپلو لیکنو کې دګندارېس په نوم یادې کړې دي.

برعلاوه په دې چې د اسکندر مقدوني په دوره کې د ګندهارا له سیمې څخه یادونه نه ده شوې، خو د یونان باختري واکمنې په

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دوران کې چې په ټول افغانستان ېې واک درلوده، له دغه سیمه څخه ېې د ګنداراتي یا ګنداروا په نوم یادونه شوي ده. چې دناګاها(ننګرهار)، کوهش(کونړ)، پوراشاپورا(پشاور)، سراسوتي(سوات) سیمې پکې شاملې وې.

د ګنداهارا له لویو فرهنګي مرکزونوڅخه د اوسني جلال اباد ته نږدې د هډې سیمه ده.

هډه چې په پخوانیو متنونوکې د هیلو په نوم یاده شوې ده. هیلو سیمه د بودایانو لپاره مبارک او د عبادت ځای ېې وه.

فاهیان لومړي چیني ګرځندوی و چې په ۴۲۰م کې ېې له هډې څخه لیدنه وکړه.

له فاهیان وروسته سوینګ یون په ۵۲۰ م کې له هډې څخه لیدنه وکړه او د هډې په اړه ېې زیات مطالب ثبت کړل.

هیوتسنګ په کال ۶۳۰م کې له هډې څخه لیدنه وکړه.

څنګه هډه د کوشانیانو د امپراطوري له فرهنګي پایتخت څخه ګڼل کېده.

د ضرورت وړ امکانات او شرایطو برابرېدل ، چې د کنشکا په واکمنۍ کې ورته برابر شول.

دوهم لامل ېې نوي تغیرات او لاسته راوړنې وې په بودیزم کې.

دریم لامل ېې د ګندهاریانو فکري پوه او ذکاوت یاد کړی دی. چې په ټوله بودایي نړۍ کې ېې د لومړي ځل لپاره د بودا مجسمې د جوړلو افتکار وکړو. فرانسوي تاریخ پوه میسو فوشه په قول د بودا مجسمه په ګندهارا کې د ګندهارایونو پواسطه جوړه شوې ده.

اوولسم لوست (بامیان)

د ګریکو بودیک تمدن د لومړي ځل لپاره په پخواني افغانستان کې رامنځته شو ،او انکشاف ېې وکړ. او وروسته ګاونډویو سیمو ته خپور شو.

تر هغه پورې چې لوی کنشکا بودایی دین نه و قبول کړی، بودایي دین د هند په نیمه وچه کې د یوې بې خوځښته عقیدې په شکل پېژندل کېده.

د کوشانیانو د واکمنۍ په دوران کې د افغاني ماهرینو او هنرمندانو په وسیله د پام نه وغورځېده.

هندي او یونانیانو ته د پراخیتا زمینه برابره شوه. چې په نتیجه کې یو نوي تاریخي تمدن د ګریکو بودیک په نوم منځته راغلو.

دغه مدنیت له جاپان، چین، کوریا، او سریلانکا نه نیولې تر هند سیر دریا، ان تر تاجکستان پورې ېې سیمې تر خپل واک لاندې راوستلې وې.

د بامیانو په اړه تر ټولو پخواني معلومات د چیني ګرځندویانو په واسطه لیکل شوي دي. فاهیان یو له تر ټولو پخوانیو چیني ګرځندویانو له جملې څخه دي چې د بامیانو په اړه ېې تحقیقات کړي وو.

فاهیان په ۴۰۰م کې له بامیانو څخه لیدنه کړې وه. او دې د لویو مجسمو په اړه ېې ګټور معلومات لیکلي وو.

له فاهیان څخه وروسته هیونتسنګ له بامیانو څخه لیدنه وکړه ،او په خپلو سفرونو کې ېې مهم مطالب راټول کړي وو.

د هیونتسنګ په قول په بامیانو کې له ۱۰ څخه زیاتې خانقاوې موجودې وې. چې په دې کې کم ترکم ۱۰۰۰ تنه واعظین د بودایی دین د خپرولو لپاره ګمارل شوي وو.

په افغانستان کې د رسمي پلټنو او څېړنو له شروع څخه وروسته د لومړي ځل لپاره په کال ۱۹۲۲م کې د بامیانو لویې مجسمې د فرانسوي تاریخ پېژندونکي (الفردفوشه) لخوا ترخیړنې لاندې ونیول شوې.

الفردفوشه ثابته کړه چې په څلورمه او پنځمه میلادي پیړیو کې په بامیانو کې دوه لویو مجسمو شتون درلوده ،چې د صلصال او شمامه په نوم پېژندل کېدې.

د بودا دغه دواړه لوی مجسمې په ۲۰۰۱م کې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال له منځه لاړې.

د دغه مجسمو له تخریب څخه دوه کاله وروسته په ۲۰۰۳م کې بامیان د یونسکو په فهرست کې شامل شول.

اتلسم لوست (کیداریان)

د واسودیوا له مړینې څخه وروسته د کوشانیانو په واکمنۍ کې د محلي واکمنیو لړۍ پیل شوه.

دکوشانیانو د واکمنۍ په لویدیځو څنډو کې خپل سرو واکمنانو له نوی رامنځته کېدونکې ساساني واکمنې سره اړیکې ټینګې کړې. دغه اړیکې او هڅه د دوي د خپل قدرت او پاتې کېدو لپاره وو. چې کم تر کم یې نیمه پیړۍ دوام وکړو.

په بلخ کې د کیداریانو د واکمنانو واک ته رسېدولو خپلواک روحیه د دې سبب شوه ،چې د ساسانیانو سره ېې پرله پسې جنګونه وغزېږي او د دوي په مقابل کې مقاومت تقویه شي.

کیداریان د کوشانیانو له پاتې شونو څخه دي. د کیدار په نوم یو تن شهزاده چې کوشاني کورنۍ ته منصوب و په بلخ کې د حکومت چارې په واک کې واخیستې.

په بلخ کې د کیداریانو د واکمنې ډیر وخت لا نه وه تیر شوی چې په شمال کې د یفتلیانو تربرېدونو لاندې راغلل.

کیدار خپل پایتخت د هندوکش لویدیځ طرف ته انتقال کړ. او بدون له جنګ څخه ېې کابل او ګندهارا ترخپل واک لاندې راوستل.

دکیدار واکمنې له ۳۲۵م سره برابره ده. چې د کوچنیو کوشانیانو د پیل دوره هم بلل کیږي.

د کیدار د واکمنې ۸ کالونه له ساسانیانو سره په جنګونو او مخالف تیرشول.

د کیدار او ساسانیانو تر منځ جنګونو له (۳۵۰-۳۵۸)م پورې دوام درلوده.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

فوستس ارمنستاني تاریخ پوه لیکلي دي چې په ۳٦۷م او ۳٦۸م کالونو کې سخت جنګونه د کیدار او ساسانیانو ترمنځ پېښ شول چې په پاي کې ساسانیانو سخته ماته وخوړله.

د کیدار د واکمني پرمهال یې په کابل کې د زوي کنګاس د واکمني یادونه هم شوی ده. چې د ځینو سیمو اداره ېې په غاړه درلوده.

له کیدار نه وروسته ېې بل زوي پیرو واک ته ورسېده. چې له ۳۷۵م څخه تر ۳۸۰م پورې ېې د واک چارې په لاس کې لرلې.

له پیرو څخه وروسته د ورهران یا بهرام په نوم یو بل واکمن د کابل شاهانو یا کیداریانو څخه واک ته ورسیده.

له بهرام نه وروسته د هندوکش جنوبي څنډې د یفتلیانو تر حملو لاندې راغلې. او د کیدارپانو واکمني ته ېې د پاي ټکي کېښوده.

نولسم لوست (یفتلیان)

د انګلیسي تاریخ پوه سراولف کارو له نظره یفتلیان د مرکزي اسیا څخه د جنوب په لور حرکت را وکړ او لومړنی اداره ېې په تخار کې په ۳٦۰م کې رامنځته کړه.

یفتلیانو تخار او بعضې برخې د هندوکش ېې د کیدارپانو له ولکې څخه خلاصې کړې.

د یفتلیانو او ساسانیانو ترمنځ جنګونه هغه وخت شدید وو، چې کله یفتلیانو د هندوکش په جنوبي برخو باندې ولکه نه وه ټینګه کړې.

لومړنی جنګ د یفتلیانو او ساسانیانو تر منځ په ۴۲۷م کې پېښ شو، هغه وخت چې کله ساساني بهرام ګور په مرو او مرغاب باندې حمله وکړه. خو یفتلي واکمن خاقان له خپلې سیمې څخه په مېرانه باندې دفاع وکړه، او ساساني لښکرو ته ېې سخته ماته ورکړه.

په کال ۴۳۸م کې بیا هم د بهرام زوی دوهم یزدګرد د یفتلیانو تر واک لاندې سیمو باندې حمله وکړه؛ خو له سختې ماتې سره مخ شو.

اول فیروز هم له یفتلیانو سره د جنګ لاره ونیوه. مګر دا ځل یفتلي واکمن اخشنور داسې ماته ورکړه چې د خپل حاکمیت د ساتنې لپاره مجبور شو. خپل زوی قباد اخشنور ته تسلیم کړي او دوه کاله درانده مالیات یفتلي واکمنانو ته ورکړي.

اخشنور له فیروز سره تر جنګونو وروسته په دې وتوانېده چې د پخواني آریانا یووالي بیا ټینګ کړي. او د هندوکش جنوبي سیمې ېې تر خپل واک لاندې راوستې زابل ېې د خپل مرکز په توګه وټاکه .او له همدې ځایه ېې د نورو ځایونو د نیولو پلانونه جوړول.

ولاش د فیروز ورور د خپل یو تن وزیر په واسطه له واک نه لرې شو. او ړوند ېې کړ.

قباد چې زیات وخت له اخشنور سره بندي و بالاخره دساسانیانو واکمني ته ورسېده. قباد له یفتلیانو سره د دوستي لاره خپله کړه. پدې وخت کې دیفتلي واکمنانو توجو د هند په طرف وواښته.

اخشنور کم ترکم نیمه پېړۍ واکمني وکړه. ساساني واکمنان لکه ولاش او قباد به اخشنور ته خراج ورکولو او په هند کې ېې د ګوپتا کورنۍ پرلپسې وټکوله او تر کال ۴٦۰م پورې ېې تر ۴۰ زیات ولایتونه تري ونیول.

له اخشنور وروسته ېې زوی تورمنه یا توریالی واک ته ورسېده. او په خپلو مسکوکاتو کې ځان د زابل امپراطور یاد کړی دی.

تورمنه د خپلې واکمنۍ سراحدات د مرکزي هند تر څنډو پورې ورسول او په ۵۰۲م کې مړ شو.

له ده نه وروسته ېې زوي مهراکولا واک ته ورسېده.

مهراکولا د خپلې واکمنۍ د پراخېدو په موخه په هند زیاتې حملې وکړې. تر څو چې د ګوپتا کورنۍ ېې خراج ورکولو ته مجبوره کړه.

مهراکولا په ۵۴۲م کې مړشو او د ده د مړینې سره همزمان د یفتلیانو د واکمني زوال هم پیل شو.

دیفتلیانو د واکمني په نسکورېدو سره په افغانستان کې د کوشان یفتلي په نوم محلي واکمنیو لړي پیل شوه.

د یفتلیانو له واکمنۍ نه وروسته محلي واکمنیو د ۸ میلادي پېړۍ تر اخېرو پورې دوام وکړو.

شلم لوست (دافغانستان سیاسي اوضاع)

د شپږمې میلادي پېړۍ په وروستیو او اوومې میلادي پېړۍ په اوایلو کې د افغانستان ځمکه د محلي او بعضې د کوشاني او یفتلي پاتې شونو پواسطه اداره کېده.

د اسلام د مبارک دین د ظهور په وخت کې افغانستان له سیاسي لحاظه ګډوډ حالت درلوده.

له یو طرفه نه د دوه قوي امپراطوریو شتون چې په ختیځ کې د ګوپتیایانو واکمني او په لویدیځ کې د ساسانیانو امپراطوري او له بله طرفه نه د یو واحدي قوي مرکزي اداري نشتوالي د محلي حکومتونو د رامنځته کېدو زمینه مساعده کړې وه.

چیني ګرځندوي هیونتسنګ چې په اوومه میلادي پېړۍ کې افغانستان ته سفر کړی و. د افغانستان د سیاسي اوضاع په اړه ېې زیات مطالب لیکل دي.

زابلي رتبیل شاهان یو له مشهورو کورنیو څخه وو چې له کابل شاهانو سره ېې ښې اړیکې درلودې او په زابل او له غزني څخه تر سیستان پورې ېې واکمني درلوده.

شیران په بامیانو او کابلشاهان په کابل کې او یو زیات شمیر داسې نورې واکمنۍ هم وې. چې د افغانستان په شاوخوا سیمو کې ېې واکمني کوله.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

زردشتي دين چې سرچينه يې په بلخ کې وه، او بودايي دين چې سرچينه يې په هند کې وه په افغانستان کې زيات پيروان درلودل.

يو عمده دليل د مختلفو عقيدو د شتون د محلي واکمنيو شتون په افغانستان کې ښودل شوي و.

اما فرهنګ او کلتور د افغانستان د خلکو د ويدي او اوستايي متونو څخه راخستل شوي وه.

د اوومې ميلادي پيړي په وروستيو کې دريم يزدګرد ساساني واکمن د احنف ابن قيس (رض) په مشري د اسلام سپځلو لښکرو لخوا په ٦٥١م کې سخته ماته وخوړله.

په ٢٢ه کال کې دعمر(رض) دخلافت په دوره کې دلومړي ځل لپاره د اسلام مبارکې لښکرې افغانستان ته راورسېدې.

په مختلفو وختونو کې يې فتوحاتو ادامه پيدا کړه، چې بالاخره دمسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمان (رض) په وخت کې د عبدالله ابن عامر په مشرۍ د اسلام لښکرې تر کابل پورې راورسېدې.

اسلامي لښکرو د اسلامي حکومت د تينګېدو لپاره تقريباً دوه پيړۍ پرلپسې جنګونه وکړل، تر څو چې په افغانستان کې د يو خپلواکه اسلامي حکومت د راڅرګندېدو زمينه مساعده شوه.

دريم فصل

يوويشتم لوست (تمدن)

تمدن يوه عربي کلمه ده چې د شاري ژوند په معنا يې اطلاق کيږي.

د اسلامي نړۍ مشهور تاريخ پوه ابن خلدون په دې باور دی چې تمدن د بدوي کلتور په پايله کې رامنځته کيږي او بېرته دې همدې په پايله کې له منځه ځي .او دا کار په همداسې دايروي بڼه جريان پيدا کوي.

آرنولد تاينبي: په دې عقيده دي چې تمدونونه د بېلابېلو خندونو او عکس العملونو په پايله کې رامنځته کيږي.

ګوردن چايلد: يو له هغه عالمانو څخه دي چې ټول تمدونونه له يوې واحدې هستې يا يو واحد ځای څخه ګڼي. د مصرتمدن، بين النهرين تمدن او سيند تمدونونه يې تر مطالعې لاندې ونيول، او د دوی تر منځ يې مشابهتونه واضح کړل. او بلاخره يې د تمدونونو سرچينه دمصر تمدن ياده کړه.

يو تعداد نور ليکوالان: په دې نظر دي چې ټول بشري تمدونونه له يوې واحدې سرچينې څخه دي او له يوې تاريخي حوزې څخه شروع شوي دي.

دوهمه ډله ليکوالان: په دې نظر دي چې د تمدونو منشا يوه نه ده، او د دنيا تمدونونه له يو تمدن څخه سرچينه نه ده اخيستې. نظر په شرايطو په هره منطقه کې تمدن رامنځته شوي او پرمختګ يې کړی دی.

دلومړنيو تمدنونو خانګړتياوې

1.شاري بدلون: تقريباً ٣٠٠٠ق.م کې انسانان د ژوند يو نوي پراو نه داخل شول. چې هغه د ښار رامنځته کېدل وو. زراعت له مالداري څخه جدا شو او ښارونو په مرکزونو کې په هر برخه کې لکه ديني، سياسي، فرهنګي، اجتماعي، اقتصادي او نورو برخوکې زيات بدلونونه رامنځته شول .چې دغه ته يې شاري بدلون نوم ورکړ.

2.سياسي او نظامي جوړښت: هم مهاله د شاري ژوند تر څنګ دولتي ادارات هم منځته راغلل تر څو ټولنه د پرمختګ په لوري وهڅوي. او غوښتنو ته يې جواب ووايي. او همدارنګه نظامي قدرت يې هم د خپلو سيمو او سياسي قدرت د ساتلو لپاره رامنځته کړ.

3.د اقتصاد پر مټ د يو نوي اجتماعي ټولنې جوړول: پادشاهانو، روحانيونو، سياسي رهبرانو او جګړمارانو واک په خپل لاس کې واخيسته. او دې ټولنې په لوړه طبقه کې يې ځای ونيو. کروندګر او صنعت کاران په دوهمه طبقه کې او غلامانو په دريمه طبقه کې ځای ونيو.

4.ديني جوړښت: په لومړنيو تمدنونو کې ديني ارزښتونو ځانګړی ځای لرلو.

دوه ويشتم لوست (بين النهرين)

هغه سيمې چې د (دجلې او فرات) سيندونو ترمنځ موقعيت لري د بين النهرين په نوم يادېږي.

په دغه منطقه کې دې نړۍ تر ټولو پخوانی تمدن رامنځته شوی دی، چې مورخين يې د رامنځته کېدو لامل د دجلې او فرات سيندونو سواحل يادوي. د تاريخ پوهانو په باور د نوح (ع) طوفان هم پدې سيمه کې پېښ شوی و.

د بين النهرين تر ټولو پخوانی سيمه د تل حسونا په نوم ياده شوې ده.

٥٠٠٠ق.م کاله مخکې په تل حسونا سيمه کې يوې لوې کلا شتون درلوده. چې اوسېدونکو يې کرنه کوله. خو د نفوسو د زياتوالي له امله يې په (٤٠٠٠-٥٠٠٠)ق.م کلونو کې بين النهرين ته هجرت وکړو او هلته يې د يوتمدن بنسټ کېښوده چې د سومريانو په نوم ياديدل.

سومريانو په سومرکي د ژوند لپاره زيات ښارونه جوړ کړل چې عبارت دي له (اور، اوروک، کيش، لاګاش، لارسا او وينپور).

د سومريانو ښارونه د انسي کاهنانو لخوا په خپلواکه توګه اداره کېدل .او مرکزي اداري شتون نه درلوده. د سومريانو له واکمنانو څخه يو هم آيتن و چې په ټولو سامري دولتونو يې ولکه درلوده.

په کال ٢٤٠٠ق.م کې اکدي قومونو سامري واکمن ګيل کمپش له منځه لرې کړ، او واک يې په خپل لاس کې واخيسته.

د اکدايانو لومړني واکمن يې سارګون و. چې خپل سرحدات يې د فارس خليج نه د بين النهرين تر شماله پورې پراخه کړل. او د لومړني امپراطور په نوم ياد شوی دی.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د اکدیانو واکمني له دوه پېړیو وروسته د شمال ختیځي قومونو (ګوتیانو) لخوا له منځه لاړه.

ګوتیانو یو پېړۍ واکمني وکړه او بلاخره د سومریانو لخوا له منځه لاړل.

له یو څه وخت وروسته سومریان او اکدیان سره متحد شول او د اور په نوم حکومت پېې رامنځته کړ.

ایلامیان چې د ایران په لویدیځ او جنوب کې واکمن وو له سومریانو سره پېې جنګونه پیل کړل، او په کال ۲۰۰۷ق.م کې له منځه لاړل.

داور د واکمنۍ د له منځه تلو څخه وروسته په جنوبي بین النهرین کې جنګونه پیل شول، او په نتیجه کې بابلیان چې په ۱۹ق.م پېړۍ کې رامنځته شوي و. د هیواد زیاتې برخې پېې تر خپل واک لاندې راوستې او دبابلیانو په نوم یې د لویې امپراطورۍ بنسټ کېښود.

د بابلیانو امپراطوري دوره چې درې پېړۍ پېې دوام وکړو. دنړۍ دتاریخ یو مهم فصل شمېرل کېږي.

د دغه کورنۍ مشهور واکمن حمورابي و، چې د بین النهرین یوالی پېې ټینګ کړ. او خپلو سرحداتو ته پېې پراختیا ورکړه او سربېره پر دې زراعت او تجارت ته پېې هم وده ورکړه ،او هم یې یو قانون جوړ کړ، چې د حمورابي د قانون په نوم یادېده.

د حمورابي د مرګ څخه وروسته په بین النهرین کې پاڅونونه پیل شول ،چې په پایله کې بابلیان له منځه لاړل او آشوریان واک ته ورسېدل .آشوریان یو جنګي قوم و چې په آشور کې پېې حکومت درلوده.

د اشوریانو لومړني واکمن سارګون و چې په ۱۹۰۰ق.م کال کې پېې د اور ښار ونیوه.

په ۹ق.م پېړۍ کې اشوریانو زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړل، او خپل قلمرو پېې د مدیترانې تر څنډو پورې پراخه کړل له یو څه وخت وروسته پېې مصر هم تر خپل واک لاندې راوسته.

د اشوریانو وروستی واکمن آشوربنپال و چې د ایلامیانو واکمنی ته پېې د پای ټکی کېښوده.

د آشوریانو د واکمني مرکز د نینوا ښار و، چې زیات پرمختګ پېې کړی و.

یو بل قوم چې له یوې پېړۍ نه پېې زیات په بین النهرین باندې حکومت کړی وه کلدانیان و ،او د نویو بابلیانو په نوم هم یادېدل ځکه چې دوي پایتخت له نینوا څخه بابل ښار ته انتقال کړ. او وعده پېې وکړه چې د بابلیانو تمدن ته به پرمختګ ورکوو او د حمورابي قانون به پلي کوو.

په کال ۵۳۹ق.م کې هخامنشایانو د کلدانیانو وروستي واکمن بخت نصر له منځه یوړ، او د بابل ښار پېې ونیوه په دې ترتیب سره بابل ښار دې هخامنشایانو تر واک لاندې راغی.

له هخامنشایانو وروسته ساسانیانو بابل ونیوه. بلاخره په ۷ق.م پېړۍ کې دې مسلمانانو لاسته ورغي.

دروېشتم لوست (د بین النهرین تمدن او فرهنګ)

دبین النهرین خلکو په زیاتو خدایانو لکه دآسمان خدای، دسپوږمۍ خدای، د زراعت خدای او نورو باندې پېې عقیده درلوده.

له مرګ نه وروسته پېې په ژوند باور درلوده ؛نوځکه پېې له مړو سره په قبرونو کې وسایل خښول.

د روایتونو په اساس خداي (ج) حضرت ابراهیم (ع) راولیږه تر څو چې خلک د بوتانو له عبادت نه منعه او د یو خداي(ج) عبادت ته پېې راوبولي.

د ابراهیم (ع) د توحید دعوت د نمرود له شدید مقاومت سره مخامخ شو. خو ډیر ژر د بین النهرین تر پولو تېر شو فلسطین او جزیره العرب ته ورسېده.

په بین النهرین کې د زراعت د انکشاف او پرمختګ مهم لامل د دجلې او فرات له اوبو نه ډک سیندونه وو. غنم او جوار د بین النهرین له مهمو پیداورو څخه وو.

دمورخینو څېړنو ثابته کړې ده ،کومې نسخې چې قدامت پېې ۵۰۰۰ق.م ته رسېږي دا دې چې هغه وخت د کتابونو پانې دي.

په بین النهرین کې لومړي رامنځته شوی خط مېخي خط ښودل شوی دی.

دستورو پېژندنې علم ډیر زیات پرمختګ کړی و، په بین النهرین کې ستورو ته د دوي عبادت و، هغه ستوري چې اوس هم عطارد، زهره، مشتري او زحل په نومونو باندې پېژندل کېږي.

د دجلې او فرات سیندونه د بین النهرین د خلکو لپاره بهترین ځایونه وو چې د آبیارۍ او د خپلو ځمکو د حدود په تعین کې پېې تر ګټه اخیسته.

لومړی ریاضي او هندسي علم منځته راغلل. او وروسته دجمعې، منفي، ضرب او تقسیم عملیې هم رامنځته شوې. او کال پېې په ۱۲میاشتو او هره میاشت پېې په ۴ برخو تقسیم کړه چې په دې شکل سره هفته رامنځته شوه.

دبابل ښار

بابل د بین النهرین یو له پخوانیو ښارونو څخه دی. د مورخینو په باور دا ښار له ۴۰۰۰ق.م کلونو را پدې خوا شتون لري او دنړۍ له لومړنیو ښارونو څخه حسابېږي.

د بابل ښار د بابلیانو خصوصاً د حمورابي په وخت کې زیات انکشاف وکړ.

په ۶۸۹ ق.م د اسوریانو د یرغل په پایله کې د بابل ښار ویجاړ شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په کال ۵۳۹ق.م کې د بابل ښار د هخامنشي واکمن کوروش تر تصرف لاندې راغی.

دبابل ښار دفرات سیند په څنډه کې واقع دي چې ټول مساحت یې ۵۲۰کیلومتره مربع دی.

د دغه ښار په شاوخوا لوړ او محکم برجونه او دروازې شتون لري، چې ۲۵۰برجونه او ۱۰۰دروازې دي او شاوخوا لوبې لوبې څاګانې هم لري. او د ۹۰ کیلومتره اوږد دیوال پواسطه احاطه شوی دی، او د فرات سیند یې له منځ څخه تېرېږي هر طرف د دغه ښار د دوه ښایسته پلونو پواسطه سره وصل شوی دی.

د بابل ښار له سترو ودانیو څخه یوه هم هغه برج ډوله اووه پوړیزه ودانی وه چې کابو ۲۰۰ متره لوړوالی یې درلود.

د دغه ښار ودانی له ډبرو څخه جوړې شوې دي. او دغه ډبرې د سفالي رنګونو پواسطه پوښل شوې دي، چې د نړۍ له زیات ارتفاع لرونکو ودانیو څخه شمېرل کېږي. او باندنی طرف یې د کاشیانو پواسطه نقاشي شوی دی.

د قرانکریم له آیتونو څخه ثابته شوې ده، چې حضرت ابراهیم (ع) په بابل ښار کې بتان مات کړي وو. او د نمرود پاچا په امر په اورکې اچول شوي و.

دبابل ښار کنډوالې اوس هم د بغداد په ۸۵کیلومتری کې دکوفې ښار ته نږدې اوس هم موقیعت لري.

څلورویشتم لوست (د مصر تمدن)

دمصر هیواد په افریقا کې موقیعت لري. دمورخینو په نظر د مصر تمدن د رامنځته کېدو لامل په مصر کې د نیل سیند ښودل شوی دی.

په مصر کې له ۵۰۰۰-۳۲۰۰ق.م کلونو پورې د نیل په شاوخوا یو مقتدر حکومت شتون نه درلود. وروسته محلي حکومتونه سره متحد شول او دوه حکومتونه ېې جوړ کړل، چې په یو په جنوب او بل په شمال کې و.

په دغه دوره کې هنر پرمختګ وکړ د رواجونو او عاداتو پر مټ قانون جوړ شو. او همدارنګه خط او جنتري منځته راغلل چې د دغه وخت د پرمختګ ښودنه کوي.

په ۳۲۰۰ق.م کې د جنوبي او شمالي حکومتونو د یو ځای کېدو په نتیجه کې یو مرکزي حکومت رامنځته شو. مورخین د مصر تاریخ له مینز دورې نه تر هخامنشیانو پورې په دریو دورو باندې ویشلی دی.

پخواني دوره: دا دوره د منیز په قدرت ته رسېدو سره شروع کیږي . په دې دوره کې شپږ کورنی پرلپسې واک ته ورسېدې.

په دې دوره کې حکومتي سیستم تیوکراسي(دیني) و.

پادشاه به هم دیني مشر و او هم به سیاسی رهبر و .ځکه چې د پادشاه خواک به د خدای خواک ګڼل کېده. او د خلکو په منځ کې ېې زیات احترام درلود؛ نو له همدې وجې ېې د فرعون لقب ورکړی و.

دمصر حکومت کافي نظامي خواک نه درلوه نو ځکه ېې د صلحې لاره خپله کړې وه

دغه دوره په ۲۳۰۰ق.م کې پای ته ورسېده. چې وروسته په مصر کې نوې دوره شروع شوه ،چې دوه پېړۍ ېې دوام وکې چې د فیوډالي دورې په نوم هم یادیده.

په دغه دوره کې ګډوډي زیاته وه ،نجیبان له زیات قدرت څخه برخمن وو. همدغه لامل و چې وخت نا وخت به د تېت رتبه خلکو له پاڅونونه سره مخ کېدل.

منځني دوره: په ۲۱۰۰ق.م کې یوولسمه کورنی واک ته ورسېده ،چې په نتیجه کې ګډوډی ختمې شوې. او یوه نوې دوره د مصر په تاریخ کې پیل شوه. چې د مصر په تاریخ کې د منځنی دورې په نوم یاده شوې ده.

دغه دوره نسبت نورو دورو ته کمزورې وه ،ځکه چې فرعونیان یو په بل پسې واک ته رسېدل؛ خو اصلي قدرت له وړو واکمنانو سره و.

دولسمه کورنی چې کله واک ته ورسېده دغه حالت ېې ختم کړه او فرعونیان ېې د زیات قدرت نه برخمن کړل.عدالت رامنځته شو او خلک پرته له نژادي تبعض څخه په کارونو وګمارل شول.

دولسمه کورنی د دموکراسی بنسټ اېښودنکې وه، دغه دوره د عدالت او پرمختګ له نظره یوه زرینه دوره وه.

د دغه دورې په ختمېدو سره مصر یوځل بیا د پردیو له ګډوډیو سره مخامخ شو ،چې زیاتره ېې د دوهمې پېړۍ و.

هکسوسیان چې په لویدیځي آسیا کې ېې واکمني درلوده. مصر ېې ونیوه، او دغه نیولو په مصر باندې زیات تاثیرات له ځانه سره لرل.

دمصر واکمنان د هکسوسیانو په مقابل کې راپورته شول، او پردي ځواکونه ېې له خپلې خاورې څخه وایستل. د دغه قیام قهرمان اول اهموز د اتلسمې کورنی بنسټ اېښودنکې و.

د امپراطوري دوره (۱۵۸۰ق.م نه تر ۱۰۹۰ق.م)

دغه دوره له مصر څخه د هکسوسیانو وتلو او د اول اهموز په واک ته رسېدو سره پیل کیږي اول اهموز یو پراخ حکومت جوړ کړ، فلسطین ېې ونیوه او تر سوریې پورې ورسېده. جګړو او لښکرکشیو ېې دې توتمس تر وخته دوام درلود چې د دجلې او فرات سیند تر منځنیو څنډو پورې سیمې ېې په مصر پورې وتړلې.

د پادشاه په مړینې سره یو ځل بیا هم ګډوډي په مصر کې رامنځته شوه، او تر ۱۲ق.م پېړۍ پورې ېې تولې فتح کړې سیمې له لاسه ورکړې.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په ۶۷۰ق.م کې مصر آشوریانو ونیولو او تر ۶۶۲ق.م پورې یې تر واک لاندې وو.

په ۵۲۵ق.م کې مصر د فارس امپراطوری لاسته ورغی، چې له هغه وروسته بیا په مصر کې پخوانی تمدن را ژوندی نه شو.

مجموعاً په مصر کې ټولې ۲۰ کورنۍ واک ته ورسېدې چې زیاتره یې فرعونیان وو.

دوهم رامسس یو له دغه واکمنانو څخه و چې حضرت موسی (ع) یې د واکمنۍ په وران کې راڅرګند شو.

پنځه ویشتم لوست (د مصر فرهنګ او تمدن)

په پخوانیو واکمنیو کې د مختلفو دینونو ادیان سره یوځای شول او یو واحد دین یې رامنځته کړ، او همدارنګه د مختلفو خدایانو له منځ نه یې یو واحد خدای د آمون ري (دلمر رب النوع) وټاکه چې د دوي تر منځ په عدالت، رښتنوالي او اخلاقو کې مشهور و.

اوسیروس د نیل رب النوع چې د نباتاتو خداي ګڼل کېده رامنځته کړه. په منځني دوره کې دین خپل د اوج پوړیو ته ورسېده.

د هکسوسیانو د برید په وخت کې د دغه دین ادیان په خرافاتو کې اخته شول. او د پیسو په مقابل کې یې د ګناه د بښلو لیکونه چې د پاپیروس په کاغذونو به لیکل شوي و خرڅېدل.

په کال ۱۳۷۵ق.م کې د څلورم امینوهوتپ په مشري یو پاڅون ترسره شو، چې پخواني دین یې له منځه یوړ او پرځای یې یو نوی دین چې آتون خداي و عبادت پیل کړه.

امینوهوتپ خپل نوم اخناتون ته بدل کړ وروستیو فرعونانو له دغه دین سره چندان علاقه نه درلوده له دې نه مخکې توتن خامون په دین کې خرافات رامنځته کړي و او د اتون دین یې له منځه یوړ.

د حضرت موسی (ع) پاڅون د فرعون پر وړاندې دخلکو په یو لوي حرکت باندې بدل شو چې بلاخره فرعون په سیند کې غرق شو او توحید دین لوړو پوړیو ته وختو.

په لومړیو کې فرعونیانو خپل مړي په پارچو کې تاوول او بیا به یې خښول، خو وروسته یې بیا دا طریقه بدله کړه او بیا به یې مميایي کول او د ضرورت وړ توکي به یې په قبر کې ورسره اېښودل.

د مصر اجتماعي اوضاع

دمصر ټولنه په واقیعت کې له څلورو طبقو څخه تشکیل شوې وه. په هر طبقه کې خلک او په راس کې به یې فرعون و د طبقاتو د ژوند ترمنځه چندانې تفاوت موجود نه وه، خو په اقتصادي لحاظ یې زیات تفاوت تر منځ موجود و.

غلامان چې په لومړي سر کې په شاقه کارونو باندې ګمارل کېدل وروسته عسکري خدماتو ته جذب کېدل، د دوي په ژوند کې زیات تغیرات رامنځته شول چې بلاخره وروسته د غلامانو طبقه بیخي له منځه لاړه.

د تعلیم په برخه کې یې زیات پرمختګونه کړي وه د دولتي مکتبونو تر څنګ خصوصي مکتبونه هم موجود وو چې د هرې طبقې خلک به اړونده مکتب کې تحصیل کولو.

د مصر اقتصادي سیستم

د مصر اقتصاد په زراعت او مالداری باندې ولاړ و، زراعت پکې زیاته پراختیا موندلې وه، د هغه وخت په قانون ځمکه ټوله د فرعونانو وه ،او خلکو ته به یې د مالیې په مقابل کې په اجاره ورکوله.

له ۲۰ق.م پیړۍ نه وروسته تجارت په چټکی سره وده وکړه او په اقتصادي ارکانو کې تر ټولو د مخه و.

مصریانو له بهرنیو هیوادونو سره په خپلو تجارتي اړیکو کې پراخوالي راوسته چې ښه مثال یې د افغانستان لارجورد وو چې ۳۰۰۰ق.م کال کې مصر ته ورسېدل.

د زیاتې ګټې د لاسته راوړلو په خاطر خارجي تجارت هم د دولت تر انحصار لاندې و. پرته د اخناتون له دورې څخه نور په ټولو دورو کې روحانیون له مالیې معاف وو، او د دولت په بودیجه کې خاص سهم درلوده سربېره پر دې د ځمکې دحاصلاتو ۷مه برخه هم د روحانیونو ګڼل کېده، او همدارنګه دزرګونو حیواناتو او تقریباً د ۱۰۰ کشتیو خاوند به هم وو.

ادبیات په مصر کې

مصریان لومړني خلک وو چې تصویري (هیروګلیف) خط یې رامنځته کړ. کاهنانو به له دغه خط د عبادت ځایونو او د فرعونیانو د مانیو او قبرونو باندې د لیکنو لپاره کارول.

علاوه پر دې خط یو بل خط هم د دیموتیک په نوم شتون درلوده ،چې د منځنیو طبقو خلکو او سوداګرانو به تر استفاده کوله.

په مکتب کې به له پاپیروس کاغذ نه استفاده کېدله.

د جنتري په رامنځته کېدو سربېره د تاریخ کتاب هم شتون درلوده، چې په هغه کې په د فرعونیانو کامیابي او هغه ته ورته نور مسایل پکې لیکل کېدل.

د مصر هنر او معماري

کوم کلتوري میراثونه چې پاتې دي تر ډیره حده یې د مصر تمدن ته نسبت کېږي. چې په لاندې ډول تري یادونه کېږي: اهرامونه، عبادت ځایونه ، مانې ، مجسمې او تصویرونه. چې د همغه وخت د واکمنانو د لویې ښودنه کوي چې دري ګونې اهرامونه یې تر ټولو ښه بېلګه ده.

شپږویشتم لوست (د فارس تمدن)

سیالک، ګوران، جیروفت او شهرسوخته د پخواني ایران له مشهورو تاریخي سیمو څخه دي، چې اوسېدونکو یې له

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

گاوندیو سیمو لکه مندیګک، موهنجودارو او د هرپې سره ښې اړیکې درلودې.

ایلامیانو ۳۰۰۰ق.م کال کې د فارس تمدن رامنځته کړ. د دغه تمدن په اړه زیات تاریخي معلومات د شوش له ښار څخه چې د ایلامیانو سیاسي مرکز و لاسته راغلي دي.

ایلامیانو په هنر، ادب او صنعت کې د پام وړ پرمختګونه کړي و.

د بابلیانو او آشوریانو په واک ته رسېدو سره ایلامیان ورو ورو د ضعف خوا ته لاړل ،چې بلاخره په کال ۶۴۵ق.م کې د اشوربنپال له خوا له منځه لاړل. د اشوریانو کورنۍ له دوو قبیلو نه تشکیل شوې وه، چې د فارس په شمال لویدیځ کې ېې استوګنه درلوده یوه ېې مادیان او بله ېې پارسیان وو.

د هیرودیت په قول د ۸ق.م پېړۍ په وروستیو کې د دیاکو په نوم یوتن د ماد قومونه تر خپلې ولکې لاندې راوستل او دې مادیانو په نوم حکومت ېې رامنځته کړه.

په دغه سلسله کې مادیانو ۳ تنه مشهور پادشاهان واک ته ورسېدل چې یو د هغه له جملې څخه استیاک و چې د نوموړي د واکمنۍ پر مهال د مادیانو حکومت خپلې د اوج پوړیو ته ورسېدو او خپل قلمرو ته ېې پراختیا ورکړه.

پارسیان د کوروش په مشرۍ سره متحد شول او کال ۵۵۳ق.م کې ېې د مادیانو حکومت له منځه یوړ، چې د همدغه ګډوډیو په نتیجه کې واک مخامنشیانو ته ورسېده او د نوموړې کورنۍ مشهور پادشاه لوی کوروش بابل ښار تر خپل واک لاندې راوسته او ځان ېې پادشاه اعلان کړ.

له کوروش نه وروسته ېې زوی کمبوجیه واک ته ورسېده نوموړي په مصر باندې هجوم ورړه او مصر ېې له خپلې واکمنۍ سره وتاړه.

۸ واکمنان د هخامنشیانو په کورنۍ کې یو په بل پسې واک ته ورسېدل چې بلاخره په ۳۳۵ق.م کې د هخامنشانو وروستي واکمن دریوش د اسکندر د حملو په وړاندې ېې ماته وخوړه او د همدغه ماتې په نتیجه کې نوموړې امپراطوري هم له منځه لاړه.

په پارس کې تمدن او فرهنګ

په پخوانۍ پارس کې د ځینو حیواناتو، خمکې، آسمان، اوبو او اور عبادت معمول و. د ستورو او لمر عبادت ځانګړی ځای درلوده.

ایلامیانو له مرګ نه وروسته په ژوند باور درلوده؛ نو ځکه ېې له مړو سره په قبرونو کې ختېن لوښي اینبودل او همدارنګه د اوبو له کانال څخه به ېې اوبه هم قبر ته ورتویولې تر څو چې مړي تږي نشي.

د زردشت په راڅرګندیدو سره د پارس رسمي دین زردشتي شو او زیات ارزش ېې پیدا کړ.

په پارس کې هنر، صنعت او معماري

ایلامیانو په پخوانۍ پارس کې د فلزي او ختېنو لوښو، مجسمو جوړولو او د ډبرو پر مخ نقاشۍ کې خاص مهارت درلوده.

مادیانو خپل کورونه په لوړو ځایونو او د لویو کلاګانو په منځ کې جوړول چې دغه کلاګاني به د لویو دیوالونو په واسطه ساتل کېدې او لوی لوی برجونه به یې لرل چې د دفاعي سنګرونو په توګه به ترې ګټه اخیستل کېده.

د جمشید تخت یو له مهمو قصرونو له جملې څخه و، چې د هخامنشیانو په وخت کې جوړ شوي و. دریم دراېوش دغه قصر خپل د پاچاهي لپاره انتخاب کړی و، او د نوموړي د آبادولو لپاره ېې زیات تعداد هنرمندان د ټول هیواد څخه په کار ګمارلي وو.

د اسکندر مقدوني په راتلو سره د نوموړي تخت زیاتره برخې ورانې او ویجاړې شوې.

اوه ویشتم لوست (د هند تمدن)

هند په آسیا کې یو له مهمو تاریخي مرکزونو څخه دي.

په کال ۱۹۲۴م تاریخ پېژندونکو په هند کې د دوو تاریخي سیمو پاتې شوني پیدا کړل چې یوه ېې هرپه او بله ېې موهنجودارو چې لرغونتوب ېې ۳۰۰۰ق.م ته رسېده.

هرپه او موهنجودارو د پاکستان کراچي ښار ته نږدې موقعیت لري. او دراویدي قبیلو اړوند کېږي او دغه ځنډې د هند د پخواني تمدن څخه شمېرل کېدې.

د هرپه او موهنجودارو تمدن د سند په لویدیځ کې رامنځته شو. له لاسته راغلو آثارو څخه ځرګندیږي چې ۳۰۰۰ق.م کې د نوموړې منطقې خلک په کرنه، مالداري او میوه لرونکو ونو په روزنه باندې لګیا وو.

د هراپه او موهنجودارو له پاتې شونو څخه معلومېږي چې دلته زیات کورونه له پخو خښتو څخه جوړ شوي دي. او همدارنګه دوکانونو او نورو ودانیو شتون درلوده چې عموماً دوه منزلونه درلودنکي وو او پراخه کوڅې ېې درلودې.

په کال ۱۵۰۰ق.م کې آریانانو دراویدي قومونه هند ته مهاجر شول او په نوموړې سیمه کې مېشت شول.

آریایانو هند ته په داخلیدو سره طبقاتي سیستم رامنځته کړ، او ټولنه ېې په څلورو طبقو باندې ووېشله. برهما (روحانیون)، کشتاریان(جګړه ماران)، ویستا(تجاران او کروندګر)، سودرا(کارګران).

آریایانو په هند کې یو واحد سیستم رامنځته نه کړ.

هخامنشي واکمن داریوش د هند شمالي سیمې تر خپل واک لاندې راوستې خو د اسکندر پواسطه د هخامنشیانو په له منځه تللو سره نوموړې سیمې د یونانیانو لاسته ورغلې. چې وروسته د نوموړي له مرګ څخه د ده یو هندي قومندان چندراګوپتا د یونانیانو په وړاندې پاڅون وکړ او دوي ېې له قدرت نه وغورځول.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

له موریایانو نه وروسته گوپتا واکمني پیل شوه چې څو پیړۍ پې دوام وکړو.

په هند کې تمدن او فرهنګ

هند ته د آریایانو له داخلېدو څخه مخکې په هند کې د حیواناتو او طبعت عبادت کېده. او له لویو خدایونو څخه پې اګني(داور خداي) او اندایر(دباران خداي) وو.

په هند کې زیات خدایان موجود و چې له هغه څخه برهمن وو چې دغه دین حکومت ته پې د خداپی مقام ورکولو او پادشاه به پې مقدس ګڼل.

په ٦ق.م پیړۍ کې هند ته بودایي دین راغې چې اشرافو پې زیات ملاتړ وکړ او زیات پراختیا پې وموندە.

علم هنر او معماري په هند کې

د پخواني هند خلکو په ریاضیاتو او طبابت کې خاص پرمختګونه لرل. له ۱-۹ پورې اعداد او اعشاري سیستم پې رامنځته کړ.

په هند کې هنر او معماري هم زیات پرمختګ کړی و چې کولاي شو د هرې او موهنجودارو څخه پې یادونه وکړو.

د هندي هنرمندانو له مهمو کارونو څخه یو پې هم مجسمه جوړول و نومورو د بودا او خپلو خدایانو لپاره له لرګیو او تیږو څخه مجسمې جوړولې. چې دخلکو لخوا زیاتې ستایل کېدې.

اته ویشتم لوست (د چین تمدن)

دچین هیواد د آسیا په ختیځ کې موقیعت لري چې د نړۍ یو له پخوانیو تمدنونو څخه دی.

دچین تمدن د هوانګهو سیند په غاړه رامنځته شو.

لومړي حکومت په چین کې ۱۵۰۰ق.م کې رامنځته شو چې د شانګ په نوم یادیده.

د چین تمدن له مهمو لاسته راوړنو څخه کولاي شو د خط، جنتري او لوښو جوړول یاد کړو.

دوهمه کورنۍ چې په چین کې واک ته ورسېده د چو په نوم یادیده. چې واکمنانو پې له (۲۵٦-۱۰۲۸ق.م) پورې واکمني کړې ده، د چو د واکمنۍ په وروستو کې په چین کې داخلي جنګونه او پاڅونونه رامنځته شول.

چې له دې وروسته په چین کې یوه بله قبیله د (چه این) په نوم واک ته ورسېده. چې په پخواني چین کې یو مشهور حکومت تېر شوی دی.

د چه این قبیلې واکمن د شی هوانګ تي په نوم یادېده چې د چین په تاریخ کې زیات شهرت درلوده. خان پې اولین امپراطور اعلان کړ.

د شی هوانګ تي په دوره کې قوانین رامنځته شول، سرکونه جوړ شول، او د خارجي حملو د مخنیوي په موخه پې یو لوي دیوال چې اوس هم موجود دی جوړ کړ چې دچین د لوې دیوال په نوم یادېږي.

د شی هوانګ تي له مړینې وروسته په چین کې ګډوډي رامنځته شوه ،چې وروسته نورې کورنۍ واک ته ورسېدې. په دې وخت کې بودایی مبلغینو چین ته سفرونه وکړل چې په چین کې بودایي دین ته پې پراختیا ورکړه.

په چین کې تمدن او پرهنګ

دچین خلکو د آسمان، ځمکې او خپلو نیکونو عبادت کولو. دچین له مشهورو مذهبونو څخه تاو او کنفسیوس وو. د مذهب له نظره انسان او طبعت سره نږدې دي، او یو په بل باندې مستقیم تاثیرات لري.

د تاو دین: نوموړي دین یوه ساده ژوند او د نفساني خواهشاتو پرېښودل توسعه کوي.

د کانفسیوس دین: نوموړی دین د انسانو تر منځ په اجتماعي اړیکو باندې ټینګار کوي. دغه دین په پخوانیو رواجونو، لویانو، نیکیو اوکورني یوالي باندې ډیر تاکید درلود.

په چین کې ادبیات

د چین خط د هیروګلف ته ورته پخوانی خط و. دغه خط د(چه این) په واکمنۍ کې رامنځته شو او په ټول چین کې تر اوسه پورې ترې ګټه اخیستل کېږي.

دغه خط نورو هېوادونو ته هم خپور شو ، او د جاپاني کوریایی او ویتنامي خط دوران تېر شوی و.

په چین کې به په تیرو وختونوکې خط په لرګیو او تیږو باندې لیکل کېد. په اوله میلادي پیړۍ کې په چین کې کاغذ رامنځته شو چې په لیکلو کې پې یو لوي انقلاب رامنځته کړ.

علم هنر او صنعت په چین کې

چینایانو په ریاضیاتو، نجوم او جغرافیه کې لاسته راوړنې درلودې. د چو په واکمنۍ کې څو ولایتونو لپاره نقشې جوړې شوې او د هېواد اوجغرافیې په اړه زیات معلومات حاصل شول.

چینایانو د زلزلې په اړه هم معلومات درلودل ،او د معلومولو لپاره پې یوآله هم کشف کړه.

چینایانو د مقناطیس دخواصو په اړه هم څېړنې وکړې ،چې وروسته پې قطب نما هم کشف کړه.

چینایانو د انسان د اناتومی په اړه هم معلومات درلودل ،او همدارنګه پې د خینو ناروغیو په اړه هم څېړنې ترسره کړې وې.

چینایان لومړني خلک وو چې د فلزکاری سره آشنا وو. دچین لوی لوی ښارونه له پوهانو او صنعت کارانو څخه ډک وو د کاغذ او چاپ ماشین، قطب نما او باروت رامنځته کول دچینایانو له لویو لاسته راوړنوڅخه وو. د لوښو جوړولو او نساجي صنعت په چین کې زیات پرمختګ کړی وو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دچین لوی دېوال یو لوی مثال د چین د صنعت دی، دغه دیوال د آرام سمندر له غاړو او مورګو څخه پیل او د تبت په سرحداتو باندې ختمېږي.

دغه دیوال د شی هوانګ تي په امر په ۲۰ کلونو کې جوړ شوی دی. لوړوالی یې ۷.۵ متره او عرض یې په همدې اندازه دي. کله چې به کوم کارګر ناروغ یا به مړ شو نو په همدې دیواله کې به یې خښولو. د نوموړي دېوال په هرو ۱۰۰ مترو کې یوه امنیتي پوسته شتون لري.

نه ویشتم لوست (یونان تمدن)

د یونان تمدن یو له هغه پخوانیو تمدنونو له جملې څخه دی چې لویدیځې نړۍ ورځخه الهام اخیستی دی، او د دې پر اساس یې خپل فرهنګ پیل کړی دی.

د یونان لومړی تمدن د کرت په نوم یاد شوی دی.

کرت په یونان پورې تړلې جزیره وه. په ۱۹۰۰م کې تاریخ پېژندونکو وښودله چې په کرت جزیره کې یو پرمختللی تمدن موجود و چې د مصر او بین النهرین له تمدنونو سره یې سیالي کوله.

له دغه ساحې څخه زیات بې مثاله د ډبرو او خټین لوښي لاسته راغلي دي. او دې ته ورته نور وسایل هم تر لاسته شوي دي چې قدامت یې ۲۵۰۰-۱۵۰۰ ق.م کلونو پورې رسېږي.

په ۲۰۰۰ق.م په کرت کې مرکزي حکومت رامنځته شو. مرکز یې د کنوسوس ښار و چې د آریایانو د حملو په نتیجه کې له منځه لاړ.

یونانیان

یونانیان د آریایانو له قبیلو څخه دي چې له خپل اصلي ټاټوبي(آریاناویجې) څخه د اروپا په لور مهاجر شول او په شاوخوا ۲۵۰۰ق.م کې یونان ته داخل شول.

د اریایانو لومړی ډله اکینان وو، چې ورپسې ایونان او بیا دوریان یونان ته راننوتل، دوي د یونان اصلي اوسېدونکي د ځان تابع کړل او نه تنها یونان بلکې دایجن(ایژه) سیند ټوله شاوخوا یې تر خپل ولکې لاندې راوسته.

په ۱۶ق.م پېړۍ کې لومړنی حکومت د اکینانو لخوا شروع شو، او لوېې لوېې مانې یې په سن کې جوړې کړې اکینانو تر ۱۰ق.م پېړۍ پورې دوام درلود.

اکینان په زراعت باندې لګیا و، او له برونزي وسایلو څخه به یې کار اخیسته دغه دوره په ۱۰ق.م پېړۍ کې دې دوریانو د حملو په نتیجه کې له منځه لاړل، او په دې ترتیب دوریان په پخواني یونان کې واک ته ورسېدل.

دوریانو د فرهنګ پرمختګ ته پاملرنه نه کوله ،بلکې د (الیاد او ادیسه) مشهور حماسي داستانونه به یې یادول چې په هم دې زمانه کې منځته راغلي و، دغه ادبیاتو په نړۍ کې لوی مقام درلوده، چې هومر ړانده شاعر پواسطه ویل شوي وو.

دیونان ښاري دولتونه

دزیاتو غرونو او جزیرو زیاتوالي په یونان کې او همدرانګه قبیلوي تصرفاتو په دغه ساحه کې د دې سبب شول، چې یوناني قبیلې یو له بل نه جدا او لرې زندګي غوره کړه. چې د اسپارت او اتن په نوم ښارونه یې تر ټولو مشهور ښارونه وو.

د اسپارت خلکو جنګي مهارتونو کې بې حده ورټیا درلوده. خو د اتن ښار اوسېدونکو په دموکراسي، علم او فلسفه کې شهرت درلوده.

د یونان دولتونه همیشه یو له بل سره په رقابت او دوښمني کې وو. او په دوو برخو تقسیم شوي وو، چې یوې برخې په سر کې اتن او د بلې په سر کې اسپارت شتون درلود.

په یونان کې جنګي کلاوې د پلوپو په نوم یادېدې، دغه جنګونو تر ډیره دوام وکړ چې بلاخره اسپارتیان کامیاب شول خو دوي هم د تبس حکومت له خوا مغلوب شول.

فلیپ مقدوني چې د یونان په شمال کې په مقدونیه کې واکمن و، یونان یې تر واک لاندې راوسته ،چې دغه کړنې د فلیپ زوی اسکندر مقدوني ته د فتوحاتو لاره برابره کړه.

اسکندر وروسته له مصر او ترکیې څخه د ایران طرف ته مخه کړه ،او تر (۳۳۶-۳۲۳) ق.م پورې یې هخامنشیان له واکه لرې کړل او د هند تر شمال پورې یې پرمختګ وکړ.

فرهنګ او تمدن په یونان کې

لکه څنګه چې پخواني خلک په دې عقیده وو. چې آسمان، ځمکه، رعد او برق، مینه، ښکلا او علم دا ټول ځان ته خدایان لري.

زیوس د آسمان خدای، پاسیدون د سیند خدای، اپولو د لمر خدای او اتینا د کامیابۍ خدای ګڼل کېده.

د یونانیانو په نظر یو شمېر خدایانو یې د المپ په غرونو کې شتون درلوده. په همدې خاطر د المپیک سیالۍ په همدې غره کې تر سره کېږي. د المپیک سیالۍ د همغه دوران پاتې شوني دي.

یونانیانو له مرګ نه وروسته په ژوند باندې باور درلوده؛ نو په همدې خاطر یې له مړو سره په قبرونو کې یو شمېر وسایل ایښودل.

هنر او معماري په یونان کې

له یونان څخه زیات وسایل لکه مجسمې، لوښي ، سکې او بوتان په لاس راغلي دي. معماري او مجسمه جوړونه په یونان کې له خاص شهرت څخه برخمنه وه، دوي خدایانو او پادشاهانو لپاره مجسمې جوړولې، او کورونه به یې له ډبرو او لرګیو څخه جوړول، همدارنګه موسیقي او تیاتر هم په یونان کې رواج و.

علم او فلسفه په یونان کې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

یو بل مهم سبب د یونان د پرمختګ له مصر او کوچنۍ آسیا سره د دوي تجارتي اړیکې وې، له همدې لارې د اسیا او افریقا لاسته راوړنو یونان ته لاره پیدا کړه او پرمختګ ېې وکړ.

د یونان فیلسوفان په نړۍ کې مشهور وو چې کولای شو د سقراط، افلاطون او ارسطو نومونه یاد کړو. سقراط به کلیو او ښارونو کې ګرځېده او له خلکو سره به ېې خبرې کولې ډیر زیات شاګردان ېې درلودل.

دېرشم لوست (روم تمدن)

د روم تمدن په ایټالیا کې متمرکز و. دغه تمدن د یو پل حیثیت درلود. چې د یونان تمدن لاسته راوړنې له دې لارې د اروپا نورو ځنډو ته خپرې شوې.

پخوانیو ایټالویانو یونانیانو څخه الفبا، دیني عقاید او هنرونه زده کړل. پر همدې اساس د ایټالیا نوم یو یوناني نوم دی.

د روم تمدن له ٦ ق.م پېړۍ څخه په وده باندې پیل کړی و. او یونان تمدن له سقوط نه وروسته د اوج لوړو پوړیو ته ورسېده.

د روم ښار ۱۰۰۰ ق.م کې د لاتیوم په ناحیه کې جوړ شوی دی. رومي ژبه هم له همدې کلمې څخه اخیستل شوې ده.

له یو څه وخت وروسته ېې شاهي نظام منځته راوړ. چې تر ۵۰۹ ق.م پورې ېې دوام وکړ، له شاهي نظام وروسته په روم کې د جمهوري نظام بنسټ کېښودل شو. چې د مشرانو جرګه یا مرکبه جرګه ېې له ۱۰۰ کسانو او قومي مشرانو څخه تشکیل شوې وه.

د رومیانو او کارتاژیانو تر منځ جنګونو له یوې پېړۍ زیات دوام وکړ. چې په نتیجه کې رومیان بریالي شول او په کال ۱۴٦ ق.م کې ېې کارتاژیانو ته ماتې ورکړه، او له پښو ېې وغورځول.

د اکتاو په نوم یو شخص د روم د امپراطورۍ بنسټ کېښود. چې له ۲۷ ق.م نه تر ۱۴ ق.م کال پورې ېې په روم باندې واکمني کوله. له دې څخه وروسته د روم په تاریخ کې یو نوې دوره پیل شوه، چې د روم د امپراطورۍ په نوم یادېده او تر ۴۷٦م کال پورې ېې دوام وکړ.

اکتاو یو غوره امپراطور و. د نوموړي په واکمنۍ کې زیات اصلاحات رامنځته شول، فساد له منځه لاړو نظم او قانون پیاوړي شو. نوي قوانین ایجاد شول او پستي خدمات هم رامنځته شول.

له ۳ میلادي پېړۍ وروسته د روم امپراطوري له مشکلاتو سره مخامخ شوه او له قدرت څخه ولوېده.

کله چې کستانتین د روم امپراطور د بیزانتوم(قسطنطنیه) ښار خپل مرکز و ټاکه، د نوموړي دغه کړنه د دې سبب شوه چې د روم امپراطوري په دوه برخو ختیځي اوغربي باندې ووېشل شي.

د لویدیځ لوري خلک د ګاونډیو د حملاتو په اثر ضعیف شول. اما ختیځي روم تر هغه پورې دوام درلود، چې کله ترکي مسلمانانو په کال ۱۴۵۳م کې ېې مرکز فتح کړه .

فرهنګ او تمدن په روم کې

روم هم لکه د یونانیانو په زیاتو خدایانو باندې عقیده درلوده، هغه ته ېې عبادت کولو. مریخ د جنګ په وخت کې د مرستې رسونې خدای، زنجونو د ښځو د ساتنې خدای، مشتري د بارانو خدای او عطارد د پیغام ورکولو خدای و.

مسیحیانو د رومیانو په خدایانو باندې باور نه درلوده؛ نو ځکه اول نه د دولتي مامورینو او کاهنانو له مخالفت سره مخامخ شول. بلاخره دغه دین د تېرو نظریاتو او خرافاتو سره مخامخ شو او د روم رسمي دین شو.

په روم کې ټولنیز ژوند

د روم د رامنځته کېدو په وخت کې رومي ټولنه له دریو اصلي برخو څخه تشکیل شوې وه.

۱ - اصلي رومیان ۲- غیر رومي وګړي ۳- غلامان

په روم کې دولت او قانون

قانون په روم کې دري برخې درلودې.

اول قانون: مدني قانون و چې صرف د هغه وګړو لپاره چې د روم اصلي اوسېدونکي وو وضع شوی و.

دوم قانون: دغه قانون د ټولو هغه وګړو لپاره و چې په رومي امپراطورۍ کې ېې ژوند کولو.

دریم قانون: طبیعي قانون و چې د محاکمو په نسبت ېې له فلسفې سره زیات سرو کار درلود.

د حکومت اساس قضاییه او مقننه قواو تشکیلولو، چې د رومیانو لخوا له منځه لاړې او جمهوریت پالنې نظریې ته ېې وده ورکړه.

هنر او معماري په روم کې

رومي هنر د یوناني هنر ادامه بلل کېږي، چې زیات اثار لکه لوښي، سکې، مجسمې او داسې نور زیات شیان ترې لاسته راغلي دي چې رومي تمدن ښکارندویي کوي.

رومیان د پلونو، سېکو، مجسمو او ودانیو په جوړولو کې ډیر ماهر وو چې نمونې ېې تر اوسه پورې په دغه هیواد کې شتون لري.

یودېرشم لوست (د امریکا تمدن)

زیات وخت مخکې خلکو داسې فکر کولو چې د امریکا تمدن زیات قدامت نه لري؛ خو د پوهانو څېړنو واضح کړه چې زرګونه کلونه مخکې انسانانو په امریکا کې ژوند غوره کړی و.

د امریکا د بومي قومونو په اړه هغه نظریه چې ټول په دې اتفاق لري. هغه وایي چې دامریکا لومړني اوسېدونکي مغول وو چې د سایبریا له لارې الاسکا ته مهاجر شوي وو.

د مایا تمدن

د مایا تمدن لرغونتوب تقریباً ۱۵۰۰ ق.م کلونو ته رسیږي. تر ۹ میلادي پېړۍ پورې ېې زیات پرمختګ وکړ او په مرکزي امریکا

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

کې دې ګواتمیالا، مکسیکو، هاندروس او یوکاتون تر څنډو پورې ورسېدل.

دمایا تمدن پاتې شوني له تیګال، نابونامپک، پالینکو، ګوتیمالا او ګویان سیمو څخه تر لاسه شوي دي. په دغه سیمو کې داسې ودانۍ کشف شوې دي چې په انځورونو باندې ښکلې شوي وې.

مایا تمدن جنتري، الفبا او انځوري خط رامنځته کړ، له صفر او اعدادو سره ېې اشنایي درلوده ،او په حساب هم پوهېدل د کال تېرېدو ته ېې پام کولو، او د هر شلو کلونو لپاره یې یو یادګار لیکه چې کاتون به ورته ویل کېده.

مایا تمدن په زیات شمېر خدایانو باندې لکه د اور خدای، د باران خدای، د لمر خدای او د هنر او صلحې خدای باندې عقیده درلوده، او په خپله خوښه او رضا باندې ېې د هغه لپاره قرباني کوله.

د معماری په برخه کې مایانو له مصریانو سره ډېر ورته والی درلود.

په ۹ ق.م پېړۍ کې یوه نوې ډله خلک مکسیکو ته رانغوتل او مایا تمدن یې له منځه یووړ.

ازتکیان

ازتکیان په ۹ ق.م پېړۍ کې په مکسیکو کې راڅرګند شول. جنګي خلک وو، او له یو څه مودې وروسته دې همدې سیمې واکمنان شول.

ازتکیانو یوه لویه واکمني رامنځته کړه چې په ۳۸ ولایتونو باندې تقسیم شوې وه ، اوهریو ولایت به د یو نفر چې والي به ورته ویل کېده اداره کېده.

د ازتک پادشاه به په عین حال کې یو راهب هم و. چې د اشرافو او جنګیالیو لخوا به تعین کېده.

د ازتک ټولنه په جنګیالیو، سوداګرانو او کسبګرانو باندې تقسیم شوي وه.

دوي په یو تعداد خدایانو لکه د لمر خدای باندې باور درلود. د اوسپنې له ویلې کېدو او له هغه څخه د وسایلو جوړولو سره ېې اشنایي درلوده.

د ازتکانو مرکز د ټینوش ټیتلان ښار و، چې هغه مهال د مرکزي امریکا یو پرمختللی ښار و.

د ازتکیانو ژبه ناهوت وه چې تر اوسه پورې مروجه ده. خط ېې تصویري و او په کال ۱۵۲۱م کې د اسپانویانو لخوا له منځه لاړه.

د اینکایانو تمدن

د اینکا تمدن په ۱۱ میلادي پېړۍ کې د اینکا قبیلې پواسطه چې له اسیا څخه امریکا ته مهاجره شوې وه رامنځته شوه.

اینکایانو هم یو لویه امپراطوري رامنځته کړه ،چې سرحدات ېې تر اکوادور، پیرو او چیلي پورې رسېدل د اینکایانو واکمنانو د مذهبي کاهنانو په مرسته باندې واکمني کوله او خپل ځان به ېې د خدای زوي معرفي کولو .

ځمکه به دولتي ملکیت و. کچالو او جوار عمده زراعتي محصول وو. بزګر به دریمه برخه ترلاسه کوله یو برخه به ېې دولت ته او یو برخه به ېې د نوي امپراطور لپاره جدا کوله.

اینکایانو جنتري درلوده ،او په مهندسي، معماري او لاسي صنایع کې ېې هم زیات پشرفت کړی و. هنر او صنایع هم پرمختګ کړي و.

اینکایانو مسي لوښي، سلاح او زېورات د مسو او طلا له مخلوط څخه جوړول. له ازتکیانو سره ېې ښې تجارتي اړیکې درلودې او صنعتي تولیدات ېې ازتک امپراطوري ته صادرول.

په کال ۱۵۳۲م کې هسپانیویان د اینکایانو قلمرو ته داخل شول او د اینکایانو وروستي امپراطور (اتاهولپا) ېې له منځه یوړ، او دې دوو کلونو په جریان کې ېې د اینکایانو ټوله امپراطوري تر خپل واک لاندې راوسته.

څلورم څپرکي

دوه دېرشم لوست (د اسلام تاریخ)

د اروپا، افریقا او بعضې برخې د آسیا زیاتره اوسېدونکي د حضرت موسی(ع) او حضرت عیسی(ع) د دین پېروان وو.

د فارس (ایران) او خراسان خلکو د اور عبادت کولو، او ظالمو ساساني واکمنانو پرې حکومت کولو.

په هند، چین، خراسان او جنوبي آسیا د لویې وچې کې بودایي مذهب رواج و. او د بتانو عبادت به ېې کولو.

جزیرة العرب په څو برخو یمن، حجاز او نجد باندې تقسیم شوي و. یمن کې حبشیانو او د هغه ملاتړ واکمني کوله او اوسېدونکي ېې یهودیان، نصرانیان او بت پرستان وو.

د حجاز اکثریت اوسېدونکي بت پرستان وو. کمه اندازه یهودیان او نصرانیان هم پکې مېشت وو علاوه پر دې په جزیرة العرب کې د لمر، سپوږمۍ او ستورو پیروان هم موجود وو .

زیاتره اوسېدونکي د جزیرة العرب په کرنه، تجارت او مالداري باندې مشغول وو.

د پورته لیکل شویو لاملونو په نتیجه کې الله(ج) حضرت محمد (ص) د آخرین پیغمبر په حیث راولېږلو.

دري دېرشم لوست (د حضرت محمد(ص) ژوند)

حضرت محمد(ص) د ۵۷۱م کال د اپرېل په ۲۰ چې د ربیع الاول له ۹ یا ۱۲ سره برابره ده د دوشنبې په ورځ سهار مهال د عام الفیل په کال دنیا ته تشریف راوړه.

حضرت محمد(ص) یتیم پیدا شوی دی ځکه دی مبارک د مور په نس کې د دوه میاشتو و چې پلار ېې عبدالله وفات شو.

حضرت محمد(ص) له پیدا کېدو نه وروسته د ۴ کالونو لپاره په بني سعد کې د بی بی حلیمې سعدیې تر تربیت لاندې و.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

حضرت محمد(ص) په ٦ کلنی (٥٧٧م) کې خپله مور بي بي آمنه له لاسه ورکړه. او تر دې وروسته ېې تربیت د نیکه عبد المطلب په غاړه شو.

حضرت محمد(ص) په ٨ کلنی (٥٧٩ م) کې خپل نیکه هم له لاسه ورکړ او تربیت ېې له دې وروسته د تره ابوطالب په غاړه شو تر هغه چې ځوان شو.

حضرت محمد(ص) په ١٢ کلنی کې له خپل کاکا سره د تجارت په موخه شام ته سفر وکړ. د شام په خاوره کې بحیرا چې د مسیحي دین یو عالم و د حضرت محمد(ص) له ځېرې ځخه ېې دا معلومه کړه چې دا آخرینی پیغمبر دی او کاکا ځخه ېې وغوښتل چې په ساتنه کې ېې بې اندازې هڅه او کوښښ وکړي.

کله ېې چې د بي بي خدیجې(رض) د واده بلنه ومنله، په دې وخت کې حضرت محمد(ص) ٢٥ کلن او بي بي خدیجه (رض) ٤٠ کلنه وه.

له بعثت نه تر هجرته پورې

کله چې حضرت محمد(ص) خپل ٤٠ کلنی عمر پوره کړ. د دوشنبې ورځ او د روژې مبارکې میاشتې ١٢ حضرت جبرئیل(ع) حضرت محمد(ص) ته وحي راوړه او په پیغمبري باندې مبعوث شو.

له لږ وخت وروسته ېې نږدې دوستانو حضرت ابوبکر صدیق(رض)، حضرت علي(رض) او په ښځینو کې حضرت بي بي خدیجې (رض) ایمان پرې راوړه.

حبشې ته د مسلمانانو هجرت

حضرت محمد(ص) د ارقم(رض) کور د دعوت مرکز ټاکلی و، او خلک ېې په پټه د اسلام مبارک دین ته دعوتول. چې پټ دعوت درې کاله دوام وکړ.

دې دغه وخت له تېرېدو وروسته حضرت محمد(ص) د صفا غونډې پر سر د اسلام مبارک دین ښکاره کړو، او د دې پېښې په سبب ابولهب، ابوجهل او نورو مشرکینو د مسلمانانو په ځورونه باندې پیل وکړ.

په دې وخت کې حضرت محمد(ص) مسلمانانو ته امر وکړ، چې حبشې ته چې یو عادل پادشاه یې درلود هجرت وکړي.

د بعثت ٥ کال د رجب په میاشت کې د اول ځل لپاره ١١ تنه مسلمانانو چې ٤ تنه ېې ښځینه وې حبشې ته هجرت وکړو.

د نبوت په ٦ کال ٨٣ تنه مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړو.

د مکې کفار چې خبر شول چې مسلمانان د نجاشي تر مهرباني لاندې راغلی دی؛ نو یو هئیت ېې د عمرو بن عاص په مشري ورولېږه.

طایف ته سفر

دبعثت په ١٠ کال خدیجة الکبری او ابوطالب چې حضرت محمد(ص) له نږدې خپلوانو او ملاتړ کوونکو ځخه وو وفات شول.

دغه دواړو غمناکو پېښو په حضرت محمد(ص) دومره تاثیر وکړ چې دغه کال ېې د عام الحزن په نوم ونومولو.

مهم ټکي: د بعثت ١٠ کال په دوو علتونو باندې په عام الحزن باندې و نومول شول چې یو خو حضرت محمد(ص) مېرمن او بل ېې کاکا پکې وفات شول (کانکور).

څلور دېرشم لوست (د عقبې بیعت)

دعقبې لومړي بیعت

د نبوت په ١١ کال حضرت محمد(ص) له ٦ تنه یثربي او خزرجي کسانو سره له مکې ځخه بهر د عقبې په سیمه کې وکتل. او نومورو ٦ کسانو اسلام دین قبول کړ، او وعده ېې وکړه چې راتلونکې کال به هم په نومورې ځای کې سره ګورو.

په ١٢ کال دنبوت په همدغه ځای کې ١٢ تنه یثربي کسانو له حضرت محمد(ص) سره وکتل او په یو تعداد موضوعاتو باندې ېې خبرې وکړې، او یوې موافقې ته سره ورسېدل چې د عقبې په نوم یاد شوې ده.

دعقبې دوهم بیعت

د بعثت په ١٣ کال ٧٣ تنه نارینوو د ٢ ښځو په ګډون د درېم ځل لپاره له حضرت محمد(ص) سره ملاقات لرل. په دغه کتنه کې دوي وعده وکړه چې ددې تر ځنګ چې خلک به د اسلام دین ته دعوتوي له حضرت محمد(ص) سره به هر ډول همکاري کوي دغه کتنه د عقبې د دې دوهم بیعت په نوم و نومول شوه.

هجرت

حضرت محمد(ص) له یو میاشتې وروسته د یثرب په لوري هجرت وکړ. د هجرت په وخت کې حضرت محمد(ص) کور د مشرکینو پواسطه محاصره وو؛ خو حضرت محمد(ص) علي(رض) موظف کړی و چې د حضرت محمد(ص) په بستره کې ویده شي تر څو په دې وسیله کفار بوخت کړي.

حضرت محمد(ص) ابوبکرصدیق(رض) له ځانه سره ملګری کړ، او غار ثور ته لاړل او ٣ شپې او ورځې ېې هلته تیرې کړې.

په ځلورمه ورځ داوړه د یثرب په لوري روان شول، له ٩ شپې ورځې سفر نه وروسته دربیع الاول په ٨ د دوشنبې په ورځ قبا ته چې د یثرب په دوه میله کې موقعیت لري ورسېدل.

په قبا کې ېې د لومړي مسجد بنسټ کېښود. او وروسته ېې د یثرب په لوري حرکت وکړ.

حضرت محمد(ص) د بني سالم بن عوف په سیمه کې لومړی دجمعې لمونځ اد کړ.

د اسلام د مبارک دین له برکته د اوس او خزرج قبیلو ١٠ کلن جنګونه ختم شول، او صلح او مهرباني باندې بدل شول.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د یو ۵۲ ماده ایز پریکړه لیک په اساس ہې د یو اسلامي حکومت بنست کېښود.

پنځه درېشم لوست (غزاګاني)

سیرت لیکونکو او مسلمان تاریخ لیکونکو هر هغه جنګ چې د مسلمانانو او مشرکینو تر منځ پېښ شوی وي او حضرت محمد(ص) په خپله هم پکې ګډون کړی وي د غزا په نوم یادوي. او که حضرت محمد(ص) پکې ګډون نه وي کړی د سرېې په نوم ہې یادوي.

د بدر غزا

دغه غزا د روژې مبارکې په اوومه د هجرت په دوهم کال پېښه شوې ده.

په دغه غزا کې ۱۰۰۰ تنه قریش چې ۶۰۰ تنو ہې زېرې پر تن لرلې او ۱۰۰ تنه ہې اسپ سواره وو چې دوی هم زېرې پر تن لرلې او ۷۰ ہې اوښان درلودل .

د مسلمانانو تعداد ۳۱۳ یا ۳۱۴ تنو ته رسېده چې زیاتره ہې انصار وو. چې ۷۰ اوښان او دوه یا درې ہې اسونه لرل.

په دغه غزا کې د قریشو ۷۰ تنه د ابوجهل او نورو مشرانو په ګډون ہې مړه شول او ۷۰ تنه ہې اسیر ونیول شول.

د احد غزا

قریشو د بدر دغزا د غچ اخیستلو په خاطر ۳۰۰۰ لښکر چې زېرې ہې اغوستې وې له ۲۰۰ اسونو او ۳۰۰۰ اوښانو سره په مدینه منوره کې د احد په سیمه کې د جنګ لپاره اماده شول.

د احد په غزا کې حضرت محمد(ص) حضرت عبدالله بن جبیر(رض) ته دنده ورکړه چې له ۵۰ تنو غیشي وېشتونکو سره د جبل الرماة غره کې کېني، او د مسلمانانو ساتنه وکړي، او په هر حالت یعني کامیابی او ناکامی دواړو کې به دا ځای نه پرېږدي.

د سوارو قومندان حضرت زبیر بن عوام(رض) او د پیادوو قومندان حضرت حمزه(رض) و او مصعب بن عمیر(رض) د بیرغ وړونکي په توګه وګمارل شو.

د احد په غزا کې حضرت محمد(ص) مبارک غاښ شهید شو. او حضرت حمزه(رض) په شمول ۷۰ تنه مسلمانان په شهادت ورسېدل په دې غزا کې مسلمانان ۷۰تنه وو.

د بني نضیر غزا

بني نضیر د یهودو له قبیلو څخه یو قبیله وه. چې مدینې ته نږدې اوسېدله او له خزرج قبیلې سره ہې د ملاتړ ټرون درلوده. او له مسلمانانو سره ہې هم د صلح ټرون لاسلیک کړی و.

د بني نضیر قبیلې په واسطه د حضرت محمد(ص) د قتل دسیسه سبب شوه چې له بني نضیرو سره غزا پېښه شي.

د منافقانو مشر عبدالله بن ابی سلول هغه ته د ۲۰۰۰تنو جنګیالیو د ورکړې وعده کړې وه، او هغوي د جنګ تصمیم ونیوه او بلاخره دوي ماته وخوړه او تر خاصو شرایطو لاندې چې حضرت محمد(ص) ورته وضع کړي وو سیمه ہې پرېښوده او لاړل.

د خندق غزا

د هجرت په پنځم کال د ذوالقعدې په میاشت کې ۱۰۰۰۰ لښکر د ابوسفیان په مشری د مدینې منورې په لوري حرکت وکړ.

حضرت محمد(ص) د حضرت سلمان فارسي(رض) په مشوره د ۱۲ زره (ذراع) په اوږدوالي باندې د خندق د کېندلو کار پیل کړ.

د بني قریظه یهودو له مسلمانانو سره د ملاتړ ټرون درلود. او نه ہې شوای کولای چې د مسلمانانو پرضد باندې کوم کار وکړي. خو حیی بن اخطب په دې باندې بریالی شو چې کعب بن اسعد د بني قریظه مشر دې ته وهڅوي چې له مسلمانانو سره مخالفت اعلان کړي.

حضرت نعیم بن مسعود (رض) په دې وتوانېده چې په فکري جنګ سره کفار په خپل منځ کې متفرق کړي.

د بني قریظه غزا

دغه غزا د احزاب غزا پسې پیوسته په ۵ هجري کال کې پېښه شوه.

حضرت محمد(ص) د خدای(ج) په حکم سره د ۳۰۰۰ تنه لښکر سره د بني قریظوو په لوري حرکت وکړ، او له ۲۵ شپه او ورځ حرکت څخه وروسته ہې دوي محاصره کړل. چې بلاخره یهود تسلیم شول، او حضرت محمد(ص) سعد بن معاذ(رض) ورته د حاکم په توګه و ټاکه او نومورې خپل پیغام بني قریظوو ته بیان کړ.

شپږ دېرشم لوست (د حدیبې صلحه یا بیعت الرضوان)

حضرت محمد(ص) د هجرت په شپږم کال د بیت الله شریفې د زیارت او عمرې د ادا کولو په موخه له ۱۴۰۰ تنه صحابو سره مکې معظمې ته روان شو. مکې معظمې ته نږدې قریشو د مسلمانانو مخه ونیوله او پرې ہې نه ښودل چې عمره ادا کړی.

حضرت محمد(ص) حضرت عثمان(رض) چې د مکې معظمې خلکو ته ډېر د احترام وړ شخص و، د مسلمانانو د استازي په حیث ورولېږه، تر څو چې قریشو سره خبرې وکړي ،چې مسلمانان جنګ ته نه بلکې د عمرې د ادا کولو لپاره راغلي دي.

حضرت محمد(ص) په داسې حال کې چې په حدیبیه کې تر یوې ونې لاندې ولاړ و او له مسلمانانو څخه ہې د قریشو پر وړاندې د جنګ لپاره بیعت اخیسته دغه بیعت په تاریخ کې دبیعت الرضوان په نوم یاد شوی دی.

کله چې قریش د مسلمانانو له دې ټرون څخه خبر شول؛ نو یو استازی ہې د سهیل بن عمرو په مشری حضرت محمد(ص) ته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

راولېږه او د دواړو لوريو صلحه وکړه چې د حديبې صلحې په نوم يادېږي.

دغه صلحه په حديبيه کې تر سره شوه چې په قرانکريم کې د فتح مبين په نوم سره يادە شوې ده.

د حديبې له صلح نه وروسته حضرت محمد(ص) د اصحابو په واسطه د روم قيصر، د ايران شاه، د مصر مقوقس، د حبشې نجاشي او بعضې نورو ته دعوت نامې ولېږلې. او دوی يې د اسلام مبارک دين ته راوبلل.

د حبشې، عمان او بحرين پادشاهانو دعوت قبول کړ. او د ايران(خسروپرويز) دعوت نامه ځيرې کړه. او يو تعداد نورو سکوت اختيار کړ؛ خو حارث غساني نه تنها ليک ځيرې کړ بلکې د حضرت محمد(ص) استازی شجاع بن وهب ېې هم شهيد کړو. چې د حارث همدغه غير انساني کړنه د موته د غزا سبب شوه.

د خيبر غزا

په ۷ هجری د محرم په مياشت کې مسلمانان خيبر ته ورسېدل. يهودو چې کله مسلمانان وليدل نو تېښته ېې وکړه.

بلاخره مسلمانانو د خيبر کلا د اصحابو په لويو لويو قهرمانيو بلاخصوص حضرت علي ابن ابی طالب(رض) سره فتحه کړه ، او د خيبر يهودان تسليم شول. او همدغه غزا کې د قريشو دوه تنه لوی قهرمانان حضرت خالدبن وليد(رض) او عمرو بن عاص(رض) هم مسلمانان شول.

د موته غزا

د موته غزا علت د غسانيانو په واسطه د حضرت محمد(ص) د استازي په شهادت رسېدل و.

د هجرت په ۸ کال ېې د هغوي د ماتولو په خاطر ۳۰۰۰ لښکر د زيد بن حارثه په مشری ولېږلو. او ورته ېې وفرمايل که حضرت زيد بن حارثه(رض) شهيد شو؛ نو حضرت جعفر(رض) به د لښکر مشري کوي او که هغه هم شهيد شو بيا حضرت عبدالله بن رواحه(رض) به د لښکر مشري په غاړه باندې اخلي.

د اسلامي لښکرو قومندانان پرلپسې شهيدان شول. بلاخره د اسلام لښکرو خالدبن وليد(رض) د پوځ د مشر په توګه و ټاکه نوموړي خپل تيت او پرک پوځ راټول کړ، او وروسته ېې سخته جګړه وکړه. او له دوو ورځو جنګ وروسته ېې د غره لمنې ته پناه يوړه او دښمن له جنګ نه لاس واخيسته.

د حنين غزا

د مکې معظمې له فتحې نه وروسته حضرت محمد(ص) د مسلمانانو د کړنو د ترتيب او تنظيم په موخه ۱۵ ورځې په مکه معظمه کې پاتې شو.

په همدې وخت کې احوال راغی چې هوازون قبيله د مالک بن عوف په مشری او دې ثقيف قبيلې په مرسته جنګ لپاره اماده دي. مالونه، اولادونه او ښځې ېې هم له خانه سره راوستې دی.

حضرت محمد(ص) د ۱۲ زره اصحابو په ملتيا چې ۲ زره تنه ېې نوي مسلمانان شوي وو. د دښمن د ماتولو لپاره لاړ.

په نتيجه کې دښمن د جنګ له ميدان څخه تېښته وکړه. اولادونه، ښځې او مالونه ېې ترې پاتې شول. مشر ېې مالک طايف ته وتښتېده.

د حنين غزا په ۸ هجري کال کې پېښه شوې ده.

د تبوک غزا

په ۹ هجري کال کې حضرت محمد(ص) ته احوال ورسېده ،چې د روم امپراطور د څو لکه لښکر سره د اسلامي دولت د له منځه وړولو لپاره د جنګ لپاره تياري نيسي.

د هجرت په ۹ کال د رجب په مياشت کې د مسلمانانو ۳۰ زره لښکر د حضرت محمد(ص) په مشری تبوک ته روان شوو.

کله چې د مسلمانانو لښکر تبوک ته ورسېده ،دښمن په ځان کې د مقابلې توان و نه ليده. اسلامي لښکر ۲۰ ورځې په تبوک کې تېرې کړې او بېرته مدينې منورې ته را وګرځېدل .

حجة الوداع

په ۱۰ هجري کال کې د ذوالقدې الحرام په مياشت د دوشنبې په ورځ د ماسپښين له لمانځه نه وروسته حضرت محمد(ص) د يو لک اصحابو سره د حج مراسمو د ادا کولو لپاره د مکې معظمې په لوري روان شو.

د دغه سفر لومړی شپه ېې په ذوالحليفه کې تېره کړه. احرامونه ېې وتړل او له ۸ شپې ورځې سفر نه وروسته مکې معظمې ته ورسېدل.

په ۸ د ذوالحجې ېې د منا په لوري بسترې وتړلې، شپه ېې هلته تيره کړه. او په ۹ د ذوالحجې د لمر له راختلو نه وروسته ېې د عرفات غونډی په لوري حرکت وکړ.

د تشريق د ورځو له تېرېدو څخه وروسته ېې په ۱۳ د ذوالحجې له منا څخه بيت الله شريفې ته تشريف راوړه .او له طواف او خدای پامانی څخه وروسته ېې د مدينې منورې په لوري حرکت وکړ.

د حضرت محمد(ص) رحلت

حضرت محمد(ص) د پنجشنبې تر مابنامه د مسلمانانو امامت وکړ، اما د ماخستن لمانځه لپاره ېې ونشوای کولای چې مسجد ته دلمانځه د امامت لپاره حاضر شي. حضرت ابوبکر صديق (رض) ته ېې د امامت امر وکړو.

له ماخستن لمانځه وروسته د حضرت محمد(ص) تر وفات پورې د ټولو لمونځونو امامت حضرت ابوبکرصديق(رض) کړی دی چې ۱۷ لمنځونه کېږي.

حضرت محمد(ص) له وفات نه مخکې خپل ټول غلامان آزاد کړل. او ۷ ديناره چې په خپل کور کې ېې لرل صدقه کړل او خپله جنګي سلاح ېې مسلمانانو ته ورکړه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

حضرت محمد(ص) د دوشنبې په ورځ د ربیع الاول په ۱۲ د هجرت په یوولسم کال د سهار په وخت کې د ۶۳ کالونو په عمر وفات شو.

اته دېرشم لوست (حضرت ابوبکرصدیق (رض)

نوم	حضرت ابوبکر(رض) صدیق، عبدالله	د پلارنوم	ابوقحافه
مور نوم	ام الخیر سلما بنت صخر	لقب	صدیق اوعتیق حضرت محمد(ص) لخوا ورکړل شوی وو
نسب	په شپږم نیکه کې له حضرت محمد(ص) سره یوځای کېږي	تولد	دوه کاله اوځومیاشتې له عام الفیل په مکه کې تولد شوو
کسب پې	سوداګري	دمسلمانېدو وخت	په نارینو کې اولینی کس وو چې مسلمان شوو
د خلافت وخت پې	دوه کاله او دوې میاشتې		

حضرت محمد(ص) له وفات نه وروسته یو تعداد بدبخته کسانو لکه مسیلمة الکذب، طلحه اسدي او ځینې نورو د نبوت دعوې وکړلې.

حضرت ابوبکرصدیق(رض) لښکر برابر کړ، تر څو د مسیلمة الکذب او طلحه اسدی کار یو طرفه کړي، دغه جګړو تر یو کال پورې دوام وکړ. او مسیلمة الکذب او نور پې د خپلو اعمالو په جزا ورسول.

حضرت ابوبکرصدیق(رض) د اسلام د مبارک دین د خپرېدو په خاطر د اسامه بن زید په مشری یو لښکر دشام په طرف ولېږه. او خالد بن ولید په مشری پې ۴۰۰۰ لښکر عراق ته ولېږلو. او د یو کال او څو میاشتو په موده کې پې دې دغه سیمو خلک د اسلام په دین مشرف کړل.

په داسې حال کې چې مسلمانان په فتوحاتو باندې مصروفه وو رومیانو ۲۴۰ زره لښکر راټول کړی وو، چې له مسلمانانو سره پرې وجنګیږي.

حضرت ابوبکرصدیق(رض) د دوی دفعې په خاطر عمرو بن عاص(رض) فلسطین ته، حضرت ابوعبیده بن جراح حمس ته، حضرت یزید بن ابی سفیان دمشق ته، حضرت شرحبیل بن حسنه اردن ته ولېږل . او حضرت سیف الله خالد بن ولید(رض) ته پې امر وکړ چې عراق مثنی بن حارث ته پرېږدي او خپله شام ته لاړ شي.

په دې وخت کې حضرت سیف الله خالد بن ولید(رض) د لښکرو شمیر ۳۶ زره تنو ته رسېده. په هغه جنګ کې چې په ۱۳ هجري کال کې د یرموک سیند په غاړه پېښ شو دښمن ته پې تاریخي ماته ورکړه، او ۱۳۰ زره تنه پې مړه کړل. او له مسلمانانو څخه ۳۰۰۰ تنه صحابه کرام شهیدان شوي وو.

په دغه جګړو کې د لښکر اعلا قومندان حضرت سیف الله خالد بن ولید(رض) خپل لښکر په ۳۸ برخو ووېشلو او په یو وخت کې پې له ۳ طرفونو څخه په دښمنانو باندې بریدونه وکړل.

د حضرت ابوبکرصدیق(رض) په وخت کې د عمرفاروق(رض) په مشوره یوه ډله پوهان د قرانکریم په راجمعه کولو باندې ګمارل شوي وو.

نه دېرشم لوست (حضرت عمرفاروق(رض))

د اسلام د دوهم خلیفه اصلي نوم عمربن الخطاب و لقب پې فاروق وو. په ۱۳ دعام الفیل کې د قریشو په یو محترمه کورنۍ کې زیږېدلی و.

د نسب په سلسله کې په ۹ نیکه کې حضرت محمد(ص) ته رسېږي. د بعثت په ۶ کال کې د اسلام په مبارک دین مشرف شو. او عمرفاروق(رض) په ټولو غزاګانو کې له حضرت محمد(ص) سره ګډون کړی دی.

د عمرفاروق(رض) فتوحات په ختیځ کې تر ترکستان او خراسان پورې او په لویدیځ کې تر لیبیا، په جنوب کې تر سوډان او په شمال کې پې اخرین سرحدات تر شام او تورې بحیرې پورې رسېدل.

حضرت عمرفاروق(رض) د نهاوند او قادیسې په جنګونو کې د فارس امپراطوري و ټکوله او فارس(ایران) پې د اسلام په مبارک دین باندې مشرف کړ.

د قادسیې په جنګ کې د مسلمان غازیانو شمېر ۳۰ زره کسانو ته رسېده ،او قومندان پې سعد بن وقاص و په داسې حال کې د فارسیانو د لښکر شمېر ۱۵۰۰۰۰تنو ته رسېده . دغه جنګ په ۱۴هجري کې پېښ شو. د فارسیانو د لښکر قومندان رستم و له جنګ نه وتښتېده، او ځان پې اوبو ته واچوه او د هلال بن علقمه د تورې په ګذار باندې مړ شو.

حضرت عمرفاروق(رض) وروسته له ۱۰ کاله او ۵ میاشتې خلافت نه په ۲۳هجري کال د ذوالحجې په ۲۷ دابولولو په واسطه په شهادت ورسېده.

څلوېښتم لوست (حضرت عثمان(رض))

نوم پې عثمان بن عفان و، او لقب پې ذوالنورین و. او نسب کې په ۵ نیکه کې له حضرت محمد(ص) سره یوځای کېده، له عام الفیل څخه ۵ کاله وروسته زیږېدلی و او له ځوانۍ څخه په تجارت باندې لګیا و.

د حضرت ابوبکر(رض) په دعوت باندې د اسلام په مبارک دین باندې مشرف شو. د بدر له غزا پرته پې نور په ټولو غزاګانو کې له حضرت محمد(ص) سره ګډون کړی دی.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

حضرت عمر(رض) مخکې له دې چې روح ې له بدن څخه جدا شي، د خلیفه د انتخاب په خاطر ې ۷ تنه صحابه حضرت عثمان(رض)، حضرت علی بن ابی طالب، طلحه بن عبیدالله، زبیر بن عوام، سعدبن ابی وقاص، عبدالرحمن بن عوف او عبدالله بن عمر تعین کړل. او ویې ویل چې عبدالله بن عمر د رایې حق لري خو د انتخاب حق نه لري.

د حضرت عثمان(رض) دې دورې فتوحات دوه برخو ته تقسیم کېږي. یو ې هغه سیمې چې دعمرفاروق(رض) له شهادت وروسته ببرته د اسلام له مبارک دین څخه اوښتې وو ،لکه ری، همدان، اسکندریه او آذربایجان دوباره ې د اسلامي حکومت تر چتر لاندې راوستې. دوهم هغه سیمې وې لکه قبرس او ترکیه په هغه وخت کې چې معاویه(رض) د شام والي و د اسلامي حکومت تر چتر لاندې راغلل.

حضرت عثمان(رض) د خپل خلافت په دوره کې بحري قوه هم ایجاد کړه. او قرانکریم چې د حضرت ابوبکر(رض) په وخت کې راټول شوی و، د یو کتاب په شکل ې ولیکلو او فتحه شویو سیمو ته ې ولېږلو.

حضرت عثمان(رض) له ۱۲ کال خلافت څخه وروسته په ۳۶ هجري کې د شورشیانو لخوا په داسې حال کې شهید شو چې د قرانکریم په تلاوت باندې بوخت و.

یوځلوېښتم لوست (حضرت علی(رض))

حضرت علی بن ابی طالب د حضرت محمد(ص) د زوم او د کاکا زوی و. او لقبونه ې اسدالله او حیدر و او په ابوالحسن او ابو تراب باندې هم مشهور و.

۲۱ کاله مخکې له هجرت څخه په مکه معظمه کې زیږیدلی دی. ۱۰ کلن و چې ایمان ې راوړ او د اسلام په لاره کې ې له هېڅ ډول قربانی څخه ځان نه دی سپمولی.

د صفین جګړه: دغه جنګ د (حضرت علی(رض)) او حضرت معاویه(رض) تر منځ په ۳۷ هجري کال کې پېښ شوې ده.

(حضرت علی(رض)) وروسته له ۵ کاله خلافت څخه په ۴۰ هجري کال د روژې په ۱۹ د یو تن خوارج عبدالرحمن بن ملجم لخوا په داسې حال کې چې د سهار لمانځه لپاره مسجدشریف ته روان و سخت ټپي شو. او دوه ورځې(۲۱روژې) وروسته د همدغه زخمونو له وجې په شهادت ورسېده.

د خلفایې راشیدینو مختصري نقطې

د خلفایې راشېدنو دوره د حضرت محمد(ص) له وفات نه وروسته په ۱۱ هجري کې شروع کېږي .او د (حضرت علی(رض)) په شهادت په ۴۰ هجري کې پای ته رسېږي. چې د اسلام د مبارک دین یو ځلانده دوره وه.

دري ځلوېښتم لوست (امویان)

د دغه کورنۍ بنسټ اېښودونکی معاویه و. له دغه کورنۍ څخه ۱۴ تنو حکومت کړی دی. چې لومړنی ې معاویه او وروستی یې مروان وو. په دغه دوره کې د اسلامي حکومت د فتوحاتو لمن په لویدیځ کې تر هسپانې او فرانسې پورې او په ختیځ کې تر ترکستان، چین او هند پورې ورسېده.

معاویه: معاویه د ابو سفیان زوی او د حرب لمسی دی. ۱۵ کاله مخکې تر هجرته په مکه معظمه کې زیږدلی دی. پلار ې د قریشو د قوم مشر و. معاویه دمشق ښار خپل مرکز وټاکه. نوموړی مراکش او المغرب په لویدیځ او ترکیه په شمال، سیستان او خراسان یې په ختیځ کې تر خپل واک لاندې راوستل. او د بحري ځواک په جوړېدو کې یې زیات کوښښ وکړ. معاویه په ۶۱هجري کال کې وفات شو.

یزید(۶۱-۶۴ق)/(۶۸۱-۶۸۴ز): یزید په ۶۵۰.ق کې زیږدلی دی. او په ۶۱ه.ق د پلار له وفات څخه وروسته واک ته ورسېده د نوموړی د واکمنۍ پرمهال د کربلا حماسه پېښه شوه، چې پکې د امام حسین(رح) له ۷۲ تنه یارانو سره په شهادت ورسېده. یزید په ۶۴ه.ق کې وفات شو.

له یزید نه وروسته دویم معاویه واک ته ورسېده، د نوموړي واکمنۍ له ۴۰ ورځو زیات دوام ونه کړ.

عبدالملک بن مروان(۶۵-۸۶ه/۶۸۵-۷۰۵م)

د مروان بن حکم پر ځای زمام اوامر په لاس کې واخیستل. نوموړی له یزید څخه وروسته واک ته ورسېد. بصره، کوفه او نوري سیمې چې د عبدالله بن زبیر تر واک لاندې وې تر خپل واک لاندې راوستې. او په ختیځ کې یې تر کابل او په شمال کې یې تر قسطنطني خپلې پولې پراخه کړلې.

عبدالملک بن مروان له ۲۱کاله واکمنۍ وروسته په ۸۶هجري کال کې د ۶۳کلونو په عمر وفات شو. لومړی اسلامي واکمن و چې په خپل نوم یې سکه ووهله .

د نوموړي په واکمنۍ کې عربی ژبه په ټولو دولتي ادارو کې رسمي شوه.

عمربن عبدالعزیز(۹۹-۱۰۱ه)

په اموی کورنۍ کې عمربن عبدالعزیز د علم، تقوا او عدل خاوند و. نوموړی د سلمان له مرګ نه وروسته په ۹۹ه کال کې واک ته ورسېد.

عمربن عبدالعزیز هغه کس و چې د احادیثو د جمعه کولو امر یې ورکړ.

عمر بن عبدالعزیز له ۲کاله او ۵ میاشتو خلافت وروسته د یو غلام په لاس شهید شو.

امویانو تقریباً یوه پېړۍ واکمني وکړه چې مشهور واکمنان یې په لاندې ډول دي.

نوم	د واکمنۍ دوره	وخت
معاویه بن ابوسفیان	۶۰-۴۰ه.ق	۲۰کال
یزید بن معاویه	۶۰-۶۴ه.ق	۴کال
عبدالملک بن مروان	۶۵-۸۶ه.ق	۲۱کال

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ولید بن عبدالملک	۸۷-۹۶ه.ق	۹کال
سلیمان بن عبدالملک	۹۷-۹۹ه.ق	۲کال
عمر بن عبدالعزیز	۹۹-۱۰۱ ه.ق	۲کال
دوهم یزید بن عبدالملک	۱۰۱-۱۰۵ ه.ق	۴کال
هشام بن عبدالملک	۱۰۵-۱۲۵ ه.ق	۲۰کال
ولید بن دوهم عبدالملک	۱۲۵-۱۲۶ ه.ق	۱کال
یزید بن ولید بن درېم عبدالمالک	۱۲۶-۱۲۷ ه.ق	۱کال
مروان بن محمد	۱۲۷-۱۳۲ ه.ق	۵کال

او وروسته د نظام مشري یوه کس موسی بن نصیر ته ورسېده، او د اسلامي اردو واک یې په لاس کې واخیسته. موسی بن نصیر او طارق بن زیاد د افریقا په شمال او د اروپا په جنوب لویدیځ کې د اسلامي حکومت لمنه تر هسپانیا پورې ورسوله.

قطیبه بن مسلم د خپلو فتوحاتو لمن د منځنۍ آسیا، ترکستان او کاشغر پورې پراخه کړه ،او د چین دربار ته یې هم اسلامي هیئت ولېږه.

محمد بن قاسم په هند کې په دې وتوانېده چې خپل فتوحات تر کراچۍ او ملتان پورې پراخه کړي.

مسلمه بن عبدالملک په کوچنۍ آسیا کې ډېر فعال و، او سرحدات یې د انطاکیې تر ښاره پورې پراخه کړل.

پنځه څلوېښتم درس(عباسیان)

له امویانو څخه عباسیانو ته د واک انتقال

د ولید بن عبدالملک له مرګ۹۶ ه.ق څخه وروسته د امویانو حکومت ۳۶ کاله نور هم حکومت وکړ؛ خو نېه حالت یې نه درلوده. خو امام ابراهیم د مروان په امر په قتل ورسېد.

د ابراهیم وژل د دې سبب شو چې عباسیان خپل مخالفت ښکاره کړي. ابو مسلم خراساني په ۱۲۹ ق کال کې په مرو کې خپل تور بیرغ پورته کړ. او اموي حاکم نصر بن سیار چې د نیشاپور واکمن و شاته تګ ته یې مجبور کړ.

ابومسلم له یو ۱۰۰ زره کسیز لښکر سره د زاب سیند په څنډه کې یې د مروان ۱۲۰ زره کسیز لښکرته ماته ورکړه. مروان د امویانو وروستی واکمن موصل ته وتښتېده او ابومسلم تور بیرغ په دمشق خوړند کړ.

ابوالعباس سفاح(۱۳۲-۱۳۶ ه.ق)

د ابوالعباس اصلی نوم ابوالعباس عبدالله بن محمد بن عبدالله وو. کله چې مروان مړشو ابوالعباس رسماً خپل ځان خلیفه اعلان کړ. او خپله اولینی خطبه یې د جمعې له لمانځه وروسته خلکو ته واوروله.

د نوموړي په واکمنۍ کې د اموي کورنۍ دسته جمعي وژل پېل شول. چې د دې له وجې دی په اسلامی هیوادونوکې د سفاح (سهاک) په نوم مشهور شوی دی.

د نوموړي د خلافت دوره چې ځلور کاله وه. چې ټول یې د دښمن په وهلو، تهدید او راټولو کې تیر شو او په ۱۳۶ه.ق کې مړشو.

ابوجعفر عبدالله المنصور(۱۳۶-۱۵۸ه.ق/۷۵۴-۷۷۵م)

د ابوالعباس سفاح له مړینې وروسته ولیعهد منصور واک ته ورسېده.

د نوموړي په دوره کې کومه غمناکه پېښه واقع نه شوه ،بلکې په ارامی سره تېره شوه.

یوازینۍ پېښه چې واقع شوه د عبدالله بن علی پاڅون و، چې منصور په تېزی سره سرکوب کړ. منصور د خلافت مرکز له د مشق څخه بغداد ته انتقال کړ.

نوموړی له ۲۲ کاله حکومت نه وروسته په ۱۵۸ه.ق کال کې د حج په سفر کې مړ شو.

محمد المهدي بن جعفرالمنصور (۱۵۸-۱۶۹ه.ق/۷۷۵-۷۸۵م)

مهدي وروسته له پلار نه یې واک ته ورسېد. نوموړي بیت الحرام مسجد ته پراختیا ورکړه. او د لارو، کاروان سرایونه، مهمانخانې او فرعي لارې یې جوړې کړې.

او د نوموړي په وخت کې پستي خدمات رامنځته شول. او په دې وخت کې د مکي مکرمې ، مدینې منورې، یمن او بغداد تر منځ منظم پستي سیستم رامنځته شو.

او د عمر په وروستي وخت کې یې هادي د لومړي ولیعهد او هارون د دوهم ولیعهد په توګه وټاکل. او وروسته له ۱۱ کاله خلافت څخه په ۱۶۹ه.ق کې وفات شو.

موسی الهادي(۱۶۹-۱۷۰ه)

د المهدي له مرګ څخه وروسته الهادي واک ته ورسېده. نوموړی پدې وخت کې ۲۴ کاله عمر درلود.

موسی الهادي د خپل دربار ساتونکي لرې کړل او د خلکو مشکلات یې مخامخ اوربدل.

د نوموړي په خلافت کې ادریس په مراکش او موریتانیا کې خپلواکه دولتونه اعلان کړل. المهدي له ۲کاله خلافت څخه وروسته په ۱۷۰ه کال کې مړ شو.

هارون الرشید بن مهدي(۱۷۰-۱۹۳ه/۷۸۶-۸۰۹م)

د پلار موسی الهادي له مړینې وروسته خلافت ته ورسېده. د نوموړي هڅې وې چې بغداد په نړۍ کې د علومو په مرکز باندې بدل شو.

مېرمن یې ډېر هوښیاره عالمه او مهربانه ښځه وه. د خپلې غاړې زیورات یې خرڅ کړل؛ خو له طایف څخه تر مکې پورې یې د اوبو نهر یې په کامیابي سره پای ته ورسولو.

د هارون الرشید د زمانې له مهمو لاسته راوړنو څخه یو هم په بغداد کې د ساعت اختراع وه. کله چې یې د فرانسې شاه شارلمان ته د تحفې په شکل ولېږه نو هغه په تعجب شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هارون الرشید لومړی مسلمان پاچا و چې له چین او فرانسې سره یې اړیکې ټینګې کړې . او دغه هېوادونو ته یې سفیران ولېږل او د هغوي سفیران یې هم په بغداد کې قبول کړل.

هارون الرشید ۹ ځله د مکې مکرمې او مدینې منورې زیارت له نورو حاجیانو سره یو ځای وکړ. او وروسته له ۲۳ کاله خلافت څخه په طوس(اوسني مشهد) کې وفات شو.

مامون الرشید(۱۹۹-۲۱۸ق)

امین وروسته د هارون الرشید له مرګ څخه خلافت ته ورسېد. ورور یې مامون چې د مروي د والي په صفت یې دنده تر سره کوله، د امین خلافت یې قبول کړ. خو وروسته امین د فضل بن ربیع په لمسون مامون له ولیعدۍ څخه لرې کړ. مامون مجبور شو چې تورې ته لاس کړي.

د مامون له طرفه طاهر فوشنجي چې د اوسني افغانستان څخه وو، د لښکر مشري او د امین له طرفه څخه علي بن عیسی د لښکر مشري په غاړه واخیسته. په دغه جنګ کې امین ووژل شو.

مامون الرشید معارف ته جدي توجو وکړه. په دغه دوره کې ریاضیات، فلسفه، ادب، منطق او نورو علومو زیاته پراختیا وموند له خارجي ژبو خصوصاً لاتین ژبې ته زیات اثار وژباړل شول.

وروسته له هغه څخه چې مامون وفات شو معتصم واک ته ورسېد. خو د هېواد په امورو باندې یې چندان حاکمیت نه درلوده.

د اندلس(اسپانیا) او په مصر کې د فاطمیانو د حکومت منځته راتللو سره د بغداد د حکومت لمن عملاً محدوده شوه. د اسلامي خلافت په ختیځي برخه کې چې طاهر د خراسان د والي په حیث مقرر شوی و خپلواکي یې اعلان کړه او په بغداد کې هم اصلي قدرت د ترکانو لاسته ولوېده.

د عباسي خلافت وروستي خلیفه متعصم بالله و چې د چنګیز(هلاکو) د لمسي په واسطه په بغداد کې ووژل شو بلاخره په کال(۶۵۶ه) کې د عباسیانو واکمني پاي ته ورسېده.

شپږځلوېښتم درس(د عباسیانو دوره)

د عباسیانو د نظامي خصوصیاتو له جملې څخه یو دا دی، چې مخکې د یوې پېښې له واقع کېدو هغه ته متوجې کېدل او له کوم کس څخه چې به یې خطر احساس کوو نو د هغه غمه به یې له مخکې خوړه.

د عباسیانو د حکومت بل ښه خاصیت د نړیوالو اړیکو جوړول وو.

په زیات تعداد د هر دین او مذهب کسان پکې وو. د هېڅا لپاره کوم دیني، مذهبي او کلتوري محدودیت شتون نه درلوده.

د عباسیانو په دوره کې قطب نما د کشتی چلولو لپاره کارول. او اسطرلاب یې د لابراتور په شکل د جغرافیې د علم لپاره کارېده. دا دوه شیان وو چې د عباسیانو په دوره کې کشف شول.

قطب نما په کشتی کې د سفر لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې وې. اسطرلاب د ستورو د را لنډولو او لرې کولو لپاره ډیر ګټور وسیله وو.

مسلمانان په دې طلایي دوره کې د ساعت جوړولو، کاغذ جوړولو او باروتو په صنعت کې د اوړپایانو استادان وو.

د مالګې، سربو، ګوګړو، اوسپنې او نورو قیمتي ډبرو د کانونو ایستلو کارونه په منظم ډول په دغه دوره کې شروع شول.

د عباسیانو په دوره کې د بغداد سربېره د بصرې، کوفې، قاهرې، قیروان، مروه، بخارا او نیشاپور ښارونه په علم او فن کې په نړۍ کې مخکښ ځای درلود.

د عسکري نظم او جنګي وسایلو جوړولو ته هم زیاته توجو کېده، بناً ویلو شو چې عباسیانو په نظامي برخه کې هم زیات بریالیتوبونه درلودل.

یوولسم ټولګی تاریخ

لومړی څپرکی

لومړی لوست (د اسلام په ظهور کې د افغانستان عمومي اوضاع)

۱- سیاسی وضع

د شپږمې پېړۍ په دوهمه نیمه کې چې په افغانستان کې د یفتلیانو حکومت له ګډوډیو سره مخامخ و. د ایران د ساسانیانو او د ماوراءالنهر ترکانو مداخلې په ترتیب سره په شمال لویدیځ ، شمال او شمال ختیځ د افغانستان روانې وې.

پاتې نورې برخې د هېواد د ملوکو الطوایفي حکومتونو لخوا اداره کېدې. لکه (دودمان سوري) په غور کې (شېران) په بامیانو کې او (رتبیلان) په کابل کې (اویکها) په غزني او ګردیز کې و.

۲-اجتماعي او اقتصادي وضعه

د اسلام له ظهور نه مخکې افغانستان د تجارتي سامانونو او مالونو د وړلو او راوړلو لاره وه. او همدارنګه د ابریشمو مشهورې لاره هم له افغانستان څخه تېره شوې وه. او د هند او چین کاروانونه به ایران، عراق، ترکیې، لویدیځې هېوادنو او ختیځې روم ته وړل کېدل.

۳-دیني، ادبیي او علمي وضعه

لویدیځې خواوې د هېواد چې د ساسانیانو تر سیاسي، ادبي او دیني نفوذ لاندې وې زیاتره یې د زردشتي دین پیروان و.

په مرکزي سیمو کې (زابلستان، د کابل او ګندهارا سیند څنډې،له ارغنداب څخه د هندوکش د غره تر څنډو پورې، او د هېواد شمالي برخې د بودایي او برهمي دین پیروان و.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هري سيمې يوه خاصه ژبه او لهجه درلوده. ځنګه چې د اسلام د ظهور په وخت کې زياتې ژبې لکه دري، فارسي ، پښتو، تخاري او سانسکريت د هېواد په مختلفو برخو کې رواج وې.

د (۲۱-۴۰ق/۶۴۲-۶۶۱م) کلونو تر منځ د افغانستان خلکو رياضي، نجوم او طب ته لاسرسی درلود. او له يوناني، ساساني او هندي فلسفې سره هم آشنا و.

د اسلام لومړی ډله دعوت کوونکي او مجاهدين د دوهم خليفه په وخت کې په (۲۲ق/۶۴۳م) کال کې د هېواد پولو ته راوسېدل.

کتنه!

يفتليان يا هېتليان چې په چينی ژبه کې يې-تی-لي دو او په يوناني او رومي کې افتهاليت او په پهلوي، عربي او فارسي کې ورته هيطل يا هيفتال يا هياطله او په هندي او سانسکريت کې ورته شوته هوته ويل کېدل.

ماوراءالنهر د آمو سيند په شمال کې يو پراخه سيمه ده ،چې د آمو او سېر سيند په منځ کې واقع ده. مهم ښارونه لکه بخارا، سمرقند، خجند او نور په دغه سيمه کې موقعيت درلوده؛ خو اوس د ازبکستان هېواد برخه ده.

دوهم لوست (د اسلام دين راخرګندېدل او خپرېدل)

د اسلام راتلل افغانستان ته ۱۵ پېړۍ مخکې د افغانستان د تاريخ مهمه پېښه وه.

لومړی ډله د جزيرة العرب ختيځي برخو ته د مثنی بن حارث په مشری په کال ۱۲هجری کې ترسره شوې ده. چې په ترڅ کې يې مسلمانانو د فرات سيند په لويديځي ځنډو کې يې د حيره ښاره فتح کړ. له دغه فتحې نه وروسته مسلمانانو ته د بين النهرين د فتحې کلی لاسته ورغله.

له دې وروسته مسلمانانو د يو لسيزې په ترڅ کې په ايران کې د ساسانيانو حکومت هم فتحه کړ.

د نهاوند جګړه (نهاوند د همدان په جنوب کې يو ښار دی د اوسنۍ ايران مرکز ته نږدې) په ۲۱هجري کال کې مسلمانانو د ساسانيانو حکومت په بشپړ ډول له منځه يوړو. چې مسلمانانو دا فتحه د فتح الفتوح په نوم نومولې ده.

په ۲۱هجری کال د عمر(رض) لخوا فرمان صادر شو ، او مسلمانانو د احنف بن قيس په مشری د اوسنۍ ايران په جنوب ختيځ کې د طبس ښار له نيولو وروسته يې هرات ښار ونيو.

د خلافت په مرکز کې د عثمان(رض) د خليفه په حيث ټاکلو په سر باندې تحولاتو له امله د مسلمانانو پرمختګ زمونږ په هېواد کې يو څه له خنډ سره مخامخ شو؛ خو دا څل د مسلمانانو خليفه (عبدالله بن عامر بن کريز) د ختيځي سيمو د فتحې مشر وټاکه او نومورې په دې لاره کې زياتې لاسته راوړنې درلودې.

عبدالله بن عامر لومړی هغه هېوادونه چې د اسلام له مبارک دين څخه يې مخ اړولی و بېرته ونيول. او خصوصاً په ۳۰ق کال کې د نيشاپور ښار په نيولو سره د افغانستان د مختلفو ښارونو د نيولو لپاره لاره خلاصه شوه.

زمونږ د هېواد مشهور ښارونه لکه هرات، فاريا ب، تالقان، جوزجان، تخار او بلخ د مسلمانانو لاسته ته ولوېدل.

عبدالله بن سمره هم د افغانستان د ختيځي برخو د نيولو دنده په غاړه لرله او سيستان چې په هغه وخت کې پکې (زمين داور، قندهار او غزني) شامل و ونيولو او وروسته يې له دغه ځايه د کابل د نيولو اراده وکړه.

مهمه نقطه دا ده چې په هغه وخت کې د لښکر کشيو سره يوځای زياتو عربي قبيلېو زمونږ هېواد ته را مهاجرې شوې .او په هغه ځايونو کې چې له جزيرة العرب سره يې شباهت درلوده مېشت شولې.

نقطه: د اسلامي قوانينو مطابق د جنګي غنايمو يو پر پنځمه برخه د اسلامي دولت او ځلور پر پنځمه برخه د مجاهيدينو وه چې خپل مشکلات پرې پوره کړي.

دريم لوست (افغانستان د امويانو په دوره کې)

امويانو په (۴۱ ق/ ۶۶۱م) کال کې اسلامي خلافت لاسته راوړ. او ۹۰ کاله يې په اسلامی هېوادونو باندې حکومت وکړ.

دوی تر زياته پورې قبيلوي نظام ساتلی و.

د امويانو په دور کې له افغانستان نه د ورېښمو د لارې د تېرېدلو، د زياتو زراعتي ځمکو، زياتو اوبه لرونکو سيندونو، مساعد اقليم او قوي بشري قوې دې لرلو له امله ښه اقتصادي وضعيت درلوده.

دامويانو په دوره کې ټول کلنی مالیات ۴۰ ملیون درهمو ته رسېدل.

د امويانو او عباسيانو تر منځ اختلاف ډېر زيات شو. په ځانګړې توګه د اسد بن عبدالله (۱۱۷-۱۱۴ق/۷۳۸-۷۳۵م) د حکومت په دوره کې .په خراسان کې د عباسيانو څو تنه پټ طرفداران ونيول شول او مجازات کړل شول.

نصر بن سيار يو بل اموي والي وه، چې د عباسيانو طرفداران يې په خراسان کې په کلکه و ټکول.

د خلکو د پاڅون لامل

د بني اميه په حکومت کې زمونږ په هېواد کې نارضاتيو زور واخيسته. دوی به حاکم، قاضي او امام له عربي نژادو څخه ټاکل.

عمده دولتي دندې په عرب نژادو پورې منحصرې وې.

د خلکو له پاڅون څخه کولای شو چې د ابومسلم خراسانی د پاڅون يادونه وکړو.

څلورم لوست (له امويانو څخه عباسيانو ته د واک انتقال)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ابومسلم خراساني او د هغه رول د واک په انتقال کې

د ماشومتوب نوم يې (عبدالرحمن مشهور په ابومسلم بهزادان) د پلار نوم يې بنداد هرمزد)) ښودل شوی.

په کال(۱۰۰ ق/۷۲۱م)په جوزجان کې د سفيدنج يا سفيد دز په کلي کې متولد شو.

ابومسلم لومړی تعليم وکړ او عربي ژبه يې زده کړه.

په ۱۹ کلنۍ کې د سياست ډګر ته داخل شو.

په ۲۳ کلنۍ کې يې (کوفې) ته سفر وکړ. او له ابراهيم عباسي سره يې وليدل او عباسيانو له پټ ګوند سره يې اړيکې ټينګې کړې.

د يحيى بن زيد له شهادت نه وروسته په خراسان کې د امويانو پر ضد د پاڅون کوونکو مشري سادات علوي په غاړه واخيسته.

په کال(۱۲۶ ق/۷۴۷ م) کې د کوچني اختر په ورځ په سفيدنج کې د امويانو بيرغ رانښته شو، او پر ځای يې د عباسيانو تور بيرغ ځوړند شو.

زيات تعداد خلکو د هرات، بادغيس، تالقان، سرخس، مرو، طاوس، غور، نيشاپور، بلخ ، تخارستان او ځينې نورو ولايتونو د ابومسلم خراسانی مرسته وکړه.

د خراسان والي نصر بن سيار چې د ابومسلم خراساني په مقابل کې ولاړ و. ونشو کولای چې د پاڅون کوونکو په وړاندې مقاومت وکړي. د ابومسلم پواسطه د مرو له نيولو وروسته نصر نيشاپور ته شاتګ وکړو.

مروان حمار زيات کوششونه وکړل تر څو پاڅون ارام کړي ؛خو ونه توانيده. او ابراهيم عباسي يې هم ووژه.

پاڅون کوونکو څو ځله په عراق کې د مروان لښکرو ته ماتې ورکړې. او د اموي خلافت مرکز دمشق يې هم تري ونيو.

ابوالعباس سفاح عباسي په کال (۱۳۲ ق/۷۴۹ م) کې د کوفې په جامع جومات کې ځان خليفه اعلان کړ. مروان مصر ته وتښتيده او هملته ووژل شو.

ابومسلم د خراسان والي وټاکل شو. خو عباسي واکمنان ابومسلم او نورو پاڅون کوونکو ته خوښ نه و.

په کال (۱۳۴ ق/۷۵۵م) کې منصور خليفه ابومسلم د خلافت مرکز ته په يوه بهانه وغوښته او مړ يې کړ.

د ابومسلم په وژلو خلکو بيا پاڅون وکړ. دپاڅون کوونکو مشر په لومړيو کې سنباد و او وروسته بيا استاد (سيس) او (مقنع) د پاڅون کوونکو مشران وټاکل شول.

امير فولاد او امير کرور

امير فولاد د ملک شنسب بن خرنګ زوی د افغانستان په مرکز کې د غور له اميرانانو څخه و. چې په غور کې يې حکومت کولو.

امیرکرور د امیر فولاد زوی په کال (۱۲۹ ق/ ۷۶۰ م) کې په غ
کې واکمن شو. نومورې په دې وتوانيده چې د غور په شاوخوا
کې د خپلې واکمنۍ لمنه پراخه کړي. ځکه نومورې ډېر با
تدبيره او زړه ور شخص و او د پلار په ځېر يې په عباسي نهضت
کې له ابومسلم خراساني سره فعاله ونډه درلوده.

همدارنګه امير کرور يو مدبر او شاعر کس و او ويل کېږي چې
لومړی پښتو شعر د ويلی دی.

پنځم لوست (افغانستان د عباسيانو په دوره کې)

عباسيان د حضرت محمد(ص) د تره حضرت عباس(رض) له
اولادې څخه دي .او يوه شاخه د هاشمي قريشو څخه ده.

دوي د دوهمې پېړۍ په اواخرو کې د سياست ميدان ته را
داخل شول. او ځنګه چې د افغانستان له نا آرامه اوضاع څخه
خبر شول نو خپل مبلغين يې په
(۱۰۶ ق/۷۲۲م) کال کې افغانستان ته راولېږل.

د افغانستان خلکو د خپل ځان په قربانيو باندې له دوي څخه
ملاتړ وکړ. او دوي يې په کال (۱۲۸ ق/ ۷۴۹ م) کې د امويانو
پر ځای واک ته ورسول.

د عباسيانو خلافت ۵۲۳ کاله دوام وکړ. او بلاخره په کال
(۶۳۷ق/ ۱۲۵۸م) کې د مغولو په واسطه له منځه لاړ.

د عباسيانو په دوره کې دافغانستان مالیات له ۴۰ ميليون
درهمو څخه ۷۰ ميليون درهمو ته زيات شول.

شمالي او لويديځي ولايتونو خلکو کلونه مبارزه وکړه. ترڅو
دوی له خراجونو څخه ځان وژغوري.

عباسيانو په خپله دوره کې د افغانستان زراعت او د آبياری
سيستم قوي کړ.

له هريرود او هلمند سيندونو څخه يې نوي کانالونه او ويالې
پورته کړې.

په بلخ کې تر ۷۰ زياتې آبي ژرندې او په سيستان کې بادي
ژرندې جوړې شوې.

په بلخ کې زيات حبوبات لکه غنم او وريجې کرل کېدل. او په
بادغيس او غور کې مالداری او زراعت زياته وده کړې وه.

تالقان او مرغاب د ورېښمينو منسوجاتو له عمده مرکزونو څخه
کېل کېدل. او بلخ عمده تجارتي مرکز و.

په غور کې مس او اوسپنه استخراج کېدله.

د غور اسلحې په ګاونډيو هېوادونو کې ښه شهرت درلوده.

په تخارستان کې سرب او ښلابېل فلزات استخراج کېدل.
همدارنګه د هېواد په مختلفو شمالي ولايتونو کې اوسپنه، نقره
او طلا استخراج کېده. او د پنجشير نقره مشهوره وه.

د فرهنګ او ادب له لحاظه هم افغانستان په هغه وخت کې د
ښلابېلو ځلانده ځېرو شاهد و. چې زيات علمي او ادبي آثار يې
ليکلي وو. لکه د محمد بن موسى بن شاکر خراساني زامن
محمد، احمد او حسن.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په ریاضیاتو کې ابومعشر جعفر بن محمد بلخي.

شاعر بشار بن برد تخارستاني، ادیب، فیلسوف او جغرافیه پوه ابوزید احمد بن سهل بلخي.

برمکیان

برمکیان په اصل کې د برمک له اولادې څخه دي. برمک د بلخ د نوبهار زردشتي اتشکدې ملا و.

د دغه کورنۍ لومړی مشهور شخص خالد د برمک زوی دی. چې اموي خلیفه مروان په خدمت کې حاضر وو.

له خالد نه وروسته یې زوی یحی چې پوه او هوښیار شخص و دې دغه کورنۍ مشهور کس و.

یحی د عباسي خلیفه مهدي له خوا د هارون الرشید د تربیت لپاره وټاکل شو.

یحی د هارون الرشید د خلافت په دوره کې د خلافت ټولې چارې په غاړه لرلې .او له خپلو دوه زامنو سره یې د هغه لپاره کار کولو.

څه وخت وروسته هارون الرسید پرې بدګمانه شو او په کال (۱۸۷ق/۸۰۳م) کې یې د یحی زوی جعفر وواژه او یحی سره د کورنۍ له نورو غړو یې بندی کړ.

طاهر فوشنجی

طاهر بن حسین فوشنجی په کال(۱۵۹ق/۷۷٦م) کې په فوشنج یا د اوسني هرات په زنده جان کې پیدا شو.

نومورې یو مدبر شخص وو او دوه عباسي وروڼو مامون او امین تر منځ په اختلاف کې یې له مامون الرشید څخه چې له بادغیسی مور څخه و ملاتړ وکړ.

په کال (۱۹۵ق/۸۱۱م) کې یې امین وواژه.

د مامون الرشید د خلافت په دوران کې طاهر د خراسان د والي په حیث مقرر شو.

طاهر په خراسان کې په کال (۲۰۷ق/۸۲۲م) د جمعې په ورځ منبر ته پرته شو، او د خلیفه نوم یې له خطبې څخه لرې کړ، او خپله آزادي یې اعلان کړه؛ خو د همدغه ورځې په سبا په مرموز ډول ووژل شو.

له ده نه وروسته یې زامنو ۵۵ کاله په افغانستان باندې حکومت وکړ.

شپږم لوست

(د عربو مسلمانانو او د افغانستان د خلکو تر منځ متقابل اغیز)

څنګه چې د افغانستان خلکو په اوله هجري پیړۍ کې اسلام قبول کړ. د عربي ژبې او اسلامي علومو په زده کړه لکه: قران کریم، تفسیر، حدیث او فقه کې زیاتې کامیابی ترلاسه کړې.

نوم لرونکو اشخاصو لکه: نعمان بن ثابت امام اعظم(ابوحنیفه)، امام احمد بن حنبل مروزي، ابو داوود سجستاني(سیستاني) او په مثال د دغه نورو تر دریمې هجري پیړۍ پورې راښکاره شول. او اسلام ته یې زیات خدمتونه وکړل.

ادیب او جغرافیه پوه ابو زید بلخي، ریاضي پوه ابومشعر بلخي، هندسه پوه محمد بن موسی اوشاعر بشار بن برد تخارستاني.

ابو نصر فارابي د پخوانۍ زمانې یو له لویو عالمانو څخه و. چې په زیاتو برخو لکه(طب، جغرافیه، فلسفه، نجوم او ادبیات) کې یې پوهه درلوده . د نومورې څېنې آثار په ۱۸ او ۱۹ پیړۍ په اروپا کې زیاتو ژبو ته وژباړل شول او چاپ شول.

برمکي کورنۍ په دوهمه هجري پیړۍ کې مکنه کتاب په طب کې او سند هند کتاب په نجوم، فلکیات او د سند باد کیسې یې عربي ژبې ته وژباړلې.

په دې بنا د عربو مسلمانانو او د افغانستان د خلکو تر منځ اغېز دوه اړخیزه وه.

دوهم فصل

اووم لوست (طاهریان او صفاریانو)

طاهریان او صفاریان د افغانستان په تاریخ کې هغه دوه دولتونه و، چې د عباسیانو له حکومت سره یې مخالفت درلوده.

طاهریان د خپل حکومت تر اخره پورې په نیمه خپلواکه توګه پاتې شول.

صفاریاتو خپلواکه ساسته غوره کړې و. له همدې وجې له عباسي خلیفه ګانو سره په جګړه کې وو. په فرهنګي لحاظ صفاریان د فرهنګ له ملاتړ کوونکو څخه ګڼل کېدل.

طاهریان

د دغه کورنۍ اصلي نوم د حسین د زوی طاهر فوشنجي څخه اخیستل شوي دی. چې په اصل کې د پوشنګ یا فوشنج(د هرات زنده جان) څخه دي.

د طاهر کورنۍ د هرات له پخوانیو کورنیو څخه ګڼل کیږي.

د طاهر نیکه مصعب د عباسیانو په نهضت کې برخه اخیستې وه. نو په همدې دلیل یې وروسته له کامیابی د پوشنګ اداره نومورې ته وسپارله.

طاهر د دوه وروڼو په اختلاف کې (مامون او امین) د مامون پلوي وکړه. او امین له وژلو وروسته یې د مامون د خلافت زمینه برابره کړه.

د مامون په حرکت سره له خراسان څخه بغداد ته په کال ۲۰۴ق کې د خراسان د اداره کولو لپاره وړ او مناسب شخص ته ضرورت و. ترڅو د داخلي پاڅونونو مخه ونیسي. د مامون په نظر طاهر د دې کار لپاره وړ کس وګڼل شو.

- خراسان ته د طاهر د راتګ لپاره کولای شو لاندې دلیلونه وړاندې کړو.

۱-خراسان د یو قوي شخص لکه طاهر په شتون کې د عباسیانو پر ضد له شورشونو څخه خوندي پاتې کېده.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

۲-طاهر له مامون سره د امین په وژلو کې په کومک کولو باندې تورن و؛ نو ځکه یې دا غوره ګڼله چې په بغداد کې د امین له پلویانو څخه لرې په یو خوندي ځای کې پاتې شي.

۳-طاهر په خراسان کې د واک اخیستلو پر سر له مامون څخه زیات ملاتړ تر لاسه کولو.

طاهر په کال (۲۰۷ق/ ۸۲۲م اکتوبر) کې له مامون څخه د حکومت فرمان تر لاسه کړو.

له خطبې نه د خلیفه د نوم لرې کولو سربېره هغه سکې چې په ۲۰۶ق ځخه په لاس راغلې دي. په هغه باندې هم د عباسي خلیفه نوم نه ښکاري.

د طاهر زامن

د طاهر د زامنو اړیکې د بغداد له دربار سره د طاهر په نسبت ډیرې ښې وې.

د طاهر له مرګ نه وروسته زامنو یې عبدالله او طلحه مهم منسبونه په عراق او خراسان کې تر لاسه کړل.

د طاهر د زامنو حکومت په افغانستان باندې ۵۵ کاله دوام وکړ؛ خو په سیستان کې صفاریانو واک تراسه کول او د هغه د حکومت پراخه کېدل په افغانستان کې د طاهری دولت د سقوط سبب شول.

د دغه کورنۍ وروستی کس محمد بن طاهر و چې کال (۲۵۹ق) کې د یعقوب لیث صفاري پواسطه ونیول شو او په زندان کې مړ شو.

د طاهر واکمنان

نوم	د حکومت موده	د حکومت کلونه
طاهر بن حسین	۱ کال	(۲۰۶-۲۰۷) ق
طلحه بن طاهر	٦ کال	(۲۰۷-۲۱۳) ق
عبدالله بن طاهر	۱۷ کال	(۲۱۳-۲۳۰) ق
طاهر بن عبدالله	۱۸ کال	(۲۳۰-۲۴۸) ق
محمد بن طاهر	۱۱ کال	(۲۴۸-۲۵۹) ق

صفاریان

یعقوب د صفاري دولت بنسټ اېښودنکی و. او درې وروڼه یې عمرو، علي او طاهر د لیث زامن وو.

پلار یې په سیستان کې د صفاری یا مسګری په کسب باندې بوخت و؛ نو په همدې دلیل دوي ته صفاریان ویل کېږي.

سیستان د دریمې هجري پېړۍ په اوله نیمایي کې د مختلفو اجتماعي ډلو شاهد وو. په ګډون د خوارجو چې یو افراطي ډله وه بله اجتماعي ډله عیاران وو.

یعقوب چې ځان یې د سیستان له محرمو خلکو څخه ګڼلو، په ځوانۍ کې له دغه ډلې سره یوځای شو، د خپل شخصي استعداد لرلو سره ډېر ژر د رهبرۍ درجې ته ورسېده.

د سیستان خلکو په ۲۵ د محرم کال (۲۴۷ق/۸۶۱م) له یعقوب سره بیعت وکړ. پس له دې یعقوب زمونږ په هېواد کې د سیمو په نیولو پیل وکړ.

یو راز چې له یعقوب سره یې په کامیابۍ کې کومک وکړ، هغه د زیاتو خوارجو یوځای کېدل وو. د نوموړې له لښکرو سره چې د هغه په کومک ټول سیستان په شمول د مهمو ښارونو لکه بست، قندهار، کرمان، هرات او کابل ونیول.

نوموړي بلاخره په کال (۲۵۹ق/۸۷۲م) کې د طاهریانو د حکومت مرکز نیشاپور هم ونیو؛ خو ونه توانېده چې د ایران په شمال کې طبرستان د خپل ځان تابع کړي.

د یعقوب اړیکې له عباسی خلیفه سره

یو ځل یې ګران بیه ډالۍ چې ۵۰ مجسمې او سره زر چې له کابل څخه په لاس راغلي وو عباسي خلیفه معتمد ته ولېږل. خلیفه هم د خپل ورور (موفق) پواسطه د بلخ، تخارستان، سند او سیستان د سیمو د حکومت فرمان ورته راولېږه.

وروسته له هغه څخه چې یعقوب په کال (۲۶۲ق/۸۶۷م) کې وغوښتل چې د خپل حکومت لمنه د عباسي خلافت تر لمنې پورې پراخه کړي. او د بغداد اداره په خپل لاس کې واخلي؛ نو له خلیفه سره په جګړه کې ښکېل شو.

په نتیجه کې د خلیفه ورور موفق په چل باندې د دجلې د سیند اوبه په صفاري لښکرو باندې راخوشې کړې او له سختې ماتې سره یې مخ کړل.

د صفاري دولت پای

د عباسی خلیفه پواسطه له ماتې وروسته یعقوب په کال (۲۶۵ق/۸۷۹م) کې مړ شو.

له یعقوب نه وروسته یې ورور عمرو واک ته ورسېده.

په کال (۲۷۱ق/۸۸۴م) کې عباسي خلیفه د خراسان حاجیان خپل دربار ته وغوښتل او اعلان یې ورته وکړو چې عمرو بن لیث مې له ټولو منصبونو څخه ګوښه کړی دی.

په ماوراءالنهر کې د سامانیان واک تر لاسه کول، او د عباسي خلیفه ملاتړ له هغه څخه د عمرو لیث ډار نور هم زیات کړ؛ خو له هغه سره یې د جنګ ترتیبات ونیول. بلاخره په کال (۲۸۷ق/۹۰۰م) کې د دوي تر منځ جګړه پېښه شوه چې له امیر اسماعیل سامانی څخه یې کلکه ماته وخوړه او ورسره بندي شو.

امیر اسماعیل سامانی نوموړی د بغداد خلیفه دربار ته واستاوه. او هملته زنداني شو، او په کال ۲۸۹ه.ق کې مړ شو.

د صفاریانو پاتې شونو یوه پېړۍ په سیستان کې واکمني درلوده. او وروستی کس یې خلف بن احمد (۳۴۴-۳۹۹ق/ ۱۰۰۸-۹۵۵م) د سلطان محمود غزنوي پواسطه له منځه لاړه.

د طاهریانو او صفاریانو په دوره کې فرهنګ او اقتصاد

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په دغه دوره کې د خلکو د اقتصاد اصلي سرچينې زراعت وه. زراعت ته پاملرنه د طاهري واکمنانانو له مهمو اقداماتو څخه وو خصوصاً د عبدالله بن طاهر په وخت کې.

عبدالله بن طاهر د اوبو لګونې په برخه کې زيات کار وکړ. د هېواد د پياوړي لېکوال عبدالحي ګردېزي په وينا عبدالله بن طاهر د خراسان ټول علماء راغوند کړل ،او ورته يې وويل : چې د اوبه لګونې په برخه کې شرعي قوانين خلکو ته روښانه کړي. او يو کتاب يې د(قنات يا کاريز) يا (القني) په نوم سره وليکه.

د عبدالله بن طاهر په لارښونه باندې کارکوونکو ته د زراعت او کرنې په اړه زياتې سپارښتنې وشوې.

طلحه بن طاهر هم په زراعت او کرنه کې د خپل ورور پلوی و. چې په نتيجه کې يې ښه اقتصادي حالت رامنځته کړ.

صفاريانو چې زيات وخت يې په جګړو او د سيمو په نيولو کې تېر شو؛ نو د اقتصادي ودې لپاره يې کومه خاصه برنامه نه درلوده؛ خو د فرهنګ په برخه کې د ملي ادبياتو ډېر لېوال وو. او دې ته يې ترجيح ورکوله چې دري ژبه د عربي ژبې او ادبياتو ځای ونيسي.

يعقوب ليث صفاري له محمد بن وصيف سګزي چې د دربار کاتب و ، وغوښتل چې د دري ژبې پر ځای په عربي ژبه باندې شعرونه ووايي. نوموړي د يعقوب په ستاينه کې په دري ژبه باندې قصيدې وويلې.

خو طاهريانو عربي ژبه قبوله کړې وه، او طلحه بن عبدالله خپله د عربي ژبې د نحوي له علماوو څخه شمېرل کېده.

اتم لوست (سامانيان)

سامانيان اصلاً د ختيځې کورنيو له جملې څخه وو. چې ريښه يې له اسلام نه مخکې وخت ته رسېږي.

دوی له عباسي خليفه څخه د ملاتړ په کولو سره خپل سياست، د اسلام په ختيځ چې افغانستان، ايران او مرکزي آسيا پکې شامله وه ټينګ کړ.

د دوي د حکومت شکل (امارت استکفای استيلا) و په د معنا چې خليفه په عزل او نصب، خراج او مالياتو په ورکړه او نه ورکړه او د ځای ناستي په تاکلو کې دخالت نه لري.

د سامانيانو دوره کولای شو د اسلامي تمدن او فرهنګ د غوړېدنې دوره وګڼو. خصوصاً د عقلي علومو په برخه کې يې زيات پرمختګ کړی و.

سامانيان

سامانيان يو کس ته چې سامان خدات نومېده منسوب دي.

د عبدالحی ګردېزي په وينا دوی (مغان) يا زردشتي روحانيانو څخه وو. چې په ماوراءالنهر کې يې ژوند کولو.

سامان خدات د هشام بن عبدالملک اموي په زمانه کې مسلمان شو. د خراسان د اموي واکمن څخه د ملاتړ په موخه هلته په اسد بن عبدالله مشهور شو.

د دوهمې هجري/ اتمې ميلادي پېړۍ په ختمېدو سره کوم اختلاف چې د هارون الرشيد د ځايناستي په سر رامنځته شوی وه. چې د دوه ورونو له جملې څخه مامون الرشيد په مرو کې وليعهد وټاکل شو.

مامون له نفوذ لرونکو کورنيو لکه؛ طاهريانو، او سامانيانو څخه کمک واخيسته. او وروسته يې په مقابل کې مهم حکومتي منصبونه ورکړل.

کله چې مامون له مرو څخه بغداد ته ېږته تلو د عباسي خلافت د څلور مهمو ختيځي ښارونو اداره يې د سامان څلورو زامنو ته ورکړه : نوح بن اسد ته سمرقند، احمد بن اسد ته فرغانه، يحی بن اسد ته تاشکند او الياس ته هرات.

اسماعيل ساماني

د سامانيانو بنسټ اېښودونکی اسماعيل بن احمد بن سامان خدات و.

نوموړی په کال(۲۳۴ق/۸۴۸م) کې په فرغانه کې وزېږېد.

په ماوراءالنهر کې د نوموړي د واک تر لاسه کولو دوره له هغه وخته شروع کېږي ،کله چې په کال(۲۷۹ق/۸۹۲م) کې يې ورور نصر وفات شو.

شهرت يې هغه وخت زيات شو چې کله يې صفاريانو ته په جنګ کې ماتې ورکړه. او عمرو بن ليث صفاري يې اسير کړ. دغه پېښه د ربيع الاخر په ۱۵ کال (۲۸۷ق/۱۹اپرېل ۹۰۰م) کې واقع شوه.

امير اسماعيل ساماني د عباسي خلافت په ملاتړ د خلافت له نورو دښمنانو لکه سادات علوي سره هم وجنګېده. او محمد بن زيد علوي د طبرستان د علويانو مشر يې ووژلو. او طبرستان او ری (اوسني تهران) او يو څه وروسته يې زنجان او قزوين هم ونيول. په دې ترتيب د ساماني دولت لمنه له افغانستان نه هم د اوسني ايران تر لويديځې څنډو پورې ورسېده.

د امير اسماعيل ساماني په وخت کې بخارا د ساماني دولت پايتخت وټاکل شو. او زيات بروبار يې پيدا کړو او په ختيځ کې په يو مهم اسلامي ښار باندې بدل شو.

امير اسماعيل ساماني وروسته له ۸ کاله واکمنی نه په کال (۲۹۵ق/۹۰۷م) کې وفات شو.

د امير اسماعيل ساماني ځايناستی

د امير اسماعيل ساماني ځايناستی دوهم احمد شو. چې د نوموړي واکمنی پنځه نيم کاله دوام وکړ.

احمد ساماني ژر د خپلو غلامانو لخوا په جمادی الاخر ۳۰۰ق/جنوری ۹۱۴م کې مړ شو.

له ده نه وروسته يې زوی نصر واک ته ورسېده .له کال(۳۰۱-۳۳۱ق/۹۱۴-۹۴۲م) پورې.

CamScanner

ketabton.com The Digital Library

نوموړی د خپل پوه وزیر ابوعبدالله جیهاني او د لښکرو وفادار قومندان حمویه ابن علي په مرسته وکولای شول چې دوباره د هېواد ثبات ټینګ کړي.

له نصر نه وروسته د سامانیانو حکومت تر کال (۳۹۵ق /۱۰۰۵م) پورې وغزېده.

تر دې مهاله یې د واکمنانو شمېر ۷ تنو ته رسېده.

د سامانیانو د حکومت موده ۱۰۲ کاله او ٦ میاشتې وه.

د نوي حکومت تاسیس (غزنویان) ۳۵۱ق/۹٦۲م.

د سامانیانو اقتصاد او فرهنګ

د سامانیانو دوره چې د ختیځ په تاریخ کې د اسلام په رنسانس باندې تعبیر شوي ده. د اقتصاد او فرهنګ له نظره زمونږ د هېواد یوه ځلانده دوره بلل شوې ده.

د اقتصاد او صنعت په برخه کې د پرمختګ عوامل کېدای شي لاندې دوه یاد کړو.

۱- د درانده او غیر قابل تحمل خراج نشتوالي.

۲-داخلي ثبات او خارجي امنیت.

هغه ځېرنو چې په وروستیو کې په اسکاندیناوی او پولنډ کې تر سره شوې ،سامانیانو ته منسوبې نقره یې سکې کې تر لاسه شوې ،دغه ددې ښودنه کوي چې د سامانیانو او ختیځې اروپا تر منځ د کالیو تبادلې تر سره کېدې.

د ژوو د روزنې مرکزونه خصوصاً د اسونو او اوښانو په تخارستان او بلخ کې موجود وو. او همدارنګه په هرات او بست کې وربښم تولیدېدل.

په ادبیاتو کې د نظم او نثر په برخه کې ځانګړی تحول رامنځته شو.

محمد خوارزمي په خپل کتاب (مفاتیح العوم) او ابوریحان البیرونی په خپل کتاب(آثارالباقیه) کې د وخت د مختلفو شاخو او فرقو فکري او عقیدتي یادونه کړې ده.

د عبدالحی ګردیزي په وینا په رین الاخبار کې د سامانیانو پوه وزیر ابو عبدالله جیهاني فرمان ورکړي وه. چې په سامانی دربار او د ملک په اداره کې د هغه وخت د ټولو درباروونو په شان کړنې تر سره شي.

په همدې ترتیب د اسلامي تمدن طلایئ دوره جوړه شوه. او لوی اسلامي فیلسوفان ابونصر محمد بن محمد فارابي، شېخ الریس ابوعلی حسین بن عبدالله بن سینا بلخي، لوی مفکر ریاضي دان او منجم ابوریحان البیروني خوارزمي.

د دري ژبې د شاعرانو استاد جعفر رودکي، مشهور استاد او حکیم، شاعر ابوالحسن شهید بلخي، د بلعمي تاریخ لیکوال او د ابو منصور ساماني وزیر محمدبن عبدالله بلعمي، د اول منصور سامانی پوه وزیر، جغرافیه پوه اود اشکلل العام کتاب لیکوال ابو عبدالله احمد بن محمد جیهانی رامنځ ته شول.

له اسلام نه وروسته د دري ژبې لومړی شاعره رابعه بلخي چې پلار یې زینت العرب لقب ورکړی وه. او نور په لسګونه عالمان او پوهان موجود وو.

نهم لوست (غزنویان او سلجوقیان)

غزنویان

غزنه غزنین یا غزني ښار زمونږ په هېواد کې په ځانګړي ډول هغه وخت له زیات شهرت څخه برخمن شو .چې کله الپ تګین ساماني ترکي سردار په کال (۳۵۰ ق/ ۹٦۱ م) کې د امیر عبدالملک بن نوح د مرګ په توطیه کې شرکت وکړ چې غوښتل یې خپل شاهزاده واکمن کړي.

نوموړی سره له پلویان غزنی ښار ته لاړ، او دغه ښار یې د خپل مرکز په توګه وټاکلو.

سبکتګین

په کال (۵۲ ۸ ق/ ۹٦۳ م) کې د الپتګین له مړینې وروسته یې زوی ابو اسحاق ابراهیم ۳ کاله او وروسته له ده نه بلکاتګین د ۱۰ کلونو لپاره د غزنی ښاره اداره په غاړه لرله.

د نوموړي واکمني له کال(۳٦٦ -۳۸۷ ق/۹۷٦-۹۹۷ م) پورې د ده تر مړینې پورې دوام وکړ.

په دغه دوره کې یې د غزنویانو حکومت ځواکمن کړ. سبکتګین بست او قصدار په خپل قلمرو کې شامل کړل، او دې دغه حملو په پایله کې یې مشهور عالم او ادیب ابوالفتح سستي خپل خدمت ته حاضر کړ. دنوموړي د واکمنی قلمرو په هندوستان کې تر جیپال پورې ورسېدل.

سبکتګین د هېواد د اداره کولو په خاطر د ولایتونه د کورنیو تر منځ ووېشل .او دهغه له جملې څخه نیشاپور چې ډېر مشهور ښار وو ،خپل زوی ابوالقاسم محمود ته ورکړ، نصر ته بست، اسماعیل ته غزنه او بلخ ورکړل.

سلطان محمود غزنوي

د سبکتګین له مړینې وروسته په کال(۳۸۷ ق/۹۹۷ م) کې نوموړي یې ورور له قدرت نه لرې کړ. او خپله یې د غزنویانو د دولت چارې په غاړه واخیستې.

سیستان، غرجستان(هزارجات)، ګورګان(جوزجان)، چغانیانو او خوارزمیانو د غزنویانو دولت ته غاړه کېښوده.

فتوحات

سلطان محمود غزنوي د دې په خاطر چې زیات فتوحات یې د هند لور ته کړي و؛ نو ځکه زمونږ په تاریخ کې د لوی فاتح او بت شکن په نوم سره مشهور شو.

په کال (۴۱٦ ق/۱۰۲۵ م) کې د هند په ګجرات کې د سومنات بت فتح ،چې د هند یو لوی او مهم بت شمېرل کېده د سلطان محمود غزنوی د زیات شهرت سبب شو.

د سلطان محمود غزنوی ځاینانې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په غالب ګومان سلطان محمود غزنوي د حکومت په منځنیو کلونو کې زیات میل مسعود غزنوي ته وه . چې خپل ولیعهد یې وټاکي.

نومورې (سلطان محمود غزنوي) د حکومت په وروستیو کلونو کې په مسعود باندې بد ګمانه شو .او پر ځای یې بل زوی محمد د ولیعهدۍ لپاره غوره کړ.

زړور زوی مسعود یې د ری(تهران) او جبال (د ایران غرب) د اداره کولو لپاره ولېږه. ترڅو له مرکز څخه لېرې وي.

سلطان محمود غزنوی ربیع الثاني ۴۲۱ق/اپریل ۱۰۳۰م کې وفات شو .او محمد یې د پلار په ځوښتنه په غزني کې په تخت کښاوه.

مسعود په کامیابه توګه له ری نه د نیشاپور په طرف پرمختګ وکړ. او کال (۴۲۱ق رمضان/ ۱۰۳۰م دسمبر) کې د غزني لښکرو خبر ترلاسه کړ چې د خراسان پوځونو مسعود پاچا اعلان کړی دی.

په هغه جنګ کې سرخس ری ته نژدې په د ندانقان سیمه کې په کال (۴۳۱ ق/ ۱۰۴۰ م) کې د ترکمنانو او غزنویانو تر منځ جنګ پېښ شو .غزنویانو سخته ماتې وخوړه، او مسعود غزنوي د غزني په طرف وتښتېده، او په دې ګمان چې د ترکمنانو تر تعقیب لاندې یم، له خپلې کورنۍ سره د هند په لوري یې تښته وکړه.

مسعود په کال (۴۳۲ ق/ ۱۰۴۱ م) کې د ورور محمود په توطیه کې ووژل شو، له دې نه وروسته د غزنویانو حکومت ۱۳۰ کاله دوام وکړ.

حکومت کې یې کمې د افغانستان ختیځي برخې او ځینې د بلوچستان او پنجاب شاملې وې.

غزنوي پاچاهان	کال
۱-الپ تګین	(۳۵۱) ق
۲-سبکتګین	(۳۶۷-۳۸۷) ق
۳-اسماعیل بن سبکتګین	(۳۸۷-۳۸۹) ق
۴-سلطان محمود غزنوي	(۳۸۹-۴۲۱) ق
۵-محمد بن محمود	(۴۲۱-۴۲۱) ق
۶-سلطان مسعود	(۴۲۱-۴۳۳) ق
۷-مودود بن مسعود	(۴۳۳-۴۴۰) ق
۸-مسعود بن مودود	(۴۴۰-۴۴۰) ق
۹-بهاوالدوله علي بن مسعود	(۴۴۱-۴۴۴) ق

سلجوقیان

سلاجقه په اصل کې داغز له ترکمنانو څخه ګڼل کېږي، چې په اتمه میلادی پېړۍ کې له خوارزم بحیرې (آرال) او سېر دریا نه یې کوچ کړی دی.

د سلجوقي خاندان لوی نیکه دقاق(تقاق) نومېده. نومورې د ترک پاچاهانو په خدمت کې حاضر و، او سلجوق د تقاق زوی هم د پلار په شان د ترک پاچاهانو خدمت کولو.

نومورې او کورنۍ یې په ۳۸۲ ق/ ۹۹۲ م کې مسلمان شول.

د سلجوق درې زامنو د اسراییل، میکاییل او موسی د ماوراءالنهر په لور کوچ وکړ، او د سامانیانو په خدمت کې حاضر شول.

خو د سلطان محمود غزنوي پواسطه د اسراییل او د هندوستان په کالنجر زندان کې له ۷ کاله بند څخه وروسته یې وژل ددې سبب شول چې د ترکمن سلجوقیانو او غزنویانو تر منځ روابط خراب شي.

دوي په کال (۴۲۹ ق/ ۱۰۳۸ م) کې په خراسان کې مهم ښار نیشاپور ونیوه .او وروسته یې د دندانقان په سیمه کې د سلطان محمود لښکرو ته سخته ماتې ورکړه.

طغرل بېګ د سلجوقي کورنۍ بنسټ اېښودونکي کنډل کېږي. او تر ۴۵۵ق/ ۱۰۶۳م پورې یې واکمني وکړه.

طغرل بیګ ۲۶ کاله واکمني وکړه.

له طغرل بېګ نه وروسته وراره یې آلپ ارسلان واک ته ورسېده. او خواجه نظام الملک یې خپل وزیر وټاکه.

په کال (۴۶۲ق/۱۰۷۰م) کې سلجوقیانو د ملا زجرد په یو مشهور جنګ کې چې د وان او ارزروم تر منځ واقع وو رومیانو ته سختې ماتې ورکړه. او د روم قیصر دیوژن رومانوس یې بندي ونیوه، او کوچنۍ آسیا یې هم لاندې کړه.

آلپ ارسلان په کال(۴۶۵ق/۱۰۷۳م) کې د خوارزم په لاره ووژل شو.

له ده نه وروسته یې زوی ملک شاه سلجوقي د خواجه نظام الملک په مرسته واک ته ورسېده.

د ملک شاه حکومت د خواجه نظام الملک په لرې کولو او پر ځاي یې د تاج الملک راوستلو سره د ضعف خواته لاړه. او په کال(۴۸۵ق/۱۰۹۲م) کې د نومورې په مړینې سره د واک د لاسته راوړلو په سر باندې کورنۍ جګړې پیل شوې.

اتابکانو هم له یو څه وخت وروسته خپلواکي اعلان کړه .او آذربایجان او ایران کې یې خپلواکه حکومت جوړ کړ.

د سلجوقیانو د حکومت ختیځي برخه چې افغانستان پکې شامل و، د سلطان سنجر تر واک لاندې راغلو او پس له زیات کش مکش نه یې مرو خپل پایتخت وټاکلو.

د ده په مړینې په کال(۵۵۲ق/۱۱۵۷م) کې له ۴۲ کاله واکمنۍ نه وروسته د سلجوقي خاندان هم د ضعف خواته لاړ.

ځنګه چې سلطان سنجر ځاناستي نه درلوده. خوریې یې رکن الدین محمود تر کال ۵۵۷ق/۱۱۶۲م پورې د افغانستان او ماوراءالنهر په بعضې برخو واکمني کوله؛ خو په دغه کال کې د یو تن سلجوقي سردار لخوا ونیول شو او وروند شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د غزنویانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ

د غزني د جومات په باره کې وېل کېږي چې د دبغداد له جومات سره برابر و.

سلطان محمود غزنوي د ۷ میلیون درهمو په ارزښت یوه مانۍ جوړه کړه. چې جوړولو یې څلور کاله وخت ونیوه.

د پلونو جوړولو ته هم زیاته توجو کېده. د زورقي پل چې د جیهون سیند د پاسه جوړ شوی دی، د یو وصلونکي زنځیر حیثیت یې درلود، چې سلطان محمود غزنوی په کال (۱۶-۴۱۵ق/۲۵-۱۰۲۴م) کې جوړ کړی دی.

سلطان محمود غزنوی یو درالعلوم جوړ کړ. چې سربېره د عا لمانو ۴۰۰ شاعرانو هم پکې شتون درلود.

د غزنویانو د دورې مهم عالمان او شاعران کولای شو په لاندې ډول سره یاد کړو: په نجوم، ځمکې پوهنه او عقاید کې ابوریحان البیروني، ریاضي پوه ابوالحسن علی بن احمد، منوچهری، عبدالعزیز عسجدي مروزي، ابوالقاسم فردوسي او نور.

د سلجوقیانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ

د نظامیه په نوم مدرسې د هېواد په مختلفو برخو کې جوړې شوې.

د دوي له عمراناتو څخه کولای شو ځینې یې په لاندې ډول سره یاد کړو. امام خرد زیارت په سرپل او جوزجان کې، د بلخ په دولت آباد کې منار، په بلخ کې د بابا حاتم زیارت.

ترکي اداري اصطلاحات لکه کوتوال (د کلاوو مسوؤل) باسقاق (د مالیې د اخیسنې مامور) او همدارنګه د رنګا رنګ لباسونو رواجېدل.

سلجوقیان کولای شو د دري ژبې او فرهنګ قوي خدمت کوونکي وګڼو. ځکه دغه ژبه د دوي په وسیله آذربایجان، عراق او کوچنۍ آسیا (اوسني ترکیه) ته ورسېده.

د سلجوقیانو د دورې له مهم علمي او فرهنګي کسانو څخه کولای شو په لاندې ډول یادونه وکړو

حکیم مجدود آدم مشهور په سنایی غزنوي، خواجه عبدالله انصاري، شیخ محمد غزالي، مشهوره شاعره مېرمن منیژه مهستي او نور.

نظر پرې واچوئ!

ترکان د هغه قومونو له جملې څخه وو چې په مرکزي آسیا کې یې ژوند کولو. له نومورو قومونو سره زیاتې اړیکې د سامانیانو په دوره کې ټینګې شوې.

د زمونږ د هېواد په تاریخ کې دري کورنۍ (غزنویان، سلجوقیان او خوارزم شاهیان) د ترکانو په نوم یادې شوې دي.

لسم لوست (غوریان او خوارزم شاهان)

غوریان

غوریانو په غور کې له واکمن کېدو وروسته هندوستان هم تر خپلې ولکې لاندې راوسته.

خوارزم شاهیان چې له ترکې کورنۍ څخه دي، د ماوراءالنهر په شمال کې خوارزم ته منسوب دي.

غوریان چې د افغانستان په مرکز کې له غور څخه راپورته شول، په اصل کې ملک شنسب ته منسوب دي، چې په غور کې یې واکمني درلوده.

منهاج السراج جوزجاني په کتاب طبقات النصري کې لیکلي دي ،چې ملک شنسب د حضرت علی(رض) په خلافت کې ژوند کولو. او په همدې وخت کې مسلمان شوی و. عهد او لوا چې د حکومت دوه نښې وې نوموړی تر لاسه کړې.

اولینی کس چې له هارون الرشید عباسي څخه یې عهد او لوا تر لاسه کړل، امیر بنجي نهاران و. نوموړي وروسته له امیر فولاد څخه د غور دوهم قدرتمند امیر ګڼل کېده.

د غور له امیرانو څخه هغه کس چې د سبکتګین او د زوی یې محمود غزنوي همزمان و ،او د نوموړو په متصرفاتو کې برخه درلوده محمد سوري نومېده.

سلطان محمود غزنوی په کال (۴۰۱ق/۱۰۱۱م) کې په محمد سوري باندې حمله وکړه .او نوموړی یې بندي کړ او وروسته هملته وفات شو.

د سلطان محمود غزنوی لخوا د غور د سلطنت لپاره د نوموړي زوی (شیث) و تاکل شو.

په دغه دوره کې غوریان د علاؤالدین حسین تر مشرۍ لاندې په کال (۵۴۷ق/۱۱۵۲م) کې د سلطان سنجر سلجوقي سره په جنګ کې مخامخ شول؛ خو علاؤالدین وروسته له شکسته دوباره واک ته ورسېده.

علاؤالدین حسین خپل ورور سیف الدین د بهرام شاه پر ځای د غزنی د حکومت لپاره غوره کړ.

وروسته له یو څه وخت نه د غزني خلکو پاڅون وکړ، او سیف الدین یې ووژاه او بهرام شاه غزنوی یې بېرته د غزنی حاکم وټاکه.

علاؤالدین حسین د غزنویانو د دغه عمل د غچ په موخه په کال (۵۵۶ق/۱۱۶۰م) کې د بهرام شاه د زوی خسرو شاه په دوره کې په غزني باندې هجوم وروړه ،او غزنی یې ونیوه ،او آور یې ور وآچوه له دې نه وروسته نومورې په علاؤالدین جهان سوز باندې مشهور شو.

څو کاله وروسته یې وراره غیاث الدین بن سام په نوم باندې د غور واکمنی ته ورسېده.

غیاث الدین د خپل زړور ورور شهاب الدین محمد بن سام غزان ته چې د غزني واکمن و، د ماتې تر څنګ یې خپلې پولې له کرمان نه تر سند پورې ورسولې.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

سلطان شهاب الدین په کال(۵۷۹ق/۱۱۸۴م) کې لاهور هم ونیوه. او دغزنویانو سلطنت یې مکمل له منځه یوړه.

د شهاب الدین په کړنو سره د غوریانو حکومت زیاته پراخي پیدا کړه. د کسپین خزر د بحیرې له ځنډو نه په هند کې د جمنا سیند تر ځنډو پورې ،او له جیحون نه تر بلوچستان پورې ،د سلطان غیاث الدین په نوم باندې خطبه ویل کېده.

په کال (۵۹۹ق/۱۲۰۳م) کې د سلطان غیاث الدین له وفات نه وروسته ورور یې شهاب الدین د معزالدین په لقب سره د نوموړي ځایناستی شو.

سلطان شهاب الدین هم په کال (۶۰۲ق/۱۲۰۶م) کې د یو تن مخالف له لوري ووژل شو.

د غوریانو د حکومت ضعف د غیاث الدین محمد د زوی غیاث الدین محمود د حکومت له دورې څخه پیل شو او امپراتوري یې تجزیه شوه.

قطب الدین ایبک په دهلي کې او ناصر الدین قباحه په سیند کې د خپلواکۍ بیرغونه پورته کړل. په تدریج سره د غوریانو حکومت په غور پورې منحصر شو.

خوارزم شاهیان!

خوارزم چې په پخوانیو منابعو کې د هوارزمیا په نوم راغلي دي. د جیحون سیند او کسپین(خزر) بحیرې شمالي ځنډو تر منځ سیمه ده .او خوارزم شاهیان دې سیمې ته منسوب دي.

د خوارزم شاهیانو لومړی کس انوشتگین غرجه و. چې په اصل کې د غرجستان (اوسنیو هزارجاتو) څخه و.

د انوشتگین غرجه له مړینې نه وروسته یې زوی محمد د سلطان سلجوقي لخوا په کال(۴۹۱ق/ ۱۰۹۸م) کې د خوارزم حکمران وټاکل شو.

محمد لومړی خپل ځان (خوارزم شاه) ونومووه، او ټوله واکمني یې د سلطان سنجر سلجوقي په ملاتړ تېره کړه.

زوی یې (اتسز) چې یو پوه او د عقل خاوند شخص وه، په کال (۵۲۲ق/۱۱۲۸م) کې د خوارزم واکمن شو له سلجوقي حکومت نه یې د خپلواکۍ ډیرې هڅې وکړې.

اتسز په کال (۵۳۵ق/۱۱۸۱م) کې د سلجوقیانو نوم له خطبې او سکوو څخه لرې کړ. او خپله کامله خپلواکي یې اعلان کړه.

د خوارزم شاهیانو غوره پادشاهان عبارت دي له: علاوالدین تکش او علاوالدین محمد وو، او خصوصاً د علاوالدین محمد په وخت کې د خوارزم شاهیانو دولت زیات تصرفات وکړل.

د غوریانو حکومت هم په کال (۶۰۲ق/۱۲۰۶م) کې د علاوالدین محمد پواسطه منحل شو.

خلیفه ناصر الدین د خوارزم له مخالفانو څخه ملاتړ وکړ. او له بل طرف نه مغولو د چنګیزخان په مشرۍ په کال (۶۱۷ق/ ۱۲۲۱م) کې د خوارزم شاهیانو د حکومت قلمرو تر حملو لاندې راوستلې. مغولانو د خوارزم شار ونیوه په دې توګه د خوارزم شاهیانو د دولت زوال پیل شو.

علاوالدین محمد مخکې له وفات نه جلالالدین خپل ځایناستی و ټاکه، نوموړی د مغولو په وړاندې زیات مقاومت وکړو خو د پروان په جنګ کې یې له مغولو څخه ماته وخوړه. او سند ته وتښتېد یو ځل بیا یې سند ته نږدې د چنګیز خان له لښکرو څخه ماته وخوړه او دهلي ته وتښتېده؛ خو وروسته یې ځان د کرمان او شیراز له لارې اصفهان او آذربایجان ته ورسولو.

بلاخره په کال(۶۲۷ق/۱۳۳۰م) کې د کردانو پواسطه ووژل شو. او د نوموړي په وژل کېدو سره د خوارزم شاهیانو حکومت هم پای ته ورسېده.

د خوارزم شاهیانو اقتصاد او فرهنګ

د خوارزم شاهیانو په وخت کې اقتصاد

د اولیه ضرورتونو په اساس په کشاورزی او زراعت باندې لګیا وو. جوار او غنم، پنبه او وریجې، انګور او کشمیش، بادام او پنیر یې تولیدول.

د هېواد ځینې معدنونه لکه: طلا، اوسپنه، مس، سرب او نوشادر استخراج کېدل ،او کوچنۍ صنایع لکه قالین اوبدنه، چرم جوړونه او اسلحه جوړونه هم رواج وې.

خصوصاً غوریانو آبادي او جوړونې ته زیاته توجه وکړه .او ځینې مساجد او کلاوو یې جوړې کړې.

د آبادۍ په برخه کې یې مهم د هرات جامع جومات دی. چې کار یې دسلطان غیاث الدین غوري په وخت کې شروع شوی و.

د غور منار جام چې د اسلامي نړۍ یوه ښکارنده او له لویو تاریخي میراثونو څخه ګڼل کېږي. چې ۶۴متره لوړوالی لري د محمد غوري پواسطه په غور کې جوړ شو. چې د نړۍ له مشهورو مناروتو څخه شمېرل کیږي.

د خوارزم شاهیانو په وخت کې ادبیات.

خوارزم شاهیانو هم له شاعرانو او ادیبانو څخه د ملاتړ سیاست ته دوام ورکړ. او مشهوره ده چې اتسز خوارزم شاه رشید الدین محمد وطواط بلخي د خپل دفتر د انشاء رییس مقرر کړ. دغه مشهور شاعر چې په عربي او دري یې په نظم او نثر کې لوی لاس درلود، خپل مهم کتاب یې د (حدائق السحر فی دقایق الشعر) په نوم د اتسز په امر ولیکه.

دغه کتاب د لفظي او معنوي صنایعو په بیان کې د کمال تر حده رسېدلي وو. همدارنګه سیده بیګم علوي چې فضل او کمال خاونده شاعره وه، د شعرونو دیوان یې هم درلود. په دې وخت کې اوسېده نوموړې د وطواط بلخي د شعرونو په مقابل کې شعرونه ویل.

یوولسم لوست (مغولان او آل کرت)

د مغولو د لومړي قدرت جوړښت

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

مغول په اصل کې د زېر پوستکو له جملې څخه دي. چې د آسیا په ځینو مرکزي او ختیځې برخو کې یې ژوند کولو.

دغه قوم له مختلفو قبیلو څخه تشکیل شوی دی. چې مهمې یې په لاندې ډول دي: تاتار، قیات، جلایر، قنقرات او کراییت.

دوي په قبیلوي او کوچیاني توګه ژوند کولو.

تر څو چې په شپږمې هجري/ دولسمې میلادي پېړۍ کې د چنګېز پلار یسوکابهادر دوی سره متحد کړل. د دوي زیات وخت په جنګونو کې تېر شوی و.

د نوموړي له وفات نه وروسته یې زوی تموچین د مغولو مشري په لاس کې واخیسته.

تموچین د شپږمې هجري پېړۍ په وروستیو کې په یوه لویه غونډه کې ځان ته د چنګېز لقب غوره کړ.

نوموړی په دې و توانېده چې تر اوومې هجري/ دیارلسمې میلادي پېړۍ پورې په مرکزي آسیا کې د مغولو زیات قبایل د ځان تابع وګرځوي.

د چنګیز خان او د خوارزم شاه د استازو تر منځ ټرون په کال(٦١٥ق/١٢١٩م) کې لاسلیک شو.

په کال (٦١٦ق/١٢٢٠م) کې په اسلامي هېوادونو باندې د حملې امر صادر شو. او لسګونه زره مغولي پوځیان اسلامي هېوادونو ته داخل شول.

د بخارا، سمرقند، خوارزم او مرو د ښارونو له چپاول څخه وروسته یې زمونږ د هېواد مهم ښارونه لکه هرات، غزنه، کابل او بامیان هم د مغولي پوځیانو پواسطه سخت ویجاړ شول او وګړي یې ووژل.

د خوارزم شاهیانو تر لاس لاندې سیمو تر نیولو وروسته چنګېز خان ېېرته مغولستان ته وګرځېد.

چنګېز په کال(٦٢٤ق/١٢٢٧م) کې د تبت د شمال برخې تر نیولو وروسته د ٧٢ کلنۍ په عمر مړ شو.

د چنګېز خان له ځایناستو څخه یو ځل بیا هلاکوخان ته د منګوقاآن له طرفه امر وشو چې په اسلامي هېوادونو باندې حملې وکړي.

هلاکوخان خپله دنده په کال(٦٥١ق/١٢٥٣م) کې پیل کړه.

هلاکوخان په کال(٦٥٦ق/١٢٥٣م) کې د عباسي خلیفه المتعسم بالله په وژلو او د بغداد په نیولو سره یې د عباسیانو ٥٢٥کلنه واکمنې پای ته ورسوله.

نوموړي د عراق له نیولو وروسته ګرجستان، ارمنستان او دکوچنۍ آسیا (اوسنۍ ترکیه) ځینې برخې هم ونیولې.

هلاکوخان په کال(٦٦٣ق/١٢٥٣م) کې وروسته له هغه چې جیحون یې د مصر تر سرحداتو پورې وټکولو او د مغولو تابع کړو مړ شو.

له دې نه وروسته د اوسنۍ ایران او د افغانستان لویدیځې برخې د هلاکوخان د زامنو ایلخانانو پواسطه اداره کېدې.

خو ماوراءالنهر او د افغانستان ځینې برخې لکه(تخارستان، بلخ او زابل) د مغولو د یوې بلې شاخې پواسطه چې جغتائیان نومېدل اداره کېدل.

آل کرت

د یو له لویو محلي حکومتونو څخه چې د مغولو په دوره کې یې د افغانستان په زیاتو برخو باندې واکمنې کوله آل کرت یا کرتیان وو.

ځینې یې د غوریان دوستان او ځینې نور یې بیا د ربیع فوشنجي هغه شعرونه چې د ملک فخرالدین په ستاینه کې ویلي دي د سلجوقي او ترکمن پادشاهانو دوستان ګڼي.

د دغه کورنۍ مشهور اشخاص ملک رکن الدین وو، چې د تاج الدین مرغني د زوی ګومارلی کس و په غور کې.

ملک رکن الدین په خپل ٢٦ کلن سلطنت کې چې (٦١٧-٦٤٣ق/١٢٢٠-١٢٤٥م) کلونو پورې وه خپله ټوله توجه یې د خور لمسي شمس الدین کرت ته کوله او خپل ځایناستي یې وټاکلو.

ملک معزو الدین حسین کرت له مغولو نه د خپلواکی لپاره یې زیاتې هڅې وکړې خو توند سیاست چې د مخالفانو په وړاندې یې لرلو او همدارنګه بلخ، بادغیس او شبرغان ښارونو له چور او وژلو نه وروسته له زیاتو پاڅونونو سره مخامخ شو. او په اخر کې د غوري امیرانو پواسطه له واکه لرې شو.

د دغه کورنۍ وروستی واکمن ملک غیاث الدین د ملک حسین زوی وو ،چې د تیمور ګورګاني د راڅرګندېدو په وخت کې یې ژوند کولو او بلاخره یې امپراتوري دتیمور ګورګاني د قلمرو برخه شوه.

نوموړی له امیر تیمور سره د یو کال زندان تېرولو وروسته په کال (٧٨٧ق/١٣٨٣م) کې د تیمور پواسطه مړ شو او پدې توګه د آل کرت دولت هم زمونږ د هېواد د تاریخ یوه برخه شوه.

د آل کرت د امیرانو شمېر ٨ ته رسېدو چې ١٣٠ کاله یې واکمني وکړه.

دوولسم لوست (تیمورګورګاني او ځایناستي یې)

مؤرخانو د تیمور ګورګاني نسب تومنای خان د چنګیز خاندان ته رسولی ده.

نوموړی په کال(٧٣٦ق/١٣٣٦م) کې د کش ښار ته نږدې د ازبکستان په سمرقند کې وزېږېد.

تر کال (٧٦٢ق/١٣٦١م) پورې څه معلومات په لاس کې نشته بدون له دې څخه چې په ځوانی کې یې علم او ادب زده کړل او په غشي ویشتلو باندې مصروف و.

په ځوانی کې یې د امیر حاجي برلاس په دستګاه کې په کار باندې مصروفه و ځنګه چې امیر حاجي له مرکزي آسیا څخه افغانستان ته پناه راوړې وه نو تیمور هم ورسره و.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

تیمور د کاشغر خان څخه د کش ښار د اداره کولو امر تر لاسه کړو.

د گورګان د زوم لقب یې هغه وخت ځان ته غوره کړه چې کله یې د ماوراءالنهر د امیر حسین قرغني له لور سره واده وکړ.

تیمور د امیر حسین قرغني په کومک سره د چغتایی ترکانو لاسونه د ماوراءالنهر څخه لنډ کړل. او په کال(۷۷۱ق/۱۳۷۰م) کې امیر حسین او زوی یې د بلخ په شاوخوا کې ووژل ځان یې د ماوراءالنهر په ځواکمن پاچا باندې تبدیل کړه او سمرقند ښار یې خپل مرکز وټاکلو.

د تیمور ګورګاني حملات

تیمور د(۷۳۳ق/۱۳۳۳م-۷۸۱ق/۱۳۸۰م) کلونو تر منځ ځلور ځله په خوارزم ښار باندې حملې وکړې او ویجاړ یې کړ.

د قبچاق دښته او مغولستان یې هم ونیول او خپل ۱۴ کلن زوی میران شاه یې د خراسان(افغانستان) د نیولو لپاره و ټاکلو او خپله هم ورسره یو ځای شو.

نومورې خصوصاً د هرات ښار چې د آل کرت حکومت مرکز و په زیاتو ویجاړیو باندې یې لاس پورې کړ پرته د اختیار الدین له کلا څخه نور یې ټول ښار ویجاړ کړ. او زیات د نوم او منصب خاوندان لکه علماء، فقها او پوهان یې په زور د سبز ښار ته ولېږل.

ملک غیاث الدین کرتی په کال(۷۸۵ق/۱۳۸۳م) کې د تیمور په امر ووژل شول. او د آل کرت کورنۍ یې هم له زوال سره مخامخ کړه.

تیمور تر مرګ پورې(۸۰۷ق/۱۴۰۴م) د ۲۹ کلونو په موده کې د خپلو حملو په نتیجه کې په سلګونه زره انسانان مړه کړل. او له چین څخه تر مدیترانې، د روسیې له استوپونو څخه تر مسکو او دهلي پورې یې ځایونه ونیول او د یوې لویې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود.

د تیمور د لښکرو زیاته برخه چغتایی ترکانو تشکیلوله چې بعضې یې ښځې هم وې.

تیمور په کال(۸۰۷ق/۱۴۰۴م) کې د ۷۱ کلونو په عمر مړ شو.

د تیمور ځاینانستي

تیمور د مرګ په وخت کې ۳۶ زامن او لمسیان درلودل.

د تیمور له مرګ څخه وروسته یې د دوه زامنو او لمسي تر منځ اختلاف رامنځته شو او د تیمور دوه زامنو په تدریج سره د خپلو ورېرونو تر واک لاندې سیمې تر خپل واک لاندې راوستې.

د تیمور زامنو نسبتاً پراخه دولت رامنځته کړو.

۱- یو دولت د میران شاه او د زامنونو یې په عراق، عرب، د ایران لویدیځ، ګرجستان، ارمنستان او الجزیره کې.

۲- د شاهرخ دولت و په خراسان، افغانستان او ماوراءالنهر کې چې هرات یې مرکز و.

د میران شاه دولت د زامنو د لېونتوب او اختلافاتو او د ترکمنانو او په ایران کې آل جلایرو پواسطه له منځه لاړه.

د شاهرخ دولت د نوموړي او د درباریانو د پوهې په سبب یې زیات دوام وکړ. او نوموړي دوره د افغانستان د تاریخ له ځلانده دورو څخه شمېرل کېږي. چې د واکمنۍ مرکز یې په هرات ښار کې و.

د شاهرخ په ۴۳ کلن حکومت کې په هرات ښار کې یوه لویه کتابخانه د نوموړي په امر سره جوړه شوه.

د نوموړي له مېرمنو څخه ګوهرشاد آغا (په ترکی کې آغا د ملکې په معنا ده) چې د خیر په کارونو او د نېکو آثارو په رامنځته کولو کې مشهوره وه.

د شاهرخ نه وروسته یې زوی الغ بیګ واک ته ورسېده. خو نوموړی یې هم د پلار په شان عالم او علم دوسته شخص و.

الغ بېګ په کال(۸۵۲ق/۱۴۴۸م) کې د خپل ورور پواسطه مړ شو.

وروسته له یو څه وخت یو بل تیموري واکمن د سلطان بایقرا په نوم په هرات کې واک ته ورسېد. نوموړی امیر شیرعلی نوایی چې د هغه وخت یو عالم شخص و د وزارت لپاره وټاکلو.

حسین بایقرا ۳۳ کاله وخت ونیوه د نوموړی په وخت کې هرات ښار کې آبادي اوج ته رسېدلې وه.

د حسین بایقرا په وفات سره د تیمور د ځاینانستو زوال هم شروع شو، او سرحدات یې د شیباني ازبکانو او ایراني صفویانو تر حملو لاندې راغلل.

د تیمور د زامنو حکومت ۱۱۳ کاله دوام وکړ، او شېرو نفرو یې په افغانستان باندې حکومت وکړ.

دیارلسم لوست

(د مغولانو او تیموریانو په وخت کې اقتصاد او فرهنګ)

مغولانو د اشغال شویو سیمو هنرمندان او صنعت کاران بندی کول او مغولستان ته به یې لېږل.

د دغې دورې د غوره کسانو له جملې څخه یو هم جلال الدین بلخي و چې پلار یې بهاولد نومېده.

بهاولد په ماوراءالنهر او خراسان کې زیات مریدان درلودل او مغولانو د حملو په خاطر یې سیمه پرېښوده. د کوچ پر مهال یې ۳۰۰ اوښانو د کور اسباب او کتابونه انتقالول.

زمونږ د هېواد مشهور لیکوال قاضي منهاج الدین چې په منهاج سراج جوزجاني باندې مشهور و هم په دې دوره کې اوسېده. په هند کې یې د ناصر الدین دربار ته پناه وروړه او خپل کتاب (طبقات ناصری) یې همله ولیکه.

د جهانګشا کتاب لیکوال عطا ملک جویني، امیر حسین غوري، سیفي هروي، ربیعی فوشنجي، د ملک یار هوتک زوی باباهوتک او اکبر زمینداوری هم په دې دوره کې اوسېدل.

د تیموریانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ځوانرسمه لوست (په افغانستان کې شپېلنیان)

د درېیم فصل

د ډاکټور تاریخ

د ډهلۍ څخه په یې زغورې د هېوا سېمې او ولایتونه اداره کول.

صفویان او د هند مغولان چې له بخارا، سمرقند، اصفهان او

د دغه دلو عسکرو یې په لاسونو کې وو. ازبک شپېلنیان، د ایران

مرکزي، سیاسي او واحد قلمرو هم له منځه لاړ.

چې تقریباً دوه نیمې پېړۍ وخت یې وښوه زغورې د هېواد

په هرات کې د تیموریانو د حکومت په سکوت سره یو بله مرحله

ستوري پېرزنونکي وو.

باچا په وخت کې یې ژوند کاوه. ماه چې هم شاعره او هم

اوسېده، آغا خلاږ د امیرعلي خلاږ لور چې د سلطان حسین

ویل، مېرانسا چې مېرۍ تخلص په یې کولو او په هرات کې

نومونه یاد کړو. سلطان راضیه د التمش لور چې شهرزنو یې هم

د شاعرو او فاضلو ښځو له جملې څخه کوالی شو د لاندې

موږ لا حسن علي هروي او ملامحمد ابراهیم ځلږ.

حسین بایقرا، شیخ عبدالرحمن جامي، میرسید علي خطاط،

دي. امیرعلي شیر نوایي، ملاحسین واعظ کاشفي، سلطان

د دغه دورې مهم علمي او فرهنګي اشخاص په لاندې دول

هرات مکتب د کمال بهزاد تر وسولو.

د هرات هنري مکتب زیات شهرت پیدا کړ. دغه هنرمند د

د نقاشي د لوی استاد کمال الدین بهزاد د آثارو په لیکلو سره

د غرهنګ او تعدن د اوج دوره د سلطان حسین بایقرا دوره وه لې

(۱۵۰۶-۱۴۷۰/۹۱۱-۸۶۳ق) کلونو یورې په هرات نښار کې

او نښکلي خط سره ترسره کېده.

په لوبه او کوچنۍ اندازه ترسیم کېدل او مینیاتوري یې په ساده

مکتب په نوم یادېده. د هرات په مکتب کې د انساناتو تصویرونه

د دغه آثارو مجموعې یو ځوی سېمک رامنځته کړ، چې د هرات د

وسټان او ګلستان سعدي یې د کتاب په شکل ولیکل.

د شاهرخ بل زوی بایسنغر هم د کتاب مینوال و نومورې یوه

لوبه کتابخانه جوړه کړه. بایسنغر تقریباً ۴۰ تنه نقاشان،

خوشنویسان او لیکوالان د هرات په لوبه کتابخانه کې په کار

وګمارل. دوی زیات آثار لکه شاهنامه فردوسي، لیلی او مجنون،

د ازبکانو واکمنۍ په ماوراءالنهر کې رامنځته شوه.

شیبک خان د ۱۶ میلادي پیړۍ په شروع کې د تیموریانو د

کورنۍ ورورسته کسي په سمرقند کې له منځه یوړ په دې ترتیب

په کال (۹۱۱ق/۱۵۰۵م) کې شیبانیان په دې توانېدل چې

باېر او ملګرېي یې له مرکزي آسیا څخه پسې واخلي.

او د تیموریانو د قدرت مرکز د هرات نښار هم د شیبک خان

لاسونو ته ولوېد.

پرته له کندهار او هرات څخه نور په ټولو ولایتونو کې د

شیبانیانو پاڅونونه شروع شول، دغه نښارونه چې تر اوسه د بابر

ښاه د ورور ناصر میرزا په واک کې وو، په کال (۹۱۳ق

/۱۵۰۷م) کې د شیبانیانو پواسطه ونیول شول.

دوی په لوېدیځ کې د ایران په شمال کې تر استراباد پورې

پرمختګ وکړ، د شیبانیانو قدرت تر کال (۹۱۶ق/۱۵۱۰م)

پورې چې کله شاه اسماعیل صفوي په دوی باندې برېالی شو

ادامه ولرله.

په مړو کې د یو خونړۍ جنګ په پایله کې محمدخان شیبانی

سره یې د ۱۰۰۰ افرادو د صفوي قزلباشانو پواسطه له منځه

لاړ. په دې ترتیب یو ځل بیا د هېواد لوېدیځې ، شمالي او

مرکزي برخې د صفویانو لاسته ولوېدې.

دوی د افغانستان د شمال برخې په نیولو باندې وخت تلفوونکل

دوی دهېواد شمال طرف له بدخشان څخه تر میمنې او

بادغیس پورې او همدارنګه د افغانستان په لوېدیځ کې هرات

څو ځله تر حملو لاندې راوستلو.

عبدالله د محمد سلطان زوی او د ابوالخیر لمسی یو قدرتمند

باچا چې ۳۲ کلن حکومت کې یې ۷ څله زغورې په هېواد او

ایران باندې لښکر کشي وکړه.

شیبانیانو تر کال (۱۵۹۹ق/۱۰۰۷م) پورې حکومت وکړ، او

مرکز یې زیات وخت د سمرقند ښار و او کله کله یې بخارا ښار

شو.

ازبکان په اصل کې د مغولانو او تاتارانو له ډلې څخه راوښکې

شوي دي. ازبکانو خپل نوم د (ازبک خان) په کال (۷۳۲-۷۱۲

/۱۳۴۲-۱۳۱۲م) کې له نوم څخه اخیستی دی.

ازبک خان د مغولو لوی لښکر چې د وااګا سیند په څنډو کې

اوسېده مسلمان کړ.

دغه لښکر په نژادي لحاظ باندې د ترکي قبایلو له جملې څخه

وو. خو رهبران یې مغولي نژاده وو.

په مرکزي آسیا کې د ازبکانو واکمنۍ د ابوالخیر په نوم د

جوجیانو د لمسي چې د چنګیزخان له زامنو څخه دی

رامنځته کړه او دغسې دښتې زیاتې برخې یې ونیولې.

د ازبکانو مشهور پاچا محمد خان شیبانی (شیبک خان)

نومېده د ابوالخیر زوی و.

شیبک خان د ۱۶ میلادي پیړۍ په شروع کې د تیموریانو د

ketabton.com - The Digital Library

په مجموع کې تر یوې پېړۍ پورې د افغانستان شمالي او لویدیځې ولایتونه او څنډې یې تر خپلو حملو لاندې ونیولې.

ازبک استراخانیانو چې د شیبانیان پر ځای یې مرکزي آسیا ونیوله. دوی هم د شیبانیانو سیاست ته د افغانستان په شاوخوا کې دوام ورکړ، او څو ځله یې د هېواد په شمالي خصوصاً په تخار، بلخ او کله هم په هرات باندې حملې کولې.

د استرخانیانو حکومت تر کال (۱۱۶۷ق/۱۷۵۴م) پورې دوام وکړو.

پنځلسم لوست (افغانستان او بابریان)

ظهیر الدین بابر (بابر د ببر په معنا ده) چې د تیمور له لمسیانو څخه ګڼل کیږي. پلار یې په ازبکستان کې د (اندیجان) د ناحیې حاکم و.

بابر د شیبانیانو د قدرت د پراختیا پر مهال په کال(۹۰۶ق/ ۱۵۰۱م) کې له مرکزي آسیا څخه افغانستان ته وتښتېد او په اول کې د تخارستان د محلي واکمن خسروشاه د استقبال سره مخامخ شو.

خسروشاه په دې وخت کې زمونږ د هېواد په شمال کې تر بدخشان سیمه تر واک لاندې وه؛ بابر وروسته د خسرو شاه د ۳۰۰۰ لښکرو په جذب کولو چې له نوموړي نه خپه شوي و،دا خبره په کابل کې مشهوره شوه.

خسرو شاه د کابل ښار بدون له کوم جنګ او مقاومت څخه په کال(۹۱۰ق/۱۵۰۴م) کې ونیولو.

بابر زمونږ په هېواد کې د واک له ټینګېدو څخه وروسته د هند طرفته مخه کړه او د قندهار، بدخشان او د کابل دلښکرو پواسطه یې دهلی ونیوه په دې ترتیب په هند کې د یوې نوې سلسلې بنسټ کېښوده چې څو پېړۍ یې دوام وکړه.

بابر په کال (۹۳۵ق/۱۵۲۹م) کې مړ شو او له خپل وصیت سره سم په کابل کې خاورو ته وسپارل شو.

له ده څخه وروسته یې مشر زوی ناصر الدین محمد همایون چې په کابل کې زېږیدلی و واکمن شو.

همایون د شیرشاه سوری افغان له لښکرو څخه په قنوج کې ماته وخوړه او څنګه چې وروښو یې هم له ده سره کومک ونکړ د طهماسب صفوي دربار ته یې پناه وړوړه.

خو همایون د ۱۳ زره صفوي لښکرو په کومک په کال (۹۵۱ق/۱۵۴۴م) کې بیا افغانستان ته راوګرځېد، او د افغانستان زیاتې برخې او ولایتونه یې ونیول. دا ځل یې تقریباً ۱۰ کاله وخت ونیوه چې خپل ورور یې له مخې لرې کړ.

همایون په دغه دوره کې خپل وروڼه هر یو لکه ناصر میرزا، میرزا هندال او میرزا عسکري ووژل او کامران میرزا یې وړند کړ.

نوموړی وروسته د هند خواته متوجه شو او ابراهیم لودي ته تر ماتې ورکولو وروسته د دهلي په تخت کېناستلو.

د همایون له مرګ څخه وروسته یې زوی جلال الدین اکبر د دهلی په تخت کېناسته او نوموړی د کابل او غزنی اداره خپل ورور محمد حکیم ته وسپارله. او خپله یې په خیبر، سند او ژوب کې د افغانانو پاڅونونه غلي کول.

د جلال الدین اکبر، له مرګ څخه وروسته یې زوی سلیم شاه د جهانګیر په نوم د هندوستان پادشاه شو په همدې وخت کې عباس صفوی پر قندهار باندې حمله وکړه او هغه یې ونیوو.

د جهانګیر ځایناستي شاه جهان او اورنګ زیب هم په افغانستان کې د خپلې سلطې د پراخېدو لپاره زیاتې هڅې وکړې خصوصاً د کابل، بلخ او بدخشان په سر د دوي او محلي واکمنانو تر منځ زیاتې جګړې وشوې.

د بابریانو او استرخانیانو تر منځ جګړو د بلخ او هېواد د شمالي برخو د نیولو پر سر زیات دوام وکړ. او همدارنګه له خټک پښتنو او یوسفزیو خصوصاً د اورنګ زیب په ۵۰ کلنه واکمني کې تر سره شوې.

شپاړسم لوست (افغانستان او صفویان)

صفویان په اصل کې شیخ صفي الدین اردبیلي ته منسوب دي.

شیخ اردبیلي په اتمه هجري پېړۍ کې اوسېده په ایران او عثماني خلافت کې یې زیات مریدان درلودل.

په ایران کې د صفوي حکومت بنسټ اېښودونکی شاه اسماعیل صفوي ګڼل کېده. نوموړی هم د شیخ صفي الدین اردبیلي له لمسیانو څخه و.

شاه اسماعیل صفوي پر خپلو مخالفانو له کامیابېدو څخه وروسته په کال(۹۰۷ق/۱۵۰۱م) کې د پاچاهۍ په تخت د کېښېناستو مراسم تر سره کړل.

افغانستان د صفویانو په زمانه کې د ازبک شیبانیانو او بابریانو پواسطه اداره کېده.

د شاه اسماعیل او شیبک خان تر منځ حالات ډېر خراب وو بلاخره په کال۹۱۶ق/ ۱۵۱۰م کې مرو ته نږدې د دواړو تر منځ خونړۍ جګړه پېښه شوه چې ازبکانو ته یې سخته ماتې ورکړه شیبک خان پکې ووژل شو، او ۳۰ زره لښکر یې هم له منځه لاړ.

شاه اسماعیل صفوي په کال(۹۳۰ق/۱۵۲۴م) کې مړ شو.

له ده څخه وروسته یې زوی طهماسب په ایران کې واک ته ورسېد. د دغه پاچا په وخت کې همایون چې د خپلو وروښو او افغانانو له مخالفت سره مخامخ شوی و ایران ته یې پناه وروړه.

طهماسب د ۱۳ زره قزلباش صفویانو په مرسته افغانستان ته راوګرځېد. قندهار او کابل یې ونیول او د قندهار سلطنتي خزانې یې د ایران دربار ته ولېږلې.

د طهماسب نه وروسته بیا ځلې د عباس میرزا په راڅرګندېدو سره چې په لومړیو کې یې هرات ښار خپل مرکز و تاکلو. او

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

وروسته يې ټول ايران تر خپل واک لاندې راوسته او قندهار هم د صفوي حکومت برخه شوه.

قندهار ښار د دوه کورنيو صفويانو او تيموريانو د اختلافاتو او جنګونو خای و.

د ايران د دغه ځواکمن پاچا په مړينه په کال (۱۰۳۸ق/ ۱۶۲۹م) کې د دغه کورنۍ د پاتې شونو سقوط هم شروع شو.

له عباس ميرزا څخه وروسته شاه صفي واکمن شو نوموړي د صفوي کورنۍ ټول افراد ووژل.

د نوموړي د واکمنۍ پر مهال عثمانيانو په لوديځ کې بغداد او گورګانيانو په ختيځ کې د قندهار ښار ونيو.

دوهم شاه عباس په کال (۱۰۵۸ق/۱۶۴۸م) کې قندهار د دوهم ځل لپاره د گورګانيانو څخه ونيو.

گورګانيان وروسته له ۷۰ ورځو محاصرې څخه وروسته شاتګ ته اړ شول.

په هغه پاڅون کې چې افغانانو د حاجي ميرويس نيکه په مشرۍ ترسره کړو افغانان په دې وتوانېدل چې خپل خان د صفويانو له سلطې څخه خلاص کړي او خپلواکي يې تر لاسه کړه.

اوولسم لوست (د حاجي ميرويس نيکه به مشرۍ د کندهار پاڅون)

د دوبمو پيړيو په ګډوډيو او په افغانستان کې د هرات د تيموريانو د حکومت له منځه تلو سره افغانستان خپل سياسي او اجتماعي ووالي له لاسه ورکړې و.

دغه پاڅون د ۱۱۲۱ق/ ۱۷۰۹م کال په پسرلي کې ترسره شو او مشري يې ميرويس خان چې په حاجي ميرويس خان نيکه باندې مشهور و کوله.

د قندهار د پاڅون د ترسره کولو زمينه

د صفوي حکومت وروستي پاچا شاه حسين د واک ته رسېدو په لومړيو کلونو کې يې د هېواد په ختيځي سيمو کې چې بېلابېلو ساکنو قبيلو لکه: بلوڅان، براهويان،ناروئيان، ريګيان، رڅشانيان او افغان پواسطه چې کوم پاڅونونه تر سره کېدل ده به غلي کول.

گرګين په کال (۱۱۱۶ق/ ۱۷۰۴م) کې د صفويانو د طرف څخه د کندهار حکمران وټاکل شو.

د ۱۱۱۵ق/۱۷۰۳م کال په وروستيو کې بلوڅان د مير سمندر خان په مشرۍ قندهار ښار ته داخل شول او په دغه ښار کې يې صفويانو ته مشکلات رامنځته کړل.

د قندهار د پاڅون مشر حاجي ميرويس نيکه

ميرويس خان چې په حاجي ميرويس خان نيکه باندې مشهور وو د يوولسمې هجري پيړۍ په وروسيتو کې د نازو په نوم له يوې مور څخه زيږيدلی و.

پلار يې شاه عالم خان د هوتکو د قوم له مشرانو څخه و مور يې نازو انا د سلطان ملخي توخي لور وه، چې د توخي قوم له مشرانو څخه و.

د جعفر خان سدوزي د لور سره د ميرويس خان واده ميرويس خان نور هم مشهور کړ.

ميرويس په اصفهان کې د شاه حسين دربار ته هم ورسېده او د حج کولو اجازه يې تر لاسه کړه. نوموړي په مکه معظمه کې د مذهبي علماوو څخه د ګرګين په وړاندې د پاڅون فتوا هم واخيسته.

نوموړي په قندهار کې له حوصلې څخه کار اخيسته او د پاڅون ترتيب يې هم برابر کړ خصوصاً په کال ۱۱۲۱ق/ ۱۷۰۹م اپريل په پسرلي کې کله چې ګرګين د وراره په امر د قندهار د ارغستان د کاکړو د پاڅون لپاره يې قندهار پرېښی و،

حاجي ميرويس او د قوم نورو مشرانو د (مانجې) په محلي جرګه کې يو له بل سره ټرون وکړ او د قندهار ښار د نورو کليوالو په واسطه يې ګرګين او نور فوځيان يې د ده شيخ په سيمه کې چې د قندهار ښار په ۴۰ ميلو کې واقع ده ونيول او مړه يې کړل.

الکساندر او فوځيان يې چې دکاکړو له جنګ نه راګرځېدلي و په سختي سره وتوانېدل چې له پاڅون څخه خان خلاص کړي او خانونه ګرشک ته ورسوي.

په دې ترتيب سره د بايزيد انصاري په مشرۍ د روښانيانو پاڅون، د خوشحال خان ختک په مشرۍ د ختکو له پاڅون څخه وروسته د قندهار پاڅون دريم حرکت و، د آزادۍ لپاره چې د قندهار د وګړو پواسطه تر سره شو او په دې ښار کې يې د خپلواکه دولت د رامنځته کېدو زمينه برابره کړه.

حاجي ميرويس خان د ملي مشر تر نوم لاندې ۸ کاله د کندهار ښار اداره په لاس کې لرله.

حاجي ميرويس په کال(۱۱۲۷ق/۱۷۱۵م) کال کې وفات شو.

مير عبدالعزيز

د ميرويس نيکه څخه وروسته يې ورور مير عبدالعزيز د قندهار ښار واک تر لاسه کړو.

نوموړي وروسته له دوه کاله حکومت څخه د ميرويس نيکه خلاف لاره اختيار کړه او له صفويانو سره يې د دوستۍ لاره ونيوله.

د قوم مشرانو چې د نوموړي په دغه کړنه يې نيوکې لرلې. مير محمود د ميرويس نيکه زوی يې د خپل کاکا وژلو ته وهڅولو، نوموړی وروسته له دغه کار څخه په کال(۱۱۲۹ق/۱۷۲۷م) کې د قندهار ښار ټولواک شو.

اتلسم لوست (په افغانستان کې د هوتکي دولت جوړېدل)

شاه محمود هوتکي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په قندهار کې د میرویس نیکه د مشر زوی شاه محمود واکمن کېدل او په هرات کې د ابدالیانو د حکومت رامنځته کېدل همزمان و.

ابدالیانو هم د قندهار د پاڅون په الهام سره د هرات ښار په کال ۱۱۲۹ق/۱۷۱۶م په رمضان کې تر خپل واک لاندې راوست.

د ابدالیانو مشري د عبدالله سدوزي په غاړه وه.

د شاه محمود او ابدالیانو تر منځ په جګړه کې هوتکیان بریالي شول، او د عبدالله زوی اسدالله خان د هرات په جنګ کې مړ شو.

شاه محمود په کال(۱۱۳۵ق/ ۱۷۲۲م) کې د ۲۵زره لښکر په مټ چې له مختلفو قبیلو څخه په شمول د هزارګانو او بلوڅانو جوړ و د ایران د نیولو لپاره تیار شو. نوموړي دا ځل د کرمانیانو سره سوله وکړه، په یزد د صفویانو پلازمینې اصفهان ته ځان ورساوه، د دواړو ترمنځ جګړه د ګلناباد په سیمه کې پېښه شوه.

لومړی جګړه د افغانانو په ګټه تمامه شوه. چې له ۵۰ زرو څخه یې ۲۵زره کسان ووژل.

د فرح اباد ټینګه شاهي کلا، د جلفا ارمني میشته سیمه چې د اصفهان ښار جنوب لور ته په یو نیم کیلو واټن کې پرته ده، ونیوله او زیات غنیمتونه د افغانانو لاسته ورغلل.

د اصفهان محاصره نهه میاشتې اوږده شوه. او د دې په ترڅ کې اصفهان له سختې لوږې سره مخ شو. د ایران پاچا (سلطان حسین صفوي) په پای تسلیم شو او په خپله یې د شاه محمود پر سر تاج کېښود.

شاه محمود هوتک د اصفهان د واک پر ګدی

د قاضي القضات منصب چې هغه یې د ملا محمد میاجي د افغان علامو ته وسپاره.

شاه محمود خبر ترلاسه کړ، چې د روسیې امپراتور پتر کبیر د ایران د نیولو په نیت راوتلی دی، او د نوموړي هیواد ځواکونه د ۱۷۲۲ز کال په جولای کې د والګا له رود څخه تیرېږي. او د ایران د یرغل لپاره د هشتدر خان ښار خپل نظامي مرکز وټاکه.

شاه محمود د ډیرو بوختیاوو په سبب، او هم د افغانانو د خپل منځیو سیالیو او د اختلافانو په وجه په دماغي ناروغۍ اخته شو. په دې حال کې قومي مشرانو د میر عبدالعزیز زوی شاه اشرف هوتک د اصفهان د هوتکي دولت مشري ته غوره کړ او شاه محمود هوتک یې له واکه ګوښه کړ.

په اصفهان کې د شاه محمود هوتک پاچاهي درې کاله دوام وکړ.

شاه محمود هوتک په(۱۱۳۷ق/۱۷۲۴ز)کال د شعبان په میاشت کې مړ شو.

شاه اشرف د اصفهان پر تخت باندې له کیناستلو وروسته ،د یو لیک په ترڅ کې د مخلوع سلطان حسین له زوی طهماسب میرزا څخه چې په همدغه ورځو کې د افغاني ضد لښکر په جوړولو بوخت و، وغوښتل چې له ده سره ملګرې شي تر څو د روسانو او عثمانیانو لاسونه د ایران څخه غوځ کړي.

شاه اشرف زیاتره د لاسه تللي ولایتونه لکه: یزد، کرمان، قزوین، تهران، قم او ساوه بیرته ونیول. د نوموړي سپه سالار، سیدال خان ناصر نومیده. چې د اصفهان د افغاني دولت د ساتنې په لاره کې یې د بري هلې ځلې وکړې.

له بهرنیانو سره نښتې

شاه اشرف په اصفهان کې هغه وخت واکمنی ته ورسېد چې ایران د عثماني ترکیې او روس له ناوړه اقداماتو سره مخ و.

د روسیې دولت ځینې سرحدي سیمې لکه: دربند، رشت او باکو تر مازنداره پورې ونیولې، او عثمانیانو هم د ایران لوديځ ولایتونه او د کرمان شاهانو په ګډون لاندې کړل.

له ترکانو سره جګړه

سره له دې چې شاه اشرف د یوه اسلامي امت د یو جز په توګه له ترکانو څخه د دوستۍ غوښتنه وکړه؛ خو ترکانو(۶۰)زره سرتېرو او (۷۰)عراده توپونو د اصفهان په لور مخ په وړاندې ولاړل.

ترکان او افغانان د کرد په ښار یا په بله وینا د اصفهان او یزد تر منځ سیمه کې سره مخامخ شول، او د دې په ترڅ کې ترکانو سخته ماته وخوړه. د (۱۲)زرو په شاوخوا کې ترکي سرتېرې ووژل شول. او ډېر غنیمتونه تري پاتې شول.

له روسانو سره نښته

شاه اشرف د هغه روسانو سره د مقابلې لپاره چې د ایران په خاوره کې مخ پر وړاندې تللی وو، خپل سپه سالار، سیدال خان ناصري یې سره له افغاني ځواکونو ورولېږه.

په پایله کې په هغه جګړه کې چې په رودسر کې پېښه شوه، روسانو سخته ماته وخوړه، او د روسي ځواکونو مشر وارلوف د سولې غوښتونکی شو.

په معاهده کې چې د دواړو لورو تر منځ د (۱۱۳۲ق/۱۷۲۹ز) کال په فبروري کې د رشت په ښار کې وشوه. روسانو د ایران په خاوره کې د نور پرمختګ څخه لاس واخیست، او ژمنه یې وکړه تر څو سرحدي ایالتونه لکه استرآباد او مازندارن هم بېرته دې هېواد ته پرېږدي.

د هوتکي دولت له منځه تلل

د ایران په ختیځ کې د ملک محمود سیستاني حکومت، چې له سستانه تر خراسانه پورې سیمې یې په ولکه کې وې ،او همدارنګه د هرات خپلواکه ابدالي دولت هم هوتکیان له ستونزو سره مخ کول.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د ایران په څېڅ کې د افشار له ټبر څخه د نادر په نامه یو نظامي کس سر را پورته کړ. نومورې د یاد شوو سیمه یزو خواکونو د له منځه وړلو وروسته د افغانانو سره مقابلې ته چمتو شول. او په پایله کې یې شاه اشرف او افغاني لښکرو ته ماته ورکړه.

شاه اشرف هم کندهار ته د راګرځېدو په لاره کې په شورابک کې ووژل شو.

نادر افشار په کال (۱۱۴۹ق/۱۷۳۶ز) کې له هلمند څخه په تیري کولو کندهار تر محاصرې لاندې ونیو.

په پاي کې ۱۱۵۱ق/۱۷۳۹ز کې د هوتکیانو مقاومت پاي ته ورسید.

له دې نېټې څخه مخکې سیدال خان ناصري او محمد د شاه حسین هوتک زوی په قلات کې د نادر افشار د سرتېرو لخوا نیول شوي وو. او په خانګړې توګه سیدال خان ناصري له دواړو سترګو څخه نابینا شو نو په دې توګه هوتکي دولت منحل شو.

شاه حسین هوتک د نادر شاه په امر مازندران ته تبعید او هلته مسموم او مړ شو.

نولسم لوست (د هوتکیانو په دوره کې اقتصاد او فرهنګ)

اقتصادي وضعه

که هر څو په دې دوره کې داسې معلومات په لاس کې نه لرو، چې د خلکو د اقتصادي ودې ښکارندویي وکړي. ځکه په دې دوره کې زمور د هېواد ټولاټولې برخې د پردیو تر فشار لاندې وې. او معمولا خلکو د دوو درباروونو اصفهان او دهلي ته درانه مالیات ورکول. په دې حال کې زمور د هېواد یو شمېر خلکو په خانګړې توګه هغه وګړو چې په دربارونو کې اوسېدل، د هند او ایران سره یې د سوداګرۍ چارې پر مخ بېولې. او په ټولو کې کندهار د یاد شویو دوو هیوادونو تر منځ د مهم سوداګریز مرکز په توګه رول لوباوه. او په همدې دلیل تل د دوو هېوادونو(هند او ایران)تر منځ د شخړو لامل ګرځیده.

فرهنګي وضعه

په دې دوره کې نه یوازې دا چې د وخت د دودیزو علومو چې دي معقولو او منقولو په نومونو یادېدل مخه ونه نیول شوه، بلکې د هوتکیانو په افغاني او ایراني متصرفاتو کې نومورو علومو ژوند ته ادامه ورکوله.

معقول علوم عبارت وو له: فلسفه، منطق، نجوم، ریاضیات...

منقول علوم : حدیث، فقه تفسیر...

په دې برخه کې د شاه حسین هوتک په دوره په کندهار کې د لومړني ادبي بنډار جوړښت ډېر مهم ګڼل کېږي.

شاه حسین هوتک هم په پښتو او دري ژبو شعرونه ویل او له پوهانو او ادیبانو څخه یې ښه ملاتړ کاوه. د بلګې په توګه نومورې د پښتو ژبې شاعر ریدي خان ته د محمود هوتک د جګړو داستان په نظم ویلو زر سکې ورکړې.

د دې دورې له پیاوړو شاعرانو او پوهانو څخه کولای شو چې د څو تنو څخه یادونه وکړو: ملا زعفران، مددخان غلجی، شاه حسین هوتک، داود هوتک، ملایار محمد هوتک، بابوجان بابې، سیدال خان ناصري او ښځینه شاعرانو له ډلې څخه د شاه حسین هوتک د خور زینب هوتک نوم واخلو .چې ډېره فاضله او پوهه ښځه وه، او برسېره پر دې چې شعرونه به یې ویل له خپل ورور (شاه حسین هوتک) سره به یې د حکومت کولو چارو کې هم مرسته کوله.

څلورم څپرکی

شلم لوست (په هند کې افغاني پاچاهان)

عربي مسلمانانو په ۹۰ق/۷۱۲ز کال کې هندوستان ته پام شو. هند ته د ورتګ په وخت کې د سند د پاچا (دائر) په امر د دوی کښتۍ ونیول شوې او ټول سپاره یې ووژل شول.

د عراق والي او د فتحه شوی افغانستان ستر مشر حجاج بن یوسف د محمد بن قاسم تر مشرۍ لاندې یو لوی لښکر د سند د پاچا د څېلو او د اسلام د خپرېدو لپاره سیمې ته ولېږه نومورې سند او ملتان ونیول.

په هند کې قطبیه پاچاهان (۶۰۲-۶۹۸ق/۱۲۲۳-۱۳۱۰ز)

د سلطان شهاب الدین غوري له مړینې (۶۰۲ق/۱۲۲۳ز) وروسته د غوریانو لویه امپراتوري تجزیه شوه.

ترک توکمه قطب الدین ایبک چې سلطان شهاب الدین محمد سام غوری په زوي ولی منلې و، خان یې د هند خپلواکه پاچا اعلان کړ. او پلازمېنه یې له لاهور څخه ډهلي ته انتقال کړه.

نومورې په ډهلي کې مشهور جامع جومات او د منار جام په څېر یې هلته د قطب منار بنسټ کېښود.

قطب الدین وروسته د پنځو کلونو واکمنۍ په (۶۰۷هـ/۱۲۲۸ز) کال کې د چوګان په لوبه کې له آس څخه ولوېد او مړ شو.

له ده ورسته آرام شاه چې په زوي ولي یې نیولی و، د ډهلي په تخت کېناست. په دې وخت کې د سند او بنګال مشرانو د خپلواکۍ بیراغونه پورته کړل. د نومورې د پاچاهۍ یو کال نه و پوره چې د قطب الدین ایبک زوم او د هندوستان د یوې سیمې مشر شمس الدین التمش (ایلتمش) را پورته شو او دې یې له واک څخه ګوښه کړ.

سلطان شمس الدین التمش

د قطبیه پاچاهانو تر ټولو څواکمن پاچا التمش یا ایلتمش دی، چې ۲۵ کاله یې واکمني وکړه.

نومورې د سند او بنګال مشران اطاعت ته اړ ایستل، او د جلال الدین (د شاه خوارزم) غوښتنه یې رد کړه.

د التمش د واکمنۍ په دوره کې د لومړي ځل لپاره مغولان هند ته متوجې شول. او چنګېز خان د جلال الدین خوارزم شاه په

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

لته د سند سیند تر څنډو ورسېد. او د خپلو یرغلونو له کبله د هغه ځای له اوسېدونکو وډار شو. وروسته له دې چې وپوهېد مرسته نشې ترلاسه کولای، د بامیانو په لور راوګرځېد. او جلال الدین هم له هند څخه ووتو، او د ایران په لور وخوځید.

په ۶۳۳هـ/۱۲۵۴ز د التمښ له مړینې وروسته د ده زوی رکن الدین فېروز شاه واکمن شو؛ خو وروسته له شپږو میاشتو د ده درباریانو دی له واکمنۍ څخه ګوښه او بیا یې ووژه، او د ده خور رضیه یې د واک په ګدۍ کینوله.

سلطان رضیه

سلطان رضیې د خپل ورور رکن الدین چې فېروز شاه نومېده ، له هغه وروسته په (۶۳۴هـ/۱۲۵۵ز) کې واکمني تر لاسه کړه.

د واکمنۍ په لومړیو ورځو کې د خپل پلار صدر اعظم نظام الملک جنیدي له مخالفت او بغاوت سره مخ شوه.

نومورې خواجه مهدي غزنوي چې یو سیاسي او علمي شخصیت و، د خپل صدراعظم او ملک سیف الدین ایبک یې د ځواکونو د مشر په توګه وټاکه.

د سیف الدین ایبک له مړینې وروسته چې څه وخت سلطان رضیې د ده په ځای تور پوستی جلال الدین یاقوت حبشي وټاکه.

په ۶۳۸ق/۱۲۵۹ز کال کې د رضیې سلطنت پای ته ورسید.

وروسته د سلطان رضیه معز الدین بهرام شاه او علاو الدین مسعود شاه یو پر بل پسې واکمنۍ ته ورسېدل. تر څو د سلطان رضیې کشر ورور ناصرالدین محمد شاه ته واک ته ورسېد.

ناصر الدین په هند کې ۲۱ کاله واکمني وکړه.

په (۶۶۵ق/۱۲۸۶ز)کال کې د ناصرالدین له مړینې وروسته، د ده وزیر غیاث الدین بلبن په تخت کېناست .

نومورې وروسته د ۲۱ کاله واکمنۍ په ډهلي کې مړ شو.

د ده له مړینې وروسته د قطبیه دولت لړۍ مخ په ځوړ شوه. او نور افغاني لړیو د غلجي شاهانو، تغلق شاهانو، خضرخانیانو، لودیانو او سوریانو په نومونو یو پر بل پسې په هند کې واکمنۍ ته ورسېدلې.

یوویشتم لوست(لودیان او سوریان)

لودیان

د پنجاب د نائب الحکومه ملک کالا خانزوي ملک بهلول له (۸۶۸-۸۵۸هـ/۱۴۷۹-۱۴۸۹ز)کلونو وروسته د خضر خانیه دولت د کمزورۍ له امله د ملک چاري لاس ته راوړې. او په هند کې د مخ په ځوړ افغاني پاچاهۍ بنسټ بیا پیاوړی کړ.

د ملک بهلول له مړینې وروسته د هغه زوي نظام خان چې د سلطان سکندر پاچا په نوم یادېده واکمن شو.

په ۸۹۴ق/۱۵۱۷ز کال کې سلطان سکندر مړ .او د ده زوی ابراهیم واکمنۍ ته ورسېد(۹۲۳ق/۱۵۴۴ز پخواني چاپ).

د پاني پت په ډګر کې د بابر او ابراهیم تر منځ جوړې جګړې ونیښتې، بابر بری ومونده، او په بریالي توب سره د ډهلي پر تخت کېناست ،او په ۹۳۵هـ/۱۵۵۶ز کې یې د کوه نور مشهور الماس سره له نورې دولتي خزانو لاسته راوړل؛ خو په ټول هند یې واکمني ترلاسه نه کړه.

سوریان

فرید د حسن زوی دی، چې په لومړیو کې نوموړی د لاهور د حاکم دولت خان په واسطه د سلطان ابراهیم لودي دربار ته لاره ومونده. او شهرت یې ترلاسه کړ،وروسته د بهار نائب الحکومه و ټاکل شو. نوموړی د هغه زړورتیا له کبله د شیرخان لقب ترلاسه کړ چې د زمري د ښکار په وخت کې یې ښودلې وه.

شېر خان په (۹۱۶ق/۱۵۳۷ز) کې بنګال ونیوه .او د دویم ځل لپاره په(۹۱۷هـ/۱۵۳۸ز)کې له همایون سره مخ شو. په دې مقابله کې جلال خان د شېر خان زوی د بهار او بنګال په منځ کې همایون ته ماته ورکړه.

همدارنګه په (۹۱۸ق/۱۵۳۹ز) کې د دوی ترمنځ بله جګړه ونښته، او په پایله کې همایون ماته وخوړه، او نېږدې د کنګا په سیند کې ډوب شوې و؛ خو د یوه سقاو لخوا را وایستل شو.

شیر شاه سوري د شمالي او مرکزي هند د ټولو برخو د نیولو وروسته په کورنیو اصلاحاتو پیل وکړ. د اوبو بندونه،کاروان سرایونه او جوماتونه یې جوړ کړل. د بنګال لاره یې د اټک تر سیند پورې ورغوله. او وروسته له هرو پنځو ګزوو (په ټولنیزه توګه زر ګزه)یې کاروان سرایونه، د اوبو څاه او جوماتونه جوړ کړل.

څه وخت چې نوموړي غوښتل د کالنجر کلکه کلا ونیسي، وروسته له ۱۴ کلونو حکمرانۍ او ۶ کلونو واکمنۍ په(۹۲۳ق/۱۵۴۴ز)کال کې د باروتو په یوه چاودنه کې مړ شو.

شورشاه سوري بعضي وخت شعر ویلو او د قافیه په علم کې یې لوي لاس درلود.

له هغه وروسته د ده مشر زوی عادل خان پاچاه شو؛ خو د سردارانو د مخالفت په وجه لرې شو.

له عادل خان وروسته جلال خان د هغه کشر ورور چې د لسیم شاه سوري باندي مشهور و. په ۹۲۳ق/۱۵۴۴ کال کې واکمن شو.

سلیم شاه په ۹۶۰ق/۱۵۸۱ز کال کې وفات شو. د ده په وخت کې د نیلاب او بنګال تر منځ ۲زره میله (هر میل ۲زره ګامه) لاره جوړه شوه او د هرو دوو میلو تر منځ کاروان سرای جوړ شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

له سلیم شاه وروسته د هغه د ۱۲ کلن زوی فېروز پاچاه شو؛ خو له۳ ورځو وروسته د شېر شاه سوري د وراره مبارز خان لخوا ووژل شو. او مبارز خان د محمد شاه عدالي په نامه پاچاه شو.

همایون وخت غنیمت وګانه او په ۹۳۳ق/۱۵۵۴ز کال کې هند ته لاړ.

د احمد شاه بابا تر وخته چې د هندوستان زیاتې برخې یې ونیولې، په نبه توګه راځرګند نه شول.

پنځم ځپرکي

دوه ویشتم لوست (ایران په منځنیو پېړیو کې)

د طبرستان علویان

د دې خاندان نسب هاشمي ساداتو ته رسېږي .چې د سید حسن د زوی زید په مشری سره په اوسني طربستان په ایران کې مستقبل حکومت تأسیس کړ.(۲۵۰ق/۸۶۴م) حسن یو ځواکمن شخص و او ځان یې داعي کبیر نومولو.

حسن تر (۲۷۰ق/۸۸۳م)کال پورې حکومت وکړ.

وروسته د حسن له مړینې د علویانو حکومت لا هم مستحکم و. د علویان د سلسلې مشهور ترین پادشاه حسن د علي زوي چې په ناصر کبیر سره ملقب و. هغه وکولای شول چې د سامانیانو لښکر ته کوم چې د لږ وخت لپاره یې د طربستان واکمني ترلاسه کړې ماته ورکړه.

هغه د (۲۹۰ق/۹۳۰م)کال په ډمي کې د سامانیانو نېږدې ۷۰۰۰ لښکر دړې وړې کړ.

نوموړي د خپل مرګ څخه مخکې ټولې حکومتې چارې خپل زوم حسن بن قاسم ته ورکړې. د ده د واکمنۍ پر مهال د هېواد اداري نظم له منځه لاړ. او په پاي کې په (۳۱۶ق/۹۲۸م) د علویانو حکومت له منځته لاړ.

زیاریان

د علویان د حکومت له ړنګېدلو څخه وروسته د علویانو سرداران او مشران وتښتېدل. او سیمه یز حکمتونه یې جوړ کړل.

د دغې سلسلې مشهور واکمن مرد آویج د زیار زوی دی.

نوموړي د ترکې غلامانو په نیولو سره یو ځواکمن پوځ جوړ کړ. مګر د ده بد رفتاري د دې لامل شوه چې ترک غلامان په نوموړي باندې پاڅون وکړي او په قتل یې ورسوي.

وروسته له مرد آویج څخه ورور یې وشمګیر واکمن شو. د هغه د واکمنۍ دوره د آل بویه سره په جګړه کې تېره شوه، او په پاي کې یې ماته وخوړه. او حکومت د آل بویه لاس ته ولوېد(۳۲۰ق/۹۳۲م)

آل بویه

نوموړی د ابو شجاع په نامه شخص ته منسوب دی. چې نوموړي په لومړیو کې د مرد آویج سره همکاري کوله او د زامنو یې د مرد آویج په لښکر کې لوړو مقاماتو ته ورسېدل.

آل بویه یو مستقل دولت د اصفهان په ښار کې تأسیس کړ.او په ډېر کم وخت کې یې د ایران نورې سیمې خپل تر ولکې لاندې راوستې.

آل بویه په (۳۳۴ق/۹۴۵م) د عباسي خلافت دراپرځولو پر ځای د خلیفه په تعویض سره، المطیع د المتکفي پر ځای اکتفا وکړه.

د آل بویه مهمترین مشران حسن رکن الدوله او احمد هزارالدوله نومېدل چې په (۳۲۰-۳۵۷ق/۹۳۲-۹۶۸م) کلونو کې یې د ایران په جنوب، ری(اوسنې تهران) او کرمان باندې غالب شول.

ال بویه د غزنویانو او سلجوقیانو لخوا چې د عباسي خلافت غوښتونکي وو، په واسطه له منځه لاړل.

د دغو دریو سلسلو(غزنویان،سلجوقیان،خوارزم شاهیان)سره ببره مغولان او تیموریان هم په وسطي پېړیو کې راځرګند شول.

دروېشتم لوست (ایران په منځنیو پېړیو کې)

صفویان

د صوفیانو د حکومت تشکیل کیدل، د شاه اسماعیل صفوي په واسطه په (۹۰۶ق/۱۵۰۱م) کال کې د ایران په تاریخ کې د مهم ترینو پېښو څخه ګڼل کیږي.

صفویانو وکولای شول د ایران سیاسي او اجتماعي بحران ته د پای ټکی کېږدي.

مشهور ترین واکمن یې لومړی شاه عباس نومېده.

د ایران روابط له نړۍ سره بل خصوص له اروپا سره یوه نوې بڼه واخیسته.

اروپایانو د عباسي خلاف د دښمنۍ په پار له ایرانیانو او د عباسیانو ختیځ همسایه سره ګرمې اړیکې جوړې کړې.

ورسته د کسپین له بحیرې (خزر) څخه ختیځو برخو ته یې هم لاس رسی وموند.

ایران په همدغه وخت کې د اروپایانو د نظامي تعلیم، د سلاح تولید او نظامي فنون څخه لویه ګټه واخیسته.

ایران د دوه انګلیسي ورنو آنتوني(Antony) او رابرت شلي(Rabertsherley) په واسطه جنګي توپونه او تفنګچې جوړې کړې.

افشاریان

نادر وروسته د بهرنیو له ایستلو څخه د هند په لوري لښکر کشي وکړه. او بې شماره غنیمتونه چې د طاووس په شمول چې د شاه جهان په امر سره د ده د کیناستلو لپاره جوړ شوي وو. او د کوه نور الماس یې غارت کړل ،او د خپل ځان سره یې ایران ته یوړل، د نادر شاه پر مهال مشهد د ده د اصلي ځای ناستی او د دولت د خزانو د ساتلو ځای ګرځیدلی و.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د نادر افشار وروستي کلونه د ایرانیانو لپاره سخت کلونه وو. او وروسته د ده له مړینې(۱۱۶۰ق/۱۷۴۷م) ایران په داخلي اختلافاتو ښکېل شو.

زندیه

د نادر افشار پر مرګ سره د افشاریان حکومت له منځه لاړ. او داخلي جګړې په ټول ایران کې رامنځته شوې.

کریم خان زند زیات قدرت پیدا کړ، نوموړی د زند له قبیلې څخه و. کریم خان د خپلې قبیلې له خلکو او نورو جنګیالیو په مرسته د اصفهان له نیولو د یو شمېر جګړو په ترڅ کې، خپل ټول رقیبان له میدان څخه لرې او خپل ځان یې (وکیل الرعایا) یا د خلکو استاری وباله. او د پادشاهۍ عنوان یې د دریم شاه اسماعیل صفوي په نامه کښبود.

نوموړي(دریم شاه اسماعیل)د علي مردان خان په کمک د کریم خان زند رقیب ظاهرا سلطنت ته رسیدلي و.

د کریم خان زند د وکالت دوران د بې شمېره داخلي جګړو سره یو ځای و. ځکه چې شاهرخ افشار په خراسان، محمد حسن خان قاجر په مازندارن او آزاد خان افغان د آذربایجان د سلطنت مدعي وو.

کریم خان وروسته د څو جګړو څخه د خشت په جګړه کې آزاد خان افغان ته ماتې ورکړه. او په آذربایجان هم مسلط شو.

له دې وروسته دوه کسانو د ایران د تخت پر سر یو له بل سره سیالي کولې یعنې قاجارانو په شمال او زندیان په جنوب کې.او په پای کې په یوه جګړه کې محمد حسن قاجار ووژل وشو.

کریم خان د شیراز ښار د پایتخت په توګه وټاکه .هغه د داخلي امنیت په تأمین، د تجارت او صنعت په برخه کې د پرمختګ کوشش وکړ. په همدې وخت کې انګلیسانو پر ایران کې د نفوذ پر موخه بې حده کوښښونه وکړل.

انګلستان د خپل استعماري فعالیتونو په ترڅ کې د زندیه دولت سره یو قرار داد امضأ کړ. چې د هغه په واسطه یې د فارس د خلیج په بندر کې د تجارت کولو اجازه لاسته راوړه.

د کریم خان زند په مرګ سره په (۱۱۹۳ق-۱۷۷۹م)کال کې ایران یو ځل بیا په داخلي جګړو کې ښکېل شو.

خلورویشم لوست هند په منځنیو پېړیو کې)

په منځنیو پېړیو کې هند د ګوپتا دسلسلې لخوا اداره کېده، دا سلسله تر ۵۵۰م کال د هند په شمال کې ادامه پیدا کړه، او د هند د فرهنګي روښانه ترینه دورو څخه شمېرل کېږي.

په دغه وخت کې علومو په خصوص ریاضي ته ډیره توجه وشوله.

وروسته د ګوپتا له سلسلې څخه د هند په شمال کې زیاد شمېر حکومتونه را منځته شول. او د ۷۰ حکمتونو په شمېر له ګوپتا څخه وروسته په شمال کې حکمراني کوله.

پیاوړي په هغوی کې یفتالیان وو.

ګوپتیان له عربو، جنوبي آسیا او منځنۍ ختیځ سره تجارتي اړیکې جوړې کړې. دغه اړیکې د اسلام تر ظهوره پورې ادامه پیدا کړه.

مسلمانان د لومړي ځل لپاره په (۹۳ق/۷۷۱م) هندوستان ته راغلل. هغوی د سند تر څنډو پورې تصرفات وکړل، نوموړې سیمه اوس د اوسني پاکستان اړوند کېږي.

له اتمې م پېړۍ څخه تر ۱۱مې پېړۍ پورې لویدیځي هند له اسلام سره نېږدې اړیکې جوړې کړې.

له بل لوري د سلطان محمود غزنوي د واکمنۍ پر مهال په هندوستان باندې(۳۸۸-۴۲۲ق/۹۹۸-۱۰۳۰م) اسلام لا زیات خپور شو.

سلطان شهاب الدین محمد غوري د هند شمال تر کنګا پورې سیمې ونیوې، هغه وروسته له ډېرو کوښښونو څخه د ډهلي ښار هم فتح کړ. او هغه ښار یې خپل ترک غلام (قطب الدین ایبک) ته وسپاره.

د سلطان شهاب الدین محمد غوري تر مړینې وروسته ابن سام په (۶۰۳ق/۱۲۰۶م) کال کې زمینه د قطب الدین ایبک خان د سلطنت لپاره محیا کړه. ایبک خان خپل ځان د هندوستان مستقل پادشاه نوماوه او ډهلی یې خپل پایتخت وټاکه.

پنځه ویشم لوست (هندوستان په نویو پېړیو کې)

بابریان(ګورګانیان)

ظهرالدین محمد بابر د بابریانو د سلسلې بنسټ ایښودونکی و.

بابر یو ځان غوښتونکی شخص و. نوموړي وروسته د افغانستان د سیمو له نیولو څخه وغوښتل چې هندوستان سیمې ونیسي . او په (۹۲۵ق/۱۵۱۹م)کال پر هغه دولت یرغل پیل کړ. او تر (۹۳۲ق/۱۵۲۶م) پنځه ځله، په هغه سیمه باندې هجوم وروړ، په پایله کې د ابراهیم لودي، د حکومت له ماتولو څخه هغه تر خپل فرمان لاندې راوسته.

د لودیانو د سلسلې په ماتولو سره د هند په تاریخ کې یوه نوې پاڼه پرانیستل شوه. چې ۱۸۱ کاله یې دوام وکړ. په دغه وخت کې ۶ ګرګاني پادشاهانو وربانديې حکومت وکړ.

بابر مخکې له مړینې څخه وصیت وکړ چې کابل کې د خښ شي.

په پای کې د څلورو کاله سلطنت څخه د ۴۹ کلونو په عمر وفات شو. جسد یې له هند څخه کابل ته راوړل شو. او په هغه باغ کې چې مینه یې ورسره لرله (باغ بابر)خښ شو.

د بابر ځانښتی

کله چې بابر وفات شو، زوی یې همایون د هند پر دولت تکیه وکړه.

همایون لس کاله پر هند واکمني وکړه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هند په همدغه خرابو حالاتو کې (۱۵۴۰م)شېر شاه سوري له حالاتو په استفادې هند تصرف کړ.

وروسته د شېر شاه سوري له مرګ څخه، د اېران د صفویانو په مرسته له ۱۹ کلونو په هند کې افغان حاکمان له منځه لاړل. او هندوستان بېرته هغوی ته لاس ته ورغلو.

جلال الدین محمد اکبر

د همایون بیا خلې حکومت پر هند باندې زیات دوام ونکړ. ځکه چې دی وروسته له واکمن کېدو ٦ میاشتې وروسته وفات شو (۹٦۳ق/۱۵۵٦م).

له همایون وروسته د هغه ۱۳ کلن زوی جلال الدین واکمن شو.

هغه د خپل پوه وزیر ابوالفضل علامي پر مرسته هند یو ځل بیا را ژوندی کړ.

د جلال الدین پر محال د مغولانو قدرت په هند کې اوج ته ورسېد، او هغه وکولای شول چې بنګال، سند او کشمیر هم ونیسي.

جلال الدین محمد اکبر وروسته له ۵۰ کاله واکمنی په (۱۰۱۴ق/۱٦۰۵م)کال کې وفات شو.

جهانګیر

له اکبر وروسته د هغه زوی سلیم مشهور په جهانګیر د راجپوتی مېرمنې څخه یې د هندوستان واکمن شو.پلار یې چې کوم صلاحیتونه لاس ته راوړي وو هغه ته یې ادامه ورکړه.

په(۱۰۱۷ق/۱٦۰۸م)کال کې د انګلیس استازي د جهانګیر په دربار کې ومنل شول. او وروسته د انګلستان سفیر سرتوماس د تجارت حق د انګلیسانو لپاره واخیست.

د نومورې پر مهال شاه عباس صفوي د اېران واکمن پر قندهار یرغل وکړ. کله چې د قندهار حکمران د هند له کمک څخه نا امېده شو قندهار یې صفویانو ته وسپارلو.

شاه جهان

وروسته له جهانګیر څخه د هغه زوی شاه جهان واکمن شو. ۳۰ کاله یې واکمني وکړه.

شاه جهان د معماری سره زیاته علاقه وه، او د هغه په امر د طاووس تخت جوړ شو.

شاه جهان د فقر او سخت ژوند په هلکه بې جوړې وه،کله چې په ګجرات او دکن کې سخته قحطي راغله نو نومورې اصلا کوم کمک ونکړ.

او همدارنګه د هغه په امر د سیکانو مشر هم مړ شو. او په پای کې د سیکانو پاڅون د ګورګانیانو پر مقابل کې پېل شو.

اورنګزېب

اورنګزېب د عالمګیر پر لقب په هند کې د مغولانو وروستي واکمن وه، وروسته د خپل پلار د زنداني کولو څخه (۱۰٦۹ق/۱٦۵۹م)کال کې واکمن شو.

هغه راجپوتیان د هند له مقاماتو څخه اخراج او جزیه یې پر هندوانو باندې وټاکله. او همدارنګه د هغوي معابد یې وران او ځمکې یې ونیوې.

د هند د بابریانو ضعف د اورنګزېب له حکومت څخه پېل شو. وروسته د ده له مرګ(۱۱۱۹ق/۱۷۰۷م)څخه د هغه زوی لومړی شاه عالم او په هغه پسې لومړی بهادر شاه واکمن شو.

هند په (۱۲۵۵ق/۱۸۳۹ز) کال کې رسماً د برېتانیې تر سوري لاندې راغې.

ختیځې هندي کمپنۍ چې خپل نفوذ یې د جهانګیر له واکمنۍ څخه پېل کړی وه، د ۱۹مې پېړۍ د لومړیو څخه هغوی د خپل حمایت لاندې راوستل او په ۱۹۴۷م کال کې خپل استقلال لاس ته راوړ.

مارکوپولو د نیکوپولو زوی په ۱۲۹۵م کال کې خپل پلرني ټاټوبي (ونیز) ته وګرځید.

شپږویشتم لوست

(دبابریانو په عصر کې علم او فرهنګ)

بابر او اکبر د فرهنګ د زیاتو مینوالو څخه وو. همدارنګه بابر د دري ژبې خوږ شاعر و، او د باغونو او ګلانو سره یې مینه وه.

د اکبر شاه په امر ډېر شمېر سانسکرېت کتابونه وژباړل شول . د ده دغه کار د دري ژبې زیات شمېر مینوال پیدا کړل او هندي غیري مسلمانان خلک د دري ژبې مینوال شول.

د معماری هنر ته هم د بابریانو په وخت کې ځانګړي پاملرنه وشوه. او ګڼ شمېر قوس لرونکي او ګنبدې لرونکي ودانۍ د ښه راغلاست د تالارونو په لرلو سره دود شوې. چې د ځانګړې اسلامي معماری ښکارندویي کوي.

ډېر شمېر ښکلي باغونه، وادنۍ او مانۍ جوړې شوې لکه: د اګرې په ښار کې تاج محل، په فتح کې د اکبر مانۍ په ډهلي کې د شاه جهان سر کلاه او د هندوستان په نورو ښارونو کې ډېرې ودانۍ جوړې شوې.

ځینې آثار رامنځ ته شول لکه : د کندهار د سر پوزې په غر کې د چهل زینې اثر چې د بابر په امر جوړ شو. ځینې باغونه په افغانستان کې جوړ شول، چې کولای شو د کندهار استالف، کابل او د کابل شمالي او ختیځ لور د علم ګنج بن، شهر آرا بن، دلګشاد بن، د بابر چهار باغ، بګرامی بن، صفا بن او کولب بن. د سلطان حسین بایقرا د دربار تر ټولو غوره انځورګر استاد کمال الدین بهزاد هم په همدې وخت کې په هرات کې اوسیده.

د هند مغلو د بڼونو او بوستانونو د منظرو په ترتیب ،او په دیوالونو د انځورنو او د هغو رنګولو په سبب د استاد بهزاد د

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

میناتوری مینوال شول. او هغه یې په هند کې دود کړل، او آن خپله اکبر پاچا په خپل دربار کې د انځورګرۍ کارخونه لرله، چې له سلو زیاتو انځور ګرانو پکې کار کاوه.

موسیقي هم وروسته له ۱۳مې پیړۍ څخه په هندوستان کې وځلېده. پرته له اورنګزېب څخه د هند ټول مغولي واکمنان د موسقۍ مینوال وو. د فقیر الله په نامه د هند یوه مسلمان په ۱۶۶۶م کال د راګ درپن په نامه یو کتاب خپور کړ.

په دې دوره کې تر ټولو مشهور سندر غاړی تانس نومېده. نومورې د اکبر پاچاه د دربار تر ټولو غوره سندر غاړی او د هند تر ټولو سندرغاړو د مخکښ په توګه پېژندل شوی و.

اوه ویشتم لوست (چین په منځنیو پیړیو کې)

په منځنیو پیړیو کې د چین یووالی

له منځنیو پیړیونه مخکې چین په یو لړ ښلا ښلو سیمو ویشل شوی وه. د چین شمال د هغو یرغل ګرو کډوالو د یرغلونو په واسطه لاندې شوی و، چې د لودیځ او شمال له لورې یې پرې کړې وو.

په ۶۱۸م کال کې د چین خاورې سره یووالی ومونډ، دغه یووالی د یوه جنګیالي سردار چې کائوتسو نومېده رامنځته شو او د تانګ په نامه امپراتوري یې جوړه کړه.

د تانګ د کورنۍ امپراتورانو د خلکو په مرسته وکولای شول، چې ټول سیمه یز مشران او پوځي سرداران تابع کړي او پراخه سیمې تر واک لاندې راولي.

د تانګ د امپراتورۍ په زمانه کې د چین خاوره له اوسني چین څخه هم پراخه وه. په هغه وخت کې د هند په شمال شهزادګانو باندې د چین فرمان چلېده او دوي ته به یې خراج ورکاوه.

د تانګ امپراتورۍ شاوخوا (۲۸۸)کاله د چین په پراخه خاوره حکومت وکړ.

چینایانو د تانګ په لړۍ کې باروت اختراع کړل، او پلازمېنه یې چانګان و. چې اوس سیان نومېږي.

په ۹مه میلادي پیړۍ کې چین د بزګرو له یو لوی پاڅون سره مخ شو.

په نهمه زېږدیزه پیړۍ کې د بزګرانو پاڅون

یو له دې څخه په(۸۷۴ ز) کال کې د هوانګ چائو په مشرۍ د بزګرانو پاڅون و.

هوانګ چائو او ملګري یې له یو لړ بریالیو جګړو وروسته په (۸۸۱م) کال کې د تانګ امپراتورۍ ته ننوتل.

چائو دوه نیم کاله پلازمېنه په واک کې لرله؛ خو امپراتور او فیوډالان له کډوالو تېرونو سره ملګري شول او ځانونه یې(تور کارغان) وبلل. هغوی په پایله کې په (۸۸۳ز)کال کې د هوانګ چائو لښکر ته ماتې ورکړه. زیاتره بزګران د امپراتورۍ اجیران شول، او د بزګرانو پاڅون له سختې ماتې سره مخ شو ؛ خو د تانګ امپراتورۍ خپل زور او قدرت له لاسه ورکړ.

نومورې امپراتورۍ په (۹۷۰ز)کال کې خپل ځای د سونګ په نامه یوې بلې کورنۍ ته پرېښود.

په چین کې د مغولو واکمني

په مغولستان کې د مغولو په پوځي ځواکمنتیا سره چنګېز خان د دوی د مشر په توګه رابښکاره شو.

نومورې په (۱۲۷۱ز)کال کې د پیکېنګ(بې جېنګ)ښار د خپلې امپراتورۍ د پلازمېنې په توګه وټاکه .او تر خوارلسمې زېږدیزې پیړۍ پورې یې د چین په پراخه خاوره واکمني وکړه.

په (۱۳۴۷ز) د مغولي حکومت پر وړاندې د یو تن بزګر چوپوآنګ په مشرۍ د چین په جنوب کې پاڅون وشو.

چان په ۱۳۶۸ز کال کې د نانکېنګ ښار له نیولو وروسته، د مېنګ په نامه نوې امپراتوري په هغه ښار کې رامنځته کړه.

نومورې د چین د خلکو په مرسته د مغولو پلازمېنه پیکېنګ ونیو. او مغول یې تر مغولستانه په شاه وتمبول.

په دې توګه په چین کې له ۱۰۰ کلونو څخه زیاتې واکمنۍ، وروسته مغولي امپراتوري ړنګه، او په بدل کې یې د مېنګ لویه امپراتوري واکمنه شوه.

د دغه لړۍ واکمني څه د پاسه ۳۰۰ کاله اوږده شوه .په دې دوره کې د چین خلکو نورو دورو ته په هوساینې او آرامۍ کې ژوند کاوه.

اته ویشتم لوست (چین په نویو پیړیو کې)

د نویو پیړیو پیل په اصل کې له لرې ختیځ (هند او چین) سره د اروپایانو د سوداګریزو اړیکو له پیل سره سمون خوري.

پرتګالیان چې مانوګان وو. وروسته له ډېرو هڅو وتوانېدل، چې د لومړي ځل لپاره د افریقا د وچې له غاړو څخه را تاو شي او په لومړي سر کې د هندوستان په سویل لودیځو غاړو کې پلي شول.

نومورې بیا وروسته په ۱۵۱۳ز کال کې د سوداګریزو پراختیا لپاره د چین هېواد د سویلي سیمو ته راغلل.

په هغه وخت کې چې د مینګ لړۍ په چین کې واکمنه وه، د کانټون بندر یې د پرتګالیانو د سوداګریزو فعالیتونو لپاره خلاص کړ.

چین ته د پرتګالیانو راتګ د دې لامل وګرځېد، تر څو لومړی هالنډیان، او وروسته انګرېزان او فرانسویان هم له چین سره د سوداګرۍ په لټه کې شي. د اروپایانو زیاتره فعالیتونه په سویلو بندرونو په ځانګړې توګه د کانټون په بندر کې ترسره کېدل. او له هغه ځای څخه یې چای، وربشم او چیني لوښي چمتو کول.

خو په ۱۶۴۴ز کال کې د همدې هېواد د شمال ختیځ لوري، څخه د منچوریا د صحرایي تېرونو له یرغلونو سره مخ شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

له یو لړ جګړو وروسته د مینګ امپراتوري ړنګه شوه. او د هغه پر ځای د مینچو په نامه نوې امپراتوري رامنځته شوه. چې پلازمېنه یې د پیکېنګ ښار و.

د مینچو کورنۍ وتوانېده چې ټول چین تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي. او شاوخوا دوه نیمې پېړۍ یې پر چین واکمني وکړه. نومورو د مینګانو پر ځپر له اروپایانو سره خپلو سوداګریزو اړیکو ته دوام ورکړ.

له چین سره سوداګري د اروپایانو په ګټه تمامه شوه. او دغه سوداګري ۳ پېړۍ دوام وکړ.

او په ۱۷۵۷ز کال کې د کانټون د بندر په ګډون د چین ټولو ښارونو ته د اروپایانو تګ راتګ منعه شو. او د نومورو د سوداګري او مذهبي فعالیتونه چینایانو تر ځارنې لاندې ونیول.

نه ویشتم لوست (د چین اقتصادي،فرهنګي او هنري وضعه)

الف:اقتصادي وضعه

په منځنیو پېړیو کې د چین هېواد د اقتصادي پلوه ستر بریالیتوب ترلاسه کړ. نوې نهرونه، بې شمېره بندونه، او د کښت فن پر مختللو وسایلو په واسطه تر سره شو.

د چانګان ښار د تانګ د امپراتورۍ پلازمېنه وه. او له یو مېلیون څخه یې زیات اوسیدونکي لرل. دغه ښار په هغه وخت کې د لوېو سوداګریزو مرکزونو څخه ګڼل کېده.

چینایانو له ګاونډیو او منځنۍ آسیا له هیوادونو سره پراخه سوداګري پیل کړه. دوې زیار ایستونکي وګړي وو،

چای له هندوستان څخه چین ته لاره پیدا کړه. او چینایانو دېر ژر د چای تولید زیات کړی.

ب:فرهنګي وضعه

په منځنیو پېړیو کې چینایانو ډېر فرهنګي خلک ګڼل کېدل. د چین ادبیات په سلګونو کلونه له اروپایانو څخه مخکې وو.

په چین کې کاغذ له نورو هېوادونه څخه د مخه کشف شو. او د چاپ صنعت ډېر مخکې رامنځ ته شو.

په ۸ مه هجري پېړۍ کې د تانګ د امپراتورۍ په فرمان د (پلازمیني پیغام) په نامه تر ټولو لرغوني ورځپاڼه خپرېده .چې په هغه کې به د امپراتور فرمان او د هېواد مهم سیاسي خبرونه خپرېدل. دغه ورځپاڼه له زو کلونو څخه زیات دوام وکړ.

چینایانو له پخوا څخه باروت او قطب نما اختراع کړي وو. نومورو له ستورو پېژندنې او کلیزې سره پوره بلدتیا لرله، او د کسوف په هکله یې وړاندینه کولای شوای.

فیلسوفانو او تاریخ لیکوونکو په چین کې زیات احترام درلود، او مشهور ترین شاعر یې لي بوه او توفو وو.

ج:هنري وضعه

د تانګ د امپراتورۍ پر مهال په چین کې تیاتر او موسیقي په نوي شکل سره دود شول. آن امپراتور په خپل دربار کې د هنرد زده کولو مکتب جوړ کړ.

تیاتر له پخوا څخه د چینایانو د خوښې وړ بوختیا وه. چې اوس هم په چین کې دود ده.

د سونګ پر مهال نقاشي هم د پام وړ شوه. چینایانو به زیاتره خپل انځورونه د ورېښمو په ټوټو ،او د معبدونو او مانیو په دیوالونو انځورول.

معماري ته د امپراتورانو او فیډالانو په واسطه خاصه توجه کېده او پرمختګ یې وکړ.

شپږم څپرکی

دېرشم لوست (اروپا په منځنیو پېړیو کې)

مورخینو د لوېدیځ روم له سقوط(۴۷۶ز)څخه د ختیځ روم تر سقوط(۱۴۵۳ز) پورې واټن، منځنۍ پېړۍ ونومولې.

مذهب او د کلیسا واکمني او د فیوډالېزم نظم د اروپا د تاریخ د دې دورې له ځانګړنو څخه ګڼل کېږي.

له لرغوني پېړیو څخه وروسته د منځنیو پېړیو دوره رامنځته شوه، چې د تاریخ زر کاله رانغاړي او له منځنیو پېړیو څخه وروسته اوسنۍ پېړۍ رامنځته شوې.

په منځنیو پېړیو کې د اروپایانو مهمو ټولنیزو حالتونو ته لنډه کتنه

د یرغګرو قومونو په واسطه (۴۷۶ز) کال کې د لوېدیځ روم له نسکورېدلو، او د روم ښار له نیولو وروسته د منځنیو پېړیو پیل شو.

جرمن، مجار او فرانک او دې ته ورته نور قومونه د څو پېړیو په ترڅ کې تقریبا ټوله اروپا ونیوله.

په منځنیو پېړیو کې په اروپا کې فیوډالي نظام واکمن و. هر فیوډال یعني ارباب د ډېرو املاکو لرونکی و. چې ځینې وخت به یې یو لوي ولایت رانغښت.په دې لویو املاکو کې به کرنیزې ځمکې، د ښکار ځایونه، ځنګلونه، چینې واړه سیندونه او کلي شامل وو.

مهمترین کار چې فیوډالانو به ترسره کولو د خپل قلمرو امنیت او نظم ساتل او په جنګونو کې برخه اخیستل وو. په همدې سبب هر فیوډال لوېې او کلکې کلاګاني درلودې. ځان او خلک یې د دښمنانو پر مقابل کې ساتل.

په منځنیو پېړیو کې په اروپا کې زیاتره جنګونه د فیوډالانو تر منځ وو نه د خارجیانو سره.

په منځنیو پېړیو کې د ټولنې زیاد قشر شوالیه ګان(نجیب زاده ګان او سپاره کسان) وو. چې خپل ټول ژوند یې په جنګونو، د جنګ د تکنیک زده کولو، د اسلحه استفاده او فداکاری کې تېر کړ. علم او ثروت ورته اصلا اهمیت نه درلود.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د شوالیه ګانو تر لاس لاندې رعیت قرار درلود. چې په ځمکو کې په کار کولو او په کلا ګانو کې په ژوند کولو مصروف وو.

سرف: یعنې هغه کسان چې په ځمکه پورې تړلي وو. او دغه شرایط له پلار څخه زامنو ته په ارث رسېدو.

د منځنیو پېړیو په دوران کې هر څوک چې د ورکیتوب له دورې راتېر شول؛ نو که به اشراف یا فیوډالانو پورې به یې تړاو درلود، نو جنګیالي به شول. او که د رعیت په مشر پورې به تړلی وه په کرونده کې به په کار بوختېده .مکتب او زده کړه موجوده وه. یوازې هغو کسانو به چې غوښتل کشیشان شي د ځوانې له پیل څخه به کلیسا ته تلل. او په هغه ځای کې به یې دیني علوم لوستل.

کلیسا

د فیوډالانو د واکمنۍ پر مهال څو کلیساګاني جوړې شوې . چې د کشیشانو په واسطه اداره کېدلې.

کشیشانو به دې خپل ژوند یوه برخه د دېر په نامه په سیمه کې د ټولنې څخه لرې په درسونو کې تېروله او هغوي ته یې راهبان ویل.

زیاتره کشیشانو به د درسونو له ختمولو وروسته کلیسا ته تلل ، او ځینې دندې به یې هلته ترسره کولې، لکه د تعمید غسل(مسحیانو به د مراسمو په وخت کې خپلو ماشومانو ته غسل ورکولو)، د دعا او عادت مراسم او د واده مراسم.

کشیشانو به د لوړ پوړی کشیش چې اسقف بلل کېده اطاعت کاوه.

اسقفیانو به بیا تر ټولو لوړ پوړی اسقف چې سر اسقف بلل کېده اطاعت کاوه.

سر اسقف به د ټول هېواد کلیساګاني څارلې. سر اسقف به د مسحیانو د لوړ پوړي مقام پاپ لخوا په دنده ګمارل کېده.

پاپ چې د ټولو مسحیانو مخکښ و د اروپا ټولې کلیساوې یې تر لاس لاندې وې؛ نو په همدې دلیل د دوې مقام له اروپایي پاچاهانو څخه لوړ و.

پاپ د روم په ښار یعنې د لرغوني روم د امپراتورۍ په پلازمېنه کې استوګنه لرله. د لوېدیځ روم له منځه تللو څخه وروسته په ایټالیا کې حکومت نه و موجود؛ نو له همدې کبله د روم ښار او څنډې یې د پاپ تر ولکې لاندې سیمه ګڼل کېده.

د منځنیو پېړیو په لومړۍ نیمایي کې د اروپا مهم سیاسي حالات

د روم د امپراتورۍ له منځه تللو څخه وروسته او د منځنیو پېړیو په پیل کې اروپا له ډیرو ستونزو سره لاس او ګرېوان شوه. د اروپا په سویل ختیځ کې یعني د بالکان په شبه جزیره کې، دختیځ روم (بېزانس)خلکو پیاوړی، حکومت جوړ او د خپلې واکمنۍ د پراختیا او لرغوني روم د بیا رامنځته کېدو په سوچ کې و.

د بېزانس په لاندې کولو سربېره د اروپا په پاتې خاوره د هغه یرغل ګرو قومونو لخوا حملې کیدلې. چې د لرغونی روم یې له منځه وړې و. دغې یرغلونه تر هغه وخته دوام درلود چې تر څو یې اوسیدونکي مسحي شول. یو له هغه قومونو څخه چې مسیحي شوي وو فرانک نومېده،

فرانکیانو د اروپا په لوېدیځ کې یوه لویه امپراتوري جوړه کړه .او پادشاهي یې معروفه شوه، په فرانکیانو کې شارلمان په نهمه میلاد پېړۍ کې یو مقتدر حکومت جوړ کړ.

شارلمان یو لوی پادشاه و، چې آلمانیانو او فرانسویانو خپل پادشاه ګڼه.

نومورې دولتونه وروسته د شارلمان لخوا ضعیف شول، په نتیجه کې یو ځل بیا جګړې د شمال او ختیځ څخه اروپا ته راغلې.

د اروپا په ختیځ کې روسان او مجاران مستقر و. انګلیانو او ساکسونانو د انګلیسانو د حکومت او ملت اساس جوړ کړ. په همدې ترتیب فنانو فنلند او دانانو د ډنمارک هېوادونه پایه ګذاري کړل.

یودرېشم لوست (صلیبي جګړې)

صلیب د مسحیانو تر ټولو لویه نښه ده، د مسحیانو په اند دغه نښه د صلیب په واسطه، د حضرت عیسی(ع)د شهادت یادونه ده.

د مسلمانونو او مسحیانو تر منځ ۲۰۰ کلنو جګړو ته صلیبي جګړې ویل کېږي.

صلیبي جګړې چې د منځنیو پېړیو په دوهمه نیمایي (له ۱۰۹۹نه تر ۱۲۹۱ز)کې رامنځته شوې، او ډېرې مهمې تاریخي پېښې بلل کېږي

د صلیبي جګړو پیل

له لومړۍ هجري پېړۍ څخه چې د اوومې میلادي پېړۍ سره سمون خوري، اسلامي نړۍ او مسحیت د یو بل پر وړاندې سنګرونه ونیول.

په لومړۍ هجري پېړۍ کې مسلمانانو له مسحیانو څخه د شام ځنډې، فلسطن د افریقا شمال او هسپانیه ونیولې. او وروسته هم د دوی او مسحیانو ترمنځ د منځنۍ آسیا (ترکیې،مدیترانې ایټالیا او هسپانیې په سیندونو او وچو کې جګړو دوام درلود.)

حضرت عیسی(ع)ته انتظار!

زیات شمېر مسحیان په دې باور وو، چې له زرو کلونو وروسته حضرت عیسی ع په بیت المقدس کې بیا ظاهر کېږي.

د وګړو ګټوالی او په اروپا کې د ټولنیزو ستونزو را برسېره کېدلو په اروپا باندې د څو پېړیو یرغلونو، او د کډوالو قومونو ورتګ،د دې وچې اوسیدونکي ډېر کړل. د دې کډوالیو د کرنیزو ځمکو د کموالي ستونزې هم په ځنګ کې لرلې.

له دې طرفه اروپا کوچنۍ او له درېو خواو څخه ورته اوبه دي. د هېوادنو لاندې کولو امکان لږ وه؛ نو ځکه یې دمدیترانې ختیځ

ketabton.com - The Digital Library

لوري(شام او فلسطن) ته چې د مسلمانانو په ولکه کې وو پاملرنه وکړه.

په اندلس(هسپانیه)کې د مسلمانانو پر مختګ

د لومړۍ پېړۍ په وروستیو کې اندلس د مسلمانانو تر ولکې لاندې شو. دوی د پېړیو را هیسې د هغې سیمې له مسحیانو سره په سوله کې ژوند کاوه؛ خو د فرانکانو په پیر کې اروپا مسحیانو د اندلس په بېرته نیولو ټینګار کاوه.

سلجوقیانو په ۱۰۷۱ز کال کې پر ختیځې روم(بزانس) د برېښنا په ځېر بریالیتوب ترلاسه کړ. او د بزانس امپراتورۍ د کوچنۍ آسیا برخه له لاسه ورکړه. د مسلمانانو پر خلاف یې له پاپ څخه د مرستې غوښتنه وکړه.

او دا د پاپ لپاره غوره وخت وه، چې د بزانس کلیسا څخه په (۱۰۵۵ز)کال کې جلا شوې وه.په پایله کې د بزانس کلیسا چې په ځان یې ارتودوکس نوم اېښی وه، او د روم کلیسا کاتولیکه نومېده.

لومړنۍ صلیبي جګړې څه ډول پیل شوې!؟

دویم اوربان په (۱۰۹۶ز)کال د بیت المقدس د نیولو لپاره د مسلمانانو په وړاندې د جګړې امر ورکړ.ګڼ شمېر خلک د اروپا له مرکزي او لوېدیځو سیمو څخه د بزانس په لور وخوځېدل. تر څو له هغې لارې ځانونه بیت المقدس ته ورسوي.

کله چې شوالیه ګان او کلیوال قسطنطنیې ته ورسېدل؛ نو د بزانس امپراتوري د دې سرکشه او وړې لښکر څخه ووېرېدل او نومورو ته یې د مسلمانانو د پولو په لور لارښوونه وکړه.

شوالیه ګان او کلیوال د مدیترانې له ختیځو څنډو څخه ځانونه شام او فلسطین ته ورسول. او په (۱۰۹۹ز)کال کې د بیت المقدس په لاندې کولو وتوانېدل. چې صلیبي جګړو په پیل کې اسلامي نړۍ په خپلمنځیو جګړو کې ښکېله کړې. هغه مهال فلسطین د مصر فاطمیانو په لاسونو کې و، او د ضعف او زوال په حالت و، شام د عباسي خلافت د ملاتړو سلجوقیانو په لاس کې و. لومړۍ صلیبي جګړې د صلیبیانو په ګټه تمامې شوې.

زنګیانو چې د شام په پولو کې یې حکومت کاوه، د صلیبیانو پر وړاندې جګړې ته راووتل. او د مسلمانانو ځینې سیمې یې بېرته تر ې ونیولې. د صلیبیانو ماته د دې لامل شوه چې نور تازه دمه یا نوي اروپایان د بیت المقدس په لور وخوځېږي.

د صلیبیانو په دوهمه جګړه کې پاپ ماته وخوړه. او دې ته ار شو چې اروپایي پاچاهان هم مسلمانانو پر وړاندې جګړې ته وهڅوي، په پایله کې د انګلستان، فرانسې او المان(د روم مقدسه امپراتورۍ) پاچاهان د فلسطین په لور وخوځېدل او درېمه صلیبي جګړه رامنځته شوه.

همدغه جګړه وه چې صلاح الدین ایوبي پر نامه یو مسلمان مشر سخت مقاومت وکړ. صلاح الدین چې د زنګي او فاطمیانو د حکومت له نسکورېدو سره یې په مصر او شام کې د ایوبیانو په نامه حکومت رامنځته کړ. صلاح الدین ایوبي وتوانېده چې بیت المقدس بېرته ونیسي ،او د شام او فلسطین زیاتې برخې آزادې کړي.

نورې صلیبي جګړې

صلیبیان د ایټالیا له شمالي بندرونو څخه وخوځېدل،له مدیترانې څخه تېر شول، او د صلبیانو تر واک لاندې د شام څنډو او بندرونو ته ورسېدل.

له بله پلوه، پاپ د صلیبي لښکرو د برابرولو لپاره په اروپایي شاهانو ډډه ولګوله؛ نو ځکه د شپږمې څخه تر نهمې ټولې صلیبي جګړې پاچاهانو د فیوډالانو او شوالیوو په ملاتړ رهبري کولې.

د صلیبي جګړو په وروستیو کې چې کوم مهم بدلون رامنځته شو،د سوداګرۍ لپاره د مسلمانانو سره د مسحیانو نږدې کېدل وو. چې ایټالیا د شمالي بندرونو ګرځندویانو وکولای شول له دې سوداګرۍ څخه ډېره ګټه پورته کړي.

صلیبي جګړې وروسته له ۲۰۰ کاله په ۱۲۹۱م کال کې د مسلمانانو پر ګټه پای ته ورسېدلې.

د صلیبي جګړو پایلې

صلیبي جګړې د اروپایانو په ماته پای ته ورسیدې، مګر هغوي د اسلامي تمدن سره آشنا او له هغه څخه یې ګټه واخیسته.

صلیبي جګړې د نوي اقتصادي پرمختګ لامل شوې.

فلسفې هم په اروپا کې ډېر مینوال لرل، او د اسلامي نړۍ د لویو فیلسوفانو ابن سینا او فارابي آثار په لاتین ژبه وژباړل. په همدې وخت کې اندلس(هسپانیه)، تونس، د شام سواحل(سوریه) او د مصر اسکندریه له اسلامي نړۍ څخه اروپا ته د اقتصادي، فکري، علمي او فني لاسته راوړنو د لېږدونې ترټولو مهمې دروازې وې.

دوه دېرشم لوست (د رنسانس په عصر کې د اروپا سیاسي اوضاع)

د ښاري ژوند پراختیا او د ښاریانو ځواکمنتیا

د تجارت پراختیا د صلیبي جګړو څخه وروسته رامنځته شو. د ښاري او اقتصادي پراختیا په برخه کې یې مرسته وکړه. د ښار اوسېدونکو ته یې بورژوا ویل چې ښاري اوسېدونکي معنا ورکوي.

د پاچاهانو ځواکمنېدل

هغه مالیات چې پاچاهانو له فیوډالانو څخه اخیستل. زیاتره یې د خپل حکومت د ځواکمنتیا په لاره کې لګول.

د پاچاهانو ځواکمېدل د دې لامل وګرځېد ،چې د کلیسا په چارو کې لاس وهنه وکړي. او د پاپ د قدرت کړۍ کوچنۍ کړي.

سیاسي بدلونونه او د مرکزي حکومتونو منځته راتلل

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په انګلستان کې فیوډالانو موجودیت په پارلمان کې د دې لامل شو .چې مشروطه شاهي حکومت رامنځته کړي.

د اوسنۍ فرانسې زیاتې برخې د انګلستان د پاچاهانو په واک کې وې؛ خو د فرانسې پاچاهان چې د فیوډالانو په ټکولو کې ډېر ځواکمن شوي وو د دې قلمرو د تر لاسه کولو لپاره ډګر ته راووتل.

فرانسویان د ژاندارک په نامه د انجلی په پاڅون بریالېتوب ته ورسېدل.

په هسپانیه کې د هسپانې شمالي ایالاتونو چې د مسیحي پاچاهانو په لاس کې وو، د مسلمانانو په وړاندې یې په سویل کې نوې بریالیتوبونه وګټل، او وتوانېدل چې د مسلمانانو ورو‌ستۍ مقاومت په ټپه ودروي.

د اروپا په مرکز او ختیځو ځنډو کې د یوه ځواکمن دولت جوړېدو لپاره ډېر ورو حرکت سره د هغه له لوېدیځو ځنډو یعنې انګلستان، فرانسې او هسپانیې څخه تېریدل. ځکه فیوډالان او اشراف په دوی کې تر اوسه ډېر ځواکمن و.

په آلمان(د روم په مقدسه امپراتوری)کې همدغو اشرافو د امپراتور مقام په رسمي توګه ومانه.په روسیه کې هم فیوډالان د ډېر واک لرونکي وو. تر هغه پورې چې په (۱۵۴۸-۱۵۳۳ز) کال کې څه وخت چې څلورم ایوان واکمنی ته ورسید، اشراف او فیوډالان وټکول شول.

په اروپا کې علمي او فرهنګي رنسانس

د رنسانس دوره په اروپا کې،په ټولنیز،سیاسي او اقتصادي بدلونونو سره همغاړې ،او د فکر، هنر، علم او فن په برخه کې هم بدلونونه رامنځته شول.

د رنسانس یو له مهمو اړخونو څخه انسان پالنه(هومانېزم)او فرد پالنه ده. وروسته له صلیبي جګړو څخه د اروپاپانو بلدتیا له فلسفي آثارو سره په ځانګړې توګه د لرغوني یونان د دې لامل وګرځېده، چې ترڅو په انسان او د ده عقل زیات باور وکړي.

طبیعي(تجربي)علوم چې مخکې د پاملرنې وړ نه وو، د رنسانس په پیر کې یې مینه وال پیدا کړل.

په دې دوره کې د راجربیګن هاروي په نامه یو عالم د وینې د دوران څرګندوالی کشف کړ. او ولیام ها د وینې حرکت کشف کړ.

په ریاضیاتو،نجوم او جغرافیه کې هم نوي فکرونه رامنځته شول.کپرنیک د ځمکې کروي والی او وروسته له ده ګالیله د لمر په شاوخوا د ځمکې څرخېدل کشف کړل.

که څه هم د اختراعاتو په برخه کې دومره پرمختګ رامنځته نشو؛ خو بیا هم د ګوتنبرګ پواسطه د چاپ دستګاه او د ګالیله پواسطه د تلسکوپ اله اختراع شوه.

د بشر په جغرافیوي پوهه کې بدلون

بشر د خپل زر کلن ژوند په ترڅ کې د ځمکې کرې له ځینو سیمو څخه معلومات نه درلودل. او د دوی جغرافیوي پوهه په آسیا،اروپا او افریقا پورې محدود وه.

چین ته د مارکوپولو سفر د اروپاپانو د جغرافیوي پوهې په برخه کې ډېره مرسته وکړه. نومورې د ایتالیا د وینز له ښاره د آسیا لوډیځ ته راغلو. او د ایران او افغانستان څخه په تېرېدو سره. دی چین ته لاړ، او وروسته له شلو کلونو څخه د هند له لارې وینز ته بېرته وګرځېد. نومورې لومړنی سړی و چې اروپایان یې له جاپان او آرام او اقیانوس خبر کړل.

د سمندري ګرځندویي پراختیا او د اکتشافاتو پیل

له قطب نما سره مسلمانان د چینایانو لخوا آشنا شوي وو، د اروپاپانو لاس ته ورغله او په دې توګه د بحري سوداګرۍ په پراختیایي اغېزه وکړه.

د منځنیو پېړیو په وروستیو کې مدیترانې په سمندرګي کې د سمندري سوداګرۍ له لارې د شتمنیو ګټلو او واک پر سر سیالیو زور ونیو. او له بلې خوا سیاسي او مذهبي اختلافاتو هم د دې سیالیو ته لمنه ووهله.

په ۱۴۵۳ز کال کې عثماني ترکانو چې د مدیترانې د شمال ختیځو سواحلو زیاتره سیمې یې لاندې کړې وې د قسطنطنیې په نیولو وتوانیدل. چې د بېزانس امپراتوري ړنګه کړي، او د مدیترانې شمال ختیځې تجارتي برخې خپلې کړې.

پرتګالیانو د ختیځو سیمو په لور سمندري لارې کشفې کړې.

د(۱۵مې)ز پېړۍ له نیمایي وروسته پرتګالیانو د افریقا د لوډیځو سواحلو له لارې د سویل په لور په سمندر کې په سفر پیل وکړ.

په پای کې په ۱۴۸۷ز کال کې د بارتولو مودیاز وتوانېده، چې د افریقا وچې له جنوبي وروستي څنډې څخه تېر شي. چې دا څنډه (دماغه امید نیک)په نامه یادېده ،او په ختیځو سیمو کې د هند له اقیانوس څخه تېر شول. دغه کشف ډېر مهم و. د اندونیزیا او فارس خلیج لارې یې وموندې، له اطلس سمندر څخه د هند سمندر په لور، د سمندر لارې له پیدا کولو وروسته پرتګالیانو د آسیا نورو سویلي او ختیځو سواحلو ته ځانونه ورسول.

د امریکا قاره څنګه کشف شوه؟

هغه وخت چې پرتګالیان له افریقا څخه د تاوېدلو په نیت د ختیځ په لور وخوځېدل، هسپانوي ګرځندویان د کرېستف کولمب په مشرۍ له څو پېړیو سره هند ته د رسېدلو په نیت د اطلس سمندر لوډیځ لور ته سمندري سفر پیل کړ.

په پای کې کولمب او ملګري یې د څو میاشتو سختیو له زغملو وروسته په ۱۴۹۲ز کال کې جزیرې ته ورسېدل.

کولمب فکر کاوه چې د هندوستان کومې جزیرې ته رسیدلی دي. سور پوستیو بومیانو هغه ځاي هند ونوماوه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

امریکو سپو په نامه یو کس و، هغه وپوهېده چې دا چین نه ده، بلکې نوې وچه ده. دغه وچه یې د ده په نامه امریکا ونومولە.

انګلیسي او فرانسوي ګرځندویان، د امریکا د وچې شمالي سواحل کشف کړل، چې اوسنۍ کانادا او د امریکې ایالتونه رانغاړي.

یوه انګلیسي ګرځندوی استرالیا کشف کړه.زیاتره جزیرې او سواحل هم په تدریج سره کشف شول. او ورو ورو د ځمکې د کرې نقشه مشخصه شوه.وچ،سمندرونه او د هغو حدود د بشر لپاره معلوم او د نړۍ نقشه لږ تر لږه په اوسني شکل وپېژندل شوه.

د پرتګالیانو او دهسپانویانو استعمارګري

په آمریکا کې د سور پوستانو تمدن رامنځته شو،په هر حال اروپایانو د جنګي کیښتیو او توپونو په واسطه زیات شمېر بومیان قتل او غارت کړل.

د البورکرک په نامه یوه پرتګالي ګرځندوی په هند کې د (ګوا)جزیره کشف کړه .او هغه ځای یې په ختیځو سیمو کې د پرتګالي استعمار مرکز وټاکه.

پرتګالیانو په زور سره د افریقا په ختیځو او لوديځو سواحلو او ښارونو خپل واک ټینګ کړ.د هرمز او عدن بندرونه د دوی په واسطه اشغال، او په چین کې یې د هانکانګ بندر ونیوه، او په دې توګه یې د لوديځو سیمو سوداګري خپله کړه.

څرنګه چې په لوديځو سیمو کې د پرتګالیانو سوداګري، د هسپانویانو له خوا تهدیدېده ،نو د پرتګالیان او هسپانویان ټرون لیک ته ورسېدل. چې ختیځ په پرتګال او لوديځ په هسپانیا پورې وټړل شول. په دې توګه دوی ځانونه د ټولې نړۍ واکمنان ګڼل.

هسپانویانو د امریکا د شتمنیو لاسته راوړلو له پاره د پوځي لښکر پواسطه د سور پوستو په وژنه لاس پورې کړ. او د ازټک او اینکا تمدونونه یې له منځه یوړل.استعمار به چې هر ځای ته لاره پیدا کوله،دېر زیانونه به یې وراړول.

دري دېرشم لوست (په نویو پېړیو کې د اروپا عملي او فکري بدلونونه)

یو له پخوانیو پوهانو څخه فرانسیس بیکن داسې ویلي وو. چې(د پوهې موخه د انسان د ځواک ډېروالی دی) د دغې تفکر په پایله کې،له هغه وروسته یواځې هغو زده کړو ته پاملرنه وشوه چې انسان لپاره یې مالي ګټه په ځنګ کې لرله. نو له همدې امله وو چې تر ټولو دمخه طبیعي علومو (تجربې) ته پام وراړول شو.

په نویو پېړیو کې ځلور پوهان د نویو علومو مخکښ شول، کوپرنیک،کپلر،ګالیله او نیوټن.

ګالیله د ستورو په پېژندلو کې او پاسکال ریاضي پوه د فزیک په علم هم کار کاوه نیوټن انګلیسي پوه، ریاضي پوه او فزیک پوه هم و، او ویې کولای شوای چې د جاذبې قانون کشف کړي.

په نویو پېړیو کې د کیمیا علم هم نویو لاسته راوړنو او نوښتونو ته ورسېد، د بېلګې په توګه فرانسوي لاوازیه وکولای شول چې د اوبو تجزیه(لرې والی) او یوځای والی(ترکیب)او همدارنګه د اکسیجن په واسطه د نورو موادو یو ځای والی وښیي. همدارنګه د موادو د خواصو او خانګړتیاوو او د عناصرو د طبقه بندۍ په اړه هر اړخیزې هڅې وشوې.

په نویو پېړیو کې د اروپا فیلسوفان،توماس هابز (انګلیسي) دیکارت(فرانسوي)،اسپیوز(هالندي) او لایب نیتس(آلماني) چې خپل فلسفي افکار یې بصري عقل ته د اعتبار ورکولو پر بنسټ ټینګ کړ.

په دې پیر کې د مورخینو په عقایدو او فکرونو کې هم یو لړ بنسټیز بدلونونه رامنځته شول. چې د تاریخي مطالعاتو په بهیر کې د مهمو بدلونونو لامل شول.

لومړی: د اروپا د تېرو پېرونو فرهنګي او مدني آثارو لکه د یونان او لرغوني روم آثارو ته پام وروړول شو. په داسې حال کې چې په منځنیو پېړیو کې هغه دوران ته شرک او بت پرستی د آثارو په توګه کتل کېدل .او له همدې امله کومه ځانګړې پاملرنه یې ورته نه درلوده.

دویم: مورخینو د پاچاهانو او حکمرانانو د ژوند د پېښو د څرګندولو پر ځای، د عامو وګړو د ژوند ټولنیز او اقتصادي حالاتو او اړخونو ته ډېر پام وړاړوه.

دریم: د سیاسي او نظامي پېښو د بیانولو پر ځای هڅه وشوه، چې د هغه پېښو لاملونه او پایلې وڅېړل شي، او د بشري ټولنو د بدلونونو د بهیر ټول حاکم قواعد او قوانین وموندل شي.

ځلورم: د نویو پوهو او نوښتونو په کارولو سره په ځانګړې توګه لرغون پېژندنې او سکه پېژندنې مورخینو سره ،مرسته وکړه تر څو د ملتونو د تېر تاریخي بهیر څخه یو واقعي طرحه او تصویر واخلي.

ځلور دېرشم لوست (په نویو پېړیو کې د اروپا سیاسي بدلونونه)

په شپاړسمه زېږدیزه پېړۍ کې د هسپانیې پرلاسي

وروسته د مسلمانانو له ماتې څخه هسپانیه یو خل بیا(۱۴۹۲ز)د مسحیانو لاس ته ولوېده. او په همدغې کال کې آمریکا هم کشف شوه.

پر دې مهال شارلکن د هسپانیې پاچا وه. (۱۵۱۹-۱۵۵۶ز) چې د هسپانیې د پاچاهۍ سربېره د روم امپراتور هم له همدې امله هالنډ، بلجیم، اتریش او آلمان هېوادونه د هغه د قلمرو برخه وه.

د امریکا په کشف سره په سویلي او مرکزي امریکا کې لویې مستعمرې د هسپانیې لاس ته ورغلې. په دې ترتیب د نویو پېړیو په پیل کې هسپانیه په اروپا کې قدرتمند ترین دولت و.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هسپانيې پاچاهان معمولا هغه معتصب کاتولیک وو چې د پاپ د مخالفو(پروتستان،یهودیان او مسلمانان) سره یې په ناوړه ډول چلند او معامله کوله.

د هسپانیا د مسحیانو مذهبي تاوتریخوالی د مسلمانانو په وړاندې، او د عقایدو د تفتیش او پلټنې د محاکمو رامنځته کول په دې هېواد کې د څه کم یو ملیونو میشتو مسلمانانو د جبر مهاجرت او وتلو لامل شو.

په ۱۵۶۶ز کې د هالند هېواد وګړو د هسپانویانو د نفوذ پر وړاندې را پاڅیدل او ویې کولای شو چې پر هغه بریالي شي او د خپل هېواد خپلواکي تر لاسه کړي(۱۶۰۱ز).

بل مهم لامل چې د هسپانیې پرمختګ ته یې د پای تکی کېښود، د دغه هېواد سمندري ځواکونو ماته د انګلستان پر وړاندې په کال(۱۵۸۸ز)کې وه.

فرانسه د خوارلسم لویي د واکمنۍ پر محال

په تدریج سره چې هسپانیا خپل ځواک له لاسه ورکاوه او کمزوري کېده، نورو اروپایي هېوادونو لکه هالنډ، فرانسه او انګلستان خپل ځواک لا پیاوړی کاوه. د اولسمې پېړۍ په پیل کې فرانسه د اروپا د پیاوړو خواکونو له ډلې څخه وه.

په اولسمې پېړۍ کې د فرانسې ابر قدرت کېدل د خوارلسم لویي د واکمنۍ پر مهال و. چې فرانسه خپل اوج ته ورسېده.

انګلستان خپل پاچا ګیوتین ته سپارې

د نویو پېړیو په پیل کې انګلینډ چې له یوې خوا،کاتولیکانو او پروټستانیانو د اح او ډوب ډګر او له بلې خوا د پاچا او پارلمان د جګړو ډګر و.

په کال(۱۶۲۸ز)کې انګلینډ پارلمان یوه لایحه(د عدالت غوښتنې حقوق)تصویب کړه .چې د هغې په سبب لومړي چارلېز نه ویل کېده، چې هغه د مطلق واک خاوند نه دی، او دا واک نه لري، چې د قانون څخه پرته له چا څخه مالیات واخلي او یا څوک زنداني کړي.

کرامول د (رویس تنان) په نامه یو نوی پوځ رامنځته کړ. او ویې کولای شول چې سلطنتي ساتونکو(ګارډ) ته ماتې ورکړي. په پایله کې لومړي چارلېز ونیول شو، لومړی یې زنداني او بیا یې په دار وځړاوه. وروسته بیا کرامول په هېواد کې جمهوري نظام ټینګ کړ.

کرامول چې غوښتل یې د انګلینډ د مستعمراتو سوداګري ته لا زیاته وده ورکړي، اېرلنډ اشغال کړ، د هالندیانو سره یې جګړه وکړه، هغوي ته یې ماته ورکړه. او نوي سوداګریز قوانین یې رامنځته کړل.

د کرامول په کړنو د انګلستان سمندري ځواکونه پیاوړي شول، په انګلستان کې لومړنی او وروستی جمهوري نظام پای ته ورسېده او بیا سلطنتي نظام رامنځته شو.

روسیه: لوی پتر په روسیه کې خپل خیالونه په واقعیت بدلوي

د ۱۸ز پېړۍ په پیل کې د روسیې له امپراتورانو څخه د لوي پتر په نامه یو امپراتور تصمیم ونیو. چې روسیه پر یو پیاوړي دولت باندې بدله کړي. او د پیاوړي کېدو برنامه یې عبارت وه له:

یو: په نویو وسلو باندې د وسلوالو ځواکونو سمبالول، له نویو جنګي فونونو سره د سرټپرو آشنا کول.

دوه: د سوداګرۍ او سمندري چلند پراختیا آزادو او ګرمو اوبو ته د لاس رسي هڅې.

دري: د روسیې لوېدیځ کول.

په اتریش او پروس کې د نویو دولتونو رامنځته کېدل

د نویو پېړیو له مهمو سیاسي بدلونونو څخه یو هم په اروپا کې د نویو پیاوړو دولتونو رامنځته کېدل و. له دغو دولتونو څخه یو هم د پروس(آلمان)دولت و. دغه دولت د روم د مقدسې امپراتورۍ په شمال کې رامنځته شو .او د لهستان(پولند)په نیولو سره یې قلمرو پراخ شول، او په لنډ وخت کې په یوه مهم هېواد بدل شو.

اتریش هم چې د روم امپراتورۍ یو سویلي ایالت و، ورو ورو یې خپل قلمرو پراخه کړل، او په یوې امپراتورۍ بدل شو.د اتریش ترټولو مهم ګاونډي عثماني هېواد و، چې په ۱۸ز/۱۲ش پېړیې کې یې دولت کمزوری شو. او د متصرفاتو لویه برخه یې اتریش ترلاسه کړه .او په اروپا کې په یو ستر هېواد باندې بدل شو.

پنځه درېشم لوست

د انګلستان صنعتي انقلاب

د ۱۸ پېړۍ تر وروستیو پورې د تولید اصلي عامل د انسان مټ او لاسي ځواک و. او نور عواملو ډېره کمزوري وندې په تولید کې لرله. خو د دې پېړۍ په وروستیو کې د صنعتي انقلاب په رامنځته کېدو لومړۍ د اوبو محرکه ځواک او وروسته د بخار ځواک د تولید په خدمت کې ورکړای شو.

صنعتي انقلاب چې د انساني ځواک په بدل کې د ماشین د ځواک کارول څخه عبارت دی، لومړۍ له انګلستان څخه پیل شو، او ورو ورو نورو هېوادونو ته یې پراختیا وموندله.

د اروپایي هېوادونو په صنعتي کېدو یو لړ لاملونو لکه: د کافي طبیعي زېرمو شتون، ارزانه انساني ځواک، ډېره مادي پانګه، کار پوهه ځواک، د دولت ملاتړ او د خرڅلاو د بازار اړتیا پیدا شوه. او له هغه ځایه چې په دغو هېوادونو کې هغه ټول عوامل په لاس کې نه و.

د صنعتي انقلاب په لومړیو کې د کارګرانو مزدوري ډېره لږه وه. او کارګران د خپلو خښتو د مړولو لپاره دې ته اړ نه ول چې خپلې ښځې او ماشومان هم د کار لپاره هغو غیر صحي کار خانو ته بوځي.

د معدن کارګران ټوله ورځ د ډبرو سکرو په زېرمو کې په کار بوخت وو، او د شپې له خوا کورونو ته راتلل او سهار وختي بېرته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د معدن په لور روانېدل. ځینې وختونه یې تر څو میاشتو د ورځې روښانایي په سترګو نه لیده.

شپږدېرشم لوست (د عثماني دولت رامنځته کېدل)

د سلجوقي ترکانو بریا د ملازګرد په جګړه کې چې د الپ ارسلان او د ختیځ روم د امپراتور تر منځ پېښه شوه،څو پایلې یې په څنګ کې لرلې. چې په کوچنۍ آسیا کې لومړی د اسلام دین خپرېدل د مسلمانانو او مسیحیانو تر منځ دوه سوه کلنې صلیبي جګړې یې له مهمو پایلو څخه دي.

د دغو قبیلو له ډلې څخه یوه پېژندل شوې قبیله، قایي وه، چې په انقره او د هغه په شاوخوا کې میشت شول د دغې قبیلې مشر ارطغرول وه چې خپل خواک ته یې پراختیا ورکړه.

له هغه وروسته یې زوی عثمان په ۶۹۹قمري کال کې دولت رامنځته کړ، چې د ده په نوم(عثماني)یاد شو.

دغه عثماني دولت د شلمې پېړیو تر لومړیو پورې دوام وکړ، د ختیځې نړۍ وروستۍ خواکمنه امپراتوري وه چې نوم او اوازه یې د اروپاپانو لپاره د وېرې سبب ګرځېدلې وه؛ نو له همدې امله د دغه دولت د له منځه وړلو لپاره یې ډېرې هڅې وکړې.

عثماني ترکانو د خپل قلمرو د پراختیا او د خپل خواک د غښتلتیا لپاره دوه مهم پوځي خواکونه منځ ته راوړل. یو یې عثماني لښکر و. او بل یې دیني چاري عثمانلي پوځ و، چې دغه پوځ د عثماني دولت د اصلي خواکونو څخه شمېر کېدل.

دیني چارې مسیحي مسلمان شوي خوانان وو، چې د هغوی ونډه د عثماني پاچا ساتنه وه .او د خپلو خدمتونو په بدل کې یې پیسې ترلاسه کولې. چې د دېرشو کلونو له خدمت څخه وروسته هغوي ته د ځمکه ورکول کېده.

عثماني پاچاهان

لومړی: سلطان محمد فاتح

سلطان محمد چې د عثمانیانو مشهور ترین سلطان و، او ویې کولای شو چې د ېزانس د امپراتوری(ختیځ روم)زرکلن سیاسي ژوند ته د پای ټکی کېږدي.

د هغه نامتو او ځلانده فتحه د قسطنطنیې (د کستانتین ښار) فتحه او د ختیځ روم د امپراتوری پلازمینه وه ،چې له هغه وروسته یې نوم استامبول(د اسلام ښار)په نامه ونومول شو، او سلطان محمد د فاتح لقب ورکړ.

دوهم: سلطان سلیم

هغه عراق او شام هم فتح کړ، او د مصر په لور په لښکر کشۍ کې یې ډېر هېوادونه له منځه یوړل .او د مصري عباسیانو حاکمیت او خواک ته یې د پای ټکی کېښود. له هغه وروسته یې د مکې مکرمې اداره په لاس کې ونیوله، ځان یې د خلیفه په توګه ونوماوه. او پر ټولو مسلمانانو د حکومت کولو غوښتونکی شو.

دریم: سلیمان قانوني(لوی سلیمان)

په ۱۰/ز۱۶ق کې سلطان سلیمان د سلطان سلیم زوی د عثماني پاچاهانو له ډلې څخه پېژندل شوی پاچا و.

د هغه د حکومت پر مهال عثماني امپراتوری زیاته پراختیا وکړه، لکه څنګه چې عثماني لښکر د وین ښار یعني د اوسني اتریش پلازمینه هم د خپلې محاصرې لاندې راووسته.

د عثماني دولت سمندري ځواکونو، په دې دوره کې په مدیترانه او د هند په سمندر کې په مهمو سمندري لارو کې شتون درلود. همدغه ځواک و چې په کال۱۵۳۸ز کې د خیرالدین په مشرۍ د اروپایي متحدینو سمندري ځواکونو ته یې هم ماته ورکړه.

ترکانو سلیمان د دې لپاره چې منظم اداري جوړښتونه او مدني قوانین یې رامنځته کړل د(سلیمان قانوني) په نامه ونومولو او اروپاپانو د هغه د امپراتوری د لویوالي او ځواک له امله هغه ته د لوی سلیمان نوم ورکړ.

عثماني امپراتوري ولې کمزوي شوه؟

۱۷ز/۱۱ق پېړۍ کولای شو عثماني دولت د زوال د پیل دوره وګڼو. دغه زوال چې د اروپا د پرمختګ او د لوېدیځ د بدلون له دورې سره سمون خوري، د دې لامل شو چې عثماني امپراتوری خپل ټول زیار د خپل سیاسي دریځ په ساتنه ولګوي. هغه ځانګړي لاملونه چې د عثماني دولت د وروسته پاتې کېدو او زوال لامل شول عبارت دي له:

۱-د عثماني پاچاهانو فساد او ناکاري

۲-د هر ډول سیاسي او ټولنیزو اصلاحاتو د پلي کولو څخه ډډه کول، چې د اشرافو او درباریانو ګټې یې له خطر سره مخامخ کولې.

۳- د فتوحاتو درول چې د عثماني دولت د لوی پوځ د وزګارتیا لامل شو. او له هغه وروسته پوځیانو چې ډېر یې د ځمکو خاوندان وو، پر کلیوالو یې ظلم او تېریو ته زور ورکړ. او د سیاسي چارو په لاس وهنو یې ډېرې ستونزې رامنځته کړې.

اووه دېرشم لوست (د امریکا د متحده ایالاتو د خپلواکۍ انقلاب)

امریکا ته زیاتره مهاجرین انګلیسیان وو، چې د اطلس اقیانوس په لوېدیځو سواحلو کې دیارلس ایالته مهاجرینو جوړوه او له همدې امله د دې خاورې یوه برخه یې د نیوانګلنډ(نوی انګلستان)په نامه یادوه.

د انګلستان دولت د خپلې د واکمنۍ سیمې د کرنیزو تولیداتو مرکز، او هم دغه ځای د خپلو صنعتي محصولاتو د پېرودلو لپاره ټاکلي وو. په دغه مهال کې د نویو مالیاتو وضعه د کډوالو نیوکې راپورته کړې،په دې مهال د فرانسې دولت چې د انګلستان په جګړو کې یې ماته خوړلې وه ،او مستعمرات یې هم له لاسه ورکړي و،له کډوالو څخه یې ملاتړ وکړ.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په پایله کې مهاجرین وتوانېدل چې د جورج واشنګټن په مشرۍ د انګرېزانو ځواکونو ته ماته ورکړي، د دغې ماتې په تعقیب د کډوالو دیارلس ایالاتونو د خپلواکۍ اعلان وکړ.

او خپله خاوره یې د امریکا متحد ایالاتو په نوم ونومولە. او په ۱۷۷۶ز کال کې جورج واشنګټن هم د امریکا د لومړي ولسمشر په توګه وټاکه.

د امریکا د خپلواکۍ اعلامیه

په ۱۷۷۶ز کال کې د امریکا روشنفکرانو د توماس پین د (سلیم عقل) په نامه یوه مقاله ولیکه، چې ډېر پلویان یې پیدا کړل. او د هغه (۱۰۰زره)نسخې په امریکا کې وپېرودل شوې.

ناڅاپه د توماس دغه مقاله د امریکا د خپلواکۍ په اعلامیه کې د ۱۷۷۶ز کال د جنورۍ په څلورمه ورځ کې خپور شو چې د خپلواکۍ د اعلامیې د اصولو برخه یې داسې وه:

۱-ټول خلک یو د بل سره مساوي دي او یو شان حقوق لري.

۲-ټول خلک د ژوند او د خپلواکۍ حق درلودونکي دي.

۳-حکومت د خلکو د حقوقو د تأمینولو لپاره راغلی دی.

وروسته له خپلواکۍ، د امریکا خلک د لوېدیځ په لوري د پرمختګ سره، د هغه ځای زیاد شمېر سور پوستي له منځه یوړل.

د امریکا متحد ایالاتونو د ایالاتونو شمېر له ۱۳-۵۰ پورې ورسېدل. په دې ترتیب د متحده ایالات چې د اطلس سمندر د سواحلو څخه پیل کېږي تر آرام سمندر سواحلوته پراخوالی پیدا کړ.

اته دېرشم لوست (د امریکا د پرمختګ او لوړتیا لارې چارې)

د امریکا نفوس نظر د هغه خاورې ته کم و، او هر چا کولای شوای چې خپل ځان ته د کار او فعالیت لپاره ځای پیدا کړي.

د امریکا د وچې له کشفولو سره په ۱۴۹۲ز کال کې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په تېره بیا له اروپا څخه امریکاته زیات کډوال ورغلل. او بېلابېلو اروپایي ډلو هغه ځمکو ته په مهاجرت پیل وکړ.

برېتانوي پوهاند د سومایل اسلاټر (somail slatter) په نامه د لومړي خل لپاره په ۱۷۹۰ز کال کې په دغه هېواد کې د توکر جوړولو د کار خانې بنسټ کېښود.

د تلګراف او تلېفون د کرښې رامنځته کېدل ، چې د امریکا خټیځ او لوېدیځ یې یو له بل سره نښلول ، د بخار له ښېرو څخه کار اخیستنه په اقتصادي پرمختګ کې ګټور تمام شول.

د امریکا د پرمختګ بله لاره په ۱۸۳۸ز کال کې د مریتوب نظام له منځه وړل و، خټیځې امریکا آزادي تر لاسه کړه (۱۳۳۸م پخوانې چاپ).

د امریکا د مریتوب ضد غورځنګ چې ویلیام لوید ګارسین(William lwid garsen)په واسطه (۱۸۰۵-۱۸۷۹ز)کلونو کې رامنځته شوی وه تر پنځه ګاله پورې یې ۲۵۰۰۰۰ غړي پیدا کړل.

د امریکا د قضایه قوې چې ریاست یې جان مارشال له (۱۸۰۱-۱۸۳۵ز)کالو په غاړه درلود، د امریکا ملي یووالي لپاره یو بل پیاوړی ځواک و.

هغه دیموکراتیکې نظریې چې د خلکو پرګنو سیاسي قدرت یې زیاتولو، د لومړي ځل لپاره د انګلستان د کورنیو جګړو د ۱۷مې پېړۍ په ۴۰مه لسیزه کې رامنځته شوې وه د امریکایانو غوږونو ته هم راورسېده.

د دوولسم ټولګي تاریخ

لومړی لوست (د احمدشاه بابا د واک ته رسېدو څخه مخکې د افغانستان اقتصادي، سیاسي او اجتماعي وضعه)

د ۱۶م پېړۍ په پیل کې د افغانستان په د ننه او کاوندیو هېوادونو کې سیاسي بدلونونه پېښ شول.

د (۱۵۰۵م) کال د سلطان حسین بایقرا له مړینې وروسته افغانانو خپل مرکزي دولت له لاسه ورکړ. او تجزیه غوښتونکو د هېواد په هره برخه کې پاڅونونه وکړل، او یو له بل سره په جګړو بوخت شول.

په ماورالنهر کې شیباني دولت په ۱۵۰۱م کال کې تشکیل شو.

په ایران کې د صفویانو دولت په ۱۵۰۲م کال کې تشکیل ،او په هندوستان کې د مغلو دولت هم رامنځته شو.

درې واړو نوي تشکیل شویو دولتونو د افغانستان په شمال،لوېدیځ او ختیځو برخو باندې یرغلونه وکړل، او هېواد یې تجزیه کړ.

صفویان د لومړي ځل لپاره د هرات،قندهار،اندخوی او بلوچستان له پاڅونونو سره مخامخ شول، او افغانانو ډېر زیات مقاومت وکړ.

صفویانو د دغو پاڅونونو د غلي کولو لپاره د تولنیزې وژنې،د مالونو د چور کولو او زیاتې سخت ګیرۍ څخه کار واخیست.

ډېر ژر د هېواد په ختیځو برخو کې ملي پاڅون رامنځته شو. چې د هېواد د مختلفو قبیلو وګړو په هغه پاڅون کې ګډون وکړ.

د روښانیانو پاڅون

د دغه پاڅون مشري بایزید انصاري چې په پیر روښان سره یې شهرت درلود لرله، نومورې د شیخ عبدالله انصاري زوی چې د وزیرستان په کانې ګرام کې زیږیدلی و پر غاړه لرله. پیر روښان د مغلي دولت او خانانو دولت چې د مغولي دولت مرسته یې کوله د ظلم او زیاتي له وجې خلک د دوي پر وړاندې مبارزې ته را وبلل.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پیر روښان یو متصوف او د طریقت د لارې پیرو و.لومړی یې د توچي په دره کې په تبلیغ پیل وکړ، او وروسته یې د تیرا ښار د خپلو فعالیتونو مرکز وټاکه.

مغولي دولت د بایزید پر وړاندې آخوند درویزه ننګرهاری تحریک کړ .او هغه د بایزید ټول تعلیمات د اسلام د دین خلاف وبلل. او بایزید یې په پیر تاریک سره ونومولو. په پایله کې بایزید روښان د مغولو سره په یوه جګړه کې ووژل شو.

د دغه پاڅون رهبري وروسته له بایزید څخه د هغه زوی جلال الدین پر غاړه واخیسته، او هغه د مغولو سره په ۱۶۰۰م کال کې زیاد شمېر جګړې وکړې. چې په پایله کې یې وکولای شول په ختیځ کې له خیبر څخه تر تیرا او په جنوب کې کابل او غزنی اشغال کړي. او په پایله کې جلال الدین هم په یوه جګړه کې ووژل شو.

د جلال الدین له مرګ وروسته احداد چې د بایزید روښان لمسی کېدو د دغه پاڅون رهبري پر غاړه واخیسته. او هغه هم د مغلو سره په جګړه کې ووژل شو.

وروسته له احداد څخه عبدالقادر د رهبرۍ لپاره وګومارل شو. له هغه سره یې مور د حکومت پر چارو کې کوښښ کولو چې له همدې امله یې پېښاور ډېر ژر ونیولو؛ خو وروسته بیا د قبیلو تر منځ اختلافات رامنځته شول. په پایله کې مغولو په ۱۶۳۶ م کال کې عبدالقادر او مور یې ونیول او هندوستان ته یې تبعیض کړل.

د خوشحال خان خټک پاڅون

د ۱۶م پېړۍ په نیمایي کې د خټکو قبیله په تدریج سره د واک خاوند شوه. او په جنوب کې یې د نورو قبیلو تر منځ مهم مقام حاصل کړ.جلال الدین محمد اکبر په ۱۵۸۰م کال کې د خټکو قبیلې ته د تجارتي لارو امنیت له اټک څخه تر پېښاوره پورې ورکړ.او د دغه کار په مقابل کې یې امتیاز چې د تجارتي کاروانونو مالیه وه ،هغوی ته ورکړه .چې همدا کار د خټکو او یوسفزیو تر مینځ د اختلافاتو لامل شو.

د شاه جهان د ریاست پر مهال د خټکو د قبیلې مشر خوشحال خان خټک شو.نومورې یو توره وهونکی، سیاستمدار او ستر شاعر و.

خوشحال خان د اورنګزېب لخوا د ۴ کلونو لپاره زنداني، او ورسته له زندان څخه یې د نهضت رهبري پر غاړه واخیسته.

په ۱۶۷۰م-۱۶۷۸م کلونو کې د مغولو ۴۰۰۰۰عسکر د تاتار په جګړه کې د افغانانو لخوا ووژل شول

دمغولو دماتې څخه وروسته د خوشحال خان خټک یو زوی هندوستان ته تبعید او ووژل شو، د دغې دردناکې واقعې څخه وروسته خوشحال خان خټک د ۷۰ کلنو په عمر وفات، او د هغه له وصیت سره سم د خټکو په غرونو کې د مغولو د سیوري څخه لرې ځښ شو (مرینه۷۸کلنۍ کې په نوي چاپ کې)

د میرویس نیکه پاڅون

په ۱۶م پېړۍ کې افغانستان د بهرنیو د لاس وهنې له امله تجزیه شو.جنوبي او لویدیځې برخې د ایران صفویانو، ختیځې برخې د هند بابریانو او شمالي برخې بیا د ماورالنهر شیبانیانو تصرف کړې.

هېواد د بهرنیو د لاس وهنې او د مرکزي دولت دنشتون له کبله د اقتصادي رکود او د ټولنې د ګډوډۍ سره مخ شو، چې د خلکو د نفرت او د استقلال د غوښتلو لامل ورګرځېدو.

په ۱۷۰۹م کال کې د خلکو پاڅون د میرویس خان هوتک تر مشرۍ لاندې، د مغولو او ګرګین د قندهار والي ظلمونو ته د پای ټکی کېښود او یو مستقل مرکزي دولت په قندهار کې جوړ شو.مګر دغه دولت له ۳۰ کلونو زیاد دوام ونه کړ تر دې چې په ۱۸م پېړۍ کې د افغانستان امپراطوري د احمد شاه ابدالي تر نامه لاندې جوړه شوه.

د احمد شاه له قدرت څخه مخکې د هېواد ټولنیزه وضعه.

د افغانستان تجزیه او وېش نه یوازې د تمدن او پرمختګ بهیر په افغانستان کې له ستونزو سره مخ کړ، بلکې په هېواد کې یې د مادي او معنوي زوال یو نوی پړاو رامنځته کړ.

په دغه دوران کې افغانستان خپل مرکزي دولت او نسبتاً ښه اقتصاد، تجارت، زراعت او همدارنګه ملي آزادي له لاسه ورکړه.د هرات مکتب چې د تیموریانو په وخت کې د ادب،کلتور او علومو د ودې او انکشاف په حالت کې وه خپل رول یې له لاسه ورکړ.

مدارس او تعلیمي مرکزونه وتړل شول،او له دې امله چې د پوهانو او استادانو لپاره د تشویق سرچینه نه وه، ډېرې نورو هېوادونو ته،په ځانګړې ډول هند ته هجرت وکړ.

د احمد شاه له قدرت څخه مخکې د هېواد اقتصادي وضعه

تر هغې مخکې چې افغانستان د صفویانو، شیبانیانو او د هند د بابري کورنۍ د بریدونو لاندې راغلی وو، د افغانستان اقتصادي حالت په ټول هېواد کې نسبتاً ښه وه.

کرنه،مالداري او صنایع د افغانستان د اقتصاد درې مهمې برخې جوړولې.

د بندونو او نهرونو په جوړولو کې زیاته توجه کېده،دولتونو د زراعت انکشاف ته خاصه توجه درلوده. ځکه د دولت دعوایدو یوه برخه زراعتي مالیاتو جوړوله.

د صنایعو په برخه کې دولت صنعتګران تشویق کول، او طلا ،نقره،مس،اوسپه او سرپ په غیر فلزي ډول استخراج کېدل.

قندهار او هرات د افغانستان د مهمو تجارتي مرکزونو له جملې څخه ګڼل کې؛ نو صادرات او واردات د هندوستان،چین،ایران او ماورالنهر سره په زیاته پیمانه ترسره کېدل.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د ۱۶م پېړۍ په پیل کې هرکال ۳۰۰۰۰ په تجارتي مالونو بار اوښان د قندهار له دروازې څخه تېرېدل، او ګمرکي عواید يې دولت ته تادیه کېدل.

یو وخت قندهار د هندوستان د دروازې په نامه شهرت درلود؛خو د بهرنیو د لاس وهنې له امله افغانستان تجزیه او اقتصادي وضعیت هم خورا کړکېچن شو.

دوهم لوست (احمد شاه بابا او د مرکزی دولت ټینګښت)

د نادر افشار د لښکر یوه برخه افغانانو جوړوله. د لښکر شمېر يې تقریبا ۴۰زره غلجایي او ۱۲ زره سدوزي او ازبک وو. چې د ټولو عمومي قومندان نور محمد خان غلجایي و، چې د هغه او احمد خان ابدالي په پشنهاد سره دغه لښکر قندهار ته ستون شو.

ابدالیان،غلجیان،هزاره ګان او ازبکان د قومي جرګې غوښتونکي شول. تر څو یو نفر د مشر یا پادشاه په توګه وټاکي تر څو د هېواد چارې اداره کړي

د شپږ سرخ د مزار جرګه د قندهار د نظامي کلا په نادر آباد کې داېره شوه چې ۹ ورځې يې دوام وکړ.

یوازینی کس چې په دغه جرګه کې يې خاموشي اختیار کړې وه احمد شاه ابدالي وو، ځکه چې هغه د سدوزیو په قبیلې پورې تړاو درلود او سدوزي نظر نورو ته د لوی مقام چښتنان وو.

په پایله کې د ۹ ورځو په ترڅ کې مختلفې فیصلې وشوې، تر څو یو نفر انتخاب کړي، مذکور شخص یو روحاني کس وو چې په هېڅ یوې قبیلې پورې يې اړه نه لرله، صابر شاه کابلی مشهور په لایخوار وو، چې د قندهار خلکو هغه ته ارادت او په هغه باندې کامل باور درلود. دغه شخص احمد شاه ابدالي معرفي کړ. او د غنمو څو وړې يې د هغه پر پګړۍ چې د تاج حیثیت يې درلود بند کړل. او د قبیلو مشرانو د احمد شاه بابا سره بیعت وکړ، او احمد شاه د هېواد د پادشاه په توګه وپېژندل شو.

احمد خان د زمان خان زوی او د دولت خان لمسی د سدوزیو له قبیلې څخه و، د احمد خان مور زرغونه د عبدالغني خور چې د نادر افشار په وخت کې د قندهار والي و وه.

احمد خان په ۱۷۲۲م کال کې په هرات کې زېږېدلی دی. مورخینو احمد شاه د زېږېدلو پر ځای باندې اختلاف لري ځینې يې هرات او ځینې يې ملتان بولي.

احمد خان په ځوانۍ کې د نادر افشار په لښکر کې وو، د هغه لیاقت نادر افشار ته معلوم، او هغه يې د ازبک او ابدالي قطغانو قومندان وټاکو.

د نادر افشار له مرګ وروسته په ایران کې بېنظمي پیل شوه، د هېواد په شمال کې د جنیدي لښکر مخ په زوال وو؛ خو په هند د مرهټه دولت د سیواجي په مشرۍ را پورته شول.او وروسته د اورنګزېب له مړینې د هند بابري دولت په دې قادر نه وو چې د افغانستان په کورني مسایلو کې لاس وهنه وکړي.

کله چې احمد شاه ابدالی واکمن شو لاندې ټکي يې د یوه باثباته دولت د تشکیلولو لپاره په نظر کې ونیول.

اول هدف يې ملي وحدت او د بیا د مرکزي دولت جوړول وو، دوهم هدف يې د سرحداتو ټاکل چې له آمو څخه تر سند پورې مشخص شول او دریم هدف يې د خپل هېواد څخه د بهرنیو په وړاندې دفاع وه.

د دغه سلطنت په بهیر کې ځینې کارونه تر سره شول، لکه:د قندهار او تاشقرغان ښارونو اعمار او د خپلې مقبرې اعمار د خرقه مبارکې تر څنګ چې د هغې دورې د معماری د سبک استازیتوب کوي.

احمد شاه بابا د عرفان او ثقافت سره زیاته مینه درلوده .او په هغه وخت کې چې شمېر کتابونه لیکل شوي دي، د بېلګې په توګه،تاریخ احمد شاهي په دوه ټوکه د خپل دربار د منشي په واسطه محمودالحسیني ،تواریخ حافظ رحمت خواني د میر محمد فاضل لخوا، طبي کتاب بحرالفواید د قاضي دل محمد افغان لخوا او الخلاصت الانساب د حافظ خان برېځ د پښتو د نصب په اړه بحث کوي.

لومړی موزیم په قندهار ښار کې د بیت الشرف په نوم جوړ شو،احمد شاه بابا په هرات قندهار او پېشاور کې لویې مدرسې تأسیس کړې چې مشهور ترینه يې د قندهار زړه جامع مدرسه وه.

دریم لوست (د احمد شاه بابا سفرونه)

د احمد شاه بابا نظامي سفرونه

لومړی سفر(۱۷۴۷-۱۷۴۸)

سپه سالار خان جهان خان د غزني،کابل،جلال آباد له لارې تر پېشاور او د سند تر سواحلو پورې ورسېد.

د کابل او پېشاور والي ناصر خان چې تر اوسه په قدرت کې وو، غوښتل يې چې د هزارګانو او ایماقو د حمایت په واسطه د افغاني لښکرو سره جګړه وکړي مګر هزارګانو او ایماقو دغه جګړې ته زړه ښه نه کړ.

احمد شاه بابا د ختیځ طرف ته حرکت وکړ. او د لارو په اوږدو کې د خلکو د هرکلي سره مخ شو.د پنجاب والي د احمد شاه بابا سره په جګړه کې بریالی نشو .او لاهور ته وتښتېد احمد شاه بابا لاهور هم ونیولو.

د هند شاهینشاه د احمد شاه بابا د پرمختګ له امله په وېره کې ولوېد،مغولی احمد شاه خپل ولیعهد او صدراعظم(قمرالدین) د زیاتو قواو سره د افغانونو خلاف جګړې ته ور ولېږل، چې افغانان د هندوانو د توپخانې له خوا سخت تلفات ورکړل.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

احمد شاه بابا مجبور شو چې پنجاب مېرمنو او ملتان زاهد خان ته وسپاري او خپله د هغه پاڅون د غلي کولو لپاره قندهار ته مخه کړه چې وراره يې لقمان خان په لاره اچولی وو.

دوهم سفر

احمد شاه بابا د ۱۷۴۹م کال په لومړيو کې هرات ته سفر وکړ، چې درې نفرو د نادر افشار له حاکمانو څخه تسليم شوي وو. چې يو يې دروېش خان هزاره وو، او خپله آزادي يې د احمد شاه بابا څخه اعلان کړه، احمد شاه بابا هرات له دروېش خان څخه تصرف کړ، او دروېش خان يې د هرات والي وټاکه.

احمد شاه بابا خپل صدراعظم شاه وليخان ته امر وکړ، چې شمالي سيمو ته سفر وکړي، ځکه چې د جنيدي دولت له زوال وروسته مره،فارياب،جوزجان،بلخ،بدخشان او تخارستان خود مختاره شوي وو.

درېم سفر

عباس قلي بيات په ۱۷۵۰م کال د نېشاپور په نيار کې په پسرلي کې بغاوت وکړ .احمد شاه بابا نېشاپور ته سفر وکړ.

عباس قلي بيات احمد شاه بابا ته په جګړه کې ماته قبوله کړه، احمد شاه بابا هغه ته عفوه وکړه، او د نېشاپور والي يې مقرر کړ.

کله چې احمد شاه بابا هرات ته ورسېد ،نوخبر شو چې مير علم خزيمه پر مشهد حمله کړې، او وروند شاهرخ خان يې خلع صلاح کړې.

خلورم سفر

په ۱۷۵۱م کال کې مېرمنو د پنجاب والي د هغه مالياتو څخه انکار وکړ کوم چې مخکې يې عهد کړی وو، احمد شاه خپل استازی وروليږه، مګر مېرمنو د مالياتو د ورکولو څخه انکار وکړ.

احمدشاه بابا ختيځ ته سفر وکړ،مېرمنو د پنجاب والي گورامل د احمد شاه بابا مقابل ته وروانشاوه، جنګ په شاه دره کې پېښ شو، گورامل ووژل شو او لښکر يې ماتې وخوړه.

مېرمنو د احمد شاه بابا څخه د عفوې غوښتنه وکړه، احمد شاه بابا ورته عفوه وکړه. مېرمنو د مالیات د ورکولو او تعهد يې وکړ ، دا يې وويل چې پنجاب او ملتان به د افغانستان يوه برخه وي.

احمد شاه بابا دغه تعهد خط د قلندر خان په واسطه سره د دهلي دربار ته ولېږه، د همدې تعهد خط له مخې پنجاب،ملتان اوسند د افغانستان اړوند شول.

د ۱۷۵۱م کال په ورستيو کې احمد شاه بابا د خواجه عبدالله په مشری يو پوځ د دې لپاره ولېږه ،چې د اټک او حسن ابدال له لارې کشمير ته لاړ شي، د دې هدف دا وو چې د کشمير حاکمان د هند له دولت سره خپلې اړيکې پرې کړي او خپل الحاق له افغانستان سره اعلان کړي

پنځم سفر(۱۷۵۶م-۱۷۵۷م)

د پنجاب والي مېرمنو په ۱۷۵۳م کال کې وفات شو، احمد شاه بابا پنجاب ته سفر وکړ، او د هغه نابالغ زوی محمد امين يې د پنجاب والي وټاکه.

د محمد امين مور بېګم مغلاني دولتي چارې مخته بيولې، دا په داسې حال کې وو ،چې دهلي د عمادالملک غازي الدين د هند صدر آعظم د لاس آله ګرځېدلې وه. غازي الدين،احمد شاه د محمد شاه زوی د هند پادشاهي څخه لرې کړ. او پر ځای يې دوهم عالمګير د دهلي واکمن کړ، هغه بېکم مغلاني اسيره کړه او د پنجاب ولايت يې ادينه بېک ته وسپاره.

عالمګير خپل لښکر د سهارنپور د والي نجيب الدوله تر مشری لاندې د احمد شاه بابا مقابل ته د جګړې لپاره وروانشاوه، مګر نجيب الدوله پرته له جګړې د احمد شاه بابا سره يوځای شو. او عالمګير مجبور شو چې د احمد شاه بابا څخه په دهلي کې استقبال او ښه راغلاست وکړي. احمد شاه بابا د دوستۍ د ساتلو لپاره د عالمګير وربره خپل مشر زوی تېمور شاه ته نکاح کړه

شپږم سفر: د جنوب پر لور

کله چې احمدشاه بابا د هند څخه افغانستان ته سفر وکړ؛ نو د افغانستان سردارانو د پنجاب پر بزګرانو باندې درنې مالیې وټاکلې. چې دغه مالیې د انقلابونو او پاڅونونو لامل وګرځېدلې. د دغه پاڅونونو مشري د سکانو د قبيلې پر غاړه واخيسته او د امرتسر په سيمه کې يې په تشکيلاتو پيل وکړه .

په نتيجه کې د افغانانو او سکانو ترمنځ اخ او ډب رامنځته شو. د هند سپاه سالار نجيب يوسفزی وتښتېدلو. جټان او راجپوتيان د مرهټه له قواوو سره يو ځای شول.

د هند پخواني صدراعظم غازي الدين سکان په پنجاب کې د افغانانو په خلاف تحريک کړل.ادينه بېک د سکانو په کمک سره زيات شمير افغانان د جلندر په سيمه کې ووژل.

د ۱۷۵۸م کال د اپرېل په مياشت کې افغاني قواوو شکست وخوړ او عبدالصمد خان اسير شو.

پاڅون کوونکو پرته له اودې سيمې څخه نور د ټول هند واک لاس ته راوړی وو،

افغاني لښکر د شاولي خان په مشری د بلوچستان په لوري روان شو، او نصير خان د بلوچستان رهبر په جګړه کې ماتې وخوړه او د احمد شاه بابا څخه يې د عفوې غوښتنه وکړه.

اووم سفر-د پاني پت جګړه(۱۷۶۰م-۱۷۶۲م)

د احمد شاه بابا دغه سفر په ختيځ کې له زيات اهميت څخه برخورداره دی ځکه چې په هند کې په ۱۷۵۸م کال کې ډيرې مهمې پېښې رامنځته شوې لومړی دا چې سکانو په پنجاب کې پاڅون وکړ، دوهم د مرهټه وو حکومت مرکزي او شمالي هند ته داخل شو، دريم دا چې اسلامي حکومت کوم چې د مسلمانانو په واسطه جوړ شوی وو له سقوط سره مخ شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په داسې حال کې چې احمد شاه بابا د نصیر خان بلوچ د تاکلو لپاره تللی وو. کله چې د مرهټه وو رئس سندیا مرکزي هند ته ورسید،جټانو او راجپورتیانو سره اتحاد وکړ او سندیا د پنجاب په لور حرکت وکړ او ادینه بېک هم ورسره یوځای شو او پنجاب یې اشغال کړ،شهزاده تیمور او سردار جهان خان تر پېشاوره پورې عقب نشیني وکړه.

احمد شاه بابا دری فوځي ډلې تاکلې وې،لومړی د سندیا لپاره د ډهلي په لاره،دوهم د هولګر لپاره د جمنا د سیند چپې غاړې ته او ورستی د جنګورا او غازي الدین لپاره.

د مرهټه وو رهبر بالاباجي ټولو مرهټه وو مشرانو ته خبر ورکړ چې یو نوی پوځ جوړ کړي. مرهټه ګانو له راجپوتیانو سره اتحاد وکړ چې شمېر یې ۲۰۰زره تنو ته رسېده.په داسې حال کې چې د احمد شاه بابا لښکر چې شمېر یې ۶۰زره کسانو ته رسیده.په پاني پت کې یوه لویه او عظیمه جګړه وشوه، چې افغاني لښکر په دغه جنګ کې بریالی او دښمنانو ماتې وخوړه.

کله چې احمد شاه بابا ډهلي ته داخل شو نو د ډهلي تخت یې شهزاده علي ګوهر،سیاسي چارې یې شجاع الدوله او نظامي چارې یې نجیب الدوله ته وسپارلې او خپله احمد شاه بابا د قندهار پر لور روان شو،

اتم سفر (۱۷۶۲م-۱۷۶۳م)

په ۱۷۶۲م کال کې سکانو د جیساسنګ په مشری په پنجاب کې یو ځل بیا پاڅون وکړ، او امرتسر یې په نظامي مرکز باندې بدل کړ او په کشمیر کې یې د افغانانو پر ضد تبلیغات شروع او لاهور یې اشغال کړ.

احمد شاه بابا د پنجاب په لور حرکت وکړ، د سکانو ۷۰زره لښکر یې تار و مار کړ، او نجیب الدوله ته یې امر وکړ ترڅو د سرهند او کشمیر امنیت تأمین کړي.

نهم سفر ۱۷۶۳م

سکانو، جټانو او مرهټه وو سره اتحاد وکړ پر پنجاب او سرهند یې حملې پیل کړې او غوښتل یې چې ډهلی تصرف کړي، احمد شاه بابا په ۱۷۶۳م کال کې د پنجاب پر لور خپل لښکر بوتلو او پاڅون کوونکو ته یې سخته ماته ورکړه.

د ۱۷۶۳م کال کې احمد شاه بابا خپل صدراعظم شاولي خان د بلخ په لور ولېږه تر څو د جنیدي حکومت د ورستي پادشاه عبدالعزیز خان سره مذاکرات وکړي.

د مذاکراتو پایله دا شوه چې د آمو دریا د افغانستان او بخارا ترمنځ مرز وټاکل شو. او ورسته شاه ولي خان بدخشان ته لاړ او له هغه ځای څخه یې خرقه مبارکه قندهار ته یوړه.

لسم سفر ۱۷۶۹م

په ۱۷۶۹م کال کې د نصرالله میرزا ، نادر میرزا او د شاه رخ خان د زامنو تر منځ د قدرت پر سر باندې اختلاف پیدا شو دغه اختلافاتو د هیواد وضعه خرابه کړه، احمد شاه بابا مشهد ته سفر وکړ ځکه چې نصرالله میرزا د کریم خان زند سره ارتباط برقرار کړي وو.

د تون او طبس حاکم علي مراد شورش وکړ. احمد شاه بابا مشهد محاصره کړ. احمد شاه بابا سپاه سالار جهان خان او د بلوچستان والي نصرالله د علی مردا د ټکولو لپاره موضف کړل چې په نتیجه کې علی مراد په جګړه کې ووژل شو.

نصرالله تسلیم شو او رونډ شاهرخ خپله لور د احمد شاه بابا مشر زوی تیمور شاه ته په نکاح ورکړه.احمد شاه بابا د نادر افشار په ویاړ خراسان شاهرخ ته وسپاره، او خپله یې قندهار ته بلنه ورکړه دا د احمد شاه بابا ورستی سفر وو.

د احمد شاه بابا وفات

احمد شاه بابا له ۲۶ کاله واکمنی ورسته د سرطان په مریضی مبتلا شو، او د ۵۰کالو په عمر یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې د ده د وصیت سره سم په ۱۷۷۳م کال کې د خرقې مبارکې تر څنګ دفن شو. احمد شاه بابا هیواد متحد کړ. او د هغه د تقوا،پرهیزګاری،نیکو اخلاقو او ښه چلند له امله خلکو ورته د بابا لقب ورکړ.

احمد شاه بابا تر لسو وارو څخه زیاد هند،خراسان او شمال ته سفرونه کړي. کله چې دی په ۱۷۷۳م کال کې وفات شو یوه لویه امپراطوري یې په میراث پرېښوده، چې په ختیځ کې تر سرهند،په لوېدیځ کې ترسبزوار او د مشهد تر لوېدیځه،په شمال کې آمو سیند او په جنوب کې د عربو تر بحیرې پورې یې سرحدات وو.

څلورم لوست (د احمد شاه بابا ځای ناستی)

1.تیمور شاه(۱۷۷۳-۱۷۹۳م)

تیمور شاه د احمد شاه بابا زوی په ۱۷۴۲م په مشهد کې زیږېدلی ،هغه یو تعلیم یافته شخص او د دری ژبې شاعر وو. د احمد شاه بابا د واکمنی پر مهال دی د هرات والي وو. احمد شاه بابا د خپلې واکمنی پر مهال دی خپل ولیعهد یا ځای ناستی ټاکلی وو.

د احمد شاه بابا د مرګ ورسته شهزاده سلیمان د خپل خسر شاه ولیخان پر مرسته په قندهار کې خپله واکمني اعلان کړه. کله چې تیمور شاه له هرات څخه قندهار ته ورسید شاه ولیخان یې وواژه او شهزاده سلیمان یې له مقام څخه لرې کړ. په دې ډول یې خپله واکمني اعلان کړه.

کله چې تیمورشاه واکمن شوه نو د خپلې واکمنی په لومړی کال یې پایتخت له قندهار څخه کابل ته انتقال کړ. او د هیواد په داخل او خارج کې یې شورشونه په بریالیتوب سره غلي کړل.

تیمور شاه د خپلې ۲۰کلنې واکمنی په دوره کې کومه لویه امپراطوري چې د پلار څخه یې ورته پاتې وه وکولی شول ورڅخه محافظت وکړي، خو ویې نشوای کولای چې پراختیا

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ورکړي. د تیمور شاه د زامنو بې غوري،د ایران مداخلې او د روس و انګلیسي سیالیو ورسته د تیمور له مرګ څخه وروسته ددې لوېې امپراطوری د زوال لاملونه وو، تیمور شاه په ۱۷۹۳م کال کې وفات او په چهارباغ سیمه کې دفن شو.

2.زمان شاه (۱۷۹۳-۱۸۰۱م)

زمان شاه د دې لپاره چې واکمن پاتې شي،د جرګې اعضاء یې د کابل په بالاحصار کې د کم وخت لپاره د نظر لاندې نیولی وو، یوازې د شاه زمان خان دوه ورونو چې محمود او همایون نومیدل د هغه واکمني قبوله نکړه.

په دوه مختلفو جګړو کې همایون او محمود ماتې وخوړې همایون یې ړوند کړ او محمود ایران ته وتښتېدلو.

د زمان شاه په دوره کې ناپلیون بناپارت خپل نماینده د ایران له لورې کابل ته راولېږه، او غوښتنه یې وکړه چې له افغانستان څخه به ۷۰زره په اندازه لښکر د هندوستان خاورې ته د انګلیس د پیشرفت د مخنیوي لپاره تیرېږي.شاه زمان دغه غوښتنه رد کړه څکه هغه ۱۵۰زره مسلح عکس درلودل او غوښتل یې چې هند د انګلیس څخه وژغوري.

محمود د زمان شاه ورور د ایران د قاجاري دولت او د تښتیدلو سردارانو په مرسته پرته له جنګ څخه هرات او خراسان ونیول او وروسته یې په سیستان او فراه حمله وکړه او تر قندهاره ورسید.

شاه زمان د دغه حالت په لیدلو سره د پشاور طرف ته مخه کړه خو د شنوارو په منطقه کې د ملا عاشق شینواري په واسطه ونیول شو او د خپل ورور محمود په واسطه سره ړوند شو، په دې ډول محمود واکمني ترلاسه کړه.

زمان شاه مخکې له ړندېدلو څخه د کوه نور الماس پټ کړي وو، وروسته له زمان شاه د انګلیس لاس وهنې د ایران مداخلې او د خلکو اعتراض یو خل بیا افغانستان د سیاسي او اقتصادي بحران سره مخامخ کړ.

3.شاه محمود ابدالي(۱۸۰۱-۱۸۰۴م)

دشاه محمود وروسته د شاه زمان د ړوندولو او خلع سلاح کولو څخه د وزیر فتح خان په واسطه واکمنی ته ورسېد.

شاه محمود د فتح خان د خدمتونو په ویاړ هغه ته د شاه دوست لقب ورکړ.

د ایران قاجري دولت د انګلستان د لاس آله ورګرځېدله، او د خراسان ولایت د تجزیې په کوښښ کې وو.

د پنجاب ولایت چې د افغانستان د قلمرو څخه وو هلته سکانو خپلواکي اعلان کړه.

وزیر فتح خان د مالیاتو د راټولولو لپاره د پېشاور،کوهاټ او بنو په طرف روان شوو ،وروسته د مالیاتو د راټولو څخه د قندهار په لور د شهزاده کامران ملاقات ته ورغلو. او له قندهار څخه کابل ته راستون شو. او د صدراعظم په ډول د اکرم خان پر ځای وګومارل شو. او په همدې وخت کې یو شمېر لوړ رتبه مامورین د شاه شجاع طرف ته وتښتېدل.

خلک د شاه محمود له کمزورې اداري څخه په تنګ راغلي وو ،او پاڅون یې وکړ، شاه محمود یې د کابل په بالاحصار کې بندي او کلابند کړ.

د شاه محمود قواوو مقاومت وکړ ،تر دې چې د کوهدامن او کوهستان خلک د شاه محمود کمک ته کابل ته راورسېدل ،خو شاه محمود زنداني او وزیر فتح خان ته یې د قعله قاضي په سیمه کې ماتې ورکړه. په همدې ترتیب د شاه محمود د لومړۍ دورې واکمني پای او د شاه شجاع د واکمنۍ لومړۍ دوره پیل شوه.

پنځم لوست (ځایناستي)

د شاه شجاع د واکمنۍ لومړۍ دوره(۱۸۰۴-۱۸۰۹م)

وزیر فتح خان د مالیاتو د ټولولو په باب بامیانو ته تللی وو ،کله چې راغلو غوښتل یې چې شاه محمود له محاصرې څخه خلاص کړي، او سلطنت له سقوط څخه وژغوري؛ نو د وزیر فتح خان او شاه شجاع د قواو تر منځ جګړه د قلعه قاضي په منطقه کې پېښه شوه ،چې وزیر فتح خان ماتې وخوړه ،او قندهار ته د شهزاده کامران لوري ته وتښتېدلو.

د شاه شجاع خلکو ملا عاشق شینواری کابل ته راوست، لومړۍ یې د کوه نور الماس تړې واخیست او بیا یې مړ کړ.

شاه شجاع وزیر فتح خان ډېر په درنښت سره کابل ته دعوت کړ.شاه شجاع د دوست محمد خان له لور سره چې د وزیر فتح خان ورېره کېدله واده وکړ ،خو له دغه کار سره سره یې بیا هم یو پر بل باور نه درلود.

شاه محمود د کابل له بالاحصار څخه وتښتېدلو.او د شاه شجاع او شاه محمود تر منځ جنګ پېښ شو چې شاه شجاع پکې ماته وخوړه او شاه محمود د دوهم خل لپاره واکمن شو.

د شاه محمود د دوهم خل واکمنۍ دوره(۱۸۰۹-۱۸۱۸م)

شاه محمود د دوهم خل لپاره د وزیر فتح خان په مرسته واک ته ورسېد. او هغه لوړ رتبه مامورین چې شاه شجاع ته ورتښتېدلي وو .لکه محمد اکرم خان،امین الدوله،شېر محمد خان مختارالدوله او میر علم یې په اعدام محکوم کړل.

وزیر فتح خان د قدرت د حاکم کولو لپاره د شاه محمود په دوهم خل واکمنۍ کې خپل ورونه په لوړو دولتي رتبو باندې وګومارل

پېشاور د شاه شجاع له قلمرو څخه وه، او کشمیر د عطامحمد لخوا اداره کېده. او د مرکزي دولت اوامرو ته یې غاړه نه اېښوده.

په هرات کې د شاه محمود ورور فېروزالدین واکمني کوله، او شاه محمود په خپله دوهمه دوره کې اکثریت په پایتخت کې وو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

افغاني قواوې په ختیځ کې په جنګ بوختې وې،ایراني لښکرو غورات اشغال کړ، او فېروزالدین له مرکز څخه د مرستې غوښتنه وکړه .تر څو د ایراني لښکر دېرمختګ مخنیوی وکړي. وزیر فتح خان د ۳۰زره عسکرو سره د هرات په لوري روان شو.

وزیر فتح خان فېروزالدین سره له کورنۍ قندهار ته ولېږه. او د فېروزالدین سرمایه او زېورات د وزیر فتح خان د ورور دوست محمد خان د خلکو په واسطه چور شول.

شاه محمود چې کله د دغې سپکاوي څخه خبر شو نو؛ شهزاده کامران یې د دوست محمد خان د ټکولو لپاره هرات ته واستاوه. دوست محمد خان وتښتېدلو او وزیر فتح خان یې ونیولو او رونده یې کړ.

کله چې د وزیر فتح خان ورور د رندېدلو څخه خبر شو؛ نو هغه په ټول افغانستان کې له کشمیر څخه تر هرات پورې په پاڅونونو پیل وکړ. او دوست محمد خان له کشمیر څخه راغلو او کابل یې تصرف کړ.

کله چې د شاه محمود غوښتنه قبوله نه شوه وزیر فتح خان یې وواژه. هرات ته لاړو او هلته یې حکومت پیل کړ چې دغه حکومت تر ۱۸۴۲م کال پورې دوام وکړ.

شپږم لوست (دواک په سر سیالي او اختلافونه)

د محمدزیو کورنۍ د بارکزیو له کورنۍ یو شاخ وه، چې د قندهار له دورانیو څخه دي.

محمد بن عمر د داور او بارک له تېر څخه وو،نوځکه بارکزي او محمدزي په یو تېر پورې اړه لري.

حاجي جمال بن حاجي یوسف بن یارو بن محمد چې د شېر سرخ د مزار د جرګې یو غړی همدارنګه د احمد شاه بابا د دربار مشاور هم وو.

سردار پاینده محمد خان بارکزی د زمان شاه د سلطنت په دوران کې په قتل ورسېد؛ نو وزیر فتح خان د خپل پلار د غچ اخیستلو لپاره د زمان شاه د حکومت په نسکورېدو کې فعال رول درلود.

وزیر فتح خان د شلو په شاو خوا کې ورونه درلودل، او هر یوه یې د حکومت غوښتنه کوله، او د قدرت په سر جنګېدل.

د دوی تر منځ د قدرت په سر جګړو شل کاله دربر ونیوه، او هېواد یې د بې نظمۍ او ناقراری لور ته بوتلو. او د هېواد د وګړو لپاره یې بغیر له بدبختۍ او بېچارګۍ نه نور هېڅ نه درلودل.

سردار دوست محمد خان چې کله کابل تصرف کړ. خپل ورور امیر محمد خان یې د غزني والي وټاکه، مګر وروسته د +د والي محمد عظیم خان کابل ته له داخېلېدلو د هغوی تر منځ مخالفتونه رامنځته شول.

سردار محمد عظیم خان(ایوب شاه) او سردار دوست محمد خان (سلطان علي شاه) سلطنت ته ورسول، هغوي یوازې په نامه پادشاهان وو. نور ټول صلاحیتونه او قدرت له دواړو ورونو سره وو، په کابل کې همزمان دوه پادشاهان او دوه وزیرانو وجود درلود.

په ۱۸۱۹م کال کې سردار محمد عظیم خان سلطان علي شاه له واک څخه لرې، او دوست محمد یې له وزارت څخه ګوښه کړ.

کابل سردار محمد عظیم خان ته،غزنی امیر دوست محمد خان ته،پېشاور سردار یار محمد خان ته،کشمیر سردار نواب عبدالجبار خان ته،دېره جات(دېره اسماعیل او دېره غازی) نواب محمد زمان خان ته ورکړل شول.

په شمالي او مرکزی ولایتونو لکه: بدخشان،تخار،بلخ،میمنه او جوزجان کې ملک الطوایفي(سیمیز) حکومتونه وو .

د هرات ولایت د شاه محمود په واسطه اداره کېده.په همدې ډول افغانستان د وزیر فتح د ورونو تر منځ تقسیم او تجزیه شو.

رنجیت سېنګ نظر په هغه قرار داد چې له انګلیسانو سره یې امضا کړی وه. نه یې شوای کولای چې د ستلج ته له سیند څخه تېر شي، او نورو سیمو ته لاس رسی پیدا کړي؛ نو په همدې ترتیب د هېواد ختیځو برخو ته متوجه شو، لومړی یې ملتان او کشمیر وروسته یې پېشاور تر اټکه پورې ونیولو.

سردار محمد عظیم خان او امیر دوست محمد خان د بایلل شویو برخو د بېرته نیولو په موخه سند ته ولاړل.

سردار محمد عظیم خان د لارو په اوږدو کې مریض او وفات شو. چې د عاشقانو او عارفانو په زیارت کې خاورو ته وسپارل شو.

لومړی امیر دوست محمد خان جلال آباد ته سفر وکړ، او هغه ځای یې تصرف کړ .او وروسته یې خپلې قواوې قندهار ته بوتلې، هلته یو لوی جنګ چې د امیر دوست محمد خان او د انګلیسانو او شاه شجاع تر منځ پېښ شو دښمن ماته وخوړه او قندهار امیر دوست محمد خان تصرف کړ.

اووم لوست (د واک انتقال)

د واک انتقال او لاس وهنې(۱۸۱۸-۱۸۳۴م)

د سدوزیانو حکومت د احمد شاه بابا له سلطنت سره(۱۷۴۷م) پیل او د سلطان ایوب شاه د سلطنت له پای سره ختم شو.

علماوو امیر دوست محمد خان ته مشوره ورکړه. چې خپل ځان امیرالمومنین اعلان کړي، تر څو د شرعي جهاد صلاحیت ورته محیا شي.

په ۱۸۳۵م کال کې امیر دوست محمد خان د یو شمېر با اعتماده کسانو سره د عیدګاه جومات ته لاړو(هغه وخت عیدګاه جومات بګرامیو تر څېرمه موقعیت درلود).په دغه وخت کې میر حاجي د میر واعظ زوی د علما په رأس کې وو هغه امیر دوست محمد خان د ساده مراسمو په پایله کې امیرالمومنیین اعلان کړ. او لومړی خطبه یې په نامه وویل شوله.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هغه لښکر چې د ۵۰زره پیاده او ۱۰زره سواره څخه جوړ شوی وو په ۱۸۳۵م کال کې د پېشاور حوزې ته داخل شو. د شېخانو په موضع کې د خیبر د درې بل اړخ ته مستقر شول.

انګلیسانو یو هیت د هارلان په مشرۍ د امیر دربار ته ورولېږه. هارلان دنده درلوده چې د افغانانو تر منځ تفرقه واچوی.هارلان سلطان محمد خان ته د پېشاور د واکمنۍ وعده ورکړه.

سلطان محمد خان ۱۰زره قواوې د امیر دوست محمد خان له لښکر څخه جدا کړې. کله چې امیر دوست محمد خان دغه وضعیت ولید سمدلاسه د کابل په لوري روان شو. او د امیر دغه تصمیم ټول حیران کړل.

انګلیسانو د امیر دوست محمد خان څخه وغوښل چې ناپلیون ته اجازه ورنه کړي چې د افغانستان له خاورې هند ته داخل شي. امیر دوست محمد خان د پېشاور په استېرداد سره دغه شرط قبول کړ.

د مثلث معاهده چې د شاه شجاع،رنجیت سینګ او انګلیسانو تر منځ په ۱۸۳۸م کال کې شوې وه، په لاندې ډول ده.

1.شاه شجاع دې د افغانستان له ټولو حقوقو څخه د سند سیند خټیځ کې، په افغاني سیمو لکه پېښور او دېره جات د سک دولت په ګټه تېر شي.

2.د پنجاب امیر ژمنه کوي چې د خپل لښکر په مرسته به د شاه شجاع ته مرسته ورکړي. تر څو هغه بیا د افغانستان تاج او تخت ترلاسه کړي.

3.د بریتانیا دولت د یوه دوست او خیر خواه په توګه تعهد کوي، چې د جانبینو د پولو په تامین کې مرسته وکړي.

د دغه خرابې وضعې سره سره امیر دوست محمد خان،سردار وزیر محمد اکبر خان او سردار غلام حیدر خان د غزني ولایت والي ته امر وکړ. چې په خپل پوره توان سره دفاع وکړي، مګر هغوی مقاومت ونه شوای کولای انګلیسانو لومړی غزنی تصرف وروسته کابل ته نیږدې شول.

اتم لوست (شاه شجاع او ملي پاڅون)

شاه شجاع او ملي پاڅون

د کابل او قندهار لاره بنده شوه، او په ختیځه برخه کې د سید جمال الدین افغان په مشرۍ پاڅون وشو.

امیر دوست محمد خان له بخارا څخه ووتلو، او د کابل د تصرف لپاره یې آمادګي ونیوله. لومړی له تاشقرغان څخه کوهستان ته لاړو، د هغه ځای خلکو د میر مسجدي په مشرۍ سره د انګلیسانو سره د جګړې په حال کې وو.

امیر دوست محمد خان مجبور شو کابل ته راغلو او خان یې انګلیسانو ته تسلیم کړ. مکناټن اصرار کولو چې دی د شاه شجاع د وزیر په توګه دنده سرته ورسوي. مګر امیر دوست محمد خان قبوله نه کړه، او ترجیح یې ورکړه چې افغانستان ترک کړي،انګلیسانو هغه سره له کورنۍ کلکتې ته ولېږه.

ملي پاڅون له کابل څخه پیل، او وروسته د معاهدې له تړون څخه د قوم مشران لکه: نایب امین الله لوګري، عبدالله اچکزی او نورو قومي مشرانو ځای ځای پاڅونونه پیل کړل .

مجاهدینو لومړی برنس په خپل کور کې ووژه. او وروسته یې د انګلیسانو ټول ذخایر او اسلحې ضبط کړې.

نورې قبیلې لکه: د کوهستان خلک،لوګر، وردګ د کابل له مجاهدینو سره یو ځای شول. او انګلیسانو ته یې زیات تلفات ورواړول .او د انګلیسانو ځینې عسکر یې په شېرپور کې محاصره کړل.

وزیر محمد اکبر خان د دغې حساس وخت څخه په استفادې ،مکناټن په هغې تفنچې چې ده ته یې ډالۍ کړې وه ووژه .په همدې ډول د انګلستان سیاسي وزیر او وزیر مختار (ولیام مکناټن) ووژل شو.

د کابل د خوشي کولو شرایط

د کابل د تخلیې شرایط د ټول افغانستان پرېښودل. د انګلیسانو له طرفه او د ټولو اسلحو د تسلیمولو بغیر د شپږ عراده توپونو وو ،چې هغوی بیا په ماشه باندې ګوته کې نړدی ،سره د ماهدې له تړون هغه بیا هم کوښښ کولو چې په جلال آباد کې د خپلو خلکو سره رابطه وکړی.

د دغه سره سره د لارو په اوږدو کې د مجاهیدینو د حملې لاندې راغلل ،او د سخت مالي او انساني تلفاتو سره مخامخ شول د ۱۶۵۰۰ خلکو څخه یوازې یو نفر ډاکټر برایډن په نیم ژوانديځان پېښور ته ورسېدلو.

دغه حیرانونکی پېښه د لندن په سیاسي کړیو کې ډیره ګرمه راغلې وه .د هند وایسرای (لارد اکلند) تبدیل او پر ځای یې لارد لیتن برون وګومارل شو.

انګلیسانو د غچ او د خپل د حیثیت د ساتو په موخه دوه ډلې لښکر د افغانستان په طرف راولېږل. ۲۰زره عسکر د جنرال پالک په مشرۍ د افغانستان په لوري روان شول .او انګلیسانو د شاه شجاع سره اړیکې ټینګې کړې.

شاه شجاع د هېواد ورځني معلومات انګلیسانو ته ورکول.

مخکې د جنرال پالک له رارسېدلو څخه خلکو شاه شجاع ووژاه .او فتح جنګ د شاه شجاع زوی واک ته ورسېد هغه هم د امیر دوست محمد خان د وروڼو د مخالفت سره مخ شو، او انګلیسانو ته یې پناه یوړه. وروسته له فتح جنګ څخه ورور یې شهزاده شاه پور سلطنت ته ورسېد.

د انګلسانو دوهمه ډله د جنرال ناټ په مشرۍ قندهار ته ورسېدله، او په همدې وخت کې امیر دوست محمد خان له کلکتې څخه کابل ته راورسیدلو او د وخت حالات یې په لاس کې ونیول.

نهم لوست(امیر دوست محمد خان)

د.امیر دوست محمد خان دوهم ځل واکمني

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

امیر دوست محمد خان په ۱۸۴۲م کال کې د دوهم خل لپاره سلطنت ته ورسېد. لومړی يې داخلي اصلاحاتو باندې لاس پورې کړ. خکه چې ملوک الطوايفي وضعه متلاشي کړې وه.

وزیر محمد اکبر خان د امیر دوست محمد خان زوی ،یو وطن دوسته او فداکاره شخص د هېواد د ملي وحدت د قأیم کولو لپاره يې زياتې ستونزې وګاللې. تر دې چې وزیر محمد اکبر خان د ۲۹ کلو په عمر د هندي طبیب لخوا د زهرې دارو له کبله شهید شو. او د مزار ولایت په روضه مبارکه کې چې حضرت علی رض ته منسوب ده خښ شو.

امیر دوست محمد خان په دوهم خل واکمنی کې خپلې معاهدې کړې دي چې په لاندې ډول دي.

د جمرود معاهده

انګلیسانو د جمرود له ټرون څخه دوه ګټې د امیر دوست محمد خان څخه غوښتلې.

1.لومړی د هغه سیمو په رسمیت پېژندل چې پخوا د سیکانو د تصرف لاندې وې؛ خو اوس انګلیسان ورباندې واکمني کوي.

2.دوهم دا چې روسانو غوښتل د ایرانیانو په مرسته د هرات په ولایت باندې تسلط پیدا کړي. انګلیسانو د روسانو د پرمختګ پخاطر خپلې ګټې په خطر کې ولیدلې او د هغه خطر د دفعې غوښتونکی وو.

لومړی معاهده

دهندې جنرال لارډ الهزی ګورنر د هدایت په اساس ،سرجان لارنس پنجاب والي د دغه معاهدې د ټرون لپاره وګومارل شول، او امیر دوست محمد خان په دغه عقد کې اشتراک ونکړ او په خپل ځای يې خپل ولیعهد سردار غلام حیدرخان په ۱۸۵۵م کال کې جمرود چې د پېښور تر خیرمه دی ورولېږو.ورسته له خبرو دری فقرې معاهده په ۱۸۵۵م کال د مارچ په ۳۰مه نېټه وټرل شوه.

1.د ختیځ هند او امیر دوست محمد خان تر منځ چې د کابل حاکم دی هغه سیمې چې د هغه او د هغه د وارثانو سره دی د دوی تر منځ به دایمي صلحه وي.

2. د ختیځ هند کمپنی ژمنه کوي تر څو د امیر قلمرو رعایت کړي.

3. د کابل حاکم امیر دوست محمد خان ،او د افغانستان نورې منطقې چې د هغه د تصرف لاندې دي د خپل او پاتې کسانو لخوا تعهد کوي چې د ختیځ هند احترام به کوي او هېڅ وخت به يې په چارو کې لاسوهنه نکوي.

دوهمه معاهده

کله چې انګلیسانو د هرات ولایت د تجزیې څخه صرف نظر وکړ،نو د امیر دوست محمد خان سره د مزاکراتو په هڅه کې شول.امیر په هند کې مذاکرات ونه منل،او یاد مذاکرات د امیر او سرجان لارنس تر منځ په جمرود کې ترسره شول چې په پایله کې يې یوه معاهده لاسلیک شوه،کومه چې د محمد اعظم خان لخوا امضا شوه.

دغه معاهدې لاندې مواد لرل:

1.د ایران دولت د خپل تعهد خلاف کار وکړ یعنی هرات يې تصرف کړ،نو د انګلیسانو جنګ د ایران پر ضد به دوام ولري، د دې لپاره چې امیر وکولی شي د هیواد له نورو ولایتونو څخه دفاع وکړي،د انګلیس او ایران د جګړې په پایله کې،انګلستان به میاشتنی ۱۰۰زره روپی (۱۰زره پونډه) به امیر دوست محمد خان ته ورکوي.

2.انګلستان به امیر دوست محمد خان ته سربیره د اوسني پوځ،یو منظم ۱۳زره کسیزه سپاره پوځ او یو ۱۸زره کسیزه پیاده پوځ هم مجهز کړي.

3.د معینو پیسو اخیستل او د هغه انتقال افغانستان ته د امیر دوست محمد خان په امر سره ترسره کیږي.

4.د انګلستان نماینده ګان د هیواد په دریو ولایتونو کابل،قندهار او بلخ کې د نظارت او ګذارش د رسولو لپاره مقیم کیږي، او هغه هیڅ ډول حق د هیواد په داخلي چارو کې نلري او همدارنګه د هغوی امنیت به امیر ساتي.

5.یو نماینده به له کابل څخه په پېښور کې مقیم کیږي.

6.ورسته د ایران سره له جګړې کومې پیسې چې په لومړی معاهده کې لیکل شوې وې هغه له منځه ځي.

7.ورسته د ایران سره له جګړې ټول انګلیس افسران به افغانستان پرېږدي خو که افغانان يې د پاتې کیدلو غوښتونکي وو نو یو تن مسلمان نماینده به په کابل کې پاتې شي.

8.امیر به د افسرانو د داخل کیدلو او خارج کیدلو پر مهال د هغوی بشپړ امنیت نیسي.

9.د پیسو ورکول به د جنوری له میاشتې څخه شروع کیږي.

10.د ۳۰۰زره پیسو ورکول په قندهار کې او ۲۰۰زره په کابل کې د دغه ټرون مربوط نه کیږي، دغه د ختیځ هند یوه ډالی وه. ۶۰۰زر نورې په کابل کې مربوط د یوه بل ټرون کیږي.

11.دغه ټرون به د پخواني ټرون مخالف نه وي. امیر دوست محمد خان به د سولې او جګړې په حالت کې د ایران د متحدینو وړاندیزونه انګریزانو ته رسوي.

12. د ۴ زره ورکړل شویو توپکو برعلاوه به ۴زره نور توپک د انګلیس لخوا به د امیر دوست محمد خان مامورینو ته د تل په منطقه کې ورکوي.

لسم لوست (امیر شیر علی خان)

د امیر شیر علی خان لومړی سلطنت(۱۸۶۳-۱۸۶۶م)

د افغانستان خلکو د وزیر فتح خان د ورنو د تسلط څخه تقریبا نیمه پېړۍ په بدبختیو، چور او غلا کې تیر کړل او همدارنګه په دغه مهال د انګلیسانو لاس وهنې په هیواد کې شروع او زیاتې شوې.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

امیر شیر علی خان د خپل پلار د سلطنت پر مهال ولیعهد ټاکل شوی و، او ورسته د پلار له مرګ څخه یې په ۱۸۶۳م کال د جون د میاشتې په ۱۲نیټه د ۴۱ کالو په عمر د هرات په ولایت کې خپل سلطنت اعلان کړ.

په هغه جګړه کې چې عبدالرحمن خان او افضل خان د امیر شیرعلی خان د قواوو تر منځ د باجګاه په سیمه کې پیښه شوله د عبدالرحمن خان قواوو ماتې وخوړه افضل خان تسلیم او عبدالرحمن خان بخارا ته وتښتید.

امیر شیر علی په ۱۸۶۵م د یو لښکر سره د قندهار د تصفیې لپاره ولاړ او هلته د محمد امین خان سره په جګړه کې مخ شو، او ورسته د سختې جګړې سردار محمد علی خان د امین محمد خان زوی او د امیر ورور د ۸ زره لښکر سره ووژل شو .

د امیر محمد افضل خان سلطنت(۱۸۶۶-۱۸۶۷م)

د امیر شیر علی خان حالت د دې لامل شو چې محمد افضل خان او عبدالرحمن خان کابل تصرف کړي او سردار محمد افضل خان سلطنت ته ورسیدل.

د امیر شیر علی خان قواوو د امیر عبدالرحمن خان او محمد افضل خان د قواو پر وړاندې ماتې وخوړه او امیر شیر علی خان هرات ته د خپل زوی قلمرو ته وتښتید.

له دغې واقعې ورسته د آقچې پخوانی حاکم فیض محمد امیر ته لیک ولیږه او د کمک غوښتنه یې وکړه او امیر شیر علی خان د هغه سره د مزار شریف او میمنې له لاره وصل شو. په ۱۸۶۷م کال کې د پنجشیر په بازارک کې جګړه وشوله چې فیض محمد خان ووژل شو، او امیر شیر علی خان بېرته هرات ته وتښتید، امیر عبدلرحمن خان د بریا سره کابل ته راوګرځید.

د امیر محمد اعظم خان سلطنت(۱۸۶۷-۱۸۶۸م)

ورسته د محمد افضل خان څخه د عبدالرحمن خان په موافقه سره محمد اعظم خان سلطنت تر لاسه کړ.

په ۱۸۶۸ م کال کې امیر اعظم خان او عبدالرحمن خان خپلې قواوې ترتیب کړې او د امیر شیر علی خان سره د غزنی ولایت د شش ګاو په سیمه کې جګړه وکړه خو ماتې یې وخوړه او دواړه وتښتیدل، انګلیسانو هغوی هند ته دعوت کړل.

هغوی تهران ته مخه کړه د سستان له لارې خو سردار محمد اعظم خان په لارو کې مریض او مړ شو او د بسطام په سیمه کې یې دفن کړو او عبدالرحمن خان بخارا ته لاړ.

یولسم لوست (ریفورم او اصلاحات)

ریفورم او اصلاحات(۱۸۶۸-۱۸۷۹م)

د ۱۸۶۸م کال په ورستیو کې کله چې امیر شیر علی خان افضل خان او عبدالرحمن خان ته د غزنی په شش ګاو سیمه کې ماته ورکړه سم دلاسه کابل ته ننوتلو او د دوهم ځل لپاره سلطنت ته ورسید ،لومړی یې مرکزي دولت ټینګ کړ.

امیر شیر علی خان یو روښان فکره او متفکر شخص و.هغه په افغانستان کې د یوه نوي تمدن بنسټ کیښود.

د نوي تمدن د بنسټ سره سم په اروپا کې صنعتي انقلاب هم پیل شو. امیر شیر علی خان د هیواد د ستر فیلسوف د لارښونو سره سم په اصلاحاتو لاس پورې کړ.

امیر شیر علی خان خپلې سیاسي اړیکې د ایران او روسیې سره د دوستی پر بنسټ پیل کړې او عطا محمد خان یې د افغانستان د رسمیت پیژندلو پر بنسټ برتانوي هند ته واستاوه او ورسته یې خپله هند ته سفر وکړ.

الف-اداري بخش:

امیر شیر علی خان اجرایه قوه رامنځته کړه چې په رأس کې یې سید نور محمد شاه فوشنجی د صدر اعظم په توګه، سپهسالار حسین علی د دفاع وزیر، ارسلان خان د خارجې وزیر، عصمت الله خان د داخله وزیر،حبیب الله وردګ د مالیې وزیر او محمد حسین خان د خزانو د وزیر په توګه ګومارل شوي وو، او ټوله کابینه د صدر اعظم په امر سره دایریده او د دولت امورو په اړه یې بحث او تصمیمونه نیول.

ب-نظامي بخش:

امیر شیر علی خان د استقلال د ساتلو پر بنسټ ۱۰۰زره کیسزه منظمه اردو جوړه کړه.نوموړي عسکر د نظامي تعلیماتو څخه ورسته د هغه عصر په مجهزو وسلو باندې سمبال کیدل او یونیفورم ورته ورکول کید. نوموړې اردو په اتو نظامي مرکزونو کې ځای پر ځای کیده.

ج-اقتصادي بخش:

په اقتصادي بخش کې بیا کرنې او مالداری ته زیاته توجه کیدله.

د-فرهنګي بخش:

د مکتبونو په تأسیس سره تعلیم او تربیه په عصري ډول تبدیله شوه. نظامي او ملکي مکتبونه جوړ شول او یوه مطبعه د کابل په بالاحصار کې جوړه شوه.

د لومړی ځل لپاره د شمس النهار جریده په ۱۶صفحو کې په میاشت کې دوه ځلې به نشر کیده او یو شمیر اصول نامې او معلوماتي رسنی خپریدې.

د شهزاده عبدالله خان د ولیعهد ټاکلو پر بنسټ،شهزاده محمد یعقوب خان د خپل پلار پر وړاندې بغاوت ته مجبور کړ څکه چې محمد یعقوب د امیر شیر علی خان د سلطنت د لاس ته راوړلو په پار ډیر مهم کارونه کړي وو.

انګلیسانو پر بلوچستان حمله وکړه او هغه یې اشغال کړ، او امیر شیر علی خان مجبور شو چې مزار شریف ته سفر وکړي تر څو له روسانو څخه کمک وغواړي مګر دی هلته مریض شو او د ۵۸ کلو په عمر وفات او هملته دفن شو.

د انګلیسانو دوهم یرغل پر افغانستان

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

(۱۸۷۹/نومبر-۱۸۸۰/اګست)

د انګلیس او افغانانو تر منځ مذاکرات چې د نور محمد شاه(صدر اعظم) په واسطه هند کې ترسره شوي وو کومې نتیجې ته و نه رسیدل.

انګلیسانو پر قندهار او جلال آباد باندې حمله وکړه ،او هغه یې تصرف کړل او امیر ناچار شو چې مزار ته سفر وکړي او د روس دولت څخه کمک وغواړي او یعقوب خان چې د پلار پر ضد یې بغاوت کړی و، زنداني شوی و د امیر په امر هغه آزاد او د هیواد ټولې چارې یې پر غاړه ورواچولې.

دولسم لوست (د یعقوب خان سلطنت)

د امیر یعقوب خان سلطنت(د مارچ له میاشتې څخه تر اکتوبر۱۸۷۹)م

امیر محمد خان په ۱۸۷۹م کال کې د مارچ په میاشت کې سلطنت ته ورسید. د هغه د پاچاهۍ له پیل څخه د هغه وزیران لکه حبیب الله خان صدراعظم،مرزا محمد خان د بهرنیو چارو وزیر او داوود شاه خان سپهسالار د انګریزانو د یو شمیر ګمارل شویو کسانو تر څارنې لاندې وو.

ولي محمد لاتې په کابل کې د امیر خلاف کړنې سرته رسولې او غوښتل یې چې افغانستان انګلیس ته تسلیم کړي، او د انګلیس پر مرسته سلطنت ته ورسیږي، او سردار شیر علی د قندهار حاکم او محمد حسین د جلال آباد حاکم د دې لپاره چې په خپلو خایونو باندې باقي پاتې شي هغوی هم د انګریزانو سره مرسته کوله.

سردار یحیی خان د امیر خسر چې د هغه د زنداني کیدلو پر مهال کشمیر ته تښتیدلی و، د منشی بختیار هندي سره د مذاکراتو لپاره کابل ته راغې.

منشی بختیار هندی چې د انګریزانو استازی و، د امیر څو نږدې سردارانو یې دې ته وهڅول چې د انګریزانو سره د ټرون د لاسلیک لپاره ګندمک ته سفر وکړي.

په ۱۸۷۹م کال کې د ننګین(ګندمک) ټرون د انګریزانو استازی لیو کیوناری او امیر محمد یعقوب خان تر منځ لاسلیک شو. د دې ټرون له مخې کرم، لنډی کوتل، د خیبر درې، سیالکوټ او خینې نورې سیمې د برتانوي هند برخه وګرځیدله. په دې توګه انګریزان د افغانستان په مهمو ښارونو کې میشت شول، او لیو کیوناری د خپل محافظتي پوځ سره د کابل بالاحصار ته ننوت.

د هیواد مجاهدین او جګړه مارن لکه محمد جان خان وردګ، ملا دین محمد مشک عالم،صاحب جان ترکی،سردار محمد ایوب خان او محمد عثمان خان صافی د هیواد په مختلفو سیمو کې د دښمن سره په جګړو پیل وکړ.

یو د مشهور ترینو جګړو څخه د میوند جګړه په قندهار کې د امیر شیر علی خان د زوی ایوب خان په مشری په کال ۱۸۷۹م د جولای په ۲۷ نیټه پېښه شوه.

انګلیسانو د میوند په جګړه کې ماته وخوړه او د سختو تلفاتو سره مخ شول چې په تاریخ کې دا جګړه د افغانانو د فخر او د انګریزانو د شرمساری لامل شوه.

د کابل خلکو د انګلیسانو لښکر د شیر پور په قرار ګاه کې محاصره کړی و، تر دې چې امیر عبدالرحمن خان له بخارا څخه چاریکارو ته ورسید،او انګریزان په ډیر سخت وضعیت کې وو.

امیر عبدالرحمن خان خپل سلطنت اعلان او انګریزانو ناچاراً هغه په رسمیت وپیژانده، او جنرال رابرتس کابل هغه ته پریښود او د دوهم ځل لپاره افغانستان یو مرکزي دولت تشکیل کړ.

دیارلسم لوست (د مرکزي دولت قائم کول)

امیر عبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان زوی او د امیر دوست محمد خان لمسي په ۱۸۳۰م کال کې زیږیدلی او د ۵۰ کلو په عمر په ۱۸۸۰م کال کې د افغانستان پاچا شو.

سردار عبدالرحمن خان په ۱۸۶۸م کال کې د شش ګاو په سیمه کې چې د کابل او غزني تر منځ ده د امیر شیر علی خان د قواو خلاف یې ماتې وخوړه او بخارا ته وتښتید.

په ۱۸۷۹م کال کې کله چې انګریزان په دوهم ځل په افغانستان باندې یرغل وکړ، نو امیر عبدالرحمن خان د انګلیسانو له یرغل څخه خبر شو او هیواد ته راستون شو ،په قطغن او بدخشان کې یې خلک د انګلیسانو پر وړاندې جهاد ته تحریک کړل او له زیات شمیر خلکو سره چاریکارو ته داخل شو.

کله چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰م کال کې ټول امور ترلاسه کړل، نو دی په یوه سخته انزوا کې ښکیل و، ځکه د انګلیس یرغل د هیواد خلک سخت زیانمن او کړولي وو.

امیر عبدالرحمن خان د ۱۸۸۵-۱۸۹۶م کلونو تر منځ په نظامي اصلاحاتو لاس پورې کړ او د خپلې اردو شمیر یې تر ۹۶زره پورې ورساوه چې د پیاده او سواره دواړه مجهز عکسر پکې شامل وو. او له دې سره سره یې یو نوی لښکر دې مشرانو د زامنو څخه د بای بچه یا شاهی ګارد په نامه جوړ کړی وو.

د امیر عبدالرحمن خان د امیر پر اساس د یوه باثباته دولت جوړولو پر بنسټ یو تعداد عصري دفاتر لکه د مالیې، ترانسپورت، کوټوالي،د محصولاتو مالیات،معاشونو او صکوکو او په لسګونو نور دفترونه جوړ شول.

د داخلي پاڅونونو غلي کول

د امیر عبدالرحمن یو له اساسي موخو څخه د مرکزي دولت قائمول وو، تر څو ملک الطوایفی له منځه یوسي او یوه امپراتوري تشکیل کړي.

افغانستان له یو تعداد ولایتي پاڅونو سره مخ شو لکه د بلخ، هزاره جات،منګل په پکتیا کې،بلوچ په چخانسور کې،او قومي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پاڅونونه لکه د کروخیلو،پنجشیریانو،نجرابیانو،ځدرانو، جمشیدیان د فیروز په غره کې او د میمنې خلک.

د نور ستان نیول

نورستان د افغانستان په شمال ختیځ کې یوه صعب العبوره او د هندوکش له سختو لمنو څخه ده چې پخوانی نوم یې بلور یا بولر وو، چې پخوا د کافرستان په نامه یې شهرت درلود.

د چترال او ګلګیت سیمې د نورستان سره یوځای وې او یوه لویه منطقه یې نیولې وه.

یوناني سنکدر، تیمور ګرګاني او ظهیرالدین محمد بابر غوښتل چې دغو منطقو ته لاس رسی ولري ،مګر د لارې سختی چې لوړو او واورینو غرونو اود ډیرې سړې هوا له کلبه هغوی ونشوای کولی چې دغو سیمو ته لاس رسی پیدا کړي.د دغو سیمو خک د بت لمانځونکي وو، د خپلو پلرونو او نیکونو رواجونه یې پر خای ساتلي وو، او د محلي استقلال درلودنکي وو.

په ۱۸۹۱م کال کې امیر عبدالرحمن خان دغو سیمو ته متوجه شو. هغه خپل سپهسالار غلام حیدر خان چرخي چې د ننګرهار او لغمان والي او قمندان هم و ته امر وکړ چې د یوه سفر آمادګي د نورستان طرف ته ونیسي.

سپهسالار مخکې لدې چې نورستان ته سفر وکړي خپل عسکر یې د بریکوټ په سمیه کې خای پر خای کړي وو، او دی خپله نورستان ته ولاړ او د هغوی سره یې ښه ارتباط برقرار کړی و.

په ۱۸۹۶م کال کې غلام حیدر خان تر اسمار او د نورستان تر خولې پورې سړک جوړ کړ، او هڅوا بیا له نورستان څخه تر بدخشانه پورې په بشړ ډول تکمیل شوی و.

سخت ترینه جګړه د نورستانیانو او د امیر د لښکر تر منځ د کلوم په سیمه کې پیښه شوه.

د دولتي عسکرو تلفات تر ۲۰۰ نفرو پورې ورسیدل او تقریباً ۲۳۰۹ تنه یې په اسارت ونیول چې په عزت سره کابل ته واستول شول.

عبادت ځایونه یې ویجاړ او پر ځای یې جوماتونه آباد شول او د نولسو په شمیر لرګیني مجسمې او یو شمیر غشي کابل ته راوړل شول.

د دیني علومو استادان د لوګر، لغمان، پروان او کاپسا څخه د نورستان خلکو لپاره وګومارل شول، تر څو هغوی ته اسلامي زدکړې ورکړي.

د پنجدې اشغالیدل

د روسیې د امپراطوری په شمال کې، برتانوي هند په ختیځ او جنوب کې او ایران په لویدیځ کې موقعیت درلودل او امیر عبدالرحمن خان به همیشه د تزاري روسیې او برتانوي هند لخوا تهدید کیده.

سردار محمد ایوب خان او سردار محمد اسحق خان د امیر عبدالرحمن خان دوه مخالفین وو ،چې لومړی د انګلیس او دوهم د تزاري روسیې لخوا حمایه کیدل.

افغانستان د بریتانوي هند او تزاري روسیې ترمنځ د یوه حایل حیثیت درلود، ورسته د مرکزي آسیا له اشغال کیدلو څخه روسانو بهانه لټوله تر څو افغانستان تصرف کړي.

د روسانو لومړی نظامي حرکت د ۶زره عسکرو ننوتل وو مرو ښار ته. په ۱۸۸۵م کال کې اوضاع دومره خرابه شوه چې د انګلستان ملکې د روس له تزار سره تماس ونیو، او له هغوی څخه یې وغوښتل تر څو د افغان او روس تر منځ جګړه متوقفه کړي او مخالف حزبونو په انګلستان کې د ملکې پر وړاندې مخالفت وښود چې ولې د روسیې مخه نه نیسي.

امیر عبدالرحمن خان ورسته د ۲۱کلو واکمنی څخه ورسته د ۷۱ کلو په عمر په ۱۹۰۱م کال د اکتوبر په لومړی نیټه د سترګې د نقرس د مریضۍ له امله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د کابل په بوستان سرای (اوسني زرنګار پارک)کې خاورو ته وسپارل شو.

ملوک الطوایفي نظامونه چې د انګلیس د لاسوهنې او د شهزاده ګانو د نفاق له مخې په هیواد کې رامنځته شوی وو، ټول له منځه لاړل او د مرکزي دولت چې دامیر عبدالرحمن خان د هڅو په واسطه رامنځته شوی و، سره وصل شول.

د ډیورنډ معاهدې په لاسلیکولو سره له افغانستان څخه ختیځ او جنوبي برخې جلا شوې.

څورلسم لوست (د معاهداتو ټرون)

انګلیستان مخکې لدې چې د ډیورنډ معاهده مطرح کړي د افغانستان په ختیځو او جنوبي سرحداتو کې اوضاع خرابه کړه او د قبیلو او خلکو تر منځ یې پیسې او توپک توضیح کول.

په ۱۸۹۳م کال کې یو شپږ نفریز(آلیس،ډاکټر فن،سمټ، مکمهان،ډانلډ او کلارک) میئت د مارتمیر ډیورنډ د بریتانیا د خارجه وزیر سکرتر تر مشری لاندې د خیبر له لارې افغانستان ته داخل شول.

په داسې حال کې چې د انګلیسانو لښکر د هیواد په ختیځو او جنوبي سرحداتو خای پر خای شوي و.نوموړی هئیت د حشمت خان په باغ کې د امیر عبدالرحمن خان سره ولیدل، د خبرو په پیل کې پرته له کومې مقدمې څخه هغو د امیر سره ناسم چلند وکړ او ویې ویل چې امیر د دغو ټرون په امضأ کولو سره مکلف دی ،او د دغو د نه امضأ کولو په صورت کې د دواړو دولتونو تر منځ اړیکې ختمې او جګړه شروع کیږي.

د ډیورنډ د ټرون متن

1.د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحدات له واخان څخه پیل شوي او د ایران تر سرحداتو پورې غځیږي،چې د یاد شوي ټرون ضمیمه ده.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

2.د برتانوی هند دولت د افغانستان او هغه سیمې چې د افغانستان مربوط کیږي په داخلي چارو کې هیڅ کله لاس وهنه نه کوي او همدارنګه افغانستان د انګلیس په سیمو کې.

3.د اسمار سیمې او د هغې د پاسنۍ درې(تر چنګ پورې) د افغانستان برخه ده، د افغانستان حکومت په سوات،باجوړ ،چترال او ارنوی دره کې د مداخله کولو حق نلري،او د مکل برمل سیمه په افغانستان پورې اړه لري،خو د وزیرو او داوړو پر سیمو باندې افغانستان حکومت هیڅ کله دعوا نشي کولی.

4.نومورې سرحدي خط به د افغاني او برتانوي هئیت په واسطه د نقشې مطابق په نښه کیږي.

5.د چمن په سیمه کې د انګلیسانو یوه نوی قرار ګاه جوړه شوه،او د سرکی ننګې د اوبو حق چې افغانستان مخکې پیرودلی و، له هغه څخه دې د برتانیې د حکومت په ګټه تېر شي.

6.د دغه ټرون شرایط د افغانستان او برتانیا ترمنځ قابل قبول دي، او هر کله چې په کومه فقره باندې جنجال رامنځته شو نو هغه به دې دوستانه اړیکو له لارې حل او فصل کیږي.

7.برتانوی هند د امیر صاحب له نیت څخه د برتانوي هند به نسبت کاملا اطمینان لري، فلهاذا برتانوی هند د افغانستان د پیشرفت او استقلال په حال ووینې.

هر کله چې افغانستان د اصلحو د اخیستلو لپاره نیت وکړي برتانوي دولت کوم اعتراض نلري، او همدارنګه د دغه ټرون پر اساس هر کال افغانستان ته ۱۲ لکه روپی ورکول کیدې او ورسته له ټرون څخه ٦ لکه نورې اظافه شوې.

پنځلسم لوست(امیر حبیب الله خان)

د امیر حبیب الله خان سلطنت(۱۹۰۱-۱۹۱۹م)

سردار حبیب الله خان په ۱۸۷۲م کال کې په سمرقند کې وزیږیده. هغه په ۲۸ یا ۲۹ کلنی کې د خپل پلار له مړینې څخه ورسته په ۱۹۰۱م کال کې واکمن شو.

د امیر حبیب الله خان د مهمو کارونو څخه د معارف بنسټ اینبودل او د نوی تمدن راپیژندل وو.

په ۱۹۰۳م کې لومړنی مکتب د حبیبیې لېسې په نامه جوړ شو.په دغه مکتب کې د دیني مضامینو بر علاوه تاریخ، جغرافیه، ریاضي، کیمیا،فزیک،هندسه،مثلثات،حکمت او حفظ الصحه هم تدریس کیدل ،او څو نور ابتدایي مکتبونه د هیواد په ځینو برخو کې جوړ شول.

په نظامي بخش کې هم د حربیه په نامه مکتب جوړ شو. چې د درس بر علاوه جنګي ارکان هم پکې تدریس کیدل، دغه تدریس د افغاني، ترکي او هندي استادانو لخوا کیده.

د مطبوعاتو په برخه کې یوه مطبعه په کابل کې تأسیس شوه چې ماشینونو یې د بخار په واسطه کار کاوه.په دغه مطبعه کې دولتي لوحې او جریدې هم چاپ کیدلې.

دوه مطبعې د سراج الاخبار او سراج الطفال په نامه د لومړي ځل لپاره په کابل کې تأسیس شوې او په نشراتو یې پیل وکړ او مدیر یې هم محمود طرزي و.

محمود طرزي ته د افغانستان د مطبوعاتو د پلار لقب ورکړل شو.

کابل غزنی، کابل جلال آباد او لغمان په لاره باندې یو څو عراده موټر د حمل و نقل په موخه په لاره واچول شول، چې دغه موټر د مدلر له کمپنی د بمبیي څخه خریداري شوي وو، او همدارنګه یو څو نفره د موټرو د ترمیم په موخه هندوستان ته ولیږدول شول.

د نساجی په برخه کې یوه د وړیو فابریکه چې د بخار قوې پر اساس یې فعالیت ترسره کولو تأسیس شوه ،دغه فابریکې په کال کې د ۵۰زرو عسکرو لپاره یونیفورم برابرولو او پاتې یې بازار ته عرضه کول.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت پر مهال مهمې پېښې د قبایلو بغاوت لکه ځدران،منګل او احمدزي او همدارنګه د قندهار د خلکو بغاوت وو ،چې دغه بغاوتونه دولت لخوا په کامیابی سره خاموش شول.

دوهمه مهمه پېښه د امیر حبیب الله خان پر مهال د لومړی جنګ جهاني پریښودل و، په دغه وخت کې یو هئیت د آلمان څخه افغانستان ته راغلو.

د ۱۹۱۸م کال په ورستیو کې امیر د ټولو مشرانو سره د تفریح لپاره د لغمان کله کوش سیمې ته د ماهیانو نیولو لپاره تللی وو، او هلته د فبروری د میاشتې په شلمه نېټه باندې د یوه نامعلومه شخص لخوا د تفنچې په ډز سره ووژل شو، او د امیر جسد ننګرهار ته منتقل او هلته دفن شو.

شپاړلسم لوست (د مشروطیت پاځونونه)

امیر حبیب الله خان ورسته د ټرون له امضأ کولو څخه په ۱۹۰۵م کال کې خپل ځان دخاطر جمع باله،مګر د دغه قرار داد پر اساس انګلیس او روس د جنګ جهاني په شروع کې ډار درلود.

د دربار روښان فکران عبارت وو له محمد ولی خان بدخشاني، میر زمان خان،میر یار بیک خان دروازي،پادشاه میر خان لوګری،نظام الدین خان ارغندیوال او لعل محمد خان کابلی وو.

یوه ډله نور ځوانان لکه جوهر شاه خان،لعل محمد خان،پادشاه میر خان،نظام الدین خان او میر زمان خان د دیموکراتیکې خارجي سیاسي کړیو سره یو ځای او خارجي جریدې او کتابونه یې په اختیار کې وو.

حبیبیه لېسه د روښانفکرانو مرکز ګرځیدلی و، د روښنفکرانو په منځ کې راډیکالونه یعنی هغه کسان چې غوښتل یې کودتاه وکړي هم وجود درلود.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د دربار روښنفکران او مستقل روښنفکران کوم چې د حبیبیې لیسې څخه جلا وو، د نوموړې لیسې د معلمانو او کارمندانو سره غونډه وکړه ، او یو سیاسي حزب د جمیعت سر ملی په نامه جوړ کړ، چې موخه یې د مطلق العاني بدلول په مشروطه حکومت،د خپوالکی لاسته راوړل،د معارف تنظیم او په افغانستان کې د نوي تمدن او فرهنګ نشرول وو.

نوموړی حزب په لس نفري ګروپونو باندې ووېشل شو ،چې مشري یې د حزب مؤسسینو کوله، او ددې لپاره چې د حزب فعالیتونه برملا نشي د حزب غړو حتی یو بل نه پیژندل.

د حزب د ګروپونو د عمده مشرانو له جملې څخه محمدخان بلوڅ پغمانی، جوهر شاه خان غوربندی او میر سید خان لغمانی او د هندي ګروپ د مسلمانو غړو چې ټول یې د حبیبیې د لیسې معلمان وو، داسې پرېکړه وکړه چې لومړی دې امیر حبیب الله پرته لدې چې د حزب له فعالیت څخه خبر شي نومورې تشویق شي.

د حزب د حلقو څخه یو ریس تاج محمد خان بلوچ پغمانی، جوهر شاه خان غوربندی او میر سید قاسم خان لغمانی او د هندي حزب څخه مسلمانان چې ټول د حبیبیې لیسې زدکونکي وو، د حزب په یوه جلسه کې یې توافق وکړ چې لومړی حبیب الله خان پرته د حزب له خبریدلو څخه تشویق کړي.

د ۱۹۰۹م کال په ژمی کې کله چې امیر حبیب الله خان په جلال آباد کې په تفریح مصروف وو، نو محمد عظیم خان د حربي فابریکې کارمند او ملا منهاج الدین د شهزاده کبیر معلم یو فهرست د ټولو هغه کسانو څخه چې په حزب کې شامل وو جوړ کړ او ملا منهاج الدین دغه فهرست د یوه راپور سره امیر حبیب الله خان ته تقدیم کړ او په راپور کې یې لیکلي وو چې د حزب اصلي هدف د امیر وژل او د مشروطه نظام حاکمول وو.

په ۱۹۱۸م کال کې ورسته د مشروطه غوښتونکو د سرکوب کولو څخه عبدالرحمن لودي د سراج الاخبار لیکونکی او د مشروطیت غوښتنکو یو عضوه یا راډیکال هغه شخص وو چې د امیر حبیب الله خان د سالګرد په شپه یې د دوکان په بام کوم چې د قاضي له کوڅې سره متصله وه(شور بازار) د امیر حبیب الله د موټر په انتظار و.

په ۱۹۱۹م کال کې عبدالرحمن لودی له نورو ټولو روښنفکران سره له زندان څخه آزاد شو او د امانیه د دورې د مامورینو په توګه یې دولتي وظایف سرته رسول.

دوهم فصل

اوولسم لوست (امیر امان الله خان)

د امیر امان الله خان واکمني او د هغه وخته د هېواد په استقلال کې(۱۹۱۹/فبروري-۱۹۲۹/جنوري)م

امیر حبیب الله خان په ۱۹۱۹م د فبروري په ۲۱ تاریخ د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو. او د ده د مړینې په دوهمه ورځ نصرالله خان د امیر ورور په جلال آباد کې، او امان الله خان زوی په کابل کې د سلطنت اعلان وکړ. او په همدې دول په هېواد کې دوه حکومتونه رامنځته شول.

امیر امان الله خان په خارجي سیاست کې د هېواد د استقلال او امنیت غوښتونکي څخه وو.

د نوی اصلاحاتو پر اساس د هر عسکر معاش له ۱۲ څخه ۲۰ ته لوړ شو. دولت د خلک ستونزې او د هغه د حل لپاره توجه وکړه.

امان الله خان د آزادۍ ترلاسه کولو لپاره د جهاد اعلان وکړ. د هېواد مختلف ولایتونه د دغه هدف لپاره سره متحد شول او په پایله کې په ۱۹۱۹م کال د اپریل په ۱۳مه نېټه افغانستان د امان الله خان په مشرۍ د سلطنت اعلان وکړ.

د افغانی قواوو سفرونه د هېواد دریې جبهوته(خیبر،پکتیا او قندهار) چې وروسته د انګلیس د قواو تر یرغل لاندې راغلل.

الف- د راولپنډۍ د صلحې مذاکرات(۱۹۱۹/اګست/۱۸)م

انګلیسانو وروسته د افغانانو سره له جګړې و غوښتل تر څو د افغانانو سره جوړه وکړي، او خپلې ستونزې یې د خبرو له لارې حل کړي،امیر امان الله خان یو د صلح هئیت د علی احمد خان چې د داخلی وزیر هم و په مشرۍ راولپنډۍ ته د سر ګرانیت د بریتانیا د هیئت مشر سره د مذاکراتو لپاره ولیږه او ورسته له مذاکراتو بلاخره طرفین د راولپنډۍ د صلح مذاکرات امضا کړل مګر د دغو مذاکراتو پایله د انګلیس په ګټه او د افغانستان په ضرر تمام شول.

ب- د مونسوری د صلح مذاکرات(۱۹۲۰م)

د راولپنډۍ د صلح مذاکرات د افغانستان په ضرر پای ته رسیدلی وو نو امان الله خان د بریتانیا له دولت څخه د یو ځل بیا مذاکراتو غوښتنه وکړه چې د دواړو طرفو ګټې برابر وي. په پای کې په ۱۹۲۰م د مارچ په ۹ نېټه د انګلیس دولت له امیر څخه وغوښتل چې خپل هئیت مونسوری ته اعزام کړي.افغانی هئیت د محمد ظرزی(د خارجی وزیر) په مشرۍ مونسوری ولاړ او دغو خبرو دري میاشتی دوام وکړ.

ج-د کابل معاهده(۱۹۲۱/نوامبر/۲۲)م

د بریتانیا هئیت د سرهنری دابس په مشرۍ کابل ته داخل شول او د هیواد د خارجه وزیر محمود طرزی سره یې مذاکرات پیل کړل چې دغو مذاکراتو ۱۱میاشتې په بر کې ونیولې.د دواړو غوښتنې او پښنهادات یو له بل سره مخالف وو او لږ یاتي وو چې دا مذاکرات او بې نتیجې اعلان شي،خو په پایله کې په ۱۹۲۱ م د نوامبر پر ۲۲ نېټه انګلیس د افغانستان دولت په رسمیت وپیژندو او دواړو دولتو د افغانستان او انګلستان تر منځ په سفر سره موافقه وکړه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اتلسم لوست (جبهې)

د افغانستان د آزادۍ لپاره دريځ ګوڼي مورچلونه

امان الله خان د مارچ په دربیمه نېټه یو مکتوب د برتانوي هند لارډ چلسفورډ ته ولېږه .په دغه کې ذکر شوي وو چې د ۱۹۰۵م کال د معاهدې باندې دې بیا تجدید نظر وشي، او افغانستان د په رسمیت وپېژندل شي.

خنیځ مورچل

د افغاني قواوو لومړی حرکت د خنیځ سنګر پر لور د سپهسالار صالح محمد خان او د هغه قواوې جلال آباد ته وو، په همدې وخت کې له دوی سره یو شمېر داوطلب ځوانان هم یوځای شول.

په خنیځ مورچل کې جګړه د مې د میاشتې په دریمه نېټه د افغاني قواو لخوا په یوه ناګهاني جګړې باندې پیل شوه. افغاني قواوو د انګلیس لښکر د یوې اونۍ په ترڅ کې له ننګرهار څخه تر پېښور پورې وزغلول. چې هغوي ته یې د بیا راتلوو قوت پرې نه ښود.

د دهلي او لندن په سیاسي کړۍ کې دافغانستان ناګهاني جګړې، او د انګریزانو سر په سر ماتې خبرې ډېرې ګرمې او انګلیس خپلې ګټې په اسیا کې په خطر ولیدې.

انګلیسانو په افغانانو باندې له یوه لوري لوژستیکي لارې بندې کړې. او له بل لوري هغوی کابل او ننګرهار داسې بمبارد کړل چې زیات څه تر خاورو لاندې شول .

جنوب مورچل

د دغه مورچل رهبري د سپهسالار محمد نادر خان سره وه، د امیر د امر پر اساس هغه د اپریل په ۲۴ نېټه ګردېز ته ورسید.

سپهسالار د خپلو قواوو د تنظیم په موخه دوه اونۍ په ګردېز کې پاتې شو، او د مې په ۴ نېټه په ټول ګردېز کې د جهاد خبرې تودې شوې. او د انګلیس پر سنګرونو باندې یې برېدونه پیل کړل.

افغاني قواو د انګلیسانو ټول نظامي مرکزونه تصرف کړل. مګر هغه جګړه چې د مې د میاشتې پر ۲۶ نېټه د افغاني قواوو لخوا وه .انګلیسانو بیا خپله هیله له لاسه ورکړه؛ نو له دې سره سره انګلیسانو د جون په دربمه نېټه د اماني دولت سره د صلح غوښتونکی شو.

جنوب لوېدیځ مورچل

د هېواد په لوېدیځ او جنوب کې د لښکر مشري د اعتمادالدوله سردار عبدالقدوس خان سره وه. او د استقلال د ګټلو لپاره د جنوب لوېدیځ مورچل له مرکز څخه امر ته انتظار وو.

اعتمادالدوله د جنګي تظمیاتو لپاره له کابل څخه قندهار ته حرکت وکړ،له کابل څخه د حرکت پر مهال د هغه سره کم شمېر مجاهدین وو ؛خو تر میدان وردګو او غزني پورې د هغه د لښکر شمېر زرګونو تنو ته ورسېد.

په قندهار کې تر اوسه د عسکرو تنظیم نه وو خلاص شوی، چې انګلیسانو په سپین بولدک او پېښین باندې برید وکړ، او ګڼ شمېر مجاهدین یې په شهادت ورسول.

سردار عبدالقدوس خان انګلیس ته دا فرصت ورنکړ چې خپل عسکر تنظیم کړي، او د مې په ۲۶ یې برید وکړ. مګر انګلیس عکسر پر ځای ددې چې وجنګېږی ټولو خپل نظامي مرکزونه ترک کړل.

نولسم لوست (اصلاحات)

اصلاحات(۱۹۲۱-۱۹۲۸م

د هېواد سیاسي استقلال په ۱۹۱۹م کال کې چې د ۱۲۹۸هـ سره سمون لري، د هېواد پرسیاسي،اقتصادي،ټولنیز او فرهنګي برخو باندې مثبتې اغېزې درلودې.

اصلاحات او تحولات په دوه مرحلو کې وو

1.په لومړۍ مرتبه کې له ۱۹۱۹-۱۹۲۴م پورې، په دغه دوره کې چې افغانان د پرمختګ غوښتونکي وو د نویو اصلاحاتو څخه یې استقبال وکړ.

2.دوهمه مرتبه اصلاحات له ۱۹۲۴م څخه د امانیه دولت تر پای پورې ،دغه اصلاحاتو د یو سلسله داخلي او خارجي لاملونو پر اساس عملي بڼه وا نه خیسته.

د تحولاتو یو له مهمو پراوونو څخه د لومړنیو اصلاحاتو عملي کول وو، د لومړي اساسي قانون تصویب د جلال آباد په لویه جرګه کې چې ۸۸۲ غړي یې درلودل په ۱۹۲۳م کال کې چې بیا وروسته دغه اساسي قانون د پغمان په لویه جرګه کې د ۱۹۲۴م کال د سرطان په میاشت کې تایید او توشیح شو.

مالي او اقتصادي چارې

امیر امان الله خان د ځارویو مالیې لپاره د ځارویو محصول په نامه قانون وضعه کړ.

د مالي چارو د تنظیم په موخه مالي ادارات، په کابل کې د دفتر داری د اصولو په نامه مکتب جوړ شو چې د هغه فارغان د مالیې په وزارت کې په دنده ګمارل کېدل.

سوداګرۍ هم ډېره پراختیا وکړه، داخلي ګمرکي تعرفې لغوه شوې. او په نتیجه کې د اصلاحاتو ملي سرمایې ته انکشاف ورکړل شو، او شرعي او معاملاتي محکمې جوړې شوې.

د امانیه دولت د فابریکو او د اوسپنې د پټلې د جوړولو په کوښښ کې و. او د دوه جرمني او فرانسوي شرکتونو سره یې قرار داد وکړ. چې د هغه مطابق د لس کلنو په موده کې د هېواد له جنوب څخه تر شمال پورې غځېدله.

د مرکز څخه ولایتونو ته د تلګراف او تلیفون د لین غځولو کار تر لاس لاندې ونیول شو. او په پغمان، جلال آباد او قندهار کې ستېشنونه تر کار لاندې ونیول شول. د موټرو ترمیم، پورزې جوړونې، صابون، عطریات، تارجوړونې، توکر اوبدل، پنبې، د

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

غورو ایستل او نجاری په قندهار، هرات او مزارشریف کې جوړې شوې.

د بدخشان د لاجوردو معدن د استخراج لپاره او همدارنګه د هرات نفت، د ډبرو سکاره، ګوګړ، سرپ، ابرک، تباشر او داسې نورو لپاره ځانګړې طرحې مطرح شوې. او همدارنګه د اوسپنې د ویلې کولو د فابریکه پلان هم تاسیس شو.

په نتیجه کې دغو اصلاحاتو د دولت عواید د پخوا پر نسبت له دوه چنده څخه زیات پورته بوتلل. او کلنې عواید له ۸۰ څخه تر ۱۸۰ ملیونو روپیو پورې ارتقاع وکړه.

په دولت کې دري قواوې اجرایه، مقننه او قضایه رامنځته شوې.

امانیه دولت د هېواد څخه د دفاع په موخه هوایي ځواک رامنځته کړ، چې په ۱۱ طیارو سره سمبال وو، او ٦٥ نفره شاګردان په دغه رشته کې روسیې، فرانسې او ایټالیا ته واستول شول.

په کابل کې د راډیو اداره جوړه شوه. او ښارونه په بربښنا باندې ښایسته شول. له صحي نظره په کابل او ولایاتو کې ملکي او نظامي روغتونه جوړ شول. او همدارنګه د روغتونونه په مرکز کې مستورات او په پغمان کې سناتوریم جوړ شو. د اکسرې ماشینونه کابل ته وارد شول، او د رواني کسانو لپاره روغتون او دارالایتام تأسیس شو.

معارف او فرهنګي چارې

د اساسي قانون د ۲٦ مادې پر اساس زده کړه وړیا او اجباري وګرځېده، او زیات شمېر تعلیمي مرکزونه په کابل او ولایاتو کې جوړ شول.

په کابل کې د حبیبیې لېسه چې د فرانسوایانو کمک سربېره د امانیه لېسه چې د المانیانو په واسطه جوړې شوې هم تأسیس شوه.

په کابل او ولایاتو کې د مکتبونو شمېر تر ۳۲۲ څخه زیات شو، او یو دارالمعلمین په هرات کې جوړ شو. د ابتدایي متعلمینو شمېر تر ۱۹۲۷م کاله پورې ۵۱ زره تنو ته ورسېد.

په ثانوي او مسلکي دوره کې ۳زره تنو تحصیل کاوه، او سلګونه نور محصلین خارج ته لکه شوري اتحاد، جرمني، فرانسې، اتالیا او ترکیه ته واستول شول.

همدارنګه یوه ملي کتابخانه هم تأسیس شوه ، چې نن ورځ د عامه کتابتون په نامه یادېږي.

همدارنګه یوه سینما په کابل کې او تیاتر په پغمان کې جوړ شو . او ۱۳ جریدو په کابل او ولایاتو کې خپریدې، لکه د ارشادالنسوان جریده، د اتحاد مشرقي جریده، افغان ورځپاڼه، د معارف مجله، د امان افغان جریده، د بیداری جریده، د حقیقت ورځپاڼه او داسې نورې...

داخلی مطبوعات آزاد شول، او د شخصي جریدو خپرولو لپاره زمینه مساعده شوه چې کولای شو د هغوي له جملې څخه انیس، نسیم سحر او نورو نومونه یاد کړو.

شلم لوست (د امیر امان الله خان سفر)

د امیر امان الله خان اروپایي سفر(۱۹۲۷م-۱۳۰٦هـ.ش)

امان الله خان په ۱۳۰۵هـ کال کې د عالي وزار په مجلس کې د هېواد شاته پاتې والی، له عصري تمدن څخه او د وسایلو او عصري سامان الاتو د کموالي او پرمختګ یادونه وکړه.

په ۱۳۰۱هـ ش کال کې د مختلفو هېوادونو څخه امیر ته دعوت نامې راغلې وې. چې د هغوی له هېواد څخه لیدنه وکړي.

شاه امیر امان الله خان د ملکې ثریا او لوړ رتبه مامورینو سره د اروپا په لوري روان شو او په ۱۹۲۷م په ډسامبر کې چې د ۱۳۰٦هـ.ش کال د قوس له میاشتې سره سمون خوري له کابل څخه یې خدای پامانې وکړه او د قندهار په لور روان شول.

ورسته له قندهار څخه د چمن په لور او له هغه څخه ورسته د کوټې له لارې کراچۍ ته لاړل. په کراچۍ کې یې د میدان هوایي او د طیارو جوړولو له فابریکو څخه لیدنه وکړه او ورسته یې د بمبیي څخه لیدنه وکړه.

کله چې امیر امان الله خان هند ته ولاړ د هند خلکو د سړک دواړو غاړو ته ولاړ و او په (ژوندی دې وي غازي پادشاه) چیغو یې استقبال وکړ.

امان الله خان ورسته د هندي انجمن له لیدو څخه وروسته د مصر په لور سفر وکړ چې د لومړي فواد د مصر پادشاه او خلکو لخوا یې استقبال وشو.

ورسته د هغوی له تاریخي ځایونو له لیدنې څخه د سکندریې په لوري ولاړ او د مدیترانې له بحیرې څخه د ایټالیا په لور روان شو. په روم کې د امان الله خان څخه ښه مهمان نوازي وشوه او له ویکتور امانیول، ملکې او د ایټالیا له ولیعهد سره یې کاري ملاقات وکړ.

امان الله ورسته له ایټالیا څخه د فرانسې په لور روان شو چې د فرانسې د ریس جمهور لخوا یې تود هرکلی وشو. او هلته یې په بعضو موضوعاتو توافق ورسره وکړ لکه د طیارو، توپکو، او د مهماتو اخیستل او د افغاني شاګردانو قبلول د تحصیل د پراختیا په موخه، او د لایقو استادانو ګمارل د افغانستان استقلال لیسې لپاره او همدارنګه د باستان شناسی په برخه کې او په نورو تخنیکي او علمي کارونو کې.

یو له لویو افتخاراتو څخه چې شاه امان الله خان د فرانسې په سفر کې ترلاسه کړ هغه دا و چې د پاریس شاروال هغه ته داسې وویل مور داسې څه نلرو چې ستاسو له شان سره سمون وخوري نو له همدې کبله تاسو ته د پاریس ښار ډالی کوم. او

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه د ناپلیون چپرکټ یې امیر امان الله خان ته د استراحت لپاره ورکړ.

امان الله خان له هغه ځایه بروکسیل، بلژیک او سویس ته ولاړ او ورسته د آلمان پر لور روان شو. او د آلمان د ریس جمهور یعنی فون هون بورګ یا پاول فن هندبورګ(نوي چاپ) لخوا یې مهمان نوازي وشوه.

په آلمان کې د افغانستان لسمه کلیزه ولمانځل شوه.او په آلمان کې امان الله خان ته یوه طیاره ورکړل شوه.

امان الله خان له آلمان څخه د انګلستان په طرف ولاړ او هلته د پادشاه لخوا یعني د پنځم جارج او ملکې لخوا ورته هرکلی وویل شو او امان الله خان په لندن کې د انګلیس هوایي ځواک ولید همدارنګه د اسکفورډ او یو شمیر نورو پوهنتونو څخه یې هم لیدنه وکړه چې د اکسفورډ لخوا ورته افتخاري دوکتورا د حقوقو په خانګه کې ورکړل شوه.

امان الله خان له انګلستان څخه روسیې ته سفر وکړ او انګلیسان د شاه امان الله خان له دغه سفر سره مخالف و ځکه چې نه یې غوښتل له روسیې سره دوستانه اړیکې ولري او له امان الله خان څخه په روسیه کې د ریس جمهور کالنین او لوړ رتبه مامورینو لخوا ګرم استقبال وشو.

امان الله خان ورسته له روسیې څخه د ترکیې په لوري حرکت وکړ او په ترکیه کې د مصطفی کمال اتاترک د ترکیې ریس جمهور او عصمت انیونو چې صدر اعظم و او نورو لوړ رتبه مامورینو لخوا ورته هرکلی وویل شو.

شاه امان الله خان ورسته د یولسو آسیایي او اروپایي هیوادنو له لیدنې څخه غوښتل چې ایران ته سفر وکړي او د ایران په تهران کې د رضاه شاه پهلوي لخوا ورته هرکلی وویل شو.

د امان الله خان سفر دوه اسلامي(ایران،ترکیه) او نورو آسیایي او اروپایي هیوادونو ته زیات اهمیت درلود.

ملکه ثریا یوه د هیواد له مشهورو ښځو څخه وه او په دغه سفر کې یې د شاه امان الله خان همراهي کوله. ملکه ثریا د محمود طرزی درېیمه لور وه چې یوه سخنرانه، فاضله، عالمه او وطن دوسته ښځه وه د امیر امان الله خان میرمن هم وه.

ملکې ثریا په ۱۲۹۳هـ کال کې د امیر امان الله خان سره واده وکړ. ملکه ثریا یوه د امیر امان الله خان له تشویق کوونکو څخه د نوي تمدن د خپرولو په برخه کې وه او د ښځو د آزادی غوښتونکو یوه فعاله غړې وه.

یویشتم لوست (عکس العملونه)

د اصلاحاتو پر مقابل کې عکس العمل

په ۱۳۰۴هـ کال کې چې د ۱۹۲۹م کال سره سمون خوري امان الله خان کوښښ وکړ تر څو د خبرو له لاري ستونزه حل کړي ملایان او مفتیان یې پکتیا ته ورولیږل تر څو دغه روحانیان قانع کړي، مګر هغوی قبول نکړل همدا وو چې مخالفت د ملا عبدالله په مشرۍ په پکتیا کې شروع شو او تر لوګر پورې وغځیده دولت د هغه پر وړاندې مقاومت وکړ او هغه یې غلي کړل.

د دولت مخالفینو په ختیځ او شمال کې فعالیت کاوه د دغه پلان طرحه داسې وه چې لومړی په ختیځ کې اغتشاش وکړي کله چې دولتي عسکر هلته ولاړل شمالي جبهې(کوهدامن او کوهستاني عسکر) پر کابل باندې یرغل وکړي او په آسانۍ سره دولت ونیسي.

په هغه وخ چې شینوارو په ختیځ کې بغاوت وکړ نو د شمال لاره د حبیب الله کلکاني چې د سقاو زوی په نامه مشهور و بنده کړه.

حبیب الله کلکاني د کابل له والي علي احمد خان (د امانیه دولت له لوري د کوهدامنو د خلکو د مسایلو د حل په موخه تاکل شوی و) سره اړیکې ټینګې کړې علي احمد د ملي ګټو پر خای د شخصي ګټو لپاره کار کاوه او په پته سره د حبیب الله کلکاني سره یو خای شوي و.

امیر امان الله خان نه غوښتل چې وینې وبهېږي هغه له پاچاهۍ څخه په ۱۹۲۹م کال په جنوري میاشت کې استعفا وکړه او د قندهار پر لور روان شو او له هغه خایه بریتانیا ته ولاړ او همالته مړ شو.

د امان الله خان ورور عنایت الله دري ورځې د هیواد واک په لاس کې واخیست ورسته حبیب الله کلکاني ارګ محاصره کړ عنایت الله قندهار ته شاتګ وکړ.

دوه ویشتم لوست (د بحران ختم)

د بحران ختم او د قدرت حاکم کېدل(۱۹۲۹م-۱۳۰۸هـ.ش)

د حبیب الله کلکاني ۹میاشتنۍ حکومت کابل له هرې خوا څخه زیانمن کړ.

نادر خان چې د جنوبي مورچل مشر او د امانیه دورې سپهسالار د خلکو په کمک سره په ۱۹۲۹م د اکتوبر په ۱۵ نیټه کابل ته داخل شو.

د لویې جرګې له پریکړې څخه ورسته حضرت مجددي نورالمشایخ د امیر نادر خان پر سر تاج کېښود او په همدې دول نادر خان د هیواد پاچاه شو.

نادر شاه په داسې حال کې په وران کابل پاچاهي پیل کړه چې د سختو ننګوونو سره مخ وو.

نادر شاه یو هوښیار، با تدبیره او پوه شخصیت چې د کابل ریس جمهور او ورور یې سردار محمد هاشم خان د صدر اعظم په توګه وګومارل شو.

د نادر شاه د حکومت پر مهال یو شمیر زیربنایي اصلاحات رامنځته شول، د کابل پوهنتون تأسیس شو، د ملي بانک اساس کیښودل شو، ادبي انجمن رامنځته شو، سالنامه چې د شاه له ابتکاراتو څخه وه رامنځته شوه او خپله شاه د مطبعي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

څخه نظارت کولو او په همدې شکل په هغه وخت کې زیاد شمیر زیر بنایي کارونه وشول.

په ۱۹۳۰م کال د جون په میاشت کې د شمالي اقوام کوم چې د حبیب الله د حکومت په وخت کې یې منافع زیادې وې یو ځل بیا په بغاوت پیل وکړ چې لومړی د نادر لخوا ورته وویل شول ترڅو له بغاوت څخه لاس واخلي خو هغوی قبول نکړ.

په ۱۹۳۲م کال کې ملا لیوني په خوست کې پاڅون وکړ او امیر نادر شاه ډیر ژر غلی کړ.

محمد نادر خان په خپل ۴ کلن سلطنت کې وکولی شول کوم بحران چې د حبیب الله کلکاني لخوا رامنځته شوی وو ختم کړي او یو مرکزي دولت جوړ کړي او قدرت حاکم کړي.

محمد نادر شاه په ۱۹۳۳م کال د نوامبر په ۸ نیټه د قصر دلکشاد په چمن کې کله یې چې د شاګرانو په سینه مډالونه بندول د عبدالخالق د تفنچې په ډز سره ووژل شو.

دویشتم لوست(د اصول نامې ترتیب)

د اصول نامې ترتیب او تدوین

محمد نادر شاه د امانیه د دورې نظامنامه په لړ څخه تفسیر سره د اصول نامې په نامه نافذه کړه.

محمد نادر شاه د یوه هئیت په واسطه اصول نامه د اساسي قانون په نامه تدوین کړه دا هماغه اساسي نظام نامه وه چې د قوانینو د مور حیثیت یې درلود.

همدارنګه اصولنامه د ملي شورا انتخابات ترتیب، او دا دواړه د لویې جرګې په مجلس کې په ۱۳۰۹هـ.ش د سنبلې په ۲۸ نیټه تقدیم او تصویب شوه.

د همدې قانون پر اساس د شورای ملي انتخابات په ۱۳۱۰هـ.ش د سرطان په ۱۴ نیټه د سلام خانې په قصر کې د پادشاه لخوا افتتاح شول.

دغه اساسي اصولنامه تر ۱۳۴۲هـ.ش کال پورې نافذه وه ،او د هغه مطابق بعضی لوحې او مقررات تطبیق شول.

محمد هاشم خان ۱۸ کاله د افغانستان صدراعظم و.

عبدالاحد مایار وردګ له ۱۹۳۲م څخه تر ۱۹۴۶م پورې چې د محمد هاشم خان ورستی ماموریتي کال و په مسلسل ډول د شورای ملي ریس وو.

عبدالحمید زابلي هم د محمد ظاهر شاه د سلطنت پر مهال مهم رول ولوبولو هغه د محمد ظاهر شاه د سلطنت په موده کې د تجارت او اقتصاد په برخه کې وزیر و، او همدارنګه د هیواد په صنعتي کولو کې یې مهم رول درلود نومورې زیاتې فابریکې په کار واچولې او د افغانستان لپاره یې نه هیرودنکي خدمتونه ترسره کړي دي.

څلور ویشتم لوست (محمد ظاهر شاه)

ورسته د نادر شاه له وژل کیدلو څخه فاملي شورا دایره شوه او دا اصول نامه د پنځمې مادې مطابق محمد ظاهر شاه د نادر شاه زوی چې ۱۹ کلن وو د هیواد ریس جمهور شو.

د اصولنامې مطابق ټولو له هغه سره بیعت وکړ د هغه په نوم خطبه وویل شوه او سکه یې په نوم ووهل شوه او محمد ظاهر شاه د المتوکل علی الله په لقب سره ونومول شو ،چې تقریبا ۴۰ کاله د هغه د نوم سره ضمیمه و.

سره لدې چې محمد ظاهر شاه کوچنی و او تجربه یې نه درلوده د هغه د ټولو کارونو بار د هغه د کاکا محمد هاشم خان پر اوږو باندې وه.

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په لومړیو کې دوهم جنګ جهاني پیښ شو. دوهم جنګ جهاني له ۱۹۳۹م څخه تر ۱۹۴۵م کاله پوري و دغه جنګ له اروپا څخه پیل او ډیر ژر یې تر آسیا او د نړۍ نورو سیمو ته سرایت وکړ.

د دغه جنګ طرفین (آلمان، ایتالیا، جاپان، او کوچني ختیځ اروپایي دولتونه) د محور په نوم او (انګلستان،فرانسه، شوروي اتحاد،امریکا او یو شمیر اروپایي هیوادونه) د متفیقینو په نامه یادیدل او په جنګ کې ښکیل و.

په دغه جګړه کې د افغانستان ګاونډیان روسیه په شمال کې،ایران په لوديځ او برتانوي هند په جنوب کې زیانمن شول.

کله چې جنګ شدت ونیو د محور قواوې د ختیځ اروپا څخه روسیې ته داخلي شوې.

دوهم جنګ جهاني د اقتصادي لحاظه افغانستان ته زیانونه واړول، د آلمان حمله پر شوروي اتحاد باندې او د جاپان تجاوز د الکاهل په بحر باندې، د افغانستان تجارت د محور دولتونو سره او په آسیایي او یو شمیر اروپایي هیوادونو قطعه شول.

د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ تجارت هم په کمیدو وو او یوازې د هند یعنی بریتانوي هند سره تجارتي اړیکو شتون درلود، د اجناسو نرخ د (۱۹۳۹-۱۹۴۵م) کلونو تر منځ ۴ الی ۵ چنده لوړ شو.

پنځه ویشتم لوست (پنځه کلن پلان)

لومړی پنځه کلن پلان(۱۹۵۶م)(۱۳۳۵هـ.ش)

د محمد ظاهر شاه د سلطنت پر مهال لومړی محمد هاشم خان له صدارت څخه استعفا ورکړه او له هغه څخه ورسته یې بل ورور سپهسالار شاه محمود خان صدراعظم وټاکل شو.نوموړي ورسته له ۷ کلو وظیفې څخه مړ شو.

محمد داؤد خان غوښتل چې افغانستان د اقصادي،ټولنیز او ساسي لحاظه یو مستقل دولت وي او د یوه منظم پلان پر اساس یې د هیواد اقتصاد پیاوړی کړ.

داؤود خان یو کابینه د تحصیل یافته کسانو څخه جوړه کړه او په خارجي سیاست کې یې فعاله بې طرفي اختیار کړې وه چې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ده هغه پایه د ملي منافعو او د خلکو په آزاد قضاوت باندې ولاړ وو.

محمد داؤود خان یو منظم پلان ترتیب کړ د هغه پنځه کلن پلان له ۱۹۵۶م څخه شروع او پای ته یې ورسولو او دوهم پلان یې ۱۹۶۱م کال کې شروع کیده.

په اقتصادي پلان کې لومړی انکشافي بودیجه په زیربنایي امورو کې مصرف شوه چې په واسطه یې د سړکونو جوړول او د برق تولید و. په دغه وخت کې کابل-قندهار او سپین بولدک-کابل،کابل-قزل قلعه -د سالنګ تونل،قندهار-هرات او کشک لوی لارې جوړې شوې.

د نغلو بند ظرفیت ٦٦زره، ماهیپر ۱۰زره، درونټه ۱۱زره او د مزارشریف برښنا ۱۰زره کیلو واټه ته زیاته شوه.

د غور د سمنټو فابریکه او یو شمیر د موټرو ترمیمولو وسیلې د هیواد په مختلفو نقطو کې جوړې شوې او همدارنګه د کابل د جنګلک فابریکه په کمپلکس باندې تبدیله شوه چې ورسته یې لوی ماشینونه نه تنها ترمیم بلکه د هغوی د مونتاژ کارونه یې هم سرته رسول.

شپږویشتم لوست (د دیموکراسی لسیزه)

د دیموکراسی لسیزه(۱۳۴۳-۱۳۵۲هـ.ش)

د محمد ظاهر شاه لس ورستي کلونو د دیموکراسی(اساسي قانون) د لسیزې یا شاهي مشروطه په نامه یادیږي.

د دیموکراسی دوره په افغانستان کې ورسته د محمد داؤود خان له استعفا څخه د اساسي قانون په نافذ کیدلو په کال ۱۳۴۳هـ.ش کې شروع شوه او د لسو کلونو لپاره یې دوام وکړ.

شاه محمود خان د خپل صدارت په دوره کې هم د دیموکراسی لپاره شرایط مساعد کړي و.

په نوي اساسي قانون کې فیصله وشوه چې د شاهي کورنی غړي نشي کولی په سیاسي حزبونو کې شرکت وکړي او نه دې دغه مسولیتونو څنبتن کېدای شي

۱-د صدارت مقام،۲-په شورا کې عضویت،۳-په ستره محکمه کې عضویت چې نظر په همدغې فیصلې سره پنځم صدر اعظم خارج د شاهي کورنی څخه (ډاکتر محمد یوسف،محمد هاشم میوندوال،نور احمد اعتمادي،ډاکتر عبدالظاهر او محمد موسی شفیق) وظیفه سرته رسوله.

کله چې سردار محمد داؤود خان استعفا ورکړه نو محمد ظاهر شاه محمد یوسف خان صدراعظم وټاکه نومورې خپله کابینه په ۱۹۶۳م کال کې د مارچ په ۱۳ اعلان کړه.

محمد یوسف خان یو تحصیل کرده شخص د فزیک په څانګه کې د المان په دولت کې او په یوه مناسبه سطحه کې یې قرار درلود د ډاکتر محمد یوسف عمده کار د نوي اساسي قانون تدوین او طی مراحل وو.

د دیموکراسی په لسیزه کې د مطبوعاتو قانون د مقنینې په فرمان نافذ شو، او د دغه قانون پر اساس تقریبا ۳۰ جریدې په کابل کی نشر شوې چې مشهورې یې دا دي: د افغان جریده، مساوات،روزګار،افغان ملت، ملت،کاروان،خلق، پرچم، شعله جاوید،ګهیځ، ترجمان، مردم او نوري...

بعضی حزبونو او جریانونو هم په دغه وخت کې فعالیت درلودل.

1.د خلق دیموکراتیک ګوند،چې ورسته بیا په خلق او پرچم باندې ووېشل شو.

2.حزب دیموکراتیک نوین(شعله جاوید)

3.اسلامي نهضت یا د مسلمان ځوانانو ګوند

4.افغان ملت(افغان ټولنپال ولسواک ګوند)

5.مترقي ډیموکرات ګوند

6.ستم ملي ګوند

7.ملي اتحاد د دیموکراسی په لسزه کې د اساسي قانون مطابق د قواوو تفکیک هم رامنځته شو، او دولت پر دریو قواوو (اجرایه،مقننه،قضایه) ووېشل شو او د شورا د دولسمې او دیارلسمې دورې لپاره په هیواد کې آزادې ټاکنې وشوې.

اووه ویشتم لوست (د تغیر عوامل)

د رژیم د تغیر عوامل له سلطنت څخه جمهوریت ته

مشروطه شاهي رژیم په ۱۳۵۲هـ.ش کال د چنګاښ په ۲۷ نیټه د یوې سپینې کودتا په ترڅ کې د سردار محمد داوود خان تر مشرۍ لاندې نسکور او پر ځای یې جمهوري نظام اعلان شو.

د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په دوره کې د ۱۳۴۳لمریز کال د اساسي قانون انفاذ د مشروطه شاهي نظام اساسات رامنځته کړل نو دغې موخې محمد ظاهر شاه ته دا انګیزه ورکړه چې محمد داوود باید د صدارت له مقام څخه لرې او ساسي ډګر ته یې بیا راتګ د تل لپاره ناشونی شي.

محمد داوود خان دا پرېکړه کړې وه چې په هر ډول چې امکان ولري د هیواد په ساسي جوړښت کې بدلون راوړي، تر څو له یوې خوا د بحران خطر له منځه یوسي او له بل پلوه د خلکو غوښتنې د افغانستان د اقصادي او ټولنیز پرمختګ په اړوند پوره کړي.

کله چې محمد ظاهر شاه د سترګې د علاج لپاره اروپا ته تللی وو،د کودتا مقدمات له مخکې جوړ شوي وو،په دې توګه د ۱۳۲۵لمریز کال د چنګاښ په ۲۶ نیټه د محمد داوود په مشرۍ او د پوځ د افسرانو په مرسته د شاهي نظام په رنګولو لومړنۍ جمهوریت بریالیتوب ته ورسید او د هیواد د تاریخ نوی څپرکی پرانیستل شو.

اته ویشتم لوست (د ۱۳۵۲لمریز کال د چنګاښ د ۲۶مې نېټې کودتاه)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

سردار محمد داوود خان چې کله د صدارت له مقام څخه استعفا وکړه او لس کاله يې په کوښه والي کې تير کړل.

په د ۱۹۷۳م کال کې د جولای په ۱۷مه چې د ۱۳۵۲هـ.ش کال د چنګاښ له ۲۶مې نېټې سره برابره وه،کودتاه وکړه چې په پايله کې د افغانستان شاهي نظام لغوه او جمهوريت اعلان شو.

د چنګاښ د ۲۶مې کودتاه د ۱۹۶۳م کال د اساسي قانون لسيزې ته د پای ټکی کيښود.که څه هم هغو پنځو حکومتونو د ډيموکراسی دعوه کوله،خو په حقيقت کې پرې انارشيستي خصلت غالب و.

د داوود خان کودتاه دې ګډويو ته خاتمه ورکړه او پر ځای يې سردار محمد داوود خان د يوه ملي رهبر په توګه راڅرګند شو.

محمد داوود خان د کودتا تر پايلې ورسته خپله تاريخي بيانيه(خلکو ته خطاب)په نامه اعلان کړه چې د نوي دولت کړنلاره په کې وه.

د نوي دولت د کړنلارې څخه د هيواد خلکو په ولايتونو او مرکز کې تود هرکلی وکړ، محمد ظاهر شاه چې په ايټاليا د ناپل په ښار کې په استراحت بوخت و. په کابل کې د خپلې پاچاهی د له منځته تللو څخه خبر شو. سمدستي روم ته لاړ او خپله استعفا يې د افغانستان د سفارت له لارې د افغانستان د جمهوريت د مؤسس په نامه کابل ته راولېږله. د استعفا نامې په رسيدلو سره چې د شاهي کورنۍ غړي بنديان وو له بنده آزاد او ايټاليا ته ولاړل.

د محمد داوود خان د فرمان په اساس د ۱۳۴۳هـ.ش کال اساسي قانون لغوه شو او د نوي اساسي قانون د تصويب لپاره لويه جرګه چې ۳۴۹ کسه غړي يې درلودل د عزيز الله واصفي په مشری راوغښتل شو او ۱۹۷۷م کال د مارچ په ۱۴مه نوی اساسي قانون تدوين او د محمد داوود خان له خوا توشيح او نافذ شو.

د افغانستان د جمهوري دولت له ډيرو مهمو کارونو څخه يو هم د اووه کلن اقتصادي پلان جوړول و. دا پلان په ۱۹۷۶م کې پيل او په ۱۹۸۳م کې بايد پای ته رسېدلی وای.

د جمهوريت په موده کې په ټول هيواد کې د سړکونو د ځارنې او ترميم کار پيل شو. له هراته د کندهار تر سپين بولدک پورې د اوسپنې پټلی، لوګر د عينکو د مسو کان او د حاجي ګک د سروې کار تر لاسه لاندې ونيول شو.

د محمد داوود خان پلانونه او پرګرامونه ډير پراخ بنسټه وو چې ټول يې عملي نه شول، او د ۱۳۵۷لمريز کال د غويي پر اوومه د يوې پوځي کودتاه په وسيله د محمد داوود خان جمهوريت نظام ړنګ شو.

درېيم څپرکی

نهه ويشتم لوست (پاکستان)

د پاکستان اسلامي جمهوريت

اسلام د اوومې ميلادي پيړۍ په لومړيو کې د هند نيمې وچې ته ورسيد.

پوځيان او مسلمانان مهاجرين چې له لوديځ څخه راغلي وو څو پيړۍ مخکې د هند په نيمه لويه وچه کې مسلمانان د دوو لويو ټولنو په توګه د هند په ختيځ او لوديځ څنډو کې رامنځ ته شول. هند په وسطي پيړيو کې په څو کوچنيو پادشاهيو باندې تقسيم شوی و.

په ۱۸۸۵ م کال کې هندوانو د دې لپاره چې د يوه بومي پارلمان د جوړولو بنسټ کيږدي د هند ملي کنګره يې جوړه کړه، يو شمير مسلمانان له کنګرې سره يو ځای شول، خو لږ ورسته څرګنده شوه، چې مسلمانان په کې لږ دي او نبايي ګټې يې په پام کې و نه نيول شي.

د مغلو په وخت کې د دغه وچې لويه برخه د مسلمانانو د حاکميت لاندې وه.

هند په وسطي پيړيو کې په څو کوچنيو واکمنيو باندې تقسيم شوی وو.

په ۱۹۰۶م کا کې مسلمانان له کنګرې څخه جلا شول او خلکو ته يې د دې بلنه ورکړه چې په جلا ټولټاکنو کې د مسلمانان خپل استازی وټاکي په همدې ترڅ کې يې د هند ټولو مسلمانانو انجمن(مسلم ليګ) د هندوانو د کنګرې د رقيب په توګه تأسيس کړ.

د ۱۹۴۵م کال تر ټولټاکنو ورسته د مسلمانانو د يوه ملي دولت غوښتنه لا پياوړې شوه ،که چيرې تجزيه منځ ته راغلې نه وای، جګړه پيل کيده، چې په پايله کې دواړه پښې شول .

په ۱۹۳۸م کال کې جناح د مسلم ليک د پياوړتيا لپاره د دوه ملتونو نظريه وړاندې کړه او د يوه بېل اسلامي هيواد د جوړولو غوښتنه يې وکړه.په ۱۹۴۰م کال کې مسلم ليک د يو پربکړه ليک په ترڅ کې د پاکستان د جوړولو غوښتونکی شو.

په ۱۹۴۶م کال کې کنګرې او هم مسلم ليګ د بريتانيې فدرالي حکومت د جوړولو طرحه رد کړه او کنګره هم تر ۱۹۴۷م کال پورې د تجزيې منلو ته تياره شوې وه، او يوازې د سرحداتو ټاکل پاتې وو، په ۱۹۴۷م کال د اګسټ په ۱۴مه پاکستان جوړ شو.

لږ وخت ورسته دواړه ملتونه(هند او پاکستان) د کشمير پر سر په جګړه اخته شول، هند کشمير په دې بهانه چې حاکم يې هندو دی نيولی و، خو مسلمانانو په دې چې ډيری اوسيدونکي يې مسلمانان دي، بايدکشمير د پاکستان يوه برخه وي.

د يوه مستقل هيواد په توګه د پاکستان په منځ ته راتګ کې ځينو رهبرانو له فيلسوف او شاعر اقبال لاهوري، حقوق پوه محمد علي جناح ستر رولونه لوبولي دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

خان عبدالغفار خان د پښتونخوا د سترو او ملي ځيرو څخه دی،چې د انګليس د استعمار او استبداد په وړاندې پاڅون وکړ او د خپل ژوند ډيرې شپې يې په دې لار کې تيرې کړې دي.

د ۱۹۵۶م کال اساسي قانون پاکستان يو اسلامي هيواد اعلان کړ او هم يې پارلماني قوانين د اسلامي تحقيقاتو د انستيتيوت(Islamic Research Institute) د بيا کتنې تابع کړ.په ۱۹۵۸م کال کې دا قانون منسوخ شو او د پاکستان جمهوري اعلان سره هڅه وشوه، د اسلامي رهبرۍ خواکمنتيا محاره کړي، د هڅو په پايله کې په ۱۹۶۳م کال کې بيا د ۱۹۵۶م کال اسلامي شرايط څه نا څه اعاده شول.

د بنګله دېش بېلوالی

پاکستان د دې فکر پر بنسټ جوړ شو چې د هند مسلمانان داسې يو ملت جوړ کړي چې د هيواد په لرلو سره ځانګړې سيمې او قلمرو ولري ،پاکستان د سند، بلوچيستان، پنجاب او د پښتونخوا له ايالاتونو څخه ملت نه جوړاوه او د دوی تر منځ ژور قومي او ژبنۍ توپيرونه موجود و.

د پاکستان بنسټ ايښودونکو د دې هيواد لپاره د لوديځ او ختيځ پاکستان د وحدت لپاره د اسلام دين اصلي عامل وګانه.

ژبنيو توپيرونو، ټولنيزو ځانګړتياوو، فرهنګي ميراث او اقتصادي شرايطو مسلې رامنځ ته کړې.د دغه هيواد دوه لويو ډلو تر اتلس کلونو پورې هڅه وکړه چې يوځای ژوند سره وکړي او ګټور اتحاد رامنځته کړي ،خو همدې موخې ته ونه رسېدل.

په ختيځ پاکستان کې يو بل سياسي سيال راپيدا شو. د ۱۹۶۸م کال په دوبي کې مجيب الرحمن د عوامي ليګ (خلک ګوند)مشر د ۳۵ بنګاليانو په ګډون له پاکستان څخه د بېلوالي مسوؤل وګڼل شول.

په ۱۹۷۱م کال کې د ختيځ او لوېديځ پاکستان تر منځ کورنۍ جګړه پيل شوه.

تر يوې خونړۍ جګړې وروسته ختيځې برخې له مرکزي دولت سره خپلې اړيکې پرې کړې او د بنګله دېش په نامه يو بل هيواد رامنځته شو.

دېرشم لوست (ايران)

د ايران اسلامي جمهوريت

له اروپايي هيوادونو سره دايران اقتصادي اړيکې له صفوي دورې پيل شوې وې او نسبي اندول يې درلود، خو د قاجاريانو د دورې په ورستيو وختونو کې دغه اندول د اروپايي هيوادونو په ګټه او د ايران په زيان تمام شو.

د لومړۍ نړيوالې جګړې څخه يو کال مخکې احمد شاه قاجار چې خوان شوی و،ناصر الملک يې د سلطنت له مرستيالی څخه لرې او د ملي شورا د مجلس جوړونې لپاره يې د تاکلو امر صادر کړ، خو يو کال ورسته د لومړۍ نړيوالې جګړې په پيل سره د پردېو د تيريو د ډيرېدو له امله مجلس وځنډيد.

پهلوي دوره

احمد شاه قاجار د حوت د مياشتې د درېيمې نيټې د کودتاه زمينه مساعده کړه، د کودتاه مشر رضا خان و، نومورې د تهران له نيولو ورسته هغه د سيد ضياالدين طباطبائي په مشرۍ مستقله کابينه جوړه کړه او لږ ورسته رضا خان د دفاع وزير شو او ضياالدين له ايران څخه تبعيد شو،او ورسته د قوام السلطنه په کابينه کې د دفاع د وزارت چارې او د ايران د پوځي قواوو مشري هم د رضا خان په لاس کې پاتې شوه.

په پايله کې د ملي شورا مجلس د ۱۳۰۴هـ.ش کال د لړم په مياشت کې د چاقاري سلطنت ړنګېدل او موقت حکومت يې د پوځ د مشر رضاشاه تر مشرۍ لاندې اعلان کړ،د ملي شورا له غونډتنې سره سم د هماغه کال د لينديۍ په مياشت کې د مؤسيسان مجلس جوړ کړ.

دويمه نړيواله جګړه چې له ۱۹۳۹تر۱۹۴۵م کال پورې يې دوام وکړ،د ۱۳۲۰لمريز کال د سمبلې د مياشتې په ۲۵مه د شوروي اتحاد او انګليسي قواوو له څو لوريو په ايران يرغل وکړ.

رضا خان په همدې مياشت کې سلطنت پرېښود او د هيواد چارې يې خپل مشر زوی او د سلطنت وليعهد ته وسپارلې، او خپله سويلې افريقا ته ولاړ،نومورې له هيواد څخه بهر دوه کاله لس مياشتو او ۹ ورځو ورسته د زړه له دريدو څخه مړ شو.

محمد رضا شاه پهلوي

محمد رضا شاه پهلوي د رضا شاه پهلوي زوی او د پهلوي کورنۍ دوهم پاچا و. هغه د ۱۲۹۸لمريزکال د لړم په مياشت کې په تهران کې زيږيدلی، لومړنی زده کړې يې په پوځي پوهنتون او لوړې زده کړې يې په سويس کې بشپړې کړيدې.

د ۱۳۲۰لمريز کال د وري(سنبلې)په مياشت کې په ايران باندې د پخواني شوروي اتحاد او انګليسانو د حملو له امله رضا شاه سلطنت پرېښود او محمد رضا شاه چې د سلطنت وليعهد و، د سلطنت واک يې ترلاسه کړ.د وري په ۲۵مه نېټه يې د شورا په مجلس کې د وفاداری لوړه وکړه.

د بغداد په نظامي ټرون(سنټو) کې د ايران داخلېدل،د لومړي ځل لپاره د تلويزيون د دستګاه رامنځ ته کول،د مرکزي بانک جوړول، د نالوستو پر وړاندې مبارزه، د سنا او شورا په مجلسونو کې د ښځو د انتخاب حق، د لويو سړکونو جوړول، د سياسي ګوندونو رامنځته کول، د موټر جوړولو کارخانې، د اور ګاډو نوې پټلۍ، د ايران او روس تر منځ د ګاز د نل ليکې غځول، د نړۍ له هيوادونو سره د سياسي اړيکو ټينګول،د نفتي فابريکو جوړول،له عراق سره د اوبو د سرحدونو ټاکل، د فرانسې او آلمان په مرسته د هستوي انرژۍ د مرکز جوړول هغه څه دي چې يادولی يې شو.

محمد رضا شاه د ۱۳۵۷لمريز کال د مرغومي په مياشت کې د ايران د اسلامي انقلاب او پاڅون له امله د خپلې کورنۍ له ټولو

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

غړو سره مصر ته ولاړ او تر ۱۸ میاشتو سرګردانی ورسته په ۱۳۵۹ل کال کې د سرطان د ناروغی له امله په مصر کې مړ او هلته خاورو ته وسپارل شو.

د ایران اوضاع له ۱۳۵۷ لمریز کاله را ورسته له ډیرو چټکو بدلونونو سره مخ شو او هغه نهضت چې خمیني له ۱۳۴۱ لمریز کال څخه پیل کړی و، پراخې کچې ته ورسید، او په انقلاب وواښت چې په پایله کې د ۱۳۵۷ لمریز کال د سلواغې د میاشتې په ۲۲مه نیټه بریالیتوب ته ورسید. مصر ته د شاه له تښتې څخه ورسته هغه نظام چې ۳۷ کاله پر هیواد حاکم و، له منځه لاړ.

نوی دولت په ۱۵/۱۱/۱۳۵۷ نیټه د امام خمیني په حکم د مهندس بازرګان په صدارت رسمیت پیداکړ.

یو دېرشم لوست (چین)

د چین د خلکو جمهوریت

له دې کبله چې چین د دریو لویو وچو اروپا، آسیا او افریقا د تقاطع په محل کې موقعیت لري، نو په شمال کې نړیوال او دلویو قدرتونو په منځ کې له ستراتیژیک اهمیت څخه برخمن دی.

چین په شمالي نیمه کره، د آسیا په ختیځه برخه کې او د آرام سمندر په لودیځ ساحل کې پروت دی، چې ۹.۶ میلیونه کیلومتره مربع مساحت په لرلو سره د نړۍ درېیم لوی هیواد دی.

د چین هیواد پلازمینه د پیکن (بی جینګ) ښار دی، چې له ډیرو پخوانیو مرکزونو څخه ګڼل کیږي، او تاریخي مخینه یې تر ۳۰۰۰ کالو پورې رسیږي. یاد شوی ښار ۱۰۰۰ کاله مخکې جوړ شوی او اوه پیړۍ پخوا قوبلای خان (بیجینګ)خپل دایمي پایتخت وټاکه او تر اوسه پرته له ۱۹۴۹-۱۹۲۸م کلونو ګومین تانګ چې پایتخت یې نن جینګ ته انتقال کړ، بیجینګ د چین پلازمینه ده.

د چین ډیری اوسېدونکي د خان(هان)له نژاد څخه دي، چې د مختلفو ډیرو را پدېخوا په همدې خای کې اوسېدلي دي او د هان د سلسلې پاتې شوني ۲۰۶-۲۲۰م کلونو پورې دي چې د هان له امپراطورۍ څخه یې اقتباس کړي دي.

د بني امیه د حکومت پر مهال د منځنۍ ختیځ او له سند څخه د مدیترانې تر سویل او د افریقا تر شمال پورې سیمې د اسلام تر واحد بیرغ لاندې راغلې.

د عباسي امیرانو پر مهال په ځانګړې توګه هغه وخت چې د خلافت مرکز یې له دمشق څخه بغداد ته یو وړل شو،د اتمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې د تزیني شیانو د غوښتنې له کبله د دې اړتیا پیدا شوه چې د سیمې د هیوادونو په سوداګرۍ کې په ځانګړې توګه له چین سره د مرکزي آسیا د هیوادونو سره د ځمکې له لارې نوی والی راشي.

خو د فارس خلیج، د عربستان سویل، د افریقا له ختیځ، هند، د آسیا سویل ختیځ تر چین پورې د اوبو له لارې راکړه ورکړه د ډیر اهمیت څخه برخمنه وه.

په چین کې هم د تانګ سلسلې د سوداګریزې لارې د امنیت ضمانت کړی و.

له شپاړسمې میلادي پیړۍ څخه ورسته پرتګالیانو او هالنډیانو کله چې هرمز په ایران،ګوا په هند او د چین په جنوب کې ماکائو پر بحري او سوداګریزو لارو تسلط ومونده، نو د چین اړیکې د ختیځې آسیا له نورو هیوادونو سره کمزورې شوې.

د دیارلسمې میلادي پیړۍ په لومړیو کې د مغلو د یرغل له امله تر سرچینه پورې د سیمې هیوادونو او هم د منځنۍ ختیځ سیمې په ورته برخلیک اخته شوې.

په ۱۲۳۰م کال کې د اوکتای قاان له خپلو دوو وروڼو چغتای او تولي او له خپلو زامنو سره د هوانګ هو د جلګې پر لور حرکت وکړ او تر ۱۲۳۴میلادي کال پورې یې د کای فنګ ښار ونیو.

د انګلستان اساسي موخه د چین سره د تریاکو سوداګري وه، چې دغه اړیکو ناوړه پایلې درلودې چې د تریاکو د جګړې چې په ۱۸۶۰-۱۸۴۱م کال کې تر سره شوه لامل وګرځیده.

په شلمه م پیړۍ کې لومړۍ د امپراتورۍ حکومتونه او ورسته د چین ملي جمهوریت منځ ته راغی. ډاکټر سون یات سن چې د مدرن پلار په نامه مشهور دی، د ۱۹۱۱م کال د انقلاب مشر، د چین لومړنی جمهور رئس هم و، چې دګومین تانګ د ګوند مشري یې تر ۱۹۲۱م کال پورې پر غاړه وه.

د ۱۹۴۹میلادي کال انقلاب

د ۱۹۲۸م کال په پسرلي کې د مائو په مشرۍ هغه پاتې شوني ماتې خوړونکي بلواګران(فصل خزان) او هغو پوځیانو چې د نانچانګ په ګډوډیو کې یې برخه اخیستې وه، ژوندي پاتې شوي وو د جوده په قومانده یوله بل سره یو ځای شول.

لومړنۍ هډه چې کمونیست ګوند د چین د سره پوځ د تینګښت لپاره جوړه کړه (چنګ کانګ شن) وه. همدارنګه مائو د ۱۹۳۱م کال په وروستیو کې د چین لومړنۍ شورایې جمهوري د ګیانګسي په سیمه کې اعلان کړ.

د چین کمونیست ګوند د مقاومت لپاره اغیزمنه تیاري نیولې وه. اقتصادي برخه کې د ۱۹۳۶م کال دمې د میاشتې د ۴ مې نیټې په مصوبه کې د چین د کمونیست ګوند مرکزي کمیټې دا پټېلې وه چې د لویو ملاکانو ځمکې مصادره کړي.

د ۱۹۴۸م کال په اوړي او مني کې آزادي غوښتونکي پوځ په کلکو او بریالیو عملیاتو لاس پورې کړ.

د ګومیندان پوځیان د چین په شمال ختیځ ښارونو کې محاصره او د ماتې سره مخامخ شول، د چین ډیره مهمه صنعتي سیمه چې د فلزاتو د ویلې کېدو کار خانې، د ډبرو د

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

سکرو رایستلو، ماشین جوړونې، د انرژۍ یا د لېږد رالېږد چې پرمختللې شبکې پکې وې کمونیستي قواوو ونیولې.

د ۱۹۴۸م کال په پای کې کمونیست ګوند پر ټول شمال او شمال ختیځ چین واکمن شو.

همدارنګه ۱۹۴۹م کال کې بیجینګ پرته له مقاومته سقوط وکړ او د کمونیست ګوند قواوو لاس ته ولوید او د هماغه کال د نومبر او اپریل د میاشتو تر منځ د چین ښارونه بې له وینې تویولو د کمونیستانو لاس ته ولویدل.

چیکا یچینګ د خپلو پوځیانو له کوچنۍ ډلې سره تایوان ته تښته وکړه.د پېکن تر نیولو او د چانکای شیک د قواو تر ماتولو وروسته کمونسټ ګوند بشپړ بریالتوب ته ورسید .او مائو د ۱۹۴۹م کال د اکتوبر د میاشتې په لومړۍ ورځ د پکن د سولې په میدان کې د چین خلکو جمهوریت اعلان کړ.

څرنګه چې د چین بهرنۍ سیاست له ۱۹۳۹م کال څخه ورسته د مائو پر عقایدو ولاړ و، نو د هغه د افکارو او غبرګونونو پر بهرنیو او کورنیو مسائلو بشپړ اغیز درلود.

له ۱۹۸۰م کلونو را پدې خوا د چین سیاستونه د سیمې له هیوادونو او نړۍ سره د پام وړ وده وکړه، او لدې امله چین د منطقې په سیاستونو کې د پام وړ ارزښت لري.

د چین نوی سیاست او پالیسي اوس د نړیوالو منسباتو د برابرۍ، ګټې، د همکاریو په شکل کې د نوښت او د عملي او ښو پایلو پر اساس ولاړه ده.

چین د نړۍ د پرمختللو هیوادونو لکه چاپان، امریکا او لوديځې اروپا په کتار کې دریدلی دی. او نن ورځ په نړۍ کې د صنعتي هیوادونو او مطرحه قدرتونو له ډلې څخه ګڼل کیږي.

دوه دېرشم لوست (تاجکستان)

د افغانستان په شمال کې یوه حاصلخیزه سیمه پرته ده چې ډېر عالمان او پوهان په دې باور دي چې آریایي نژاد خپلې د ژوندانه لومړنۍ ورځې او شپې د هندوکش د غرونو په لمن کې د جیحون او سیحون د رودونو پر غاړه تېرې کړې دي.

د آریایانو په پخواني کتاب کې د داسې څمکې یادونه شوې چې اب او هوا یې د څمکې پر مخ د خلد په نامه یادېده او زمور نېکونه هلته لوی شوي دي. او په پوره داډ سره ویلی شو چې د هغه څمکې څخه موخه همدا د جیحون او سیحون زېرې وړونکې سیمه ده.

د پام وړ شمېر تاجکان په ازبکستان او قرغزستان کې اوسېږي.تاجکان د آریایانو له پخواني نژاد څخه دي دوی د ترکانو د راځرګندیدو تر مخه د مرکزي آسیا د ډېر پخواني تمدن ښکارندوی دي.

د تاجکستان ملي ژبه تاجکي ده، چې د دري او فارسي سره ډېره نېږدې اړیکې لري او دواړه مشرک ادبیات لري.

سکندر د څلورمې میلادي پېړۍ د مخه د تاجکانو خاوره ونیوله او هغه ځای د خلکو تر مطیع کولو وروسته یې هلته له یونانیانو او مقدونیانو څخه یو لښکر کوټ جوړ کړ چې ۳۰ زره کسه یې هلته میشت شول. او د هغه ځاي د خلکو سره یو ځای شول.

له میلاد څخه دوه پېړۍ مخکې سکاهانو د یونانیانو ځای ونیو،له ۲۷-۳۹ د میلاد څخه مخکې کلونو کې ګواي شانګ(کوشان) د یوچی نور قبایل ونیول او د کوشانیانو امپراتوري یې جوړه کړه چې ویې کړای شول په مرکزي آسیا ۲۰۰ کاله حکومت وکړي.

د کوشانیانو امپراتوري دریمې پېړۍ په پای کې کمزوري شوه او یو بل قوم چې رومیانو هغوی (افتالیت) یا سپین هوتان یا اهیاطله بلل رامنځته شول.

د ترکي مهاجرینو پرله پسې یرغلونو دا سیمه داسې ترقي کړه چې په ۱۳مه میلادي پېړۍ کې یې مغول یرغلګر په ځان کې مخلوط او هغوی یې تر خپلې اغېزې لاندې راوستل.

د ۱۹مې پېړۍ په نیمایي کې چې د وخت په تېرېدو سره روسیې د ځمکې پراخولو لړۍ سویل لوري افغانستان خوا ته پیل شوه.

د تاجکانو ستر مرکزونه له اورا، توبه او خجند له روسیې سره وتړل شول، د تاجکستان شمالي برخه د روسانو په قلمرو او سویلي برخه یې د بخارا د امیر تر فرمان لاندې راغله.

په ۱۹۱۸م کال کې د شوروي حکومت منګولې د مرکزي آسیا په مخکینو نیول شویو سیمو کې ټینګې شوې. د همدې کال په اوږدو کې د تاجکستان شمالي برخه د خودمختاره شوروي ترکستان یوه برخه شوه.

په ۱۹۲۱م کال کې سرې قواوې د بخارا خټیځو برخو ته ورغلې او د دوشنبې ښار یې ونیو.

د ۱۹۲۴م کال کې د منځنۍ آسیا د جمهوریتونو د پولو ټاکلو په وخت کې د تاجک شورایی جمهوریت د ازبکستان جمهوریت یوه برخه شوه. په ۱۹۲۹م کال کې د دوشنبې ښار د ستالین آباد څخه په ۱۹۶۱م کال کې بېرته د دوشنبې په نامه ونومول شول.

په ۱۹۲۴م کال کې د سرحدي ټاکنو پر اساس ځینې ښارونه لکه سمرقند، بخارا، سرخان دریا، قشقا دریا، د فرغانې سیمې له تاجکستان څخه بیلې شوې او د هماغه سرحدي ټاکنې څخه وروسته تر نن نیټې پورې کوم بدلون پکې ندی راغلی.

د شوروي اتحاد تر رنګهدو ورسته په ۱۹۹۱م کال کې تاجکستان خپله سیاسي خپلواکي اعلان کړه. او د ملګرو ملتونو د ټولنې او ځینو نورو نړیوالو ادارو غړیتوب یې ترلاسه کړ.

دري دېرشم لوست (ازبکستان)

ازبکستان یو مرکزي آسیایي هېواد دی، چې د آمو او سېر دریا تر منځ موقعیت لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په دغه هېواد کې ٪۷۱ خلک ازبک دي.

پاتې نوره سلنه روسانو، تاجکانو، قزاقانو او تاتارانو ته شاملېږي.

٪۶۳ سلنه خلک يې په کلیو کې ژوند کوي، او رسمي ژبه يې ازبکي او روسي ده.

په ازبکستان کې تر میلاد څخه د مخه خلک اوسېدل، تر شپږمې میلادي پېړۍ د مخه د دې هېواد ډېره خاوره د هخامنشیانو د قلمرو یوه برخه وه.

له میلاد څخه ۳۲۹ کاله مخکې مقدوني سکندر سمرقند او اوسنی ازبکستان د باختري یونان یوه برخه وګرځوله.

مسلمانانو د اوومې میلادي پېړۍ په دویمه نیمایي کې د مرکزي آسیا مهمې برخې ونیولې.

قتیبه بن مسلم د خراسان عربي والي ته دنده ورکړل شوه چې ماورالنهر په بشپړه توګه فتحه کړي هغه په ۲۰ کلونو کې د چین او کاشغر تر پولو نیږدې او په شمال کې تر تاشکند پورې لښکرې راورسولې او په پای کې يې سمرقند، تاشکند او فرغانه ونیوله.

د اسلام په ظهور او خپریدلو سره په لسمه میلادي پېړۍ کې د ازبکستان اوسنی سیمه د سامانیانو د قلمرو یوه برخه شوه او د وخت په تېرېدو سره پرې غزنویانو، سلجوقیانو، خوارزمشاهیانو، مغلانو او تیموریانو حکومت کاوه.

ازبکانو خپل نوم له ازبک خان څخه ۱۲۲۸-۱۳۴۲م کال کې د اسلام په دین مشرف شوی و اقتباس کړ.

همدارنګه ابوخیر خان(۱۴۱۲م)کال کې د شیبان ځوان ځایناستی د جوجي زوی په مرکزي آسیا کې د ازبکو د قدرت بنسټ کېښود.

د ازبکستان ٪۸۵ خلک مسلمانان او حنفي مذهبه دي.

د ازبکستان د خلکو ملي ترکیب د ۱۹مې پېړۍ له نیمایي او د ۲۰مې پېړۍ له پیل څخه بدلون موندلی دی.

د روسیې په وسیله د منځنۍ آسیا له اشغال ورسته،دې سیمې ته د ډېر روسانو ورولیږل، په ځانګړې توګه د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر د انقلاب څخه ورسته د روسیې قفقاز او اوکراین بزګران او کارګران دې سیمې ته راوستل شول.

په پخواني شوروي اتحاد کې د ۱۹۹۱م کال چټکو بدلونونو د ازبکستان مشرتابه ته دا فرصت ورکړ چې دې یاد شوي کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه ازبکستان د یو خپلواک هیواد په توګه اعلان کړي.

ازبکستان د مسو، ډېرو سکرو او نفتو کانونه لري، د فولادو د صنعت په تولید، غذایي توکو، منسوجاتو او پنبې په پرمختګ کې يې بریالیتوبونه په برخه شوي دي.

کرنه د دې هېواد د اقتصاد مهمه برخه ګڼل کېږي.چې په اقتصادي پرمختیا کې ۲۸سلنه ونډه لري او ۳۵ سلنه وګړي پکې پکار بوخت دي.

ازبکستان په نړۍ کې د پنبې دویم صادرونکی هیواد دي.

څلور دېرشم لوست (ترکمنستان)

ترکمنستان یو لرغونی هېواد دی. چې د زرګونو کلونو د پخواني تمدن زانګو بلل کېږي. او د ګوګ تپه، نمازګاه د مرو، نسا قلعه او اورګنج غوندې لوی فرهنګي مرکزونو په کې شتون لري.

د څېړنې له مخې ترکمنان مغلو ته ورته دي، په نسبي توګه لوړ،د تورو وېښو لرونکي او نري اندامه دي.

د لرغونو پوهانو پلټنې ښیي چې ترکمنستان تېر وخت په نړۍ کې د څارویو او د کرنیزو مرکزونو له جملې څخه یو مرکز و. د برونز په پیر کې ډېرو لویو تمدونونو له دې ځای څخه منشا اخیستې ده. د ترکمستان د لرغوني تمدن څخه یو د ((التین اپ)) معماري ده .چې د مینا او چاجاکلو تر منځ موقعیت لري.

لرغون پوهانو ثابته کړې چې ترکمنستان له تاریخ څخه مخکې د انسانانو د استوګنې ځای و. په ۴-۷ ق.م پېړیو کې هخامنشیانو د امپراطوری یوه برخه وه، او وروسته د پارتیانو لاس ته ولوېده.

ترکمنستان د خپل جغرافیوي موقعیت له مخې د وېښمو د لویې لارې په برخه کې مهم نقش لوبولی. او د پېړیو په اوږدو کې د لوېدیځ او ختیځ تر منځ نشلېدنکې کړی پاتې شوی دی.

په پنځمه میلادي پېړۍ کې دا سیمه د هون او هپتالیانو د یرغل له امله، او د ساسانیانو د شانګ وروسته د هغوی لاسته ورغله .دا د لوی خراسان شمال ته د ترکیې قومونو لومړنی نفوذ و. په اوومه پېړۍ عربو پر خراسان د یرغل پر ترڅ کې دا سیمه ونیوله، مرو د خراسان د عربو حکمرانانو پلازمېنه ګڼل کېده.

که څه هم دې سیمې او ماورالنهر ته د ترکانو لومړنی راتګ په پنځمه میلادي پېړۍ کې د هیاطله د هجوم پر وخت و، خو د غور یا اغوز د ترکانو یرغل د مغلوستان له پولو په لسمه میلادي پېړۍ کې د دې سیمې د خلکو تولنیز جوړښت درې وړې کړ.

په څلورمه هجري پېړۍ کې مقدس غربي تاریخ لیکونکی لومړنی کس و، چې د ترکمن په نوم طایفې څخه يې یادونه وکړه. او پر دې ټکي يې ټینګار وکړ چې لومړني مسلمان ترکان و. نو ځکه د (ترک ایمان) په نامه له هغوی څخه یادونه شوې ده.

د جوامع التاریخ د کتاب پر اساس د ترکمنانو نسبي سلسله داسې تنظیم شوې ده. بافث بن نوح، دیب یا قوي، قراخان او غوزخان، د ترکمنانو اصلي نیکه اورخان او کرخان دي.

ترکمنستان د مرکزي آسیا د مختلفو قومونو د اوسېدلو ځای دی .خو ډېر خلک يې ترکمنان دي او لاندې قبیلې په کې اوسېږي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

۱-غالي ايلي
۲-اتا
۳-چاودار
۴-امرای(يمرلي)
۵-ارساري
۶-ساکار(ساقار)
۷-سايور
۸-ناريق
۹-تکه اريموت
۱۰-گوکلان

وروسته د شيبک خان ازبک له ماتې څخه ازبکستان د ۱۵-۱۷م پېړۍ پورې د صفويانو لاس ته ولوېد.

په ۱۸۵۰-۱۸۷۳م کلونو کې د روسيې سياسي تحريکاتو د ترکمنستان پراخه سيمه د بخارا ،خيوه، فرغانې، خوقند او قازان په حکومتونو ووېشله.

روسانو په يوه منظم ځنځيري حرکت سره بخارا په۱۸٦۸، خېوه په ۱۸۷۳، او فراغانه په ۱۸۷۹م تر ولکې لاندې راوستل. او په پای کې په ۱۸۸۱م کال کې روسي جنرال اسکوبلوف پر اخال باندې د يرغل او د گوک تپې قلعې په نيولو سره وتوانېده چې ترکمنستان اشغال کړي.

د ترکمنستان لوېديځه برخه په خپله خوښه د روسيې سره يوځای شوه، په روسيه کې د ۱۹۱۷م کال تر انقلاب وروسته ترکمنستان د شوروي اتحاد ترکستان د جمهوريت يوه برخه شوه.

ترکمنستان د روسيې له فدراسيون څخه وروسته د مشترک المنافع هېوادونو په منځ کې د ۲.۷ تريليون متر مکعب گازو په درلودلو سره دويم هېواد دی.

د ترکمنستان په سلو کې ۴۸ سلنه خلک په کرنيزو او څارويو په چارو بوخت دي. د دې هېواد په سلو کې ۸۰ سلنه ځمکه د اوبو د سرچينو له نشتوالي سره مخامخ ده.

په پخواني شوروي اتحاد کې د سياسي بحرانونو په ډېريدو سره کمونېست حزب منحل، او د ترکمنستان ډېموکراټيک گوند د ۱۹۹۱م د اکتوبر پر ۲۷ نېټه جوړ شو. چې مشري يې نيازاف پر غاړه لرله.

ترکمنستان د ۱۹۱۹م د اکتوبر په ۲۷مه نېټه رسما خپله خپلواکي اعلان کړه.

څلورم څېرکی

پنځه دېرشم لوست (لومړی نړيواله جګړه)

لوېديځې نړۍ د شلمې پېړۍ په لومړيو کې پر ټوله نړۍ پوځي او اقتصادي واک ترلاسه کړ. په نومورې پېړۍ کې اروپايي ځواکونو پر هند،سويل ختيځه آسيا او افريقا پر ډېرو برخو حکومت کاوه.

د بهرني سياست مامورينو او اروپايي سوداګرو د چين، ايران او عثماني امپراتوری اقتصادي او سياسي چارې په لاس کې درلودې. په لوديځه نيمه کره کې امريکا د لوديځو قدرتونو په ډله کې نوې مطرح شوې و، او په ټوله نړۍ کې په يوه ځواکمن قدرت بدلېده.

انګلستان تر ۱۸۷۰م کال پورې په ټوله نړۍ کې تر ټولو مخکې صنعتي هېواد و. وروسته آلمان په صنعت پيل وکړ، او په چټکی سره صنعتي شو. هغوی د وړلو راوړلو او اړيکو نوې شبکې رامنځته کړې. المانې سوداګرو له انګليسي سوداګرو سره دآسيا په ختيځ، منځنۍ ختيځ او لاتينه امريکا کې بريالی سيالی پيل کړې.

د نړيوال واک پر سر سيالی په سمندري وسله واله سيالی بدلون ومونده، مهم هېوادونه لکه: امريکا او جاپان د خپلو کشتيو د چلونې د خونيتوب لپاره خپل سمندري ځواک پياوړې کړ.

انګلستان په ۱۸۸۴ م کال کې د کشتيو او سمندري توپونو په جوړول پيل وکړ. المان چې د اقتصادي په برخه کې د هغه اصلي دښمن و، ډېر ژر د هغه هېواد تقليد وکړ.

فرانسه او انګلستان د خپلو هېوادونو په منځ کې په ۱۹۰۴م کال کې يو تړون لاسليک کړ، انګلستان په ۱۹۰۷م کې له روسيې سره محتد شو، او د دې درې هېوادونو اتحاد په مثلث تبديل شو.

المان نيت درلود چې يوازې له خپل لوی متحد اتريش څخه ملاتړ وکړي، بل متحد يې ايټاليا وه. برعکس روسيې تصميم ونيو چې د صربستان سره مرسته وکړي.

روسی پوځ لومړنی پوځ و چې د جګړې لپاره تيار شو.

د المان حکومت له روس څخه وغوښتل چې له دې کار څخه لاس واخلي، ځکه له دې يې وېره درلوده، چې روسيه او فرانسه به يې پر خاوره يرغل وکړي. روسيې د المان غوښتنه رد کړه، او په ۱۹۱۴م کال د اګست په لومړۍ نېټه المان لومړی روسيې او بيا فرانسې ته د جګړې اعلان وکړ.

المان د بېلژيک بې پرېتوب تر پښو لاندې کړ. او په ۱۹۱۴م کال يې حمله پرې وکړه. يوه ورځ وروسته انګلستان المان او اتريش ته د جګړې اعلان وکړ. په صربستان د اتريش د يرغل تر پرېکړې وروسته په يوه اونۍ کې د دوو لويو اتحادو هېوادونه په جګړه کې ښکېل شول.

لومړی نړيواله جګړه د ۱۹۱۴م کال د اکست په لومړۍ نېټه پيل شوه. او دواړو تړون کوونکو هېوادونو هيله درلوده چې په چټکی سره بريالي شي، البته ټول په دغه وړاندوينه کې تېروتي وو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

فرانسې فکر کاوه چې المان به د بېلژیک له لورې برید وکړي. ایټالیا د المان او اتریش سره په اتحاد کې له جګړې سرغړونه وکړه. اتریش د خپلې ځانځانۍ له امله ونه توانېده چې پر وړوکي صربستان بریالی شي.

ختیځې او لوېدیځې جبهې د جګړې اصليډګرونه وو. لوېدیځه جبهه د سویس له پولې پیل او د فرانسې په خاوره کې د شمال تر روده یې ادامه درلوده. ختیځه جبهه د لهستان په خاوره کې تر روسیې پورې غځېدلې وه. په ۱۹۱۶م کال کې ختیځه جبهه په بالکان کې پرانیستل شوه.

متفېقینو په ۱۹۱۵م کال کې هڅه وکړه چې د عثماني امپراتورۍ په ماتولو سره په دردانیل کې د پیښې اېښودولو ځای پیدا کړي.

المانیان د ۱۹۱۶م کال په فبروري کې له اقتصادي ستونزو سره مخ شول. د المان د قوماندې مرکز د دې لپاره چې له دې ستونزو ووځي، وېې غوښتل چې په فرانسه کې د وردن پر ښار برغل وکړي.

د جګړې په لومړۍ ورځ انګلیسانو ۶۰۰۰۰ په شاوخوا کې تلفات ورکړل. په لومړیو ۲۴ ساعتونو کې په هره دقیقه کې ۱۵ انګلیسان وژل کېدل او ۳۰ تنه به ټپي کېدل.

وردن د ښار جګړې تر ډسمبر پورې دوام وکړ.په دې جګړه کې المانیانو ۳۳۰۰۰۰ او فرانسویانو ۳۵۰۰۰ کسه تلفات ورکړل.

د ایټالیا په جبهه کې د تلفاتو شمېر له ۳۰۰۰۰۰ څخه ډېر و. په ختیځه جبهه کې ښایي ۲.۱ ملیونه کسو پورې په جګړه کې وژل شوي وي. جګړې له یو ملیون څخه زیات ټپیان درلودل.

د ۱۹۱۵م کال د مې په ۷مه یوه المانی تحت البحري کښتی پر لوسي تانیا اقیانوس پیما نومي کښتی چې د اېرلنډ په سیند کې د حرکت په حال کې وه یرغل وکړ. او دا کښتی په چټکی سره ډوبه شوه او ۱۲۰۰ کسه په کې مړه شول.له ۱۰۰ څخه ډېر غرق شوي امریکایان و. لوسي تانیا انګلستان ته په پته وسله وړله.

د لوسي تانیا غرقېدو المان او امریکا د جګړې ډګر ته راښکېل کړل، لس میاشتې وروسته ترینګلتیا ډېره شوه.د ۱۹۱۶م کال د مارچ په ۲۴مه المانیانو فرانسوي ولاړه کښتی د مانش په سمندرګي کې غرقه کړه، او یو ځل بیا د امریکا خلک ووژل شول.

د ۱۹۱۸م کال په مارچ کې د برست لیتوفسک تر تړون ۱۸ ورځې وروسته المانې ځواکونه دې ته اړشول چې له روسیې څخه لوېدیځې جبهې ته راشي.

المانیانو په لوېدیځه جبهه کې وحشتناک بریدونه پیل کړل. د درنې توپخانې په بمبارد او ګازي بمونو سره یې برید وکړ.

انګلیسي، فرانسوي او بلژیکي واحدونو یې د سیند لورې ته په شا کړل.

د ۱۹۱۸م کال په سپټمبر کې بلغارستان له موقتې ډزبندۍ سره موافقه وکړه. عثماني امپراتوري د اکتوبر تر پایه تسلیم شوه د ۱۹۱۸م کال د نومبر په درېمه نېټه اتریش، مجارستان د ډزبندۍ منل لاسلیک کړل، چې په جګړه کې د هغوي د لاسوهنې د پای معنا یې لرله.

د ۱۹۱۸م کال د نومبر په ۱۱مه سهار سر تا سري ډزبندي وشوه، او په لوېدیځه جبهه کې د توپونو درزا غلې شوه. په پای کې تر ځلورو کلونو وروسته لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېده.

د رسمي شمېرې له مخې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د ځمکنیو او سمندري قواو ۹.۱ ملیونه سرتیري ووژل شول. او یا یې له ژوبلېدو او ناروغیو له امله ژوند له لاسه ورکړ.تر ۲۱ ملیونه ډېر پوځیان ژوبل،۷.۴ ملیونه کسه بندیان یا ورک شول.دغه شمېرنه د ملکي خلکو په برخه کې شامله نده.

د جګړې اقتصادي پایلې

د فرانسې،لهستان(پولنډ)،سربستان ډېرې شمال ختیځې برخې ،او د ایټالیا شمال ختیځې سیمې په کنډوالو بدلې شوې.

یوازې په فرانسه کې ۴۸۰۰ کیلو متر ځنګلي ځمکه وسوځېده .او د ۱۲۸۰۰ کیلو متر مربع په شاوخوا کې کرنیزه ځمکه له منځه لاړه.

د وردن په شاوخوا کې تر جګړې وروسته تر یوه نسل پورې مېکانیزه کرنه ناشونې وه، له دې امله چې ټوله ځمکه د اوسپنو ټوټو نیولې وه. مادي زیان کیلوالي او ښاري خلک دواړه له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړل. بزګرانو تر یو مېلیون ډېر ځاروي او حیوانات له لاسه ورکړل.

په ښارونو کې تر ۶۰۰۰۰۰ ډېرې ودانۍ ورانې او یا زیانمنې شوې.

پلونه، لویې لارې، تونلونه، د اورګاډي پټلۍ د تلګراف او تیلیفون مزې له منځه ولاړل.

لومړۍ نړیواله جګړه د بشریت په تاریخ کې تر ټولو ورانوونکې او د ډېر لګښت لرونکې جګړو څخه شمېرل کېږي. دې جګړې د روسیې، المان، اتریش، مجارستان او عثماني ترکیې امپراتورۍ له منځه یووړې.

د رومانوف، هونسولرن، او هاپسبورګ لړۍ له واکه لرې شوې. د اروپا او سویل لوېدیځې اسیا د نقشو ډېرې برخې له سره وکښل شوې. فرانسوي امپراتوري د فاتحینو تر منځ ووېشل شوه.

شپږدېرشم لوست (دوهمه نړیواله جګړه)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اقتصادي بحران او رکود د ۱۹۲۹-۱۹۳۳م کلونو تر منځ په المان کې په ډېره چټکتیا سره پرتخیا وموندہ. او دې بحران دري کاله دوام وکړ، په صنایعو کې ۴۰ سلنه ټیټوالی راغلو. د بې کاران شمېر ۷.۵ مېلیون تنو ته ورسېد. او واقعي مزد له ۲۵-۴۰ سلنه راکم شو.

اډلوف هېټلر په ۱۸۸۹م کال په اتریش کې زیږدلي، او د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته یې د نازي ګوند جوړ. او په ۱۹۲۰م کال کې د همدې ګوند مشري یې ترلاسه کړه. چې ملي پالنه، افراط پالنه، نژاد پالنه او پر یهودو تېري د هغه له اصولو څخه وو.

په شوروي اتحاد کې ستالین غوښتل چې خپله واکمني پراخه کړي. د موسولیني په مغزو کې د روم د لرغونې امپراتورۍ خیال ګرځېده.

په ۱۹۳۶م کال کې د ملتونو ټولنه بې باوره شوې وه.د همدې کال په اکتوبر کې هېټلر او موسولیني د روم-برلین محور جوړ او هغه یې د (پولادي تړون)ونوماوه.

د جاپان امپراطورۍ د ۱۹۳۷م کال په دوبي کې د چین پر شمال یرغل وکړ. د ملتونو ټولنې یو څل بیا ونشو کولای چې صلحه وساتي.

هېټلر په ۱۹۳۸م کال کې اتریش له المان سره یو ځای کړ، او وروسته یې د سودت آلماني سیمې چې د وارسای د تړون له مخې د چکوسلواکیایي برخې ګرځېدلې وې، بېرته له آلمان سره یوځای کړې. هټلر او موسولیني د ډسمبر په میاشت کې انګلستان او فرانسې د لومړیو وزیرانو سره د میونېخ په ښار کې وکتل.

د آلمان پوځ د ۱۹۳۹م کال د ډسمبر د میاشتې په لومړیو کې پر لهستان(پولنډ) یرغل وکړ. د المان پوځ له پوځي تاکتیک څخه ګټه واخیسته، او په چټکی سره یې د لهستان پوځ درې وړي کړ. انګلستان او فرانسې په ۲۴ ساعتونو کې المان ته د جګړې اعلان وکړ. او دوهمه نړیواله جګړه پیل شوه.

مخکې له دې چې په اروپا کې جګړه پیل شي، د ایټالیا دېکتاتور موسولیني ایتوپیا نیولې وه. د افریقا په شمال کې د مصر او سویس کانال پر سر جګړه ونښته.

د متفېقینو ځواکونو د مصر په العلعین کې د نازیانو پرمختګ و دراوه، او په ۱۹۴۰م کې یې د هغوي پر ضد یرغل پیل کړ. او ۹۰۰۰ آلماني پوځیان یې اسیر کړل.

د ۱۹۳۹م کال په ډسمبر کې د المان لښکرو پر لهستان یرغل وکړ. او د لهستان پوځ یې په ۴ اونیو کې درې وړي کړ، په دې وخت کې شورویانو د هغه پټ تړون له مخې چې د المانیانو سره یې کړی و. د لهستان ختیځ یې ونیو.

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته فرانسې له المان سره خپله پوله قوي کړه. او په ختیځ کې یې د یرغل د مخنیوي لپاره د ۳۲۰ کیلومتره په اندازه اوسپنیز استحکامت جوړ کړ. دغه استحکامت د یوه سیاستوال په نامه، د ماژینو د خط په نامه ونومول شول.

المان پر لهستان یرغل وکړ، فرانسوي ځواکونو د ماژینو په خط ځای پر ځای شول، او انګلیسان د مانش له سمندرګي څخه تېر شول، او د فرانسې په شمال کې ډېره شول. د انګلستان سمندري ځواکونو د المان بندرونه محاصره کړل.

د دې جګړې په اوږدو کې شورویانو په ختیځ کې د لاتویا، استونیا او لیتوانیا دولتونو د بالتیک په حوزه کې اتحاد ته اړ کړل. شوروي واحدونو د فنلاند پوځ ته ماتې ورکړه، او روسیې پخوانۍ پولې یې پرانیستې.

د ۱۹۴۰م کال د اپریل په ۹مه د المانې ځواکونو د هوا او ځمکې له لارې په ناروې او ډنمارک یرغل وکړ. ډېنمارک پوځ نه درلود او فورا تسلیم شول. ناروژیانو غوښتل جګړه وکړي؛ خو د درېو ورځو په اوږدو کې تسلیم شول.

د ۱۹۴۰م کال د اپریل پر لسمه نازیانو پر هالنډ یرغل وکړ. المانیانو له سمندري ځواک، پیاده، ټانګ، بم غورځونکو الوتکو او کوماندویي ځواک څخه ګټه واخیسته، او د ماژینو د خط په شاوخوا کې ځای پر ځای شول.

المانیانو د همدغې کال په جون کې د لودیځ په جبهه کې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل. او وروسته یې د شمالي دښتو له لارې پر فرانسه حمله وکړه، د ماژینو له خط څخه تېر شول، او د شپږو اونیو په اوږدو کې پاریس ته ورسېدل.

فرانسه د ۱۹۴۰ م کال د جون په ۲۳مه المان ته تسلیم شوه. مارشال هانري پتن د لومړۍ نړیوالې جګړې سپین ږیری او اتل، نوی حکومت جوړ او له المان سره یې د ډزبندۍ تړون لاسلیک کړ.

د انګلستان د خلکو مشري د وینستون چرچل په نامه نوي صدراعظم په لاس کې واخیسته،انګلیسانو غوښتل چې جګړې ته دوام ورکړي.

د جګړې لمنه د بالکان شبه جزیرې ته هم ورسېده.موسولیني د ۱۹۴۰م کال په مني کې پر یونان یرغل وکړ. د ۱۹۴۰م کال د مني په پای کې مجارستان او رومانیه د محور له ځواکونو سره یو ځای شول.

د ۱۹۴۱م کال په لومړیو کې بلغاریا له فاشیستانو سره یو ځای شوه. ۱۹۴۱م کال کې نازیانو پر یوګوسلاویا یرغل وکړ. او پر یونان پوره بریالي شول. په افریقاکې مصر، په سومالیه کې ایتالیایي ځواکونه له انګلستان سره وجنګېدل. د ۱۹۴۱م کال تر پسرلي پورې ټوله افریقا د جګړې پر ډګر بدله شوه.

د جولای پر ۲۲مه آلمان د روس په ضد عملیات پیل کړل. د المان واحدونو ۳۲۰۰ کیلو متره د جبهې په اوږدوالي د بالتیک

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

سیمې له سیند څخه تر تور سمندرګي پورې پر شوروي یرغل وکړ.

المانیانو د لهستان په ختیځ، د بالتیک سیمې او وروسته پر روسیې او اکراین یرغل وکړ. او په ۱۹۴۱م کې د لېننګراد ښار محاصره پیل شوه، چې سل ورځې یې دوام وکړ. نازیانو د اکتوبر په میاشت کې اوکراین ونیو، او کریمه ته داخل شول.

د ۱۹۴۱م کال په نوامبر کې د المانې ځواکونو تدارکاتي خطوط ډېر پراخ شول.

اووه دېرشم لوست (د جاپان برید)

پر هند او چین باندې د جاپان یرغل

جاپان په ۱۹۳۲م کال کې منچوریا ونیوه. په ۱۹۳۷م کال کې جاپان او چین د پېکن په شاوخوا کې یو له بله سره په جګړو بوخت وو.

د جاپان پوځ ښار ونیو، او وروسته یې د سویل په لور حرکت وکړ، او تر ۱۹۳۹م کال پورې یې د چین ځلورمه برخه ونیوه، خو چینایان تسلیم نه شول. او خپله پلازمېنه یې یانګ تسه ته یووړه. او په خورو ورو جګړو یې لاس پورې کړ.

جاپان په ۱۹۳۹م کال کې په هانیان جزیره او هندوچین ساحل ته نیږدې نورې کوچنۍ جزیرې ونیولې. دغه بریالیتوب د انګلستان تدارکاتي مسیر له هانکانګ څخه تر سینګاپوره پورې په خطر کې واچوه.

امریکا د ۱۹۴۱م کال په لومړیو کې خپلې ټولې اړیکې پرې او په امریکا کې د دې هېواد پانګه ضبط شوه.

د همدې کال په ډسمبر کې جاپانیانو هاوایي او د فلیپین په جزیرو کې، د امریکا پر مرکزونو هانګ کانګ او ملایا کې د انګلستان پر پوځې مرکزونو یرغل وکړ.

جاپان د امریکا پر الوتکو او هوایي هدو، چې د آرام سمندر د اقیانوس په هاربر کې یې لنګر اچولی و، بمباري وکړه.

جاپاني پیلوټانو ۱۸ جګړېزې امریکایي کشتۍ او ۱۸۰ امریکایي الوتکې له منځه یووړې. او د ۳۵۰۰ کسو په شاوخوا کې یې خلک ووژل.

جاپانیانو په آرام سمندر کې د ۱۹۴۱م کال په ډسمبر میاشت کې د حملو په ترڅ کې ډېر لوی امتیازات لاس ته راوړل. د ۱۹۴۲م کال په لومړیو کې د هغو موخو د لاس ته راوړلو لپاره چې هغه د آسیا د ختیځې برخې نیول و، پر مخ روان و.

د جاپان امپراتوري د برما په جګړه کې پر مخ لاړه، ګورم، دویک جزیره او فلپاین جزایر یې ونیول. هانګ کانګ، سینګاپور او ختیځې هند جزایرو هم سقوط وکړ.

جاپاني ځواکونو پر بریتانوي هند یرغل ته ځان چمتو کړ. په استرالیا، نیوزیلاند او د هاوایي په جزیرو کې هم پرمختګ وکړ. داسې ښکارېده چې هټلر او موسولیني بریالیتوب ترلاسه کړ.

د محور قواوو د چرچل په مشرۍ د انګلیس صدر اعظم، استالین د شوروي رهبر او روزولت د امریکا رئیس جمهور د متفېقینو په ضد متحد شول، پرل هاربر له یرغل څخه وروسته د امریکا ګوښه والی پای ته ورسېد.

د ۱۹۴۲م دکال په مې کې د امریکا او آسټرالیا هوایي او سمندري ځواکونو په آرام سمندر کې د جاپانیانو پرمختګ ودراوه. یوه میاشت وروسته امریکا د جاپان لویه کښتۍ چې ختیځ لوري ته د میدوې پر جزیرې د یرغل لپاره د حرکت په حال کې وه ودروله.

امریکا او جاپان د درېو ورځو لپاره د میدوې د جزیرې په شمال کې، په هوا او سمندر سره وجنګېدل چې په پای کې امریکا بریالی شوه.

د محور ماتې

د۱۹۴۲م کال د نوامبر په میاشت د شوروي سختو یرغلو المان شاتګ ته اړ کړ. هټلر خپلو پوځونو ته امر وکړ چې وجنګېږي، خو د ۱۹۴۳م کال په جون کې آلمان هم تسلیم شو.

د ۱۹۴۳م کال په دوبي کې انګلیس- او امریکایي ځواکونو سیسلي ونیوله. د همدې کال په ورستیو کې متفېقینو ورو ورو شمال ته پرمختګ کاوه. په آرام سمندر کې یې جاپانیان جزیره په جزیره شاتګ ته اړ کړل.

خو ۱۹۴۳م کال په نوامبر کې روزولټ، چرچل او استالین په تهران کې سره وکتل. هغوي پر فرانسې د متفېقینو د یرغل پر نقشې خبرې وکړې.

د دې نقشې پر بنسټ د متفېقینو ځواکونو باید د مانش له سمندر څخه تېر شوي، او د نرماندي په سواحلو کې پیاده شوي واي.

په دې یرغل څه د پاسه له ۱۷۵۰۰۰ سرتېرو، او هم له ډېرو تجهیزاتو څخه کار واخیستل شو. په نرماندي کې د ځواکونو تر پیاده کېدو ۱۰ ورځې وروسته، ۲ملیونو په شاوخوا کې سرتېري فرانسې ته داخل شول، او د ۱۹۴۴م کال د اګست په ۲۵مه یې پاریس آزاد کړ.

شوروي پوځ د ۱۹۴۴م کال په جون کې، ستوني، لیتوانیا، لیتویا، رومانیه او بلغارستان ونیول او همدارنګه انګلیسانو المانیان د یونان له خاورې وویستل.

د ۱۹۴۵م کال په فبروري کې روزولټ، چرچل او استالین په ایټالیا کې د توري بحیرې په څنډو کې یو له بل سره ولیدل.

د ۱۹۴۵م کال د مې په لومړیو کې د برلین ښار پر سړکو کې تر خونړیو جګړو وروسته، دغه ښار د روسانو پر واندې سقوط وکړ. او د هټلر ژوند د هغه تر ځمکې لاندې پټنځای کې پای ته ورسېد.

د جاپان سره جګړه لا روانه وه، چې ۱۹۴۵م په اپریل کې ناڅاپه روزولټ مړ شو. هري ترومن چې جمهوري ریاست ته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ورسېد، د مهنتن له پټې طرحې خبر شو، چې يو شمېر پوهان او مهندېسان د ده تر نامه لاندې د لومړني اتومي بم په جوړولو بوخت و.

متفېقينو د جولاي په ۲۶مه جاپان حکومت ته التيماتوم ورکړ، او له هغه هېواد څخه يې وغوښتل چې تسليم شي خو جاپان التيماتوم قبول نه کړ.

د ۱۹۴۵م کال د اګست په ۶مه د امريکا د اوړده واټن الوتکې د جاپان د هيروشيما پر ښار بم وغورځاوه. دې بم د ښار ۶۰مه برخه ورانه کړه. او تر ۱۵۰۰۰۰ ډېر کسان يې ووژل.

خو سره له دې جاپان بيا هم تسليم نشو. د ۱۹۴۵م کال د اګست پر ۹مه B-29 ډول الوتکې پر ناګاساکي ښل بم وغورځاوه او ۴۰۰۰۰ کسان يې ووژل. پاتې ۷۰۰۰۰ کسان په ډېر وحشتناک ډول سوځېدلي وو.

جاپان د ۱۹۴۵م کال د سېپتمبر پر دويمه تسليم شو. د تسليمۍ خبر ټولې نړۍ ته مخابره شو. متفېقينو په ښارونو کې د خوشحالۍ جشنونه پيل کړل.

په اندونيزيا او ملايا کې جاپاني ځواکونه انګلستان ته تسليم شول. امريکايي ځواکونو جاپان ونيوه او چين يې آزاد کړ، او په دې توګه د بشر په تاريخ کې تر ټولو خونړۍ جګړه پاي ته ورسېده.

د دويمې نړيوالې جګړې پايلې

دغې جګړې مالي او ځاني زيانونه درلودل. په دې جګړه کې له ۴۰-۵۰ مېليونو پورې انسانان ووژل شول. امريکا خپل ۳۰۰۰۰۰ خواکونه له لاسه ورکړل.

لويو ښارونو لکه وارسا، لندن او برلين ډېره درانه زيانونه وليدل. هيروشيما او ناګاساکي تقريبا له منځه تللي وو.

انه دېرشم لوست (د ملګرو ملتونو جوړېدنه)

د ۱۹۴۵م کال په اوړدو کې د متفېقينو هېوادونو استازو له جګړې څخه وروسته د نړۍ د موقعيت په اړه د تصميم نيولو لپاره ليدنه وکړه. هغوی په دې هوکړه وکړه چې داسې نړيوال سازمان جوړ کړي، چې ټول خپل ځانونه د هېوادونو په منځ کې د سولې او همکارۍ لپاره متعهد وساتي، او هم د هغو خلکو په برخه کې چې د محور هېوادونو ځواک يې جوړاوه، د سرنوښت په اړه تصميم ونيسي.

د متفېقينو ۵۰ هېوادونو استازيو په سانفرانسسکو کې د ۱۹۴۵م کال له اپرېل څخه تر جون پورې سره وليدل. هغوي د نړيوال سازمان د منشور په برخه کې هوکړې ته ورسېدل.

دا منشور په ۱۹ فصلونو او ۱۱۱ مادو کې تدوين شو، او د لاهې د نړيوالې محکمې د ديوان اساسنامه د دغو ۵۰ هيوادونو لاينفک برخه شوه.

د ملګرو ملتونو سازمان لويه شورا لري. عمومي شورا د ټولو غړيو هېوادونو له استازو څخه جوړېږي. خو اصل ځواک د امنيت له شورا سره دی.

امريکا، انګلستان، روسيه، فرانسه او چين په دې شورا کې همېشنی چوکی لري. او ۶نور هېوادونه په دوراني توګه ټاکل کېږي.

د امنيت د شورا رايه پر اکثريت ولاړه وي، د پرېکړې د تصويب په صورت کې د پنځو دايمي هېوادونو رايه اکثريت رايې يوه موخه وي. په دې توګه له دغو پنځو لويو هېوادونو څخه هر يو د دې شورا د پرېکړې د ويټو حق لري.

نه دېرشم لوست (په يوه صنعتي ځواک باندې د جاپان بدلون)

د ترميلاد ۶۶۰ کاله پخوا د جاپان لومړنی امپراتور پر تخت کېناست. په هغه وخت کې د مذهبي قوانينو(شينتو)له مخې امپراتور له فوق العاده ځواک څخه برخمن و.

په منځنيو پېړيو کې ساموريان پر جاپان مسلط شول.

د جاپان معاصر دوران د امپراتور (موتسوهيتو)له تخت ناستې ۱۸۶۸م څخه پيلېږي.

دغې امپراتورۍ تر ۱۹۱۲م پورې دوام درلود،چې د (ميچي)د دورې په نامه يادېږي. په اداري او پوځي برخه کې يې ډېر اصلاحات رامنځته شول ،او جاپان په يوه نړيوال ځواک وواښت.

د جاپان هېواد له يو شمېر وړو او لويو ټاپو ګانو څخه جوړ شو دی. او پر لرې ختيځ کې پروت دی. سره له دې چې خمکه يې لږ ده ، او د وګړو شمېر يې ۱۴۰ مېليونو ته رسېږي.

جاپان د تخنيکي همکارۍ له امله له المان سره نږدې شو، او د دوهمې نړيوالې جګړې په پيل کې له المان او ايټاليا سره په(محور) دولتونو کې شامل شو.

په دوهمه نړيواله جګړه کې يې په پاسفېک(آرام)سمندر کې خپل ډېر متصرفات له لاسه ورکړل. او د (هېروشيما او ناګاساکي) تر اتومي بمبارد وروسته پرته له قيد او شرط امريکا ته تسليم شو.

په ۲۰۰۵م کال کې جاپان د ۴.۵ ټرېليونو ډالرو توليداتو په ارزښت تر امريکا وروسته د نړۍ په اقتصادي ځواک کې دوهم او په آسيا کې لومړی ځای درلود.

امريکا د ٪۲۲.۷، چين٪۱۳.۱،سويلي کوريا په٪۷.۸ سره د جاپان ډېر مهم سوداګريز شريکان دي.

دا هېواد څو نړيوال موټر جوړونکي شيرکتونو لکه ټويټا، هنډا، سني، نيسا، ميتسوبيشي او داسې نورې کمپنۍ چې معتبر مارکونه لري خاوند دی.

خلوېښم لوست (د شوروي اتحاد له منځه تلل)

الف-کورني لاملونه

په شوروي اتحاد کې مارکسيستي او لينينستي نظام له ۱۹۱۷-۱۹۱۹م پورې، سره له دې چې د سوسيالېزم د تحقق

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

لپاره ورته ډېرې هڅې وشوې له منځه لاړ. د هغو نظریاتو پر بنسټ چې د مارکوسېزم پلویانو او د هغوی لخوا ارایه کېدل،استوار وو.

د ۱۹۸۰م د لسیزې بدلونونه یې چټک کړل، چې په پای کې د میلیتونو د زندان ور پرانیستل شو.

فدرالي نظام به ادعا کوله چې د ټولو میلتونو او قومونو بشپړ حقوق په پام کې نیول کېږي؛خو په عمل کې یې توپیر درلود. چې دغه تبعیض په میلیتونو کې ناخوښي او نارضایتي رامنځته کړه. سره له دې چېګورباچوف ډېره هڅه وکړه چې دا تبعیض له منځه یوسي، خو بریالی نه شو، تر دې چې د نظام د له منځه تلنې زمینه په تدریج سره تیاره شوه.

په پای کې په ۱۹۹۱م کال د شوروي سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام سره د دې چې ۷۴ کاله یې ډېرې هڅې وکړې، خو سوسیالېزم پر تداوم او عملي کیدنه بریالي نه شو په پایله کې له منځه لاړ.

ب-بهرني لاملونه

د دوهمې نړیوالي جګړې له پای ته رسېدلو وروسته، سوړ جنګ پیل شو، ځکه چې په دې وخت کې کومه نړیواله جګړه رامنځ ته نه شوه.او لویو ځواکونو یو د بل پر ضد تبلیغات پیل کړل .

شوروي اتحاد افغانستان په ۱۹۷۸م کال کې اشغال کړ، شوروي اتحاد دا فکر نه کاوه چې دا جګړه به اوړده شي او د افغانانو له داسې مقاومت سره به مخ شي.

په پای کې شوروي ماته وخوړه او خپلې قواوې یې د ۱۹۸۹م کال په فبروري کې له افغانستان څخه وویستلې.

یو څلوېښتم لوست (المان)

د المان فدرالي جمهوریت

د المان فدرالي جمهوریت د نړۍ د پرمختللو صنعتي هېوادونو له ډلې څخه دی. دا هېواد چې په اروپا کې پروت دی، په شمال کې له ډنمارک او بالتیک سمندرګي، ختیځ کې له پولنډ او چک جمهوریت، په سویل کې له اتریش او لوېدیځ کې له فرانسې،بلژیک،لوکزامبورک او هالنډ سره پولې لري.

المان یو ډېموکراتیک فدرالي جمهوریت دی او ۱۶ ایالاتونه لري.

دغه ایالات کولای شو چې په ځینو چارو کې خپلواک عمل وکړي. المان له روسیې او فرانسې سره د جګړې پر مهال په ۱۸۷۱م کې د یوه ملت په توګه متحد شول.

د دولت اجرایي قدرت د فدرالي صدراعظم سره وي. بوند سرات(فدرال شورا) صدراعظم ټاکي. جمهور رئیس د یو ګډې ناستې د بوندسرات او د ایالتي استازو(بوند ستاګ)د مساوي غړو په ګډون د پنځو کالو لپاره ټاکل کېږي.

سره له دې چې به ۱۹۹۰م کال کې برلین پلازمېنه وټاکل شوه؛ خو د آلمان پارلمان، وزیران، جمهور رئیس او فدرال صدراعظم د بن په ښار کې اوسېدل.

د آلمان فدرالي جمهوریت د ملګروملتونو د سازمان، د شمالي اتلانتیک د ټرون، د اوو هېوادونو له ډلې، د لوېدیځې اروپا د پنځو هېوادونو د اتحادیې، د امنیت او همکاریو کنفرانس په اروپا کې د همکارۍ او هم د اروپایي اتحادیې د بنسټ ایښودونکو څخه دی.

تر امریکا او جاپان وروسته، المان د نړۍ درېم صنعتي ځواک دی. له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د المان اقتصادي ودې او پرمختګ ته د (المان اقتصادي معجزه) وېل شوې ده.

المان داسې یو هېواد دی، چې ګڼ شمېر سیاسي ګوندونه پکې فعالیت کوي، چې مهم یې په لاندې ډول دي.

۱-سوسیال ډېموکرات ګوند (سوسیالېست)

۲-ډېموکرات مسیحي ګوند (محافظه کار)

۳-سوسیالیستي مسیحي ګوند

۴-آزاد ډېموکرات ګوند(لېبرال)

۵-شین ګوند(د چاپېریال ساتنه)

۶-سوسیالېزم ډېموکرات ګوند(د ختیځ آلمان پخوانی کمونېستي ګوند)

آلماني ژبه د هندو جرمني د ډلې یوه برخه ده. دا ژبه په ډنمارکي، ناروېژي، سویډني، هالنډي او همدارنګه په انګلیسي کورنۍ کې شریکه ده.

په لومړیو کې د اوسني المان په ځمکه مختلف قبایل لکه فرانکانو، زاکس، شوبان او بابریان اوسېدل.

د المان مهم صنایع الکټرونیکي وسایل،کیمیاوي مواد، منسوجات، غذایي او ترانسپورتي وسایلو څخه عبارت دي.

دوه څلوېښتم لوست (د فرانسې جمهوریت)

فرانسه د اروپا په لوېدیځ کې پرته ده، چې شمال لور ته یې د مانش سمندرګی، سویل ته یې د مدیترانې سمندرکی، ختیځ ته یې بلجیم، سویس، ایټالیا، لوګزامبورګ او موناکو،لوېدیځ ته یې د بیسکاي خلیج او سویل ختیځ ته یې اسپانیا پرته ده.

د دې هېواد اوسیدونکي فرانسوي سپین نژاده دي، چې د فرانسې ۹۳٪ وګړي تشکیل کوي.

د دې هېواد ۹۲٪ خلک د عیسوي دین پیروان دي، همدارنګه ۹۷٪ اوسیدونکي یې په فرانسوي ژبه خبرې کوي.

فرانسه داسې یو هېواد دی چې د لرغوني تاریخ په لړلو سره له میلاد څخه پخوا د ګل(Goul) په نامه یادېده.

سلیتیک، باسک او جرمنیانیان پکې اوسېدل. د ۱۲۵ ق.م په شاوخوا کې رومیانو پر ګل حمله وکړه، او د مدیترانې د سمندرګي شاوخوا یې ونیول.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په شپږمه او اوومه زېږدیزه پېړۍ کې په ګل کې مختلفو شاهانو واک درلود. او خونړۍ جګړې یې ترمنځ پېښې شوې. هغه تمدن چې رومیانو یې بنسټ اېښی وو له خطر سره مخامخ شو.

په ۷۷۱م کې شارلمان د فرانسې پاچا شو، او د واکمنۍ ۵۰ کلنه دوره یې پای ته ورسېده، فرانسې ډېر ځایونه ونیول. په ۷۷۴م کال کې یې ایټالیا ونیوله، جرمني قبایل یې هم مات کړل.

په ۸۰۰ م کال کې د مسیحیانو رهبر(پاپ) د روم د امپراتورۍ تاج د فرانسې د حکمران شارلمان پر سر کېښود .د شارلمان د واکمنۍ په پای کې د هالنډ،بلجیم،آلمان،سویس،اتریش،چک،سلواک،هنګري،یوګوسلاویا،ایټالیا او د آسپانیا سیمې د فرانسې په واک کې وې.

تر لسمې م پېړۍ وروسته د فرانسې د شاهانو واک په تدریج سره ډېر شو. د کلیسا رهبران د شاهانو سره یوځای شول، سوداګري پراخه شوه او په صلیبي جګړو کې د فرانسې ونډه ډېره شوه. چې د فرانسې اعتبار یې په لوېدیځ کې زیات کړ.

په ۱۳مه میلادي پېړۍ فرانسه په اروپا کې یو پیاوړی هېواد ګڼل کېده،سره له ډېرو جګړو چې له انګلستان سره یې وکړې، په فرانسه کې مدني او قضایي اداري جوړې او ځلورم فلیپ د هنر،فلسفې او کلتور په برخه کې غوره خدمتونه وکړل.

په ۱۷۸۹م کال کې د فرانسې لوی انقلاب بري ته ورسېد، چې د فرانسې او اروپا په تاریخ کې نوی څېرکی پرانیستل شو.

په ۱۸۰۴م کې ناپلیون د فرانسې د نظام مشر شو، او د وفاداری لوړه یې وکړه، چې د نوموړي د حاکمیت پر وخت فرانسې ډېر ځایونه ونیول.

په معاصر وخت۱۹۴۰م کې فرانسې المانې ځواکونه ونیوله؛ خو د متفقینو د فشار له امله یې په ۱۹۴۴م کال کې له فرانسې څخه ببرته شاتګ وکړ.

تر دوهمې نړیوالې جګړې ۱۹۴۵م کال وروسته فرانسې په تدریجي توګه خپلې مستعمرې له لاسه ورکړې. لومړی سوریه، وروسته لبنیا، لږ وروسته تونس، المغرب، مدغاسکر، ویتنام، لاوس او کمبودیا ترخونړیو جګړو وروسته په دې وتوانېدل چې خپلواکي ترلاسه کړي.

په ۱۹۶۲ م کال کې د وروستنۍ افریقایي هېواد الجزایر خپله خپلواکي ترلاسه کړه، او د فرانسې ځلورم جمهوریت له منځه لاړ.

په ۱۹۶۰ م کال کې فرانسې خپل لومړنی اټومي بم د افریقا په صحرا کې امتحان کړ، او په چټکۍ سره یې د پرمختګ لاره ونیوله. نن ورځ فرانسه د جرمني او نورو اروپایي هېوادونو تر څنګ د اروپا د وحدت او یوالي لپاره هڅې کوي.

د فرانسې جمهوریت ۲۲ ولایتونه او ۹۶ ولسوالۍ لري، د فرانسې د نفوس ۷۵٪ خلک په ښارونو کې او پاتې یې په کلیو کې اوسېږي. فرانسه کې جمهور رئیس د خلکو لخوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

په فرانسه کې صدراعظم د ګوندونو د ائتلاف له لارې چې په پارلمان کې ډېرې چوکۍ ترلاسه کړي، ټاکل کېږي. د فرانسې پارالمان دوه جرګې لري، لومړی ولسي جرګه(Nationl Assembly)چې ۵۷۷ غړي لري. چې د خلکو لخوا ټاکل کېږي. او د کار موده یې ۵ کاله ده، دویمه د مشرانو جرګه (Senate)ده چې ۳۲۱ غړي لري. د مشرانو د جرګې د غړیو انتخاب د یوې ټولنې لخوا چې(Electoral College)نومېږي او د ۹ کلونو لپاره ټاکل کېږي.

په فرانسه کې ګڼ شمېر ګوندونه فعالیت کوي، د بېلګې په توګه د فرانسې کمونیست ګوند، راډیکال چپ ګوند، جمهوري غوښتونکي، د فرانسې جنبش، ملي جبهه، ملي غورځنګ، د اصلاح غوښتونکو جنبش، سوسیالېست ګوند او نور...

د صنعت په برخه کې د فرانسې کرنیز ماشین آلات

د اوسپنې، پټلې، مېراژ، جګواتر، ترانسال، کانکورد، ایریسوا لوتکې، هیلوکپټرې، موټرې، د ترانسپورتي وسایلو پرورزې، د برېښنا د تولید تکنالوژي، سامان آلات ساختماني وسایل، کمپیوټر، راډیو، تلوېزون،کیمیاوي مواد،ځمکني وسایل،عطرونه او نور تولیدوول.

فرانسه د هغه اروپایي هېوادونو له ډلې څخه ده چې په ۱۹۹۹م کال کې یې د اروپا پولي واحد(ایرو)د خپل پولي واحد په توګه منلې ده.

دری ځلوېښتم لوست (د انګلستان شاهي دولت)

انګلستان د انتلانتیک سمندرګي په شمال کې پروت دی. په سویل کې د انګلنډ له کانال، په ختیځ کې له شمال سمندرګي او په لوېدیځ کې له ایرلنډ سره ګډه پوله لري. او د طبیعي جوړښت له پلوه، انګلستان پر درېو برخو وېشل کېږي.

لومړی په شمال کې د سکاټلنډ سیمه: دا سیمه د انګلستان په شمال کې موقعیت لري، او غرنۍ سیمه ده.

دویم شمالي ایرلنډ یا اولسټر: د اولسټر سیمه د ایرلنډ د جزیرې په شمال ختیځ کې واقع ده ،چې مرکز یې بلفاسټ نومېږي.

درېم د انګلنډ او ویلز سیمه : اینګلنډ او ویلز د انګلستان د جزیرې سویلي برخه جوړوي.

انګلستان داسې یوه ځمکه ده چې له وړو او لوېو ټاپو ګانو څخه جوړه شوې ده. او په همدې توګه ځینې انګلستان ته د ټاپو ګانو هېواد وایي.

د انګلیسانو نژاد سپین دی. او ۷۹.۲٪ د هېواد نفوس تشکیلوي، د انګلستان اوسیدونکي ۱۵٪ انګلیس، ۹.۶٪ سکاټلنډي، ۲۴٪ ایرلنډي، ۱.۹٪ ویلزي، ۱.۸٪ اولستر او ۲.۸٪ نورو قبایل تشکیلوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د انګلستان د ٪۷۲ خلکو دین مسحي دی، او ٪۲۵ خلک يې د نورو دینونو پیروان دي.

له اداري پلوه انګلستان په څلورو لویو ولایتونو انګلنډ، ویلز، سکاټلنډ او شمالي اېرلنډ باندې وېشل شوي دي.

د انګلستان څمکه له پخوا څخه د اوسیدو وړ وه، د یخچال تر دورې وروسته دوه ېېلې قبیلې له خپلو څارویو سره یو ځای له اوسنۍ اسپانیا څخه انګلنډ یا انګلیستان ته مهاجرت وکړ. لرغون پېژندونکي دا قبیله د ایبري په نامه پېژني.

له ۴-۶ ق.م پېړیو د سلت قومونه د ځمکو او څارویو د تر لاسه کولو لپاره له اسپانیې څخه انګلنډ ته راغلل. او ایبریا يې له هغه ځاي څخه وشړل، او پر انګلنډ باندې د سلت د قومونو اخري یرغل په ۷۵ق.م کې ترسره شو.

له میلاد څخه ۵۵ کاله مخکې سزار ژویوس د ځمکو د نیولو په هیله پر انګلنډ حمله وکړه؛ خو د رومیانو یرغلو په ۴۳م کې پر انګلنډ سختې شوې. په پای کې په پنځمه م پېړۍ کې د رومیانو قدرت کم شو، ځکه نو د جرمني له خاورې د انګلو او ساکسون قومونو پر انګلنډ یرغل وکړ. د انګلو او ساکسون قومونو په ۸۲۹ م کې د انګلنډ یوالي تأمین کړ.

د ۱۳م پېړۍ په لومړیو کې د انګلنډ پاچا یو شمېر مدني او سیاسي حقوق په رسمیت وپېژندل، او داسې فرمانونه يې صادر کړ چې له ننیو مدني بنسټونو سره يې ورتوالی درلودل.

په ۱۴۸۵م کال کې هانري د تیودور له کورنۍ څخه پر انګلنډ حاکم شو. د هانري دتیودور شاهانو پر انګلنډ ۱۲۰ کاله حکومت وکړ.

په ۱۵۵۸م کال ملکه لومړۍ الیزابېت د انګلستان حکمرانه شوه، او انګلستان يې د خپل وخت یو اقتصادي او پوځي ځواک وګرځاوه.

د دویم نړیوال جنګ تر پای ورسته په ۱۹۴۹م کال کې انګلستان او امریکا د کمونیستانو د وړځ په وړځ ډیریدونکي قدرت د مقابلې لپاره د شمالي اتلانتیک (ناټو)پیمان رامنځته کړ.

انګلستان په ۱۹۵۷م کال کې يې خپل لومړني اټومي بم وآزموېه او په ۱۹۷۶م کال کې د اروپا د ګډ بازار غړي توب ترلاسه کړ.

د انګلستان حکومت مشروطه شاهي(Constitutional Monarch)دی او د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر تصویب شوی واحد قانون نلري.

په ننې انګلستان کې ملکه د یو شمېر صلاحیتونو په لرلو سره د ملي وحدت د ساتنې، د دولت د رهبرۍ د نظام د تنظیم او د نهایي پرېکړې سمبول ګڼل کېږي.

د انګلستان پارلمان دوه جرګې لري: لومړۍ ولسي جرګه چې ۶۵۹غړي لري، چې ټول د پنځو کلونو لپاره د ټاکنو له لارې ټاکل کېږي. دویم د مشرانو جرګه ده چې ۵۰۰ کسه اشراف مادم العمر(Life Peers)غړي لري.

په انګلستان کې مختلف سیاسي ګوندونه فعالیت کوي. چې د بېلګې په توګه د متحد محافظه کار ګوند(Conservative and unionist Party)ډیموکرات متحد ګوند(Democratic Party Unionist)،کرګر ګوند(Labor Party)، د ویلز ګوند(Party of wales)او د سکاټلنډ ملي ګوند (Scotland Nationl party)نومونه یادولي شو.

انګلستان د نړۍ د لویو صنعتي هېوادونو څخه ګڼل کېږي. چې مهمې صنایع يې لویې او کوچنۍ کارخانې،مختلف ماشین آلات او د هغوی پوځي،اتومات سامان آلات،نقلیه سامان آلات، الوتکې، لویې او وړې بېړۍ، کرنیز وسایل، د اورګاډي پټلۍ، د انرژۍ تولید او د هغه تأسیسات، د مخابرات وسایل، کیمیاوي او غیر کیمیاوي توکي ساختماني او نور وسایل دي.


انګستان د ۱۹۴۵م کال د اکتوبر په ۲۴مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړیتوب ترلاسه کړ، او د ویټو حق لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

HISTORY

For Konkur



Author

Habib wardak

CamScanner

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English